# د کورنیو چارو

# وزارت

**لاسته راوړنې او خنډونه**

زما د یادا ښتونو ټولګه

۲۰۰۳ – ۲۰۰۵ **کال**

**شاه محمود میاخیل**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب خپل پلار سید محمود حسرت ته چې شل کاله یې د کورنیو چارو وزارت په مرکز او بېلا بېلو ولایتونو کې دنده اجرا کړې او همدا شان د کورنیو چارو وزارت ټولو منسوبینو ته چې دهېواد په امنیت او اداره کې ستونزې ګاللي ، قرباني یې ورکړې او شپه او ورځ یې د ډېرو سختو شرایطو لاندې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کړي او کوي یې ډالۍ کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتـــاب نـــوم: | د کورنیو چارو وزارت لاسته راوړنې او خنډونه |
| لـــیکـــــوال: | شاه محمود میاخېل |
| چـــاپشمـــېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چـــاپـــکال: | ۱۳۹۰ل کال |
| کـــمـــــپوز: | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


| ګڼه | سرليک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د سر څو لنډې خبرې | ا |
| ۲ | سريزه | ج |
| ۳ | د کورنيو چارو په وزارت کې د کار لامل | ۱ |
| ۴ | په کورنيو چارو وزارت کې د ستر ... | ۸ |
| ۵ | بلخ ولايت ته سفر | ۱۹ |
| ۶ | سمنګانو ولايت ته سفر | ۲۷ |
| ۷ | جوزجان ولايت ته سفر | ۳۴ |
| ۸ | د مزار نه هرات ته سفر | ۴۳ |
| ۹ | اسلام قلعه، انجيل، زنده جان، غوريان... | ۴۶ |
| ۱۰ | د شين ډنډ او ادرسکن ولسواليو نه کتنه | ۵۲ |
| ۱۱ | د هرات ولايت د مختلفو قومونو او... | ۶۲ |
| ۱۲ | د کورنيو چارو وزارت کې د ستر... | ۶۶ |
| ۱۳ | د ملګرو ملتونو د يونما دفتر له مشر... | ۷۸ |
| ۱۴ | د ايساف مشر جنرال نوربت وين هيسټ | ۸۲ |
| ۱۵ | په مزار شريف کې د جنرال عطامحمد ... | ۱۰۷ |
| ۱۶ | فيصله کميسيون مؤظف در ولايت بلخ... | ۱۲۲ |
| ۱۷ | پاکستان ته دکورنيوچارو د وزير رسمي سفر | ۱۲۸ |
| ۱۸ | د کورنيو چارو په وزارت کې د ولسواليو... | ۱۴۵ |
| ۱۹ | روسيې ته د کورنيو چارو د وزير ښاغلي... | ۱۴۵ |
| ۲۰ | د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړي... | ۱۶۹ |
| ۲۱ | د پروان د PRT افتتاح او دقبايلو ... | ۱۷۶ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۲ | د ترکي انجینر خوشې کیدل | ۱۷۲ |
| ۲۳ | دهرات د PRT افتتاح | ۱۷۹ |
| ۲۴ | په جلال اباد کې د اساسي قانون د لویې جرګې... | ۱۸۰ |
| ۲۵ | د جرمني په سفارت کې د مرستندویه هیوادونو... | ۱۸۷ |
| ۲۶ | په ترافیکي پیښه کې زما ورور سید معصوم... | ۱۸۸ |
| ۲۷ | د استاد کریم خلیلي تر مشرۍ لاندې د بې... | ۱۹۰ |
| ۲۸ | پکتیا ولایت مشرانو سره د کورنیو چارو د وزیر... | ۲۰۵ |
| ۲۹ | د کابل د پولیسو د تعلمي مرکز څخه د پولیسو... | ۲۰۹ |
| ۳۰ | جنوبي ولایاتونو (پکتیا ، پکتیکا خوست او لوګر)... | ۲۱۱ |
| ۳۱ | په قطر کې د افغانستان د پولیسو سره ... | ۲۲۱ |
| ۳۲ | کابل ته د جرمني د کورنیو چارو وزیر... | ۲۳۰ |
| ۳۳ | د ناټو د مشرانو سره د کتنې لپاره د افغانستان... | ۲۳۲ |
| ۳۴ | د سرپل په ولایت کې د جنرال دوستم ... | ۲۳۴ |
| ۳۵ | د کورنیو چارو د وزیر علي احمد جلالي... | ۲۳۶ |
| ۳۶ | په انټر کانټیننټال هوټل کې د مخدره... | ۲۴۰ |
| ۳۷ | د دولت رئیس حامد کرزي د ۲۰۰۴ز کال... | ۲۵۴ |
| ۳۸ | د کورنیو چارو وزارت د اداري معین په ... | ۲۶۰ |
| ۳۹ | د DynCorp د دفتر سره چادونه | ۲۶۴ |
| ۴۰ | د هرات والي اسمعیل خان تبدیلیدل | ۲۶۶ |
| ۴۱ | د سمنګانو د ولایت د مرستیال حاجي ... | ۲۷۳ |
| ۴۲ | د فراه PRT افتتاح | ۲۷۶ |
| ۴۳ | د حضرت اکبر وفادار شعر | ۲۷۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۴ | په افغانستان کې د جمهوري رياست لپاره... | ۲۸۰ |
| ۴۵ | په کابل کې د ملګرو ملتونو د دري .... | ۳۰۲ |
| ۴۶ | دکورنيو چارو په وزارت کې د واقعاتو يا پېښو... | ۳۲۲ |
| ۴۷ | د واليانو، ولسوالانو او امنيه قوماندانانو تقرر... | ۳۳۰ |
| ۴۸ | د امريکا د متحده ايالاتو سره د ... | ۳۴۰ |
| ۴۹ | د بغلان، سمنګان او بلخ ولايتونو ته د... | ۳۵۶ |
| ۵۰ | د پنجشېر د والي ضابط بهلول تقرر | ۳۶۵ |
| ۵۱ | د قاضي القضات له خوا ټيلفون | ۳۶۸ |
| ۵۲ | د کورنيو چارو د وزارت نه زما استعفا | ۳۷۰ |
| ۵۳ | د ښاغلي شاه محمود مياخيل لنډه پيژندنه | ۳۹۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسرڅو لنډې خبرې

ډېر خوشاله یم چی زما ګران اوپیاوړئ همکار ښاغلئ شاه محمود میاخېل دا زحمت په ځان ومانه چی خپلی هغه خاطری چی د کورنیو چارو په وزارت کی ئی دڅومهمو کلونو په دوران کی را غونډی کړی او لیکلی وی په دی کتاب کی هیوادوالوته وړاندی کړی.
د ۱۳۸۲-۱۳۸۴ کلونو په دوران کی چی ښاغلئ میاخېل د کورنیو چارو په وزارت کی زما نژدې همکارودافغانستان دولت په ملک کی دسولی دټینګولو او دولتی موسساتودبیا جوړولواو سمبالولوپه چاروکی له سترو چلنجونوسره مخامخ و. په دی لړ کی دکورنیو چارو دوزارت تر ټولو لوئی ننګوونی دملی پولیسو جوړول، دهغوی روزل او په یوه مسلکی اډانه کی ددغو ځواکونوموسساتی سمبالول و. په دې برسېره هغه مهال دکورنیو چارو وزارت د محلی ادارومسئولیت هم په غاړه درلوداو میاخېل صیب داداری معین په حیث ددی برخی مسئول و.
سخت کلونه و. ستونزی پرېمانه او زورواکان بیباکه اوخپل سری و. محلی ټوپکسالارانو دمرکزی دولت د اوامرو منلو ته زړه نازړه و او ملیشییانو ته دقانون ماتول نصوار هم نه و. امکانات محدود او سیاسی ملاترنیمګړی و. په دغو سختوشرایطو کی دکورنیو چارو وزارت په عین وخت کی په تش لاس په څو جبهو کی مبارزه کوله تر څو په هېواد کی د امنیتی ځواکونو اساس کېښږدی، سالمی محلی اداری رامنځته کړی ا و زورورد قانون تابع وګرزوی. په هغه وخت کی دکورنیو چارو د وزارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجراآت او لاس ته راوړنې ښائی دهمدی شرایطو په نظرکی نیولو سره وارزول شی. ددغو اجراآتو یو شمیر نمونې چی په ګزارشی ډول لیکل شوی د میاخېل صیب په دی کتاب کی وړاندی شویدی اودهغوپه باب قضاوت به لوستونکی پخپله وکړی.
زه له ښاغلی میاخېل صیب سره له ډېره راهیسی پېژنم او هېڅکله می دهغه په صداقت، وطن پالنی، اداری او سیاسی تقوا کی شک ندی کړئ. اوس چی زه دده دا کتاب لولم نو وینم چی دخپل ماموریت د وخت ټولی پېښې ئی په امانت داری سره د لوستونکو په مخ کی ایښی دی. زه دده ددغه زیار او حوصله مندی مننه کوم او دا کتاب دهېواد دتاریخ دځو حساسو کلونو دپېښو د روښانولو دپاره ډېر مهم او غنیمت بولم. لوی خدای (ج) دی نور هم توفیق ورکړی.

کابل، د۱۳۹۰کال د ثور میاشت
پروفېسرعلی احمد جلالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمن الرحيم

**سریزه:**

د ډېرو کلونو راپدېخوا د ورځنۍ پېښنو او دخپلو تاثراتو یاداشتونه لیکم چې دا کار زیاتې ښېګڼې لري. له یوې خوا د دې یاداشتونو نه د کاري ژمنو او د نظریاتو په عملي کولو او تعقیب کې ګټه اخستل کیږي نو له بل پلوه که څوک غواړي چې دخپلو یاداشتونو مجموعه ټولنې ته د یو مستند سند په توګه وړاندې او خپل تاریخي مسولیت ادا کړي نو دا یاداشتونه د لیکلو پر وخت ورسره زیاته مرسته کوي.

د پېښنو ثبتول په تاریخي لحاظ خورا اهمیت لري ځکه نن که موږ په تېرو لسیزو او یا صدیو خبرې او د پېښنو قضاوت کوو نو زموږ استناد یوازې په هغه اسنادو ولاړ دی چې ثبت شوي او دخلکو په لاس کې دي شاید چې په تېرو وختونو کې ډېرې داسې مسلې پېښې شوي وي چې هغه ثبت شوي نه دي او نن ترې موږ اګاهي یا خبرتیا نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيښو ثبتول زما په اند د هر افغان دنده ده او هغه بايد چاپ او راتلونکي نسل ته په ميراث پريږدي تر څو زموږ راتلونکی نسل د دې اسنادو په رڼا کې د تيرو پيښو او يا شخصيتونو په هکله منصفانه او پرځای قضاوت وکړي او د راتلونکو پيښو په هکله ترې ګټوره پايله واخلي.

کله مې چې په کورنيو چارو وزارت کې په دنده پيل وکړ نو کار ي بوختياؤ سره سره مې د ورځنۍ پيښو يادا شتونه ليکل چې د دې کتاب مجموعه د دې يادا شتونو يوه بيلګه ده.

البته کتاب ليکل او يا تاريخ ليکل درنده او با مسوليته دنده ده چې تاريخ ليکونکی بايد د پيښو او تصاميمو ټول اړخونه د هغه وخت د شرايطو په رڼا کې وڅيړي او بيا پرې قضاوت وکړي. څرنګه چې زه مؤرخ نه يم او هم د ليکوالۍ په فن پوره بلدتيا نه لرم نو ما يوازې د پيښو ګزارش په پوره امانت دارۍ ليکلی دی.

د دې خبرې يادونه ضروري بولم چې په دغه لنډه موده کې چې ما د کورنيو چارو په وزارت کې کار کړی ډيرې داسې پيښې نورې هم شوي چې يا خو يې ما سره يادا شتونه نه وو او يا د وخت د ضرورت په بنياد مې ټولې پيښې په دې کتاب کې نه دي ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب د لیکلو په وخت کې د کورنیو چارو وزیر او دانشمند مشر علي احمد جلالي ډېرې ښې مشورې راکړې خو د جلالي صیب د ټولو مشورو عملي کول زما له وس نه بهر و ځکه چې زیات وخت او کار ته یې ضرورت درلوده نو ما یوازې په ګزارشي بڼه قناعت وکړ او د تحلیل او تجزیې برخه مې تاریخ لیکونکو ته پرېښوده چې د دې کتاب نه د ریفرینس په توګه ګټه واخلي البته ما خپل دوه کتابونه مخکې هم په ګزارشي ډول لیکلي چې یو یې (( د واقعیتونو په بهېر کې )) او بل یې (( بیړنۍ لویه جرګه او په مشرقي ولایاتو کې د انتخاباتو بهېر )) نومیږي.

زما لیکنې همیشه په همدې شکل په روانه او عام فهمه ژبه دي تر څو ترې په ټیټه کچه لوستونکي هم ګټه واخلي.

زه د کورنیو چارو وزیر جناب علي احمد جلالي نه په خاصه توګه مننه کوم چې ماته یې د کورنیو چارو په وزارت کې د کار کولو موقع مساعده کړه تر څو خپل وطن او هېوادوالو ته ترخپلې وسې د خدمت جوګه شوم، د جلالي صیب له علمیت، تجربو او لارښوونو نه ما خورا زیاته ګټه اخستې او د کورنیو چارو په وزارت کې زموږ د موفقیت عمده عامل یوازې د ده د ښې رهبرۍ پایله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا شان زه د کورنیو چارو وزارت د امنیتي معین ډګر جنرال هلال الدین هلال نه مننه کوم چې د جلالي صیب تر رهبرۍ لاندې مونږ د یو ښه ټیم په توګه سره کار کاوه چې د دواړو معنیتونو ترمنځ ډېرې ښې اړیکي وې او تر اوسه پورې مونږ د ښه ملګرو په توګه سره اړیکي لرو، ددې نه برسېره زه د کورنیو چارو وزارت د ټول پرسونل (پولیس او مُلکي مامورینو) نه مننه کوم چې همیشه یې دپرګرامونو په عملي کولو کې ماسره مرسته کړې ده او همدا شان د کورنیو چارو وزارت رهبري هیئت ماته همیشه ښې مشورې راکړې چې د دوی مشورې هم دستاینې وړ دي چې ما ترې دکارونو په سمون او پرمختګ کې همیشه ګټه اخستې ده، زه د خپل دفتر له ریس عبدالواحد پټان او سکرتر محمد نسیم نه په خپل وار مننه کوم چې همیشه به تر ډېر ناوخته پورې ما سره په دفتر کې وو او زما ورځني کارونه به یې تنظیمول، د دې کتاب د ټایپ او چاپ په برخه کې راسره خپلو نږدې همکارانو اسدالله ساحل او ثنا الله تسل ډېره زیاته مرسته کړې چې زه ورځخه مننه کوم، که د دوی هڅونه نه وای نو دتېرو اوه کلونو په شان به څو نور کلونه هم تېر شوي وای چې ما دا کتاب چاپ ته تیار کړی وای. همدا شان عبدالوسع ساهو هم دټایپ په برخه کې زیاته همکاري کړې چې دستاینې وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حاجي صيب محمد حسن حسام نه هم په خپل وار مننه کوم چې د دې کتاب په وروستي ایډیټ کې یې د پوره دقت څخه کار اخستی زه ورته د اوږد ژوند هیله کوم.

البته زما د ژوند په ټولو مرحلو کې زما کورنۍ او اولادونو همیشه زما د کارونو ملاتړ کړی او زه یې دې ته هڅولی یم چې خپلو خلکو ته تر خپلې وسې دخدمت جوګه شم که د دوی هڅونه او ملاتړ نه وای نو دا ممکنه نه وه چې خپل کارونه مې په ښه توګه سرته رسولي وای ټول دې ښاد او بریالي وي.

په ګران افغانستان کې د امن، سوکالۍ او پرمختګ په هیله

**شاه محمود میاخیل**

**د قمبر څلور لارې**

**د فرورۍ ۲۲ نیټه ۲۰۱۱ کال دشنبې ورځ سهار لس بجې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کورنیو چارو په وزارت کې د کار لامل

د ۲۰۰۲ م کال د جون په میاشت کې دبیړنۍ لویې جرګې پر مهال د ولسمشر د دفتر رئیس ډاکټر احمد یوسف نورستاني راته وویلې چې ولسمشر مې افغانستان ته ستاسې له راتګ څخه خبر کړی که دې خوښه وي ورسره به مشوره وکړم چې تاسې دکنړ د والي په توګه وګماري.
نورستاني صیب ته مې د هو او نه ځواب ورنه کړ خو زه په دوه دلایلو دې ته چمتو نه وم چې یاده دنده ومنم لومړی دا چې: زه په دې باوري یم چې په خپله سیمه او ولس کې به ستونزمنه وي چې یو والي دې په خپلو چارو کې بریالی وي دویمه خبره دا چې: نه مې غوښتل د خپلو اولادونو زده کړو کې خنډ او ځنډ راولم، ځکه هغه معاش چې د یو والي لپاره ځانګړی شوی دومره نه و چې دخپلې کورنۍ او اولادنو د زده کړو مصارف پرې پوره کړم.
د جهاد په کالونو کې مې هیڅکله په دې فکر نه و کړی چې په حکومت کې به دنده تر سره کوم خو یوه هیله مې درلوده که خدای افغانستان آزاد کړي نو ولسي جرګې ته به دخلکو د استازي په توګه ځان کاندیدوم، ځکه ما له همغه مهاله فکر کاوه چې په دولت کې د دندې تر سره کول سپیڅلتیا، صداقت او ژمنتیا ته اړتیا لري او له رشوت اخستنې باید ډډه وشي. ما دا فکر هم کاوه چې د پیسو پیدا کولو لپاره له دولت پرته نورې مشروع لارې هم شته که یو څوک وغواړي او هڅه وکړي پیدا کولای یې شي. زه په دې برخه کې له خدایه ډېر راضي یم، په تېرو دېرشو کالونو کې مې چې هره دنده ترسره کړې. ورڅخه مې کافي معاش ترلاسه کړی. چې زما د ژوند لومړني ضرورتونه ورباندې پوره شوي دي او دې ته نه یم اړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی چې د خیانت او رشوت په اړه فکر وکړم، زه په دې عقیده لرم چې قناعت تر ټولو ستره شتمني ده او هر هغه څوک چې قناعت، ژمنتیا او سپیڅلتیا ولري نو په سلو کې پنځوس کارونه په خپله سمبړي او که لږ نوره هڅه او زحمت وکاږي نو په سلو کې اویا یا اتیا به په خپلو چارو کې خامخا بریالي کېږي.

په هر حال د ۲۰۰۲ م کال د نومبر په میاشت کې داسې اوازې او ګونګوسې وې چې د موقتي ادارې مشر ښاغلی کرزی صیب، ښاغلی علي احمد جلالي ته د کورنیو چارو د وزیر په توګه دنده پیشنهاد کړې او کیدای شي چې نوموړی دا دنده قبوله کړي. علي احمد جلالي چې د هېواد نامتو لیکوال، سیاست پوه او پوځي صیب منصب دی دغه مهال دامریکاغږ راډیو د فارسي برخې رئیس و. د ۱۹۸۵ – ۱۹۹۰م کلونو په موده کې ښاغلي جلالي د امریکاغږ د پښتو څانګې مشري پر غاړه درلوده نو هغه مهال زه په پیښور کې د دغه راډیو محلي خبریال ؤم او نوموړی زما آمر و. دقیقه ورځ مې یاده نه ده خو په همدې میاشت کې یوه ورځ مې له جلالي صیب سره وعده درلوده او زه یې د غرمې ډوډۍ ته میلمه کړم. د ۱۹۹۰ م کال د مې په میاشت کې چې کله زه امریکا ته لاړم نو کله کله به مې له جلالي صیب سره د غرمې ډوډۍ یو ځای خوړه او په اصطلاح لنچ (**Lunch**) به مو سره کاوه. دا چې په دې ورځ مې یوه بله وعده هم درلوده نو جلالي صیب ته مې وویل چې ښه به دا وي چې کوم نږدې رستورانت ته لاړ شو او تیار خواړه به وخورو، جلالي صیب وویل سمه ده، راځه د امریکاغږ راډیو ته مخامخ (**McDonald**) رستورانت ته به لاړ شو، هلته چې سره کیناستو، په دې وخت کې اکبر ایازي چې هغه هم دامر یکا غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راډيو په پښتو څانګه کې کار کاوه له کومې خوا راپيدا شو. له سلام کلام وروسته نو موږ ی لاړ او موږ خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

ما له جلالي صيب څخه پوښتنه وکړه چې ويل کيږي په افغانستان کې مو د کورنيو چارو دوزارت دنده قبوله کړې ده، دا ريښتيا ده که څنګه؟ جلالي صيب وويلې نه تراوسه مې نه ده قبوله کړې خو يو څه شرايط مې کرزي صيب ته وړاندې کړي دي که کرزي صيب يې رأسره ومني نو کيدای شي قبوله يې کړم. جلالی صيب سمدستي يې له مانه پوښتنه وکړه چې ستا څه پروګرام دی که زه لاړ شم تاسې ر اسره کار کوئ که نه؟ ما ورته وويلې که ته لاړې او فکر دې کاوه چې ګوندی زه څه کولای شم نو بيا راباندې غږ وکړه.

د دې خبرو وروسته مې جلالي صيب بيا ونه ليده خو ډېر ژر د کورنيو چارو د وزير په توګه وټاکل شو او د ۲۰۰۳م کال د جنوری په مياشت کې يې خپله دنده اشغال کړه.

دکورنيو چارو د وزارت له کارونو سره مې له ابتدا يه او ليسی له دورو نه يو څه اشنايي درلوده ځکه زما پلار مرحوم سيد محمود حسرت دکورنيو چارو د وزارت سابقه دار مامور و چې په بيلا بيلو ولايتونو کې يې په مختلفو پوستونو دندې اجرا کړې وې او زياتره وخت به زه ورسره دفتر ته تلم او په فخري (بيګارچي ) توګه مې ورسره کار کاوه. حتی په پنځم او شپږم ټولګي کې زه په زياتره اداري کارونو لکه مکتوب ليکل، جلب نامه جوړول، صادره او وارده باندې پوهيدم. څرنګه چې زما ليک ښه و او په هغه وخت کې په دفترونو کې فوتو کاپي ماشينونه نه وو اکثريت اسناد به مامورينو دوه يا درې نقله کول نو ما به زياتره دا کار کاوه او يا په اصطلاح ميرزا قلمي مې يو څه ياده وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه وو چې د ۲۰۰۳ م کال د مې په میاشت کې جلالي صیب په یو رسمي سفر امریکا ته راغی، دتلفوني تماس نه وروسته یې وویل چې دمې د میاشتې په دولسمه نیټه ماسپښین دوه نیمې بجې په واشنګټن کې دافغانستان سفارت ته راشه او هلته به سره دنژدې نه خبرې وکړو. په دې وخت کې په پراګ کې د جان اغا الکوزي په مشوره د ازادۍ راډیو پښتو څانګې رئیس سره مې په واشنګټن کې انټرویو هم کړې وه چې دوی زه انتخاب کړی وم چې د ټرینینګ لپاره پراګ ته لاړ شم.

کله چې د افغانستان سفارت ته لاړم نو دافغانستان سفیر اسحق شهریار خپله د کار خونه موږ ته خوشې کړه چې موږ په کې کینو. جلالي صیب شهریار ته وویلې چې دی مې راغوښتی چې بد راه یې کړم او افغانستان ته یې بوزم. جلالي صیب په خپل صحبت کې له ملګرو سره همیشه خوش تبي کوي او ډېرې زیاتې کیسې، طنزونه او مثالونه یې یاد دي، که په ساعتونو ورسره کیسې وکړې سړی نه ستړی کیږي او ډېر څه ترې یادوی. د محلي ادارو د جوړېدو په ارتباط ما یو څه پیشنهادونه لیکلي و هغه مې جلالي صیب ته ورکړل چې ښکه یې ولوستل بیا یې خوش تبي وکړه چې دا دې زما دلیکنو څخه اقتباس کړی دی او همدارنګه پلانونه زه هم لرم خو په دې لیکنو کار نه کیږي له ما سره لاړشه او دا په خپله عملي کړه.

ما له جلالي صیب سره وعده وکړه چې دوه درې اونۍ وروسته کابل ته درځم بیا به مصلحت وکړو چې څه وکړو. هماغه و چې د جون د میاشتې په نیمایې کې کابل ته لاړم او دجون دمیاشتې په ۱۹ مه نیټه د کورنیو چارو وزارت ته لاړم چې جلالي صیب وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکورنیو چارو وزارت چې یو پر څلورمه د حکومت تشکیل جوړوي د ټولو وزارتونو نه خورا لوی وزارت وو چې دافغانستان ټول والیان، ولسوالان، ښاروالان، ملي پولیس، سرحدي پولیس، هوایې ډګرونه، ترافیک، د تذکرو او پاسپورت توزیع او لوی لارې او... دې ټولو دکورنیو چارو وزارت اړوند دفترونو پورې اړه درلوده.

کله چې د وزارت دروازې ته ورغلم ډېر زیات بېرو بار وو، په مشکله مې د کورنیو چارو د وزیر ددفتر ودانۍ ته ځان ورساوه نو د کورنیو چار ود وزیر دناستې ودانۍ دوه ورودي دروازې درلودې چې په یوه دروازه به وزیر، د وزارت معینان، رئیسان او جنرالان وزارت ته ننوتل او دبلې لارې به عادي مراجعین او ټیټ پوړي مامورین او پولیس چې دوزارت مقام سره به یې کار درلوده ودانۍ ته ننوتل. زه هم دې دروازې ته ورغلم نو مؤظف پولیس رانه پوښتنه وکړه چې دچاسره دې کار دی؟ ما ورته وویل غواړم دکورنیو چارو وزیر سره وګورم، ده راته وویلې چې له پذیرش څخه دې چټې راوړې ده که نه؟ ما ورته وویلې چې پذیرش څه شی دی، هغه وویلې چې پذیرش د وزارت د ودانۍ نه بهر یو دفتر دی او څوک چې غواړي له وزیر صیب سره وګوري باید هلته مراجعه وکړي او بیا د پذیرش دفتر د وزیر صیب له دفتر سره تماس نیسي که یې لازمه وګڼله وخت ورکوي او که نه خدای دې مل شه، ما ورته وویلې چې زه نه غواړم چې وزیر صیب ته رأساً ورشم که ما د هغه د دفتر سکرتر ته پرېږدې نو ښه به وي زه یو پرزه لیک وزیر صیب ته استوم که یې وغوښتم وربه شم او کنه بېرته به لاړ شم، څرنګه چې زه د مؤظف پولیس سره په نرمه لهجه غږېدم، نو خبرې ته یې غوږ کېښود او زه یې د ودانۍ په لومړي پوړ کې یو تن صیب منصب سمونیار (جګړن) ته ورپه لاس کړم ما نوموړي ته وویلې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم فلانی دی د وزیر صیب ملګری یم او له امریکا څخه راغلی یم نو که زما دا پرزه لیک دې وزیر صیب ته ورساوه نو ډېره زیاته مهرباني به مو وي که یې وغوښتم وربه شم که نه بېرته به لاړ شم. دغه صیب منصب وویلې چې نن خو د پنجشنبې ورځ ده وزیرصیب ارګ ته تللی دی او په دفتر کې نه شته دی او دا هم معلومه نه ده چې بېرته راځي او که نه؟ خو زه به ستا لیک خامخا ترهغه ورسوم خو دتلیفون شمېره دې په کې ولیکه ، ما ورته وویلې چې زه خو تازه همدا نن راغلی یم او د کابل دتلیفون شمېره هم نه لرم خو که ته ماته کومه شمېره راکړې، نو زه به بیا درته زنګ ووهم، دغه صیب منصب خپله او دوزیر صیب د یاور شمېرې راکړې د تګ په وخت کې مې له دی صیب منصب څخه دنوم پوښتنه وکړه ده راته وویلې چې نوم مې عنایت الله دی او د کنړ ولایت او سید ونکی یم، ما وویل دا خو ښه شوه زه هم کنړی یم. مازدیګر ما د وزیر صیب یاور سمونوال ( ډګروال ) ګل اغا روحاني ته تیلفون وکړ، لومړی مې ورته ځان معرفي کړ، ورته مې وویلې که له وزیر صیب سره خبرې وکړم ښه به وي، ګل اغا سمد ستي زه له جلالي صیب سره رخ کړم، له سلام وروسته یې راته وویلې: چېرته اوسېږې؟ ما ورته وویلې په کارته پروان کې، د ( ودان افغانستان ) په دفتر کې، له محمد نصیب سره اوسېږم چې زما نږدې ملګری دی او څه تکلیف نه شته، نو جلالي صیب وویلې که تکلیف نه وي، نوهملته ښه یې او که نه ما سره هم اوسیدلی شې او سبا چې د جمعې ورځ ده یولسو بجو کې وزارت ته راشه خبرې به سره وکړو او فرصت به هم وي، ماورته وویلې چې د جمعې ورځ هم کار کوې؟ ده وویلې چې زه خپل ټول مهم کارونه د جمعې په ورځ کوم ځکه چې دمراجعینو تګ راتګ نه وي. بیا مې جلالي صیب ته وویلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د وزارت موظفینو ته احوال ورکړئ چې سبا ته مې در پرېږدي او په اسانۍ سره درشم نو ښه به وي.

د جون د میاشتې په شلمه نېټه په یولس بجو د کورنیو چارو وزارت ته لاړم د ځان پیژندنې وروسته موظفو کسانو په ډېره اسانه پرېښودم چې د جلالي صیب دفتر ته لاړ شم، د جلالي صیب له یاورانو سمونوال ګل اغا، سمونوال محمد داود او جنرال امین الله سره له ستړي مشي وروسته سمدستي د جلالي صیب دفتر ته لاړم، جلالي صیب سره د روغبړ وروسته هغه دستي توکې پیل کړې او وویلې دایمي راغلی یې که چکري؟ ما ورته وویلې دا خو نو په تا پورې اړه لري خو زما نیت د دایم دی.

جلالي صیب ډېر خوشاله شو او راته یې وویلې: کومه دنده غواړې چې د کورنیو چارو په وزارت کې یې ترسره کړې. ما ورته وویلې چې زه نه پوهېږم، کومه دنده چې ته راکوې او څنګه زه مؤثر کار کولای شم همغه ښه ده ځکه زه د کومې مشخصې چوکۍ یا دندې په امید نه یم راغلی. ده راته وویلې چې ته لومړی کس یې چې مشخصه دنده نه غواړې، که نه دلته چې هر څوک راځي له اوله یې ځان لپاره چوکۍ یا دنده په نښه کړې وي، جلالي صیب وویلې چې ښه به دا وي چې زما په دفتر کې کار وکړې او ما سره باید نږدې وې، رسمي دنده به دې دوزېر ستر سلاکار وي. د سبا نه چې د شنبې ورځ ده راځه خپل کار پیل کړه. د خپل دفتر رئیس جنرال ګل نبي احمدزی ته یې امر وکړ چې په دریم منزل کې چې د وزېر صیب دفتر هم هلته وو زما لپاره دفتر جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کورنیو چارو وزارت کې د ستر سلاکار په توګه د کار د پیل نیټه ۲۰۰۳م کال د جون دمیاشتې ۲۱ مه ستونزې او ننګونې

د شنبې په ورځ چې دکورنیو چارو وزارت ته ورغلم جلالي صیب له امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال او یو شمېر نورو رئیسانو سره معرفي کړم، جلالي صیب راته وویلې چې زه باید دهغه په ټولو کتنو کې موجود ووسم چې د کورنیو چارو د وزارت له کارونو سره بلد شم او هغه ژمنې چې د اداري چارواکو سره تر سره کیږي تعقیب یې کړم تر څو په سمه توګه عملي شي جلالي صیب دا راته هم وویل چې د سه شنبې په ورځ د مې د میاشتې په **۲۴** مه نېټه د کورنیو چارو وزارت د یو لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ بلخ، سمنګان، جوزجان او هرات ولایتونو ته سفر کوي نو ښه به دا وي چې زه هم ورسره ملګری شم. د کورنیو چارو وزارت چې د حکومت د ټولو نه لوی وزارت وو، یوازې په داخل د وزارت کې یې له اتیاو ډېر ریاستونه درلودل، ما باید د ټولو رئیسانو د نومونو پیژندل دهغوی کاري تجربې، تنظمي اړیکي او راتلونکي کاری پلانونو څخه ځان خبر کړی وای چې دا یو لوی او مهم کار و.

په تېرو دېرشو کالونو کې د کورنیو چارو وزارت په یو نظامي وزارت بدل شوی و حال دا چې دغه وزارت د ثور له کودتا دمخه یو ملکي وزارت او د افغانستان د حکومتدارۍ د ثقل مرکز و. هغه مهال دکورنیو چارو وزارت دلومړي او دوېم معینانو په نامه دوه معینیتونه درلودل او یوازې د ژاندارم او پولیسو عمومي قوماندان و چې دپولیسو ټول کارونه یې سمبالول، مګر په وروستیو وختونو کې حتی مالي او اداري ریاست او د ثبت احوال نفوس مامورین هم ټول د پولیسو صیب منصبان وو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکي چوکاټ کې د پنځمې رتبې نه ښکته د مامور، کاتب او یا هم د سر کاتب په نامه خو له سره په تشکیل کې کوم بست هم نه و، یو تشکیلاتي تورم ( زیاتوالی ) په ملکي رتبو او د پولیسو په چوکاټ کې راغلی وو.
د۱۳۵۷هـ ش کال دثور له کودتا نه مخکې په کورنیو چارو وزارت کې حتی یو کس جنرال هم نه و او حتی د پولیسو عمومي قوماندان چې د جنرالۍ بست و تل به د ملي دفاع له وزارت څخه یو ځوک په دې دنده ګمارل کېده او د پولیسو ډېر کم صیب منصبان به د ډګروالۍ او یا ډګرمنۍ تر رتبې رسیدل خو په دې وخت کې چې زه د وزارت ستر سلاکار په توګه مقرر شوم د جنرالانو شمېر په کورنیو چارو وزارت کې ۳۲۰ کسو ته رسیده چې اکثره یې په مختلفو رژیمونو کې دفرمانونو له لارې دې رتبو ته رسیدلي وو، په وزارت کې دننه موږ نه پوهیدو چې څوک پولیس دی او څوک نه دی، ځکه چې چا به پلنګي دریشي اغوستې وې او د چا به د ریشۍ سره پکولونه پر سر او د سمالونه به یې پر غاړه کې وو.
د۲۰۰۱ م کال نه وروسته جهادي قوماندانانو هم په مرکز او هم په لرې پرتو سیمو کې لوړې چوکۍ په شین زور نیولې وې او تقریبا ملک الطوایفي وه، ځکه چې په هره سیمه او هر ولایت کې یو زورواکي قدرت درلوده او دمرکزي حکومت اطاعت یې نه کاوه، د مرکز او ولایتونو او همدارنګه د ولایتونو او ولسوالیو ترمنځ اړیکي ډېرې ضعیفه وې او یاهم په نشت حساب وې، زورواکو به دګمرکونو عایدات هم مرکز ته نه استول.
دکورنیو چارو وزارت هم کافي بودجه نه درلوده چې یو څو موټرې واخلي، د ملي پولیسو په نامه خو په کورنیو چارو وزارت کې هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود نه وو، د پولیسو اکادمي دکالونو راهیسې فلج (غیرفعاله) وه(۱)

ما د بیلګې په توګه څو نیمګړتیاوو ته اشاره وکړه، په داسې حالاتو کې جلالي صیب وزارت ته راغی چې نوموړی له یوې خوا اړ و چې په ټول هېواد کې ورځنی امنیت تامین کړي او له بله پلوه په وزارت کې د زور واکانو قدرت راکم کړي، د ښه حکومت دارۍ سیستم تقویه کړي او تر څنګ یې د ملي پولیسو روزنې ته هم جدي پام وکړي.نوموړي غوښتل چې د وزارت ظرفیت لوړ کړي او د زور واکانو قدرت هم په تدریجي توګه راکم کړي تر څو امنیتي خلا رامنځ ته نه شي، قوانین باید په وزارت کې پلي او دخپل سریو مخه ونیسي او د هر چا حقوق دقانون په چوکاټ کې خوندي شي.

د طالبانو د سقوط نه دوه کاله وتلي و خو پولیسو او ښه حکومتدارۍ ته چې دیوې ټولنې اصلي او سرنوشت سازه رکن تعینوي هیڅ توجه نه وه شوې که څه هم د جرمني هېواد د پولیسو روزنې او مجهز کولو ذمه واري پرغاړه اخستې وه، په اصطلاح **Lead Nation** ( مخکښه هېواد ) و (۲) خو تر دې دمه دپولیسو په برخه کې مرستې محدودې وې یوازې د

(۱) دامریکا حکومت ګانګرس د فیصلې له امله د امریکا د دفاع وزارت یوازې د ملي اردو سره کومک کولی شو او تقریبا دیوه کال نه زیات وخت یې ونیوه چې جلالي صیب دامریکا حکومت په دې قانع کړ چې دملي پولیسو په جوړولو کې باید دکورنیو چارو وزارت سره مرسته وکړي چې بالاخره اصلي کومکونه د کورنیو چارو وزارت ته په ۲۰۰۶م کال کې هغه وخت راورسیدل چې جلالي صیب او دهغه ټیم له وزارت څخه تللی او استعفا یې ورکړې وه خو متاسفانه له دغه کمکونونه په سمه توګه ګټه وانخستل شوه ، د دې په عوض چې له کمکونونه سمه استفاده وشي او امنیتي چارې پرې ښې سمبالې شي خو له بده مرغه کله چې دغه کومکونه راورسیدل نه یوازې د پولیسو لپاره سم تهداب کینښودل شو بلکې نور هم خراب شو

(۲) د ۲۰۰۱م کال د سپتمبر په میاشت کې چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره کوم کانفرانس دجاپان په توکیو ښار کې جوړ شو نړیوالو دکانفرانس په پایله کې د افغانستان د بیا رغونې بیلا بیلو سکتورنو ته مخکښه هېوادونه ( Lead Nations ) وټاکل چې د بیلګې په توګه ایټالیا د عدلي او قضایي ریفورم لپاره ، متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیسو لپاره یو څو موټرې د کورنیو چارو وزارت په واک کې ورکړل شوې وې او د پولیسو د اکاډمۍ په بیا رغونه ابتدایې کار پیل شوی و.

د امریکا متحده ایالاتو هم پولیسو ته ډېر ه توجه نه درلوده دهغوی لومړیتوب د ملي اردو جوړول و، ځکه دوی غوښتل چې ملي اردو د دې جوګه شي چې دوی سره د القاعدې او طالبانو په ټکولو کې مرسته وکړې امریکا ته مهمه نه وه چې په عام ولس څه تېرېږي، زورواکان او ټوپکسالارانو څنګه په ولس ظلم کوي او حتی که به دوه جنګسالارانو خپل ترمنځ جګړه کوله دوی په دې برخه کې هم هیڅ توجه نه کوله او دې جنګ ته به یې Green on Green جنګ وایه یعنې د حکومت د طرفدارو ترمنځ جګړه کې د دوی کارنه و همداشان دمخدره توکو په محوه کولو او قاچاق په مخنیوي کې هم ISAF برخه نه اخستله او دایې د افغان حکومت کار باله.

د جارج بوش ( **George Bush** ) په دوره کې امریکا او خاصتاً د دغه هېواد دفاع وزېر **Donald Rumsfeld** په خپل نیلي سپور و او دعراق جګړه یې تازه پیل کړې وه. دامریکایانو توجه د افغنستان له جګړې نه دعراق لوري ته اوښتې وه او ټول پوځي، اقتصادي او ملکي کومکونه هغې خواته متوجه وه.

وروسته چې د عراق جګړه نوره هم توده شوه نو د عراق جبهې د تروریزم پر ضد جګړه کې امریکا لپاره دجګړې محوري بڼه غوره کړه او په دې سره د افغانستان ستونزو ته توجه کمه شوه دا چې په عراق کې جګړه له کنتروله وتلې وه نو امریکایې او ایتلافي قواؤې له سخت ازمون سره

ایالات دملي اردو، چاپان د DDR یا دبې وسلې کولو او ملکي سازۍ، دانګلستان حکومت د مخدره موادو سره دمبارزې په برخه کې او دجرمني هېواد د ملي پولیسو دروزنې او تقویت لپاره مخکښه هېوادونه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ شوې وې نو ځکه خو په افغانستان کې د متحده ایالتو سفیر زلمي خلیلزاد حالاتو ته په کتو غوښتل چې په دغه هېواد کې د زور واکانو او جګړه مارو ډلو سره معامله وکړي او په دې توګه نړۍ او په ځانګړې توګه د امریکا ولس ته په مصنوعي توګه وښایي چې دوی په افغانستان کې بریالي دي او دا جګړه یې ګټلې ده. دوی غوښتل په دې پروپګنډې سره د جورج بوش دویم ځل انتخابیدو ته لاره هواره کړي.

په لومړي سر کې به چې موږ کله غوښتل یوعادي مامور دکار د ښه والي په موخه له دندې ګوښه کړو، نو جنجال به یې د جمهوري ریاست تر ماڼۍ رسیده ځکه د هر پولیس یا ملکي مامور خپل سری کړۍ به تر یو زورواکي ضرور رسیدلې وه چې د دغه زورواکي ډلې مشر به یا په کابینه کې ناست و او یا به یې د جمهوري ریاست معاونینو کې له یو سره تړاو درلوده، حتی دغو ډلو مشرانو دومره اغیز په ولسمشر ښاغلي کرزي درلوده چې ډېر کرته به د دوی له خبرې نه شو تېریدلی. نو ځکه به جلالي صیب له نیم څخه زیات وخت په ارګ کې د زورواکانو سره په ناندرو او جګړو تېراوه، دوی به جلالي صیب ته ستونزې جوړولې تر څو خپل کارونه او پرګرامونه په سمه توګه عملي نه کړي.

همدا شان د ملي پولیسو نشتوالی او د محلي چارواکو د زور او ظلم نه ولسي خلک ورځ په ورځ ماڼې جن کیدل او دبلې خوا د پاکستان حکومت نظامي چارواکو او خاصتاً د پاکستان استخباراتي شبکې(ISI) به په سیمه کې د خپلو ستراتیژکو اهدافو لپاره دطالبانو ګروپونه او ډلې منظم کولې، روزلې او افغانستان ته به یې د امنیت دخرابولو لپاره رالیږلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې ما مخکې یادونه وکړه چې نړیوالې ټولنې دخپلو اهدافو د سرته رسولو په منظور د افغانستان دښه حکومتدارۍ سره چندان دلچسپي نه درلوده نو همدا رنګه د حکومت دننه د ولسمشر کرزي کمزوری مدیریت د دې لامل شوی و چې د ده حکومت لوړ پوړي غړي (کابینه) هم په مشخصه اجنډا کار ونه کړي او هر چا ځانته جلاجلا اجنډا درلوده.

ولسمشر کرزي به هم د خپلې کابینې فعاله غړو رغنده مشورو ته غوږ نه نیوه او یوازې وروستۍ خبره به یې د امریکا دمتحده ایالاتو دسفیر زلمي خلیل زاد منله.(۳)

۳.دا مطلب په هغه مقاله کې چې د واشنګټن پوسټ دلیکوالې **Kathleen Parker** له خوا چې د ۲۰۱۰ م کال د اپریل په دیارلسمه نیټه لیکل شوی ښه ښکاري چې زلمي خلیل زاد ورسره په مرکه کې ویلي وو چې ده دخپل ماموریت په موده کې په اونۍ کې شپږ ماښامي له کرزي سره یوځای کاوه او هم به یې د کرزي **Bad temper** او بد کسان (زورواکي) به یې کنترولول همدارنګه د دې خبرې ښه ثبوت دنیویارکر په مجله کې **Jon lee Anderson** د ۲۰۰۲م کال دجون په شپږمه نیټه په هغه مقاله کې چې سرې په ارګ کې ! حامد کرزی د افغانستان د رئیس جمهور په توګه یوه معما.

**Hamid Karzai and the dilemma of being Afghanistan's President: The man in the Palace** ښه ځرګندیږي نوموړې لیکوالې خپل راپور د هغه مرکو پر بنسټ لیکلي چې له ښاغلي کرزي او د ده دشا او خوا همکارانو سره یې کړي دي. نوموړی په یو ځای کې د کرزي له خولې لیکي: ( موږ امریکایان دلته راوستي او دا مؤفقیت وو او همدا علت و چې ما په ټاکنو کې ډیرې راي اخستي ...) په بل ځای کې د حبیبه ثرابي له قوله لیکي چې ( خلیل زاد دویم جمهور رئیس دی ... نوموړې وایې چې مشکل دادی چې خلیل زاد په خپله د پالسۍ اعلان کوي او حتی د جمهور رئیس نه هم په جدي توګه خبرې کوي ، نو ځکه خلک شک کوي چې نوموړی د کرزي څخه قوي او ځواکمن دی نوموړی په یو بل ځای کې په کابل کې دامریکا دسفارت د یو مامور له قوله لیکي ، : چې کرزی کله تشناب ته هم ځي نو خلیل زاد یې له لاسه نیسي او لار ښونه ورته کوي .لیکوال په یو بل ځای کې لیکي: چې خلیل زاد حتی کرزی خپلو وزیرانو ته هم نه پریږدي چې ورنږدې شي. د زیاتو معلوماتو لپاره دا مقاله د نیویارکر مجله په لاندې انټرنیټي صفحه کې لوستلې شي.

http://www.newyorker.com/archive/2005/06/06/050606fa_fact_anderson

(Last acussed: 6 septermber 2010

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو محدودو وزیرانو به د نظام د جوړېدو او دښه حکومت دارۍ پر لور ځینې فعالیتونه کول خو د دوی کارونه به هم د ځینې تنظیمې مشرانو له خوا سبوتاژ کیدل چې ګواکې دایي د مجاهدینو پر وړاندې کومه توطئه ګڼله او یا په بله اصطلاح دوی به ښه حکومتداري د خپل قدرت لپاره ګوابښ ګاڼه نو په دې توګه ددغو فعالو وزیرانو کارونه هم د دغه کشمکش تر سیوري لاندې وو. د افغانستان دقوانینو له مخې ولسوال، قاضي، ښارنوال او ټول د لومړي او دویم بست مامورین د جمهور رئیس په فرمان ټاکل کیږي، په دې توګه دوزیر صلاحیت هم د اشخاصو په ګمارلو کې خورا محدود اوټول واک دجمهور رئیس سره دی. په د ې وروستیو کلونو کې دا جوته شوه چې جمهور رئیس ښاغلي کرزي چې څوک مقرروی او د یو منتخب جمهور رئیس په عوض دیکتاتورۍ ته مخه کړې ده.

مخکې له دې چې د هرات او ځینو شمالي ولایتونو په سفر لاړ شو دوه درې ورځې مې جلالي صیب سره په کتنو کې برخه واخسته او د سهار نه تر ماښام ناوخته به دومره مصروف وو چې د ډوډۍ خوړولو ته به هم نه وزګاریدو. دسهار له خوا به په لسګونو عام افغانانو او چارواکو د کتنې غوښتنه کوله او تقریبا هر چا به د ځانونو سره عریضې د مخه لیکلې وې او دخپلې خوښې چوکۍ او بستونه به یې غوښتل او دماذیګر نه تر ماښامه به په لسګونو بهرنیانو چې عادي کارونه به یې درلودل لکه ولایاتونو ته د سفر اجازه اخستل او یا هم د ویزو تمدید او یا به کومه بله مسئله وه، دوی به د وزیر صیب لیدو ته انتظار کاوه، ځکه چې د کورنیو چارو په وزارت کې داسې څوک نه ووچې د دوی سره خبرې وکړي څو وزیر صیب په دومره وړو کارونو مصروف نه شي خو له بده مرغه چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه هم اوس وزېر صیب ته ورپاتې و ، جلالي صیب هم د افغانانو سره د خبرو او کتنو ښه تجربه پیدا کړې وه ځکه چې په لومړي وخت کې به جلالي صیب د هرچا خبرو ته تر وروستي بریده غوږ نیوه خووروسته د خبرو په جریان کې به پوه شو چې دغه شخص کومه غوښتنه لري نو ورځخه به یې دعریضې غوښتنه لومړی کوله تر څو مربوطه شعبې ته یې راجع کړي او زیات وخت یې ونه نیسي. له دې کتنو وروسته به جلالي صیب حتما نږدې هر ماښام ارګ ته تللو څو په ورځنۍ مسائلوله ولسمشر کرزي سره خبرې وکړي، نو په دې اساس دسهار له اوه بجو نه د شپې تر یولسو بجو به ټوله ورځ په کار مشغول وو.

ما جلالي صیب ته وویل که دې خوښه وي ټول هغه خارجیان چې غواړي تاسره وګوري لومړی به زه ورسره ګورم که ما یې کار خلاصولی شو، نو ضرور نه ده چې تاسې وګوري، په دې توګه به تاسې ته د ماسپښین له خوا یو څه وخت سپما شي او تاسې به د وزارت لپاره د ستراتیژۍ د جوړولو او راتلونکي کاري پلانونو لپاره او هم به د هغو لوړپوړیوبهرنیانو، لکه سفیر ان او یانور بهرني امنیتي چاروکي چې غواړي له تاسې سره وګوري د هغوی لپاره به کافي وخت ولرئ. جلالي صیب رأسره داخبره ومنله نو په دې ترتیب جلالي صیب نیمایې ورځ به چې د خارجیانو په لېدو تېریده د هغوی دکتنو څخه خلاص شو.

دیادولو وړ ده چې دغه مهال دکورنیو چارو وزارت نږدې یو لک پولیس او مامورین درلودل، په دغه یولک کسانو کې یوازې ما او جلالي صیب برېښنا لیک ( Email Address)درلوده چې د رسمي کارونو لپاره مو ترې کار اخسته نور ما څوک ونه لیده چې د دفتري کارونو لپاره دې ایمېل وکاروي، حتی دډېرې رئیسانو مبایل تلفن هم نه درلوده او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمپیوټر او انټرنیټ سره هم بلد نه واو نه په وزارت کی د انټرنټ شبکه وه،او اکثره په دی نه پوهیدل چې انټرنټ څه شی دی او څه ګټه لري؟ یوازې د کمپیوټر دبرخې رئیس په کمپیوټر ي کارونو یو څه پوهیده خو کافي مسلکي پرسونل یې نه درلوده.

که موږ یو یشتمې پیړۍ ته وګورو چې څوک انټرنیټ ونه پیژني او یا بریښنا لیک ونه لري نو د دې معنا دا ده چې دوی دنړۍ نه بې خبره دي او د اوسنۍ نړۍ د اسانتیاو سره اشنایې نه لري او نه شي کولای چې خپل کارونه په سمه توګه سرته ورسوي. همدا علت دی چې د افغانستان په حکومتي ادارو کې هغه ځوانان چې په انګلیسي او کمپیوټر پوهیدل په لوړو کرسیو او لوړو معاشونو مقرر شول چې دې کار دنوي نسل او پخواني مامورینو تر منځ همکاري پیکه کړې وه او یو بل ته یې په ښه سترګه نه کتل. په دې کې هیڅ شک نه شته چې کمپیوټر او انګلیسي په اوسني عصر کې د یوې ادارې د پرمختګ او مدیریت ( Modern Management ) لپاره اهمیت لري خو له دغه ځوانانو باید په تدریجي توګه ګټه اخستل شوی وای، له دوی نه باید په هغو ساحو کې کار اخستل شوی وای چې دوی پرې پوهیدل. ورته ستونزه په اتیایمه لسیزه کې په امریکا کې هم رامنځ ته شوې وه هغه ځوانان چې په کمپیوټر پوهیدل ډېر ژر پیسه دار شول، دوی داسې فکر کاوه چې دوی دهغه چا په پر تله چې په کمپیوټر نه پوهیږي په ټولو اداري او اقتصادي چارو کې ډېر بریالي دي، دغه نسل چې وروسته په ( Dotcom Generation ) مشهور شول وروسته ډېر ژر له سقوط سره مخامخ شول.

دا مهال پنځه طبقې مامورین د افغانستان په دولت کې په کار بوخت دي چې یو له بل سره افهام او تفهیم یې د اندیښنې وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-هغه کسان چې د ظاهر شاه او دواد خان د دورو متخصیین وو. خو له بده مرغه چې دوی له نوي انکشافاتو سره ځانونه نه دي عیار کړی خو دوی ته ځانونه اوس هم متخصیصین ښکاري خو په اصل کې د اوسني عصر تخصص څخه بې برخې دي.

۲-دثور له کودتا وروسته په مختلفو رژیمونو کې پخواني شوروي اتحاد ته په سلګونه او حتی په زرګونو کسان دزده کړو لپاره لیږل شوي ووخو بیا له بده مرغه د دغه کسانو ډېری یې د زدکړو پر ځای هلته هسې ورځې اړولې وې. دیپلومونه یې راوړي خو په څه نه پوهیدل دوی ډېرو یې د جګړو په ډګر کې د لاسته راوړنو او مؤفقیتونو پر اساس رتبې ترلاسه کړې وې، دري لسیزو جګړو دوی هم د نړۍ د چټک پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې کړل او سمدلاسه دوی ته هم ستونزمنه وه چې په اسانۍ سره ځان له اوسني بهیر سره برابر کړي) (۴ )

۴.کله چې ماته د وزارت په دریم پوړ کې دفتر جوړ کړای شو ، د افغانستان یوې لوې نقشې ته پرده پرته وه چې زیاته خیرنه (چټله) وه نو ما د دفتر کارکوونکو ته وویلې چې داپرده لرې کړئ ځکه نقشه پخپله ډیره ښایسته ښکاري. کله چې مې پرده لرې کړه ، د کورنیو چارو د وزارت د مطبوعاتو د چارو امر خدای بښلي سمونوال امان الله (( صلح دوست )) راته وویلې چې صیب دا نقشه محرمه ده ، نو ما ورته وویلې چې په دې کې د محرمیت څه دي ؟ ځکه دی بیچاره له دې نه و خبر چې اوس د ګوګل له لارې ( Google Earth ) په انترنتي سایټ کې د هر چا کور هم په واضحه توګه معلومیدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳**-د طالبانو او مجاهدينو په رژيمونو کې هم داسې څېرې کمې نه وې چې د تخصص او حتی ځينې د سواد له زده کړو هم محروم پاتی شوي و ، د دوی مؤفقيت او رتبې هم د جګړې د ډګر په لاسته راوړنو پورې تړلې وې، دوی لپاره هم د او سني بهېر سره يوځای کيدل ستونزمن وو.

**۴**-هغه افغانان چې په غربي نړۍ کې يې څو لسيزې تېرې کړې وې او ياپې زده کړې هلته ترسره کړې وې ، دوی چې افغانستان ته راغلل نو غوښتل يې هغه څه چې يې په بهر کې ليدلي و په افغانستان کې يې تطبيق کړي ، بې له دې چې د خپل ټولنې عينې واقعيتونه او شرايط په نظر کې ونيسي.

**۵**-هغه طبقه افغانان وچې هغوی د خپلې ټولنې په عيني اوذهني واقعيتونو اوشرايطو باندې پوهيدل او هم يې دافغانستان په چارو کې تجربه درلوده دغه ډلې په تېرو درې لسيزو کې دنړيوال انکشاف او پرمختګ سره ځانونه عيار کړي و ، دوی چې کله هيواد ته رأستانه شول ، واقعا چې د دې قشر موثريت زيات و خو له بده مرغه چې د ورته کسانو شمېر په او سني حکومت کې ډېر کم تر سترګو کيده ، جلالي صيب يو له دغو کسانو څخه ووچې هم يې تجربه درلوده او هم له نړيوالو پرمختګونو څخه يو باخبره شخص وو. همدا علت وو چې نوموړی په خپلو کارونو کې د ټولو ستونزو او چلينجونو سره سره بريالی هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بلخ، سمنګان ، جوزجان او هرات ولایتونو ته سفر
# ۲۰۰۳ ز کال دجون دمیاشتې له ۲۴- ۲۹ مې نیټې پورې

**د بلخ ولایت سفر** :

د جون دمیاشتې په **۲۴** مه نیټه د سه شنبې په ورځ مو د کابل هوایي ډګر څخه په انګلیسي(**c-130**)ډوله الوتکه کې د کورنیو چارو وزارت د لوړپوړي هیئت په ملګرتیا پرواز وکړ او مزار شریف ته لاړو ، جلالي صیب په الوتکه کې خپل د زرې ضد موټر چې کرزي صیب ورکړی و هم له ځانه سره مزار شریف ته انتقال کړ تر څو د سمنګان، جوزجان او بلخ ولایتونو او ولسوالیو ته هم سفر وکړي. د بلخ ولایت په هوایي ډګر کې دبلخ والي اسحاق رهګذر، دسمنګان والي محمد اقبال منیب، د اومې فرقې قوماندان استاد عطا محمد نور، د اتمې فرقې قوماندان جمعه خان همدرد ، سلګونه قومي مشران،سپین ږیري، ملکي او پوځي افسران او دښوونځیو نجونې او هلکان هر کلي لپاره راغلي وو ، له هوایي ډګر څخه دلسګونو موټرو په بدرګه کې دشاه ولایت مآب حضرت علي کرم الله وجهه روضې زیارت ته لاړو ، د دعا نه وروسته د بلخ ولایت مقام ته لاړو ، چېرته چې ګڼ شمېر مشرانو زموږ د راتګ لپاره انتظار کاوه.

د بلخ والي اسحاق رهګذر وویلې چې دبلخ ولایت امنیتي وضعه نسبتا دنورو سیمو په پرتله ښه ده که د بې وسلې کولو پروسه عملي او د ملي اردو د تشیکلاتو کارونه چټک شي نو امنیت به نور هم ښه شي. نوموړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاته کړه چې په دې کار سره به دهر چا موقف او ځای هم معلوم شي. دامهال د مزار شریف په ښار کې دوه قول اردو د اومې او اتمې په نامه موجودې وې چې د یوې مشري استاد عطا محمد نور او دبلې مشري د جمعه خان همدرد پر غاړه وه چې جمعه خان همدرد دغه مهال دجنرال دوستم سره تړاو درلوده ځکه نو موړي غوښتل په دې توګه به په شمال کې د جمعیت اسلامي ګوند نفوذ راکم کړي. د بلخ والي په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې دوی د ملي شورا د امنیت د دیارلس فقره ییزې فیصلې نه ملاتړ کوي، ده وویلې چې پرون د افغانستان دښمنانو زموږ هېواد په شمال او جنوب تقسیم کړی وو اوس موږ د مرکزي حکومت پشپړ ملاتړ او د دوی د اوامرو اطاعت کوو، د تعلیم په برخه کې بلخ والي زیاته کړه چې اوسمهال په بلخ کې ۳۳۲ښوونځي فعال دي چې یوازې۸۰ ښوونځي یې ودانۍ لري او پاتې نور په خیمو کې زده کړې کوي، د بلخ والي دخبرو نه وروسته جلالي صیب د خپل سفر اهداف په دې ډول تشریح کړل:

هر څه د مخه تاسې ته د ولسمشر سلامونه وړاندې کوم. تاسې چې د خپل یو خادم څخه هرکلی وکړ درڅخه ډېره مننه کوم، د افغانستان ستونزې ډېرې زیاتې دي چې تاسې یې په خپله حس کولای شئ ، دافغانستان په خلکو ظلم شوی له دوی سره جفا شوې، دلته د د غه ستونزو یادول ښایې فایده ونه لري، خو هغه ستونزې چې اوس ورسره مخامخ یو په هیڅ صورت د قانون له پلي کیدو پرته نه حل کیږي، اندیښنه دلته پیدا کیږي چې موږ پریو بل اعتماد نه کوو یو بل مو نه دی درک کړی، هیڅوک نه غواړي چې په افغانستان کې دې امنیت نه وي او دی دې یو باعزته ژوند ونه لري، نو بیا ولې له موږنه لاره ورکه ده؟ هو ! یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله خلک شته چې خپلې شخصي ګټې تر هر څه مقدمې ګڼي او خپلې ګټې په ګډوډۍ کې ويني.
جلالي صيب زياته کړه چې بيا رغونه، امنيت او يوه ښه اداره يو بل سره ارتباط لري، خو اوس هر څه شخصي شوي دي د بيلګې په توګه له يو قوماندان نه ټول وېره لري، نهادونه نه دي جوړشوي او هر څوک خپلې تنظيمي اړيکي پالي، ديوې پرمختللې او مدني ټولنې په اړه څوک فکر نه کوي، د دولت او خلکو ترمنځ واټن زيات شوی حکومت بعضو ته يوازې هدف دی نه د امن، نظم او خدمت وسيله.
جلالي صيب وويلی چې حکومت خادم دی او ملت مخدوم ، داسې نه ده چې حکومت دې د خلکو مال ته سترګې پټې کړي وي. ترهغې چې ملي ګټې په شخصي او ګوندي اړيکو لوړې ونه ګڼئ، هيڅ پريکړه ارزښت نه لري، زه او تاسې به هم دا هيله نه لرو چې معجزه دې واقع شي او دا هر څه دې په خپله سم شي، ولس په شمال کې له امنيتي وضعيته خوښ نه دی، ما له جنرال دوستم او استاد عطا سره خبرې کړې، ترهغې چې د مزار ښار غېر نظامي نه شي امنيت نه شي ټينګيدلی، تر څو چې اداره د تنظيمي اصالت څخه راونه وځي هيڅ ستونزه نه شي حل کيدای، ستاسې همکاري (خلکو ) ډېره مهمه ده، والي، ولسوال، قوماندان، د ګمرک ريس هر يو يې په خپله ساحه کې حاکم او مسؤل دی.
ده زياته کره چې په نامه به پوليس وي خو اړيکي به يې تنظيمي وي هر هغه څوک چې خلکو ته خدمت ونه کړي همغه نهاد چې په کې کار کوي خلک ورته اړتيا نه لري، که در سره په رښتني توګه ونه غږيږم ستاسې دوست به نه يم او که تاسې زموږ نيمګړتياوې را په ګوته نه کړئ شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعيت به دوام وموِمي، زه د سياسي، مادي او ياهم د اداري شان او شوکت غوښتونکی نه يم، يوائې ستاسې دهمکارئ هيله لرم. مننه

د جلالي صيب له خبرو وروسته مولوی محمد اسلم دعلماؤ د شورا رئيس او سيد محی الدين ګوهری دمخورو دشورا غړي خبرې وکړې. ښاغلي ګوهري وويلې. «به نماينده گی مردم که هميشه چشم به امنيت دوخته صحبت مې کنم تازمانی کی سلاح جمع نه شود وبه جای ظلم منطق و دانش جای نه ګېرد که اين خواسته تمام ملت افغانستان وبالخاصه شمال است ما نفس کشيده نه مې توانيم. جناب وزېر : وظيفه شما ازهمه مهمتر است، امروز پوليس پوليس نيست، پوليس او است که به پای خود ايستاده باشد ، امروز پوليس تحت نفوذ تنظيم ها است، ما پوست کنده گپ ميزنم، امروز ما نان نه داريم مگر ازما ده يک وده پانزده (۶) گرفته مي شود ، سلاح بايد گم شود مگر حالا سلاح خريده مې شود شما بايد از دسيسه های اهل غرض بايد اگاه باشيد ، نفرهای که به شما مې آيد همه شان از مردم نه خاسته وکسی که هويت اصلی اش معلوم نيست به نمايند گی مردم مې آيد ، والی امر مې دهد مگر ولسوال عملی نمې کند ، نه که عملی نمې کند مشکلات ديگر را ايجاد مې کند ، ما دولت مرکزی را به قطره قطره خون حمايت مې کنيم اما از شما صورت اجر اش مې خواهيم تمام ولايت های شمال با شما است وحقوق همه مليت ها بايد به جايش حفظ باشد».

۶- زورواکو له خلکو نه لسمه يا پنځلسمه حصه دحاصلاتو په زور اخستله

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته وکیل عبد الوهاب دمخورو دشورا رئیس خبرې وکړې او خبرې یې یو څه تخریشی وې ده وویلې: « شمال باعث سقوط حکوت نجیب شد مگر متاسفانه ازجنوب افغانستان حکومت برضد ما جهاد شروع کرد و این مشکل از جای شروع شده که مې گفت (( داپښتونستان زما ) ) بعد از این ایجاب نمې کند که قطعات نظامې درشهر باشد».

د لته یوه یادونه په کارده چې دغه مشران استاد عطا محمد نور پوه کړي وو چې باید په خپلو خبرو کې یادونه وکړي چې دمزار شریف له ښار نه باید وسله وال ځواکوونه ووځي ځکه په دې وخت کې د جنرال عبدالرشید دوستم قطعات زیات په ښار کې ځای پر ځای وو او ده دجنرال دوستم قواؤې دځان لپاره تهدید ګڼلې چې وروسته به یې یادونه هم وشي چې دواړو خوا و د قواؤ ترمنځ نظامي برخوردونه هم رامنځ ته شول چې د کورنیو چارو وزارت او نړیوالو قوتونو په منځګړتوب په کې اوربند وشو.

د بلخ ولایت د غونډې نه وروسته جلالي صیب خپلو رئیسانو ته امر وکړ چې دولایت د ملکي او پولیسو د ادارو بررسي وکړي او خپل راپور د وزارت مقام ته وړاندې کړي، په خپله جلالي صیب چې زه هم ورسره وم دشمالي ولایتونو سپین ږیرو او قومي مشرانو سره لیدنو ته دوام ورکړ.

دفاریاب د ولایت معاون سید احمد سعید او امنیه قوماندان سید یوسف فریاد سره مو وکتل او د فاریاب ولایت په مشکلاتو مو ځان خبر کړ.

دفاریاب امنیه قوماندان په خپلو خبرو کې وویلې چې زما دراتګ نه دمخه د فاریاب په ولایت کې څلور قوماندانان وو او پولیس چا نه پیژندل د کوهستانونو د دوه ولسوالیو پرته دولایت ټولو ولسوالیو ته مې سفرونه وکړل، دغه قوماندان چې تازه د کورنیو چارو وزارت له خوا تعین شوی وو وویلې چې د ولسوالیو ترمنځ فاصله ډېره زیاته ده او موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره هیڅ نوع مخابراتي رابطه نه لرو ، نظامي قطعات د جنرال دوستم او جمعیت د ډلې په هره ولسوالۍ کې د غونډونو په نامه شته دی خو په هره قطعه کې د۲۰-۲۵ زیات نفر نه لري د کابل څخه معتمدین میلیونونه افغانۍ تنخواوې راوړي خو پولیس او مامورینو ته تنخوا نه ورکول کیږي او وایي چې پیسې په جنګ کې له منځه تللي دي، یو معتمد مو بندي کړی او څارنوالۍ ته مو معرفي کړی دی، ده وویل چې دفاریاب والي قاضي عنایت کابل ته تللی او تر اوسه پورې نه دی راغلی او وایې چې په فاریاب کې یې د ترور کیدو وېره شته خو په حقیقت کې په فاریاب کې هیڅ خبره نه شته او وضعیت نورمال دی.

ده وویل چې د فاریاب ولایت د اندخوی څلور ولسوالي چې د آقینه بندر هم په کې شامل دي جنرال دوستم په زوره د جوزجان ولایت پورې تړلي دي تر اوسه یې بېرته فاریاب ته نه دي حواله کړي، همدارنګه د جنرال دوستم څلورویشتمه فرقه په سرحدي چارو کې مداخله کوي نو ښه به دا وي چې دا مسائل دجنرال دوستم سره مطرح شي.

ماښام مو جنرال دوستم سره دهغه په کور کې وکتل، جنرال دوستم جلالي صیب ته وویل چې د مزار ښار ډېر مسلح شوی او یو جدي اقدام باید وشي که نه نو وسلوال تصادم رامنځ ته کیدای شي.

جلالي صیب ورته وویلې دا چې یوه ډله پر بل اعتماد نه لري نو ځکه خو باید دمزار شریف ښار غېر نظامي شي او د انګلستان له هېواد مو غوښتي دي چې خپل (Provincial Reconstruction Team) PRT یعنې د بیارغونې ټیم مزار شریف ته راولیږي، موږ باید په مزار شریف کې د پولیسو یو تعلیمي مرکز جوړ کړو تر څو ملي پولیس وروزو ، دولتي نهادونه باید تقویه شي، هغه څوک چې دپولیسو د مرکز نه خلاصیږي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیم په وخت کې به ورته د برش ډالر او له فراغت نه وروسته به ورته اویا ډالر معاش ورکول کیږي، اوس مهال د پولیسو معاش د برش ډالر ووچې خورا کم معاش وو. جلالي صیب جنرال دوستم ته وویلې چې دازموږ پرګرام دی او دا باید دلته عملي شي او تاسې باید همکاري وکړئ، جنرال دوستم وویلې چې په شمال کې د۲۰ - ۳۰ زره نفرو پورې مسلح کسان لرم خو مرکز ماته یوازې د**۵۵۰۰** نفرو اعاشه راکوي زه اتیا ټانکونه او شپاړس **BM**څلویښت ډوله دستګاوې او نور زیات مهمات لرم که (ایساف ) تضمین وکړي زه دا ټولې وسلې مرکزي حکومت ته سپارم، ځکه د مزار په هر کور کې د شمالي ټلوالې یو قوماندان اوسیږي او هر کور یوه پو سته ده، دوی زما او د مسعود عکسونه لږولي او ورڅخه بده استفاده کوي او بدنامي یې موږ ته ده، نو زه حاضر یم چې د مرکزي حکومت سره همکاري وکړم.

د جون په پنځه ویشتمه نیټه دسهار چای مو د حزب وحدت د شمال شورا د مسؤل سردار سعیدي سره وڅښه ترڅو د دوی مشکلاتو ته غوږ کیږدو او دا تعهد ترې واخلو چې د مرکزي حکومت د پراګرامونو په عملي کولو کې مرسته وکړي، په دې وخت کې د بلخ په ولایت کې د وه لویې او دوه ورې ډلې وې، د دوه لویو ډلو مشري جنرال دوستم او عطامحمد نور کوله او د دوه وړو ډلو مشري چې یوه یې د هزاره ګانو وه چې مشري یې د وحدت دحزب سردار سعیدي کوله او بله وړه ډله د پښتنو وه چې مشري یې جمعه خان همدرد کوله. د دغو وړو ډلو رول ډېر مهم وو، ځکه چې که دوی به د هرې لوی ډلې ملاتړ کاوه همغه ډله قوي کیدله، نوپه دې وخت کې سردار سعیدي د استاد عطامحمد نور او د پښتنو ډلې د جنرال دوستم څخه ملاتړ کاوه، که څه هم د جنرال دوستم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو ترمنځ په سرپل او جوزجان کې اړیکې چندان ښې نه وې، ځکه ازبکو په دغو سیمو کې پر پښتنو ډېر ظلمونه کړي ووخو په بلخ کې یې دجنرال دوستم سره مرسته کوله، د سردارسعیدي سره د چاي خوړلو پر وخت د دغې شورا غړی جنرال مرتضی د ۳۸ مې فرقې قوماندان، استاد جعفري او ښاغلی رفیعی هم موجود وو. دوی هم د مزارپه ښار کې د مسلحو کسانو د زیاتوالي نه شکایت کاوه او ویلې یې که مرکزي حکومت ژر مداخله ونه کړي خامخا مسلحانه برخورد رامنځ ته کیږي.

په مزار شریف کې داستاد عطامحمدنور او جنرال دوستم تر منځ تاوتریخوالی هغه مهال رامنځ ته شو کله چې دعطامحمد نور پلویانو د جنرال دوستم یو کس د رجب بای په نوم لومړی وتښتاوه چې وروسته ووژل شو، د کورینو چارو وزارت متهمین نیولي او د دې مسلې د څیړنې په موخه یې یو کمیسیون هم ټاکلی و چې د یوناما استازی هم په کې و خو داسې وېره وه چې د بلخ والي به متهمین خوشې کړي ځکه چې نوموړی د عطامحمدنور پلوي یو کس وو خو جنرال دوستم غوښتنه درلوده چې دغه قاتلین دي کابل ته انتقال شي. د جنرال دوستم ځینو نفرو دا هم ویل که دا انتقال نه شي نو دجنرال دوستم وسله وال به پر محبس حمله وکړي او دوی به یې په خپله ووژني. د یوناما استازي وړاندیز داوو چې دبلخ ولایت په چارواکو کې دې تغېر رامنځ ته شي او بې طرفه کسان دې په دندو وګمارل شي که نه نو دلته امنتي وضعیت ډېر ژر خرابیدای شي او دوی یادونه وکړه چې هغه ۷۵پولیس چې له کابله دد غې موضوع دتحقیق په موخه راغلي هغوی هم کومې پایلې ته درسیدو پرته کابل ته ستانه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سمنګانو ولایت ته سفر
## دچون د میاشتې ۲۵ نیټه ۲۰۰۱ م کال

سردار سعیدي سره له چایو خوړولو وروسته مو د سمنګانو ولایت پر لوري خپل سفر پیل کړ، دتاشقرغان د حضرت سلطان په ولسوالۍ کې د سمنګانو والي سید محمد اقبال منیب او ورسره سلګونه قومي مشران او دښوونځیو زده کوونکي زموږ هر کلي ته ولاړ وو، زده کوونکو ډېرې په زړه پورې ملي ترانې وړاندې کړې چې د جلالي صیب له خوا په نغدي تحایفو وویاړل شول، په دغه سفرکې موږ سره استادعطامحمد نور، جمعه خان همدرد او دبلخ دامني قوماندان ډګر جنرال سیدمحمد ملګرتوب کاوه،غرمه مهال د سمنګان ولایت مرکز ایبکو ته ورسیدو، دلته هم په سلګونو کسانو زموږ انتظار ویسته په ایبکو کې مو په هغه غونډه کې برخه واخسته چې د جلالي صیب او ورسره هیئت په ویاړ جوړه شوې وه.

لومړی د سمنګانو والي محمد اقبال منیب خبرې وکړې او د هرکلي نه وروسته یې وویل (( افغانستان داخل مرحله ئې نوین مې شود که بعد از دوره اشغال و اختلاف های داخلي جوامع بین المللی و دوستان خارجي افغانستان باما ایستاده و همکاري میکنند، دېروز افغانستان د رجوامع

(c) ketabton.com: The Digital Library



بین المللی به حیث مملکت حامې مرکز تروریزم وقاچاق مواد مخدر شناخته مې شد ، اما امروز وطن ما در استانه بازسازی قرار دارد ، اگر وحدت ملی داشته باشیم گامې استوار در بازسازی خواهیم داشت، افغانستان خانه همه است، سمنگان دارای شش ولسوالی و تخمینا تعداد نفوس آن به شش لک نفر مې رسد ، همه اقوام پهلوی یک دیگر مثل برادر زنده گی مې کنند. دشمنان افغانستان مې خواهند که ثبات سیاسي افغانستان رابرهم بسازد مگر ما حمایت خود را از فرامین،هدایات و احکام حکومت مرکزی اعلان مې کنیم و تا ئید فیصله ۱۳ فقره یې شورا امنیت رامې کنیم وامنیت اینجا مربوط قوماندانې امنیه است نه گروه مسلح دیگری.

دسمنګان د والي د خبرو نه وروسته جلالي صیب په خپلو خبرو کې لومړۍ د دولت د رئیس سلامونه خلکو ته وړاندې کړل او دسمنګانو د ولایت د چارواکو او خلکو له هر کلي یې مننه وکړه او ویې ویل: ((په دې غرونو کې په زرګونو رستمان[۷] راپیدا شوي دي او خپل هېوادیعنی افغانستان یې له دښمنانو ساتلی، خدای جل جلاله دې وکړي څرنګه چې موږ په جګړه کې همیشه میدان وړی نو په سوله کې هم باید له چا کم ونه وسو ، د ځان غوښتنې نه باید ځانونه وژغورو ، که افغانستان ارام وي نو موږ به هم ارام یو ، هو ! که زه راتلونکې ته هیله من نه وای نو ما د وزارت دا درنده دنده نه قبلوله،دافغانستان ډېرى خلک سوله غواړي ، همدارنګه نړیواله ټولنه هم د افغانستان امنیت ته ځانګړې پاملرنه کوي، په راتلونکو درېو کلونو کې به موږ نږدې پنځوس زره پولیس ولرو چې دا

(۷) رستم پهلوان تخت چې دتخت رستم په نا مه یادیږی اود هغه وخت ښار د ایبکو د ښارسره نږدی پروت دې او دافغانستان د لرغونو اثارو له جمله نه دی ځکه جلالی صیب د رستم نوم ته اشاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیس به دیو شخص، یو تنظیم اویا یو قوم پوری به تړاوونه لری، ښه معاش او ښه امکانات به ولري چې په عزت سره خپله دنده پر مخ بوځي.))

د جلالي صیب له خبرو وروسته دسمنګانو دولایت مرستیال خادم حسین ناطقي خبرې وکړې او وي ویل: د ۱۳۵۷ هـ ش کال دلوې د میاشت په ۲۲مه نیټه د دره صوف خلکو قیام وکړ چې بیا حکومت زه بندي کړم چې لومړی دلته په سمنګانو کې بندی وم او بیا یې کابل ته انتقال کړم او بیا د ۱۳۵۸ کال د جدي په ۲۲ نیټه خلاص شوم او وروروسته بېرته دلته راغلم او په عملي جهاد کې مې برخه واخسته. له دې وروسته مو د دره صوف معادن او بیا ولسوالي ونیوله او وروسته مو تخت رستم هم ونیوه چې د طالبانو پر ضد انقلاب هم دلته پیل شو، چې مشترکه شورا مو جوړه کړه چې زه یې دشورا مشر، حاجي عبدالوهاب د نظامي شورا مشر او حاجي احمدي چې اوس د دره صوف د ابتدایې محکمې قاضي دی د قضایه شورا رئیس وو، په دره صوف ولسوالی کې شیعه او سني قومونه دواړه د ورونو غوندې بودوباش لري اوس دا ولسوالي دوه شوې او د د ره صوف علیا او سفلی په نامه یادیږي.

دبلخ ولایت او سمنګانو تر منځ۱۰۳ کیلو متره فاصله ده او دخلکو عمده ستونزه د زور واکانو سره وه چې د خلکو ځمکې او جایدادونه یې په زور نیولي و، په دغه ولایت کې پښتانه اقلیت وو چې دازبکو له خوا به ظلم وربانديکیده.

د سمنګانو والي سید محمد اقبال منیب چې ازبک و، ډېر زرنګ سړی ووچې دشرایطو سره یې ځان ډېر ژر عیاروه او دهر چا په مزاج به یې خبرې کولې، حتی د ولایت په خونه کې به یې د مختلفو کسانو عکسونه درلودل او کوم هیئت به چې راته نو دهغه دطرفدار عکس به یې په خونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راځړاوه، د بيلګې په توګه کله چې به د کابله څوک ورتلل نو د ښاغلی کرزی صيب عکس او که د جنرال دوستم له خوا به څوک وو نو د جنرال دوستم او که د جمعيت به څوک وو نو بيا به يې د احمد شاه مسعود عکس په خپله خونه کې لګاوه.

په سمنګانو کې د غرمې ډوډۍ دمخه جلالي صيب خپل د پلاوي رئيسان د ولايت بررسي ته ورلېږل او ماسپښين بېرته د مزار شريف ښار ته رأستانه شوو، مازديګر مو په مزار کې د دغه ښار د يو شمېر سپين ږېرو سره وکتل، جلالي صيب سپين ږېرو ته څرګنده کړه چې زموږ د سفر هدف دا دی چې تفصيلي خبرې وکړو او مشکلاتو د حل لارې چارې ولټوو. موږ ملي پوليس جوړو چې لومړی ورسره څلور کاله قرارداد کوو او بيا تر شلو کالو پورې د پوليسو په چوکاټ کې کار کولای شي او تقاعد به هم ولري. د دې پرګرامونو په اړه بې تفاوتي د دې معنا لري چې د خپلو اخلاقي، اجتماعي او ملي مسؤليتونو څخه تيښته کوو، د بې وسلې کولو پروسه بايد دوام پيدا کړي او کار بايد اهل کار ته وسپارل شي، مهاجرين چې کله هېواد ته رأستنيږي د بې کارۍ له امله دوی دويم ځل مهاجرت ته اړ کيږي، بايد دوی ته د کار زمينه مساعده شي.

يو تن مولوي د نورو په استازيتوب خبرې وکړې او وويل: کله چې دهقانان خپل حاصل ټولوي نو مسلح کسان ورنه په زور دعشر په نامه (ده يک ) حاصلات ټولوي، ده وويلې (( تامين امنيت وقتی شده ميتواند که تعداد ارباب ها بايد برداشته شود، اگر چند خدا مې بود اين نظام درهم وبرهم مې شد، همين قرارګاه ها ارباب ما نيست، ما يک مسؤل مقتدر وآزاد د ر ولايت مې خواهيم،کسانيکه فرامين رامې خواهد تطبيق کنند اول بايد سرخود عملی کند، اين ارباب ها که درشهر مې ګردند موترهای

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلح پشت سرشان مې باشد که ترس و وهم را ایجاد مې کند. تقریبا دو روز پیش چهار بجه روز در شهر تاجر ما رابسته کرده، و هفت هزار دالر را ازنزدش برد، به همه اداره های امنیتی رفتیم هیچ کس عرض ما را نه گرفت ما چطور مې توانیم که سر این ارباب های مسلح انتقاد کنیم، مواد مخدر راکه قاچاق مې کند همین ارباب های مسلح میباشد، آدم غریب و تاجر قاچاق مواد مخدر را کرده نمې تواندجنگ در دروازه بلخ (۸) مې شود ومال ما در دیگر جای شهر چور مې شود))

جلالي صیب د دغو مشرانو دخبرو اوریدو وروسته دوی ته وویل: حکومت اوسمهال په مرکز کې هم کمزوری دی، ځینې مسائل په مرکزي حکومت باندی له اطرافونو تحمیلیږي، موږ باید داسې ګام پورته کړو چې هدف ته مو نږدې کړي، په ډېرو ټولنوکې ډېر کرته دتصوراتو پر بنسټ پریکړې کیږي اوواقعیتونه په پام کې نه نیول کیږي نوزموږ ستونزه هم همدا ده چې ډېر کرته دتصوراتو پر بنسټ پریکړې کوو هر شخص دلته چارو ته د تنظیمي، سیمه یېزو، ژبنیو او نورمسأیلو په شکل ګوري، په میمنه کې خلک د نوی والي پر شا اوخوا راجمعه شوي دي، موږ د میمنې ښار ته پنځوس تنه پولیس دکابل نه لیږلي چې دخلکو په همکاری اوس هغه څوک ښار ته نه پریږدي چې د وسلې دګرځولو کارت ونه لري. د کوکنارو دکرکیلي څخه دهقانان ډېره لږه ګټه اخلي او ډېره ګټه یې قاچاقبرانو او نورو ته رسیږي خو بدنامي یې دافغانانو ده.

د فاریاب والي قاضي عنایت هم موجود و او ویې ویلې چې دمیمنې په ښار کې دجمعیت او جنبش دډلی کسان د خلکو په کورونو کې په زوره ځای په ځای شوي وو څلور کسه یې ترور کړل او بیا وروسته جګړه پیل شوه چې اتلس ساعته یې دوام وکړ چې دیارلس کسه په کې مړه شول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوارلس کسه په کې ټپيان شول، خلکو مظاهره وکړه او پر ولايت يې هجوم راوړ او ويل يې که تاسې زموږ حمايت وکړئ دا مسلح کسان موږ په تيږو او کوتکيو هم له ښاره ويستلی شو، هماغه وو چې موږ دخلکو د دې اقدام نه حمايت وکړ او اوس د ميمنې په ښار کې مسلح کسان نه شته.

دا چې په بلخ ولايت کې زما پلار څو دورې د ندې اجرا کړې وې نو ما هم په دغه سيمه کې ډېر پښتانه مشران پيژندل نو دوی له مانه غوښتنه وکړه چې غواړي جلالي صيب سره په ځانګړي توګه وګوري نو ما جلالي صيب ته وويل که دوی ته وخت ورکړي او ستونزې يې واوري نو ښه به وي. جلالي صيب مازديګر ناوخته وخت ورکړ چې نږدې سل کسه پښتانه مشران دبيلا بيلو ولسواليو څخه راغلل. د بلخ د ولسوالۍ نه مېرزا عبدالرحمن خبرې وکړې او ويې ويل چې د بې وسلې کولو پروسه بايد عملي شي، په موږ هر چا ظلم کړی او دولايت په ټولو شعبو کې زموږ عرض څوک نه اخلي، دبلخ ولايت امنيتي وضعيت ډېر خراب دی. وروسته د بلخ دولايت دمخورو د شورا مرستيال وکيل عبدالحميد خان چې د شولګرې د ولسوالۍ دی خبرې وکړې (۹) او ويې ويل: جناب جلالي صيب ستا په راتګ اوس موږ ازادې خبرې کوو، يوازې زموږ دغه ليدنه هم ډېره مؤثره ده، دې کې شک نه شته دی چې امنيت خراب دی، قاتلين نه نيول کيږي او ظلمونه شته دی، نژادي تبعيض شته دی، په دولتي ادارو کې پښتنو ته حتی د يو پياده سهم هم نه دی ورکړل شوی، که د سولې او بازسازۍ پروسه ورووړو هم پر مخ ځي موږ ورته خوشبين يو.

۹.وکيل عبدالحميد خان بارکزی دشولګرې ولسوالۍ د پښتنو د شورا مشر چې پخوا دوه ځلې په ملي شوار کې دشولګرې ولسوالۍ د خلکو متنخب وکيل هم پاتې شوی دی، نوموړی زما دپلار مرحوم سيد محمود حسرت ډېر نږدې ملګری وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو تن د لوی جرګې وکیل حاجي عبدالقیوم د بلخ ولسوالۍ اوسیدونکي وویل چې که تاسې دغه مسلح کسان له ښاره وباسۍ نو دوی اطرافو ته راځي او هلته هم ظلم کوي، هغوی هم د دې خاورې بچیان دی، همدا اوس دبلخ د ولسوالۍ ښارګوټي ۵۰۰ متره مربع مساحت لري او د تنظیمونو دوه پوستې په کې شته او که نور مسلح کسان هلته راشي نو ستونزې به نورې هم ډېرې شي، نو ښه به دا وي چې وسله والې ډلې بې وسلې شي.

وروسته جلالي صیب خبرې وکړې او وویل چې: زه له تاسې سره موافق یم چې د بې وسلې کولو بهیر باید ادامه پیدا کړي، خبرې خو ډېرې دي خو د حل لارې باید ولټول شي. په دولتي ادارو کې باید ټولو قومونو ته هم د مرکز او هم دولایاتونو په کچه په متنا سبه توګه ونډه ورکړل شي خو اهلیت باید په نظر کې ونیول شي، د جرګې اصل دی چې یو څه به اخلې او یو څه به ورکوې، امید دی چې دا ستونزې ژر حل شي او زه دې ته متوجه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جوزجان ولایت ته سفر
## دجون دمیاشتې ۲۵ نیټه ۲۰۰۵ م کال

د مزار شریف او جوزجان ولایت مرکز شبرغان تر منځ واټن ۱۱۸ کیلو متره دی چې په دوه ساعتونو کې هلته ورسیدو، د سهار چای مو د شیخ آصف محسني دفرقې دقوماندان جنرال نجیب سره وڅښلو، شبرغان ښار ته نږدې په سلګونو مشران، پوځي او ملکي چارواکي او د ښوونځیو شاګردان، د جنرال دوستم په ګډون دهرکلي لپاره ولاړ وو.

د کورنیو چارو وزیر او ورسره پلاوي د شبرغان د ښار ادیتوریم ته لاړ ځو هلته له خلکو سره وګوري او خبرې ورسره وکړي. د شبرغان ښار وضعه د مزار د ښار په پرتله ارامه ښکاریده، ځکه د لته یوازې د جنرال دوستم د جنبش ډله په قدرت کې وه او په ادیتوریم کې د ښځو شمېره هم زیاته وه، د جنرالانو شمېر هم ډېر زیات وو، ځکه چې جنرال دوستم هر چاته یې چې خوښه شوې وه د جنرالۍ رتبې ورکړې وې او عجیبه خولا دا وه چې کله موږ د شبرغان ښار ته داخلیدو نو دترافیکو ځو موټر سایکلونو زموږموټرې بدرګه کولی نو زه د جلالي صیب سره په یوه موټر کې سپور وم او خبرې مو کولاې چې یو ترافیک ته چې پر موټر سایکل سپور و، متوجه شوم او جلالي صیب ته مې وویلې چې دې ترافیک ته ګوره چې د اوږې پر یو اړخ یې دبرید جنرالۍ او پر بل اړخ یې د تورن جنرالۍ رتبې لګیدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سيد عزيز الله په نامه د جنبش د ډلی يو تن نماينده چې انانسري يې کوله موږ ته هر کلی وو ايه او وي ويل: په جوزجان کې ټول قومونه يو بل سره د ورورنو په څېر ژوند کوي امنيتي وضعه هم ښه ده خو د دې لپاره چې دښار وضعيت خوندي پاتې شي د شپې له خوا د شبرغان په ښار کې په تګ راتګ بنديز لګول کيږي، له دې وروسته يې له جلالي صيب نه وغوښتل چې خبرې وکړي.

جلالي صيب وويلې: «د خوښۍ ځای دی چې د شبرغان په ښار کې د خپلو ورونو سره ګورم، موږ بايد يو بل ته د وروري لاسونه ورکړو، نور نو بايد خپل ځانونه ونه غولوو ځکه ستونزې ډېرې دي او موږ بايد دغه ستونزو ته د حل لارې چارې ولټو، قومي اختلافاتو ته د افغانستان دښمنان لمن وهي او پره يې په مرکزي حکومت وراچوی، صلاحيتونه او مسؤليتونه ګونګ دي،يو والي تربل والي فرق لري او حتی د دوی (واليانو) کړنې د نورو په اشاره ترسره کيږي. جلالي صيب زياته کړه په ځينو ځايونو کې په پښتنو ظلم شوي، په بعضې ځايونو کې په هزاره ګانو او په بعضې کې په ازبکو خو په دې سيمه کې په پښتنو زياتی شوی دی او اوس دانتقام ځای نه دی او بايد په يو بل اعتماد وکړو چې ستونزې حل شي.»

د جلالي صيب د خبرو نه وورو سته ښاغلی عبدالصمد آصف دجوزجان ولايت اداري رئيس دولايت په کاري چارو رڼا واچوله او ويې ويل: ۱۸۰۰ کسان د نفتو او ګازو په پروژه کې کار کوي، ۱۴ د تيلو څاه ګانې اوس مهال فعالې دي او د جوزجان ولايت برق د ترکمنستان څخه راځي، نږدې ۱۲۰۰ کسان د جوزجان په محبس کې بنديان دي چې ډېر يې طالبان دي چې اوسمهال اعاشې او اباتې ته ضرورت هم لري خو مرکزی حکومت مونږته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کافی بودجه نه راکوی. ده وویل چې د مرکزي حکومت ټول فرامین مو عملي کړي او د بشر دحقوقو د قوانینو د رعایت مسئله مو جدي نیولې ده.

ورپسې محترمه ایوبي د جوزجان ولایت دښځو په استازیتوب خبرې وکړې او ویې ویل: همه برادرهای ما که از خارج به وطن برای خدمت برگشته ستایش مي کنیم که زنده گی آرام خویش رامانده، ومثل جمعه محمد محمدي (۱۰) که زنده گی خویش را از دست داده، هر چه عاجل تر باید خلع سلاح عمومې در افغانستان صورت بگېرد، پولیس ملي و اردو با اقتدار به میان بیائد، دیگر حوصله جنگ نیست وهمه تشنه صلح هستند، به پیش اشخاص غېر مسؤل سلاح باید دیده نه شود، افغنستان از افغان ها است به این وآن تفرقه نباشد. مانمې گویم که اشتباه نه شده اما امروز پېروزی آمده موضوع اقلیت مطرح نیست عفوه عمومي شود وبه اهل کار کار سپرده شود. سلام های مارا به رئیس دولت برسانید و در ولایت ها هم پوست های اساسي به زن ها داده شود، وافتخارات جوزجان نادیده گرفته نه شود.

ورپسې یو تن د مولوي محمد ابراهیم په نامه عمومي خبرې وکړې، همدارنګه داندخوی څلور ګونو ولسوالیو په استازیتوب محمد ظاهر

۱۰.جمعه محمد محمدي چې دښاغلي کرزي په موقته دوره کې دکانو او صنایعو وزیر شو. د ۲۰۰۳م کال د فوروری په ۲۴مه نېټه کله چې نوموړی دیو پلاوي په مشرۍ دپاکستان دکراچۍ د هوایي ډګر څخه د کویټې سیمې ته دځینو معدنونو د لیدنې په موخه یې سفر کاوه، الوتکه یې د کراچۍ په سمندر کې راپریوته نوموړی او ورسره اوه کسیزه پلاوی وطن ته دخدمت په خاطر خپل خوږ ژوند دلاسه ورکړ، دیادولو وړده چې د جمعه محمد محمدي مړی هم پیدا نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې وکړې او ويې ویل چې اندخوی ځلورنیم لکه نفوس لري او آقینه بندر فعال دی، په ۳۲ ښوونځیو کې پنځه دېرش زره زده کوونکي سبق وايي. ۲۳۰ تجارانو د فعالیت جوازونه اخستي نو زموږ پیشنهاد دادی چې اندخوی باید مستقل ولایت شي، ځینې خلک کوشش کوي اندخوی د فاریاب په ولایت پورې وتړي داچې اندخوی د فاریاب څخه په ۱۴۰ کیلو متري او د شبرغان څخه ۷۵ کیلو مترو کې موقعیت لري چې ۲۵ کیلومتره يې پوخ سړک دی نو ځکه خوموږ وایو چې تر څو اندخوی یا مستقل ولایت نه شي او یاهم په جوزجان پورې ونه تړل شي موږ خپل معاشونه نه اخلو، په اندخوی کې نه ولسوال او نه پولیس وسایط لري چې امنیت تامین کړي خو خلکو په خپله امنیت تامین کړی دی.

څرنګه چې ما مخکې یادونه وکړه چې جنرال دوستم غوښتل چې دآقینه بندر ترخپل کنټرول لاندې وساتي ځکه چې دا یو عایداتي منبع وه او نه يې غوښتل چې ښېرته يې دفاریاب ولایت ته ورکړي نو جنرال دوستم اکثریت ویناوال په دې پوه کړي ووچې دا مسائل باید په خپلو خبرو کې مطرح کړي او د کورنیو چارو وزیر غوږونو ته يې ورسوي.

داندخوی د استازي دخبرونه وروسته یوتن ښوونکی دنورو په استازیتوب خبرې وکړې، نوموړي د خپلو خبرو په پیل کې د پښتو دا متل ولوست (( که تا ویل چې زه یم او ما ویل چې زه یم نه به ته يې او نه به زه یم او که ماویل چې ته يې او تاویل چې ته يې هم به ته يې اوهم به زه یم )) نوموړي زیاته کړه چې د جوزجان په ولایت کې امنیت تامین دی او ځلورزره معلمین په خپلو دندو بوخت دي، دا چې دملي اردو په جوړولو په کابل کې کار پیل شوی نو دملي پولیسو کار باید له جوزجان څخه پیل شي ځکه چې دلته مجرب افسران شته دي، نوموړي ښوونکی زیاته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې غربي رسنۍ په اګاهانه او غیر اګاهانه توګه په جنرال دوستم پسې تبلیغات کوي په داسې حال کې چې په جوزجان کې ملي وحدت او امنیت تامین دی او ۱۳۷۰۰۰ شاګردان ښوونځیو ته ځي، نوموړي زیاته کړه په جوزجان کې پراخې ځمکې شته نو ښوونکو ته باید یوه یوه نمره ځمکه ورکړل شي.

د نوموړي ښوونکی د خبرو نه وروسته ګل احمد پیمان د پښتنو په استازیتوب خبرې وکړې، پیمان چې غوښتل یې د جوزجان د مرستیال والي په توګه تعین شي خو جنرال دوستم سره د رابطې دخرابوالي له امله په مزار کې اوسیدلو خو نوموړی له مزار نه زموږ سره ملګری شو، نوموړی چې دکورنیو چارو د وزیر په ډاډ په ډاډه توګه غږیده ویې ویل: موږ د اختر خان شهید او جنرال دوستم سره اوږه په اوږه جنګیدلي یو، دطالبانو په وخت کې زه دوه ځله بندي شوي هم یم خو اوس مشکل د جنرال مالک پلویان اوهغه کسان چې د جنرال دوستم له نامه بده استفاده کوي پیدا کړی دی، زه د خلکو د تشکیلاتو په اساس مرستیال والي او سید محمد هاشمي د والي په توګه تعین شولو مګر اوس ټول اداري تشکیلات د دوه قومونو (هزاره او ازبکو ) په لاس کې دي.

د ګل احمد پیمان خبرو په جنرال دوستم ښه تاثیر ونه کړ، که څه هم نوموړي اراده نه وه چې خبرې وکړي خو ولاړ شو او ویې ویل: من هم مسؤلیت دارم به حیث نماینده خاص ریئس دولت باید به ( وزیرصاحب داخله ) مشوره بدهم که چطور امنیت تامین شود. ما ګپ های خورد وریزه را باید دامن نزنیم، من درمسجد شبرغان بامردم مشوره کردم، وقتیکه حکومت نجیب سقوط کرد وحکومت مردمې تشکیل دادیم، به من

(c) ketabton.com: The Digital Library



واشنگتن پیشنهاد کرد که پنج هزار نفر کومک کنید ، دوهزار سوار وسه هزار پیاده ، تاکه به تلفات کم طالب سقوط کرد.
اگر طالب یا طالب نماها زورگویی کند ما درمقابل اش ایستاده خواهم شد ، ماگپ راکه کردیم به اوعمل مې کنیم. در دیگر ولایت های شمال مشکل نیست تنها درمزار این مشکل است، مزار باید غېر نظامې شود و در هر خانه که دیپو است از بین رفته شود ، هشتاد هزار نفر به خاطر خیانت مالک کشته شد وامر پشتون کشی را داده بود. مانوگی منگل ، رسول بی خدا وجمعه اخک مشوره های غلط را به نجیب داد ، من به خاطر وحدت ملی سه معاون را در ولایت جوزجان تعین کردم، من نفرهای راتعین مې کردم و بعدا فرمان ښاغلی کرزی صاحب صادرمی شد.
والي مزار کار راپیش برده نمې تواند وبه سطح وزېر باید در انجا والی باشد ، یک سال به انتخابات مانده، ومامې خواهیم که یک رول خوب را بازی کنیم، مایک حکومت اسلامي که دیموکرأسي در آن باشد مې خواهیم، ما مې خواهیم که یک جبهه وسیع جور کنیم، بیست لک نفر افغان ها قربانی داده و اگر کسی تجزیه افغانستان مې خواهد ما مخالف هستم اولین گام عملی را در صلح وامنیت و خلع سلاح مامې گریم ماعملی ثابت مې کنیم».
د سرپل والی تاج محمد کوهي او دامنیه قوماندان عبدالمنان چې دکورنیو چارو وزېر لیدنې لپاره شبرغان ته راغلی وو، دوی هم په دې غونډه کې خبرې وکړې د سرپل والي چې هغه هم د جنرال دوستم له خوا هلته تعین شوی و وویل: سرپل نهه ولسوالي لري او دا چې د عمومي لارې څخه لرې پرته سیمه ده نو ځکه خو چارواکي ورته نه راځي، دوه درې میاشتې کیږي چې د سر پل مامورینو او پولیسو معاش نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستی، همدا شان سږ کال دحج او اوقافو وزارت د سرپل ولايت لپاره يوازې دوه سوه کسان سهميه دحج دفريضې د اداء کولو لپاره ورکړې ده، حال داچې موږ دوه زره کسان مراجعين درلوده ده وويلې چې زموږ برق ښه نه دی او دترکمنستان نه دی، پوليس يونيفورم نه لري او هم د پاسپورت داخستنې لپاره موږ مزار ته ځو، يوازې دګوسفندي په دره کې يو څه امنيتي مشکلات شته،خو د ولايت د نورو برخو امنيت ښه دی تراوسه زموږ دامنې د قوماندان منظوري نه ده راغلې.

دغرمې ډوډۍ مو په شبرغان کې د جنرال دوستم په کور کې وخوړه او هغې نه وروسته بېرته د مزار ښار ته رأستانه شو. مازديګر مو د بلخ د ولايت په مقام کې دټولو ادارو مشرانو سره په هغه ناسته کې ګډون وکړ چې والي محمد اسحاق رهګذر له خوا جوړه شوې وه، رهګذر وويل چې د مزار په ولايت کې څلور اتيا بيلا بيلې ادارې شته او دبلخ ولايت شپاړس اداري واحدونه (ولسوالۍ) لري او موږ له خپل توان څخه زيات کار کوو.په ټولو شعباتو کې قومي او ژبني تناسب په پام کی نيول شوی دی.

خو په حقيقت کې دنوموړي داخبره سمه نه وه، اکثريت کرسۍ دجمعيت اسلامي اړوندکسانو قبضه کړې وې، ده وويلې چې موږ هره اونۍ اداري مجلس لرو، په هفته کې يو ځل د استاد عطا سره ګورو او داونۍ په اخره کې د لوی جرګې د وکيلانو سره هم غونډه لرو، د والي دخبرو نه وروسته جلالي صيب خبرې وکړې او ويې ويل: چې هره اداره په درې اصولو کار مخ ته بيايې : اول جوړښت يا اداري ساختار دی، مګر متاسفانه چې نن موږ په اداري جوړښتونو کې له مشکلاتو سره مواجه يو، دغه مشکلات په ځينو سيمو کې ډېر زيات او په ځينو سيمو کې بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره نه دي. دویم قانوني چار چوکاټ دی چې په تېرو ۲۵ کالونو کې مختلف قسمه قوانین وضع شوي دي. خو موږ لا هم د(۱۹۲۴) کال قوانین پلي کوو. او دریمه مسئله د کدرونو ده چې مسلکي کدرونه د نن ورځې د شرایطو پر اساس ډېر کم دي،د بیلګې په توګه دکندهار په ښار کې شپږ زره پاکستاني وګړي کار کوي ځکه چې موږ مسلکي کدرونه نه لرو ، همدا شان کافی منابع او امکانات هم نه شته دی، د امنې قوماندانان د پولیسو موټرې او مخابراتي وسایل نه لري، زیاتره ولسوالان دفترونه هم نه لري اودخلکو له کورونو څخه ګټه اخلي او که یو دوه ترهګر راشي نو بیا هغه سیمه پرېږدي او بل ځای ته ولسوالي نقلوي بیا مخالفین ادعا کوي چې ولسوالي ونیول شوه، جلالي صیب وویل چې موږ اوس د ولسوالانو لپاره شل زره افغانۍ د دسترخوان په نامه ورکوو ، ولسوال باید موټر دفتر او نور وسایل ولري چې خلکو ته ښه خدمت وکړی شي.

دجلالي صیب پسې د ښځو چارو د ریاست مرستیالې خبرې وکړې او ویې ویل: موږ په تېرو جګړو کې یو میلون شهیدان ورکړي او درې میلونه معلولین او معیوبین لرو ، دکونډو او ماشومانو په حال باید رحم وشي، موږ ښځو ډېر نعمتونه له لاسه ورکړي او هم د امنیت دنشتوالي له امله زموږ انجونې په بورقو کې ښوونځیو ته ځي، خپل ملي سرود مو ورک کړی دی او دهر تحول سره دبېرق رنګ او ملي سرود بدلیږي.

له دې وروسته د ګمرک رئیس خپل شکایت وړاندې کړل او نوموړي وویل چې حېرتان بندر ته څېرمه دوه نظامي لواوې پرتې دي د دوی دلاسه موږ محصول نه شو اخستی په لارو کې مسلح کسان ولاړ وي او له موټرو محصول اخلي، دوی وړاندیز وکړ که عسکري جبري شي او پولیس د کانکور له لارې ونیول شي نو ښه به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمزار ښاروال وویلې چې شپږ زره کورنۍ بې سر پناه او سیږي او موږ هیڅ امکانات نه لرو چې دوی سره کومک وکړو، دامنیه قوماندان وویل چې دا ځنګه امکان لري چې پولیس بې تنخواه، له ځای او وسایطو پرته د خلکو امنیت تامین کړي.

جلالي صیب د دوی په ځواب کې وویلې چې د معلولینو او معیوبینو مشکل ملي او اجتماعي مشکل دی او یوې ملي ستراتیژۍ ته ضرورت دی، خلک هم مسؤلیت لري چې د حکومت تر ځنګ د دولت سره مرسته وکړي، دمیزان په میاشت کې به نوی اساسي قانون انشأالله تصویب شي خو دجبري مکلفیت دوره اوس ممکنه نه ده، د مخه باید سمه احصایه او دتذکرو ویش تر سره شي، دا هم امکان لري چې زورور او پیسه دار کسان به خپل بچیان جبري عسکرۍ ته نه لیږي او دا کار به یوازې په غریبو خلکو تطبیق شي، خلک غریب دي پولیسو ته باید معاش ورکړل شي.

دمجلس په منځ کې یو ډله سپین ږیرو چې غالبا د استاد عطامحمد نور له خوا به لمسؤل شوي وو، په شکایتونو یې پیل وکړ دوی ویل چې نهر شاهي ولسوالي دوه کاله کیږي چې د وسله والو له خوا اشغال شوې او دا وسلوال باید بې وسلې شي.

دا و دغه دري ولایاتونو ته زموږ د سفر جزیات چې په مختصره توګه مو تاسې ته وړاندې کړل، دا دافغانستان د دغه وخت د وضعیت یوه بیلګه وه چې اداره ضعیفه وه، د مرکزي حکومت نه اطاعت نه وو، مسلحو او زور واکانو په عام ولس باندې رنګارنګ ظلمونه کول، نو ځکه خو د وضعیت د بدلیدو لپاره جدي او عملي اقداماتو ته اړتیا وه چې له بده مرغه د مرکزي حکومت د ضعف او بې تفاوتۍ له امله ځنګه چې لازمه وه ډېرکارونه په سمه توګه په مخ نه تلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مزار نه هرات ته سفر
## د جون د میاشتې ۲۷ نیټه ۲۰۰۳ م کال

سهار لس بجې مود مزار شریف نه د انګلستان د ولایتي بیارغوني ټیم په( C-۱۳۰ ) الوتکه کې د هرات په لورې پرواز وکړ او د یو ساعت او لس دقیقو الوتنې نه وروسته د هرات هوايي ډګر ته ورسیدو چې د هرات والي محمد اسماعیل خان د سلګونو دولتي چارواکو، مخوروا و سپین ږیرو سره د دهرکلي لپاره ولاړ و. د هرات ښار ته دا زما لومړنی سفر و. لومړی مونږ د هرات هوايي ډګر نه دهرات ښار ختیځ لورته د تخت سفر سره نږدې د خانه جهاد په نامه میلمستون ته لاړو. کله چې د هرات هوايي ډګرنه د خانه جهاد میلمستون ته تللو نو په لاره کې د هرات د ښار عظمت او تاریخي قدامت په ډاګه ښکاریده. څرنګه چې د جمعې مبارکه ورځ وه په خانه جهاد میلمستون کې مو لږه دمه وکړه او د لمانځه د اداکولو لپاره د هرات د والي محمد اسماعیل خان سره یوځای د هرات د جامع جومات پر لورې وخوځیدو. د هرات جامع جومات چې د افغانستان د مهمو تاریخي ځایونو څخه دی چې تقریبا اته سوه کاله پخوا د غوریانو د دورې پاچا سلطان غیاث الدین غوري لخوا جوړ شوی اوله هغې وروسته بیلابیلو پادشاهانو د د غه جومات ساتلو ته ډېره پاملرنه کړې او اوس هم خورا ښکلی دی.

که څه هم جلالي صیب د هرات په جامع جومات کې د خبرو کولو اراده نه درلوده خو د جومات خطیب له جلالي صیب نه وغوښتل چې یو څو خبرې وکړي. څرنګه چې د لمانځه وخت ډېر نږدې و نو جلالي صیب ډېرې مختصرې خبرې وکړې او ویې ویل: وېره او بې اعتمادي دوه غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې دي چې ډېر نور مشکلات زيږوي نو موږ بايد په خپلو منځو کې د وېرې او د بې باورۍ لاملونه له منځه يوسو. خو د هرات د جامع جومات خطيب وروسته په خبرو کې وويلې چې جلالي صيب او ورسره هيئت د راتلونکې اساسي قانون د مسودې  په هکله د خلکو سره د مشورو او تفاهم لپاره راغلی خو موږ علماء ددې قانون د مسودی په اړه دوه انګېرنې لرو، يو دا چې په تېرو اساسي قوانينو کې او حتی د کمونيستانو په وخت کې هم ذکر شوی و چې دوی اسلام ته احترام کوي خو په عين حال کې د بيان په ازادۍ يې تاکيد شوی وو خو موږ په تېره جرګه کې وليدل چې د بيان د ازادۍ په نامه د اسلام توهين وشو چې دا د بيان ازادي بايد تردې حده نه وي چې د اسلام بې حرمتي وشي دوی  داچې کومه بله ماده چې د اسلام د دين سره تضاد لري هغه بايد له منځه يوړل شي. که څه هم زموږ د سفر موخه  هرات ولايت ته د اساسي قانون د پوهاوی لپاره نه وو خو د هرات خطيب د وخت نه په استفادې سره د پورته ټکو يادونه وکړه اوزما په اند داساسی قانون مسوده يې نه وه لوستلی ځکه چې داساسی قانون په دريمه ماده کې په واضيح توګه ليکل شوی چې په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولای چې داسلام د سپېڅلي دين دمعتقداتو او احکامو مخالف وي.

د هرات والي اسماعيل خان زموږ د پلاوي ډېره زياته مېلمه پالنه وکړه او له ماښامه وروسته مو د ګذره په سيمه کې د خواجه عبدالله انصاري د مقبرې زيارت هم وکړو او د تخت سفر سره نږدې د باغ ملت په نامه ديو بڼ چې اسماغيل خان جوړ کړی و او دهرات ښاريان د  خپلو کورنيو سره د سهار نه تر د ماسخوتن  تر ناوخته  پورې هلته د تفريح لپاره ورتلل هم کتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خانه جهاد په ميلمستون کې د ماسخوتن لخوا ناست و او د تخت سفر او باغ ملت ننداره مو کوله چې اسماعيل خان د جهاد د وخت قصې پيل کړې او ويې ويلې چې په **۱۳۶۵**ز کال کې مو دلته د شورويانو سره دوه مياشتې ډېرې سختې جګړې وکړې چې دروند مالي او ځاني تاوان مو ورته ور واړول.

د دغه مېلمستون نه د هرات جامع جومات، د ګوهرشاد بيګم مقبرې او د هرات د ښار ننداره ډېره په زړه پورې وه اسماعيل خان وويلې: چې دطالبانو په وخت کې تقريبا پنځوس کلې چې د ايران او افغانستان د سرحد ترمنځ پراته و طالبانو له منځه يوړل او تخريب يې کړل چې د ايرانيانو او افغانانو ترمنځ بايد اړيکې نه وي په د ې وخت کې د کورنيو چارو د استخباراتو مرسيتال جنرال منان خان فراهي ته دا راپورونه رارسيدلي و چې د ايران د پاسدارانو غرې د افغانستان خاورې ته راننوځي او حتی د غوريانو د ولسوالۍ په سيمو کې کله کله ګزمه کوي خو اسماعيل خان دا راپورونه ردول او ويلي چې د ايران او افغانستان ترمنځ پولې تړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلام قلعه، انجیل، زنده جان، غوریان او کوهسار ولسوالیو ته سفر
## جون د میاشتې ۲۸ نیټه ۲۰۰۳ م کال

سهار وختې د هرات والي اسماعیل خان د سهار چایو د ښنلو لپاره خانه جهاد میلمستون ته راغی او د جهاد قصې یې کولې. د چای د خوړلو نه وروسته د سهار په اتو بجو او دېرشو دقیقو جلالي صیب د خپل پلاوي سره د اسلام قلعه د بندر په لوري حرکت پیل کړ، لومړی مو په لاره کې د هرات د پنځمې سرحدي لواء افتتاح وکړه، جلالي صیب د پنځمې لواء د پرانیستنې مرأسمو ته دقومندانانو او منسوبینود بلنې څخه مننه وکړه او ویې ویل چې په نوي تشکیل کې سرحدي لواء د سرحدي پولیسو په نامه یادیږي چې په لومړي قدم کې به له هیواد نه دفاع کوي او په ټولو بندرونو او هوایي ډګرونو کې به ځاي پر ځای کیږي، د امکاناتو لخوا به مجهز وي او حتی چورلکې به هم ولري. جلالي صیب زیاته کړه چې په نوي تشکیل کې به د سرحدي پولیسو اته لواء ګانې وي او زه د سرحدي پولیسو راتلونکې ته ډېر زیات هیله من یم.

د یادونې وړده چې په هرات کې زموږ د سفر په وخت کې به چې کومې غونډې ته موږ تللو د غونډې ګډونوالو به هغه څه ویلې چې د هرات والي اسماعیل خان لخوا به ورته ویل شوي و خو د غونډې په پای کې به زیاتره ګډونوالو خپلې اندیښنې او نظرونه موږ ته په کاغذ کې لیکلي وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د پلاوي په جيبونو کې به يې پټ ايښودل او موږ ته به يې ويلې چې دا بيا پټ جلالي صيب ته ورکړئ.

د جلالي صيب د خبرونه وروسته د سرحدي پوليسو د لواء يو تن صيب منصب په اوپراتيفي مسائلو خبرې وکړې او ويې ويل چې مخکې د هرات په سرحدي سيمو کې د مخدره موادو قاچاق په ازاده توګه کيده خو اوس موږ د دغه قاچاق مخه نيولې ده، ده زياته کړه چې موږ له مزار نه تر ذوالفقار د بندره پورې ۲۸۰ کيلو متره سرحد د ايران سره لرو او همداشان د ايران سرحد سره ۳۷ تهانې او دترکمنستان سره لس تهانې لرو.

دسهار په لسو بجو او پنځلسو دقيقو د زنده جان ولسوالۍ ته ورسيدلو چې د کشتې وان په سيمه کې په سل ګونو ولسي خلکو او د ښوونځيو زده کوونکي زموږ هرکلي ته ولاړ و. لومړی د پوليسو يو ټولی د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي ته قطعه وړاندې کړه او وروسته د زنده جان ولسوالۍ د ملي پيوستون د شورا مشر استاد حبيب الله د ښه راغلاست نه وروسته وويل: گذشته ما بايد شيرين و اينده ما بايد درخشان باشد اسلحه دشمن نمي تواند كه مابين ما تفرقه بياندازد، واين خيانت ملي خواهد بود كه ياد ملت شهيد پرور رافراموش كنيم، شما افغان ها يگانه مجاهدين هستيد كه مشت سنگين به دشمنان وارد كرده ايد.

۹۸ در صد مردم هرات درامن زندگی مې کند، ما کدرهای را درهرات داريم كه به ما رهنمايي مې كند...»د استاد حبيب الله له خبرو وروسته جلالي صيب خبرې وکړې او وويلې: د ټولو دمخه درته د ولسمشر سلامونه وړاندې کوم، زه ستاسې خادم او تاسې چې خپل خادم ته هرکلی وويلو نو درځخه ډيره مننه کوم خدای دې تاسې ته اجر درکړي، افغانان

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو اسلامي او کلتوري ارزښتونو ډېر احترام لري ، موږ ملي بيا رغونې ته اړتيا لرو (۱۱) هيڅ قوم پر بل برتري نه لري ټول يو ډول حقوق لري او هغه څه چې ډېر مهم دي لومړی بايد موږ خپل ترمنځ هغه وېره او ترس چې له يو بله يې لرو له منځه يوسو، (۱۲) او دويم دا چې حکومتونه دخلکو دخادمانو حيثت لري نوځکه خو دخادم او مخدوم ترمنځ بايد صميمانه اړيکي وي او که داسې ونه شي نو ټولنه ښايې د جوړيدو پر ځای د خرابيدو خواته لاړه شي.

ددې مختصرو خبرو نه وروسته د غوريانو ولسوالۍ په لورې مو حرکت وکړو چې د سهار په يولسو بجو او څلويښتو دقيقو هلته ورسيدلو. د غوريانو د ولسوالۍ په سلګونو ولسي خلکو، قومي مشرانو، د ښونځيو زده کوونکي او محلي چارواکي هرکلي ته ولاړ و.

د غوريانو ولسوال محمد نبي طالب د هرکلي نه وروسته وويلې: ملت ومردم که اطراف اينجا جمع شده ازهمه ملت های ۳۰۰ هزاري غوريان نمايندگی مې کند، بعض مردم مغرض هستند که توطئه ها مي کند که به پشتون ها حق داده نه شده ويا حقوق پشتون ها زېرپا شده مگر من خودم الکوزی هستم و در پېروزي اول (هرات ) والي غور بودم و حال ولسوال

(۱۱) زه فکر کوم چي د جلالي صيب دبازسازي ملي نه موخه شايد داوه چې په دې وخت کې د هرات د ګمرګ عايدات چې ميليونونو ډالره په مياشت کې وونو د هرات والي اسماعيل خان مرکزي حکومت ته نه ورکول او په دې نامه يې په هرات کې ساتل چې ګوندې دې په دې پيسو هرات کې د بيارغاونۍ کارونه پرې کوي نو څرنګه چې کوم مالونه د ګمرکاتو له لارې د افغانستا ن په نامه راځي نو دا د يو ولايت او يو شخص پيسې نه دې او بايد په افغانستان کې په متوازن شکل به په بيارغونه کې ولږول شي او حتی د هرات د ښار نه بهرد بيا رغونې کارونه چندان په سترګو نه ښکاريدل.

(۱۲) په هرات کې داسي ويره وه چې جلالي صيب د دې لپاره هرات ته راغلی چې اسماعيل خان له دندې د ګوښه کيدلو لپاره شرايط برابر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوريان هستم اين برادر هائيکه تشويش مې اندازد بايد زنده ګې برادرهای خود را نارام نه کند (۱۳) ما اين امنيت امروز راکه د رهرات مې بينم ما مرهون امر صاحب اسماعيل خان هستم.

طی ۲۴ سال ګذشته ما با حزب اسلامې و برادران شعيه عمليات مشترک داشتيم جنګ های ګروهی مثل ديګر ولايت در اينجا صورت نه ګرفته است، ما از حکومت مرکزي اطاعت مې کنيم و ما افتخار ميکنيم که آغای کرزی خودش مجاهد و فرزند مجاهد شهيد است، ما از جناب شما جلالي صيب اين خواهش مې کنيم که عرض ما رابه آغای کرزی برسانيد و احترام که مابه اسماعيل خان داريم شما هم بايد احترام و توجه خاص داشته باشيد.

د غوريانو د ولسوال د خبرونه وروسته يو کس د غوريانو د خلکو په استازيتوب وويلي چې ددوي په دې ولسوالۍ کې د ځنبلو د اوبو د نشتوالي له امله زياتې ستونځې لرې او وويلې چې ددوې لپاره د اوبو نشتوالی جدي ستونزه ده او ځنبلو داوبو کويان بايد وويستل شي.

بل تن د ډاکټرمحمد صالح سلجوقي په نامه خبرې وکړې او وويلې: موږ بايد ملي لمړيتوبونه په نظر کې ونيسو او موږ داساسي قانون د توشيح نه ملاتړ کوو او افغانستان ملي فرهنګ بايد تقويه کړو، نو موږ وويل چې څو نفره فراري طالبان د غوريانو د سيمې نه د شين ډنډ په زېر کوه سيمه کې پناه اخيستې او دوی زموږ د ولسوالۍ يوولس کسه د

(۱۳) په دې وخت کې د اسماعيل خان او د امان الله خان ترمنځ په شينډنډ کې تاوتريخوالی روان و او د امان الله خان پلويانو په غوريانو ولسوالۍ باندې کله ناکله بريدونه کول امان الله خان د نورزو د قوم وو چې وروسته د ۲۰۰۲م کال د اکتوبر د مېاشتې په درويشتمه نيټه په خپل منځي جګړه کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه پر مهال ووژل خو دغه قاتلین په موټرو کې د خپلو وسلو سره کابل ته ځي او څوک یې نه نیسي د دې موخه د شینډنډ امان الله خان و. ډاکټر سلجوقي وویل چې موږ د وزیر صیب څخه د ا هیله لرو چې امیر صیب اسماعیل خان نه یوازې د هرات والي دی بلکې نوموړی په دغه ولایت کې د لوړ مقام خاوند دی او په ټولو تصامیمو کې ورسره باید مشوره وشي. ده وویلې چې په هرات کې څو حکومته دي، یو حکومت په زیړ کوه کې دی او بل د اسماعیل خان دی، په زیړ کوه کې زموږ درې کسه بندیان دي او موږ له امیر صیب اسماعیل خان نه غواړو چې هغه څوک چې قانون ماتوي باید ونیول شي.

د دې سیمې خلکو په ایران کې د افغاني بندیانو په هکله هم ستونزه درلوده اوله کورنیو چارو وزارت څخه یې وغوښتل چې د افغانستان حکومت باید ددوی په خلاصونه کې مرسته وکړي. دغوریانو په ولسوالۍ کې وزیر صیب خبرې ونه کړې او دکوهسار ولسوالۍ ته لاړو او هلته په یوه بجه او شل دقیقو ورسیدلو چې هلته هم دنورو ولسوالیو په شان یو شمیر ولسي خلکو اوقومي مشرانو د ښوونځیو د زده کوونکو په شمول زموږ هر کلی وکړ. کله چې د اسلام قلعه بندر ته ورسیدو نوموړولیدل چې زموږ د ځینو عسکرو د ایران پوځ دریشي په تن کړې وې اوپر مونږ یې ډېر بد تأثیر وکړ. د اسلام قلعه په جومات کې جلالي صیب او ورسره پلاوی د خلکو سره ولیدل، لکه څرنګه چې مخکې ما وویلې زیات شمیر کسانو ته وظیفې ورکړل شوې وې چې دامان الله خان پر ضد خبرې وکړي او دغه غوښتنه یې هم کوله چې باید د هرات په ټولو چارو کې دې اسماعیل خان سره مشورې وشي او باید له هرات نه لرې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلام قلعه کې جلالي صيب په خپلو خبرو کې وويلې چې په افغانستان کې ۲۵ کاله جگړه شوې او وروسته له ۲۵ کلو بيارغونه څه اسانه کار نه دی او هر فرد بايد دافغانستان په بيارغونه کې برخه واخلي.
جلالي صيب وويلې چې د مخدره موادو د کرکيلې نه يوائې او يوائې قاچاقبران گټه اخلي او بزگرانو ته هيڅ گټه نه رسيږي په پای کې جلالي صيب زياته کړه او ويې ويلې چې افغانستان د ټولو کور دی او ټول مساوي او متناسب حقوق لري.
د جلالي صيب نه وروسته يوتن مولوي په پښتو خبرې وکړې او ويې ويلې چې د خوښۍ او وياړ ځای دی چې يو لوړ پوړې پلاوې دلته راغې او د خپل ولس سره گوري خو دا هرچاته د لمر په شان روښانه ده چې هرات کې سوله او يووالی د اسماعيل خان په واسطه تامين دی.
د اسلام قلعه د بندر د ليدو نه وروسته د شپې لپاره ببرته د هرات ښار ته رأستانه شولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شین ډنډ او ادرسکن ولسوالیو نه کتنه
## جون ۲۹/ ۲۰۰۳م کال

د جون د میاشتې په ۲۹ نیټه سهار مهال مو د بادغیس والي ګل محمد عارفي او د دغه ولایت مستوفي سره ولیدل. دوی وویلې چې د بادغیس په ولایت کې دوه فوځي لواګانې موجودې دي چې یوه لواء د اسماعیل خان شخصي ده او بله د حکومت ده . دوي وویل چې څو ورځې د مخه د دغه دوو لواء ګانو ترمنځ یو تاوتریخوالی رامنځ ته شو چې یو ولس کسه له یوې غاړې او پنځلس نور له بلې غاړې ووژل شول که د حکومت لخوا جدي مداخله ونشي او په راتلونکو څو ورځو کې یوه لواء منحل نشي نو په سیمه کې د ډېرې سختې جګړې امکان شته دی.

د بادغیس والي سره له کتنې وروسته سهار اسماعیل خان زموږ مېلمستون ته راغی او د چای د خوړلو وروسته موږ اته نیمې بجې سهار د شین ډنډ او ادرسکن ولسوالیو په لور د هرات ولایت د مرستیال حاجي مېر سره یوځای حرکت وکړو او شاو خوا لس بجې د ادرسکن ولسوالۍ ته ورسیدو چې د سړک په دواړو غاړو کې په سلګونو خلک زموږ هرکلي ته ولاړ وو. د ادرسکن په جامع جومات کې مو چې د سړک په سر وو دولسي خلکو سره ولیدل ځکه چې په دې وخت کې د ادرسکن ولسوالۍ ودانۍ نه درلوده.

لومړی د ادرسکن ولسوال ټولو میلمنو ته هرکلی ووایو او ویې ویلې؛ دیدن وزیر داخله از نقاط دور افغانستان نشانه خدمت به مردم است و این

(c) ketabton.com: The Digital Library



جای خوشي است که ما وزیر خود را اینجا مي بینیم. مشکل امنیتي وجود نه دارد اگر تحرکات از طرف جنوب وجود نه داشته باشد چیزی مشکل نیست. ما مشکل درباره بیوه های کساني داریم که شوهرهای شان در ایران بندي است، ولسوالي و قومندانی امنیه ادرسکن تعمیر نه دارد که ولسوال در تعمیر فواید عامه دفتر دارد و قومندان امنیه د ریک قلعهٔ کهنه جابجا شده است. چون شغل مردم ادرسکن مالداري و قالین بافي است باید دربازسازي آن بسیار توجه شود، سال گذشته تنها پنجاه نفر شاگرد د رمکاتب ادرسکن بود مگر امسال تعداد شاگردان به ۴۱۵۰ نفر رسیده است.

ادرسکن د ولسوال له خبرو وروسته جلالي صیب مختصري خبرې وکړې او ويې ویلي:

ای که استقلال داری شکر استقلال کن
خدمت خلق خداء راقبلهٔ امان کن

د افغانستان په اداري تشکیلاتو کې ولسوالۍ هغه ځایونه دي چې خلک د خپل حکومت سره نښلوي، موږ تل ښارونو ته توجه کړې ده ولسوالي مو د پامه غورځیدلي دي، حال دا چې دافغانستان په سلو کې ۸۵ خلک په ولسوالیو کې ژوند کوي، زموږ خلک په کلیو کې اوسیږي، دوی دجهاد په دوران کې تر ټولو ډېر تلفات ورکړي، نو ځکه خو دکلي او ولسوالیو خلک تر بل هر چا ډېر مستحق دي چې مرستې ورسره وشي. زه دځو وزارتونو سره په تماس کې یم چې یو داسې ملي پرګرام پیل کړو چې له مخې یې ولسي خلکو ته ګټه ورسیږي، افغانان مسلمان دي او مسلمانان به وي، هیچاته اړتیا نشته چې تاسې ته وعظ وکړي چې مسلمانان شئ، اوس د بیارغونې د جهاد وخت دی، موږ باید خپل هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته متوجه شو موږ نشو کولای په اوسنۍ نړۍ کې له نورو پرته ژوند وکړو ، که نړیوالې مرستې نه وای بنایې موږ به لاهم په ستونزو کې و خو موږ باید ډېرې هلې ځلې وکړو تر څو د نورو مرستو ته اړ ونه اوسو.

د ادرسکن ولسوالۍ نه مو د شینډنډ دولسوالۍ پر لور حرکت وکړو چې د شینډنډ د هوایې ډګر سره د تشریفاتو یوه قطعه وزیرصیب ته تقدیم شوله او د ماسپښین په دولسو بجو د شینډنډ ولسوالۍ ته ورسیدلو چې په زرګونو خلک هلته هم د هرکلي لپاره ولاړ وو ، موږ له موټرو ښکته شولو او هرکلي ته ولاړ خلکو سره مو روغبړ وکړو ، که څه هم د امنیت له پلوه وضعیت چې په دغه سیمه کې د مخالفینو تحرکات موجود وډېره ډاډمنه نه وه ، خو بیا هم جلالي صیب او ورسره پلاوي تقریبا یو کیلومتر لاره په خپلو پښو ووهله او د خلکو سره مو ستړې مشي کوله چې په دې وخت کې یو قومي مشر جلالي صیب د لاسه ونیو او ورته یې وویل چې په شینډنډ کې یو شمېر مسائل شته چې باید حل شي، جلالي صیب ورته په ځواب کې وویلې چې زه پوره معلومات لرم او کوښښ کوم چې حل یې کړم د دغه نزاکتونو نه یو داسماعیل خان او د زېرکوه امان الله خان ترمنځ جنجال وو چې په دغه سیمه کې ناامني رامنځ ته کړې وه.

په هغه غونډه کې چې د شینډنډ په ولسوالۍ کې جوړه شوې وه د شین ډنډ ښاروال د کورنیو چارو وزیر او ورسره پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې موږ د شینډنډ خلک د حامد کرزي په مشرۍ د افغانستان د مؤقت حکومت څخه ملاتړ کوو او همداشان د اسماعیل خان نه هم ملاتړ کوو چې دهرات په امنیت کې یې زیات زیار ویستی دی وروسته له **۲۵** کلونو د الومړی ځل دی چې موږ یو وزیر دلته ګورو چې د خلکو د ستونزو نه ځان خبروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یوتن مولوي دحاجي مقام په نامه خبرې وکړې او ويې ویل چې موږ طمعه لرو چې هغه وړه ستونزه چې دلته په هرات کې موجوده ده ستاسو په راتګ سره به ختمه شي خو د حل کیلي ستاسې په لاس کي ده ځکه تاسې باید د خلکو په زړونو حکومت وکړئ.

یو تن بل مولوي دمحمد هاشم په نوم له هرکلي نه وروسته وويل: همه جهان به کمپیوتر زندگی میکند و ما مردم در جنگ و جدال اغوشته هستیم. رئیس جمهور امیر ماست و اسماعیل خان امیر مااست و راه تامین صلح به این ملت تعلق دارد نه به نیروهایې خارجی ها و این ها(خارجی ها ) ما رااستعمال میکند امروز تعصبات زبانی و منطقوي به اندازه است که ما را ازهم دور کرده است.وقتی که اسماعیل خان امد معاونیت فرقه را به امان الله خان داد ، ما از وزیر صیب داخله مې خواهم که این مسئله امان الله خان وا سماعیل خان راحل کند و خارجي ها (طالب ها ) که در زیر کوه است از انجا خارج کند.

وروسته بیا جلالي صیب خبرې وکړې او د دولت د رئیس جناب حامد کرزي سلامونه یې دوی ته ورسول او زیاته یې کړه چې د شین ډنډ د زیر کوه خبره هم یادیږي هغوی وایې چې موږ ته خپل حق نه دی راکړی شوی او د خپلی سیمې نه ویستل شوي یو. خو بله خوا بیا وایې چې د زیر کوه نه خلک راځي او موږ وژني او اختطافوي نو داخبرې د ملي یوالي او پخلاینې نښه نه ده. ځینې وایې چې په وسله باندې خپل حق اخلو خو اوس د دې وخت تیر دی او خلک له جګړو ستړي شوي دي زموږ اوسنی جهاد د وسلو جهاد نه دی، اوسنی جهاد د ملي پخلاینې جهاد دی او دوطن بیا رغونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې غواړي د وسلو پر زور خپله اراده تحميل کړي ملت د هغوی سره نه دی، افغانستان د ټولو شريک کور دی او ټول مساوي اومتناسب حقوق لري او هيڅوک د دې حق نه لري چی بل ته په کمه سترګه وګوري هرچاپه جهاد کې برخه اخيستې او د وطن په ابادیدو کې حق لري. ملي پخلاینه هلته راځي چې په صداقت سره یو بل ته لاسونه ورکړو. موږ د خبرو پهلوانان يو خو په اوريدو کې ضعيفه يو . موږ بايد سپينې خبرې وکړو او د حل لاره بايد را وکاږو، که یوازی يو بل ملامتوو نو د افغانستان ستونزې نه شو حل کولای. دلته دوه زور ور سره مخالف دي او په منځ کې خلک ترور کيږي او له داسي حالت نه مجرمين استفاده کوي ، دوسلو د سوري لاندې سوله نه راځي، دلته ګورو چې د زېرکوه نه هيڅوک هم نه دي راغلي او دا سمه نه ده، موږ ستاسي خادمان يو او ددې ستونزې د حل لپاره به لاري چارې لټوو.

د جلالي صيب له خبرو ورسته یو تن د قومندان عبدالله په نوم وويلې چې په ټول افغانستان کې حکومت شته خو زېرکوه کې حکوم نشته دی ځينې القاعده او طالبانو چې د لته حکومت کړی دی، جرمونه يې کړی نو اوس موږ څنګه هغوی ومنو ، يو سړی (امان الله خان ) په يوه منطقه کی ودريږي او د پښتنو په نامه جهاد اعلانوي او هغه پښتانه چې په نورو سيمو کې چې دده ملاتړ نه کوی هغوی وژني. زما په کور راغی او هغه يې چور کړو او زه دلته (شين ډنډ ) راغلم. قوماندان عبدالله وويل چې امان الله خان، مولوی محمد ګل اخوند يې د پنځو کسانو سره شهيد کړو ځکه چې امان الله ته يې ويلي وو چې موږ ستا ملاتړ نه کوو، د نورو ځايونو څخه قاتلين او غله راغلي او په زېرکوه کی د امان الله خان سره اوسيږي، نن په سل ګونو کسانو غوښتل چې د زېر کوه نه دلته راشي خو امان الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان پرې نه ښودل. مونږ شپېته کورنۍ د زېرکوه نه دلته په خیمو کې پراته یو صرف په نامه ددې چې پخوا مونږ د جمعیت سره و.

وزېر صیب د دې په ځواب کې وویل چې یواځې په خبرو څه نه کېږي پرېکړه باید وکړو او هغه عملي کړو، هغوی هم وړاندیزونه لري.

د هرات ولایت مرستیال حاجي مېر وویل چې مونږ پښتنو ته حق ورکړی دی ګورو چې د هرات ښاروال پښتون دی او باید چې یو هئیت تعین شي چې دا وپلټې چې څومره پښتانه دي او څومره غېر پښتانه دي. که د مرکز په کچه منځګړتوب وشي نو دا مسئله حل کیدلای شي، اوس د شینډنډ د خلکو په منځګړتوب دغه شخړه دلته یو څه اواره شوې ده.

د شینډنډ ولسوالي چې په څلورو بلوکونو باندې تقسیم شوې ده چې د بلوک اب کلي، بلوک زاول، بلوک زېر کوه او بلوک قصبه په نامه یادیږي.

جلالي صیب د دوی په ځواب کې وویل چې زه په خپله دواړه خواوې کابل ته دعوت کوم او دا مسئله به هلته حل کوم.

د دې خبرې یادونه اړینه ده چې جلالي صیب د اسماعیل خان او امان الله خان نه وورسته وغوښتل چې دواړه کابل ته راشي چې ددوی ترمنځ روغه جوړه وکړي چې په پای کې دواړه په ۲۰۰۳ م کال د اګست په دریمه نیټه د کورنیو چارو وزارت ته د سهار د چایو لپاره راغلل. په دې مجلس کې یواځې جلالي صیب، اسماعیل خان، امان الله خان او ما ګډون درلود.

جلالي صیب وړاندیز داو چې د شینډنډ په ولسوالۍ کې د زېرکوه خلکو ته باید څلورمه برخه ځای په دولتي ملکي پوستونو اود پولیسو په لیکو کې ورکړل شي او هم امان الله خان باید دهرات په ولایت کې په کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمه دنده وګمارل شي خو په دې شرط چې د زېر کوه مسلح قوتونه بې وسلې شي که څه هم اسماعیل خان دې پریکړې ته حاضر نه و خو امان الله خان چې مطلق بې سواده وو داخبره یې و نه منله او فکر یې کاوه چې په جنګ به زیات قدرت ونیسي.

ماچې د امان الله خان پوهه ولیده نو نهایت بې بندوباره و او بې ځایه حرکتونه او خبرې یې کولې، داچې امان الله خان د یوې ولسوالۍ په یوه وړه برخه کې څه مسلح کسان درلودل نو ده نه شو کولای چې د اسماعیل خان او یا د مرکزي حکومت پرضد وجنګیږي خو جلالي صیب اسماعیل خان دې ته مجبور کړو چې د امان الله خان سره خبرو ته کیني. د امان الله خان غوندې کسان چې نه یې پوه درلودله او نه یې سواد،اویوازې د پښتنو دنوم نه یې د ځان په ګټه سؤ استفاده کوله. نوزما په اند هر قوم باید د داسې کسانو نه چې نه پوهه لري او نه سواد لري او نه ملي منافعو ته وفادارا و ژمن وي ملاتړ و نه کړي او نه دهغوی پسې لاړ شي.

داسې راپورونه هم په هغه وخت کې موجود و چې امان الله خان ته ایرانیانو پیسې ورکولې چې د حکومت پرضد فعالیت وکړي چې د افغانستان حکومت او په ځانګړې ډول امریکایانو ته درد سر ایجاد کړي او همدا علت و کله چې اسماعیل خان د هرات نه لرې شونو امان الله خان بیا هم د حکومت پر ضد فعالیت ته دوام ورکړ چې د ۲۰۰۶م کال د اکتوبر د میاشتې په درویشتمه نېټه په خپل منځي جګړو کې د بارکزو د قوم سره ووژل شو.

کله چې د شین ډنډ نه د هرات ښار ته رأستانه شولو ماښام اته نیمي بجې وې چې د هرات د ولایت په مقام کې ګڼو دولتي چارواکو او د هرات د بیلا بیلو ولسوالیو مشرانو،اودمدني ټولنو استازو چې یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځو پکې هم برخه درلوده غونډه درلودله او مور هم هلته لاړو. دهرات د ولایت ودانۍ او تالار او هم یو شمېر نورې ودانۍ لکه تخت سفر د هرات د پخواني والي عبدالله ملکیار په وخت کې جوړې شوې وې خو دتالار دننه نقاشي د اسماعیل خان په وخت کې شوې وه چې خاصه ښکلایې درلوده. اسماعیل خان وویلې چې د دغه نقاشۍ کار د هیواد مشهور هنر مند محمد صدیق مشعل کړی ده. په دغه غونډه کې د اساسي قانون د کمیسون غړي عبدالحی الهي هم برخه درلوده. غونډه د قران کریم د څو ایاتونو په تلاوت پیل شوه او لومړی د هرات د پوهنتون رئیس عبدالروف مخلص خبرې وکړې. ددې خبرې یادونه ضروري ده چې په دې وخت کې د افغانستان حکومت غوښتنه درلوده چې د هرات په ولایت کې د بیارغونې ټیم جوړ کړي او هم د پولیسو د روزلو لپاره تعلیمي مرکز د امریکا په مرسته جوړ شي خو اسماعیل خان د دې دواړو پروژو مخالفت کاوه او ورته داسې بریښېدله چې که د پي-ار- ټي ټیم جوړشي نو دابه د ده قدرت ته ګواښ رامنځ ته کړي نو ځکه اسماعیل خان اکثریت وینا وال په دې پوه کړي و چې دا مسائل په خپلو خبرو کې د کابل نه د ورغلي پلاوي غوږونو ته ورسوي.

د هرات د پوهنتون رئیس مخلص وویلې چې: «ما فراموش نمې کنیم که جهاد ماتوسط مداخله خارجی هاآغاز شد، تجاوز خارجي ها هواداران داخلي هم داشت و شاهد افراط گري چپ بودیم. بعداً افراط گری دیگری بنام طالب به میان امد و در هر دو دوره ملت ما صدمات زیات دید ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید گذاشت که ملت ما به افراط گرایي بار دیگر به نام دیموکرأسي و غېره برود (۱۴)

ما باید میانه رو باشیم و نگاه به فرهنگ و مبارزه خود بکنم، استحکام و امنیت زېر بنا اجتماعي است، ما از رسانه ها خبر جنگ وانفجار را در ساحات دیگر کشور میشنویم و اینجا شکر است که درمنطقه ما امن است، ما مشکل درباره وحدت ملي نه داریم، مانه مشکل مذهبي داریم و نه مشکل قومې البته انکار نه باید کرد که وحدت ملي درکشور مانیز رو به تحکیم است یک امری هم ازطرف ولایت سرما تحمیل نه شده است و هر اداره ولایت هرات بامرکز و وزارت خانه ها خود روابط منظم دارد ماصلح، رفاه و ابادي راتنها به هرات نمي خواهیم بلکې به تمام افغانستان مي خواهیم».

دهرات پوهنتون د رئیس د خبرو نه رووسته د استاد رباني د وخت ملي سرود د زده کوونکو لخوا وویل شو او وروسته جلالي صیب مختصرې خبرې وکړې او ویې ویل: په دې درې ورځو کې مې له پنځه ولسوالیونه لیدنه درلوده، زنده جان، غوریان، کوهسار، ادرسکن اوشین ډنډاو دولسمشر سلامونه مې هغوی اوهم تاسې ته رسوم. امنیت، بیارغونه او سیاسي ثبات یو له بل سره مستقیمي اړیکي لري، خو دا امنیت نه باید یوازې د هرات ښار پورې محدود پاتې شي بلکې ولسوالیو ته هم باید

(۱۴) متاسفانه چي د هرات د پوهنتون رئیس د افغانستان کورنیو جګړو ته چې د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۲ کلونو ترمنځ شوې وې هیڅ اشاره هم ونه کړه چې دهیواد زیات ښارونه او په ځانګړې توګه یې د کابل ښار په بشپړه توګه ونړاوو او شاو خوا شپیته زره هیواد وال مو ووژل شول چې دافغانستان په تاریخ کې یو تور داغ دی. له همدې جګړو له امله زموږ د ګاندیو هیوادونو لاسوهنو د طالبانو راتګ ته لاره هواره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغزول شي خاصتاً د شینډنډ ولسوالي چې همدا اوس د زېړ کوه په سیمه کې ستونزې شته دی ، خلک باید خپلې ستونزې د خبرو دلارې حل کړي، دخلکو او پولیسو همکاریو ته اړتیا ده او همکاري د بیاوغونې لپاره مهم عنصر دی، ولسوالان باید په دې برخه کې اساسي رول ولوبوي.

د جلالي صیب له خبرو وروسته د شهداً او معیوبینو رئیس ښاغلی مقیم فلاح یو شعر ولوست او ورپسې یوې ښځې د ښځو د شورا په استازیتوب وویلې چې اساسي قانون باید د اسلام د اصولو په چوکاټ کې ووسي او د ښځو حقوق د اسلام د اصولو سره سم باید په اساسي قانون کې ځای ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جون د میاشتې ۳۰ نیټه – 2003م کال
## د هرات ولایت د مختلفو قومونو او ګروپونو سره لیده کاته :

سهار مو د هرات ولایت د لسو ولسوالیو د ولسوالانو او د بادغیس ولایت د مرستیال سره وکتل. جلالي صیب دوی ته وویل چې ولسوالیو ته خاصه پاملرنه په نظر کې لرم چې هره ولسوالي باید ودانۍ، موټر او نورې اړتیاوې ولري نو ددې لپاره موږ په یو ملي پروګرام باندې کار کوو او ۱۳۸۲ش کال د سرطان د میاشتې د لومړۍ نیټې نه به هر ولسوال ته شل زره افغانۍ د دسترخوان لپاره دمیاشتې ورکول کیږي.
همدغه شان د اداره عامه په نامه به تعلیمي اداره او لایحه د وظایفو ولسوالانو ته جوړه شي چې په هغه کې د پولیسو، څارنوالانو او ولسوال نقش او رول واضحه وي.
ولسوالانو سره د لیدلو په وخت کې یو تن د خواجه عیسی په نامه چې د ښار د پولیسو د یو ماموریت مشر وو راغی او جلالي صیب یې د سهار چایو د څښلو لپاره بللی و. خواجه عیسی د شهید افضلي (۱۵) د خپلوانو څخه و خو د اسماعیل خان سره یې تعلقات ښه نه وو. کله چې خواجه عیسي سهار راغی نو اسماعیل خان وزیر صیب ته وویلې چې تاسې خواجه عیسي سره د چایو لپاره مه ځئ ځکه هغه ځای نه لري او هغه کوڅې ستاسو لپاره مناسبې نه دي. جلالي صیب وویلې چې فرق نه کوي زموږ هیواد دی او هر چېرته تللی شم او غواړم چې لاړشم.

۱۵شهید افضلي په هرات کې د جمعیت اسلامي د مشهور قومندانانو څخه و چې د اسماعیل خان سره یې رقابت درلوده او وروسته په مشهد کې ووژل شو چې د هغه په وژنه کې د اسې اوازې وي چې ګوندې اسماعیل خان لاس لري. که څه هم اسمعیل خان او د افضلي ډلې دواړه د اسلامی جمعیت په ډله کې و خو حتی دجهاد په کلونو کې دواړو ډلو په پیښور کې جداجدا حویلي درلودي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باالاخره د اسماعیل خان په ډېر فشار جلالي صیب له خواجه عیسی څخه معذرت وغوښته او ورسره یې ژمنه وکړه چې په راتلونکي سفر کې به چې نوموړی هرات ته راځي نو ورسره به حتما چاي څښي. خوخواجه عیسی وویل چې زه مجاهد یم او د شهید زوی یم او د القاعده او طالبانو پرضد جنګیدلی یم که رأسره لاړنشئ نو سخت به خفه شم. په دغه وخت کې اسماعیل خان خواجه عیسی ته وویلې چې «تو خیانت کرده اي» نو خواجه عیسی ورته وویلې چې ماخیانت نه دی کړی او د دواړو ترمنځ خبرې دومره ترخې شوې چې ګوندې خواجه عیسی جدي عمل وکړي، په دغه وخت کې موږ ټول او حتی د هرات ولسوالان، د بادغیس والي مرستیال او قومندانان ډېر زیات خفه شوو او اسماعیل خان ډېر وړوکی ښکاره شو چې د پولیسو د یوې حوزې د مشر سره یې داسې برخورد وکړ. که ددې سهار خبری ترخې او بې خونده شولې خو زما په اند جلالي صیب باید دابلنه رد کړی نه وای.

د دغې صحنې نه داسې معلومېده چې د هرات خلک څومره په اختناق کې شپې او ورځې تېروي. اسماعیل خان کولای شو چې خواجه عیسی ته یې خصوصي ویلي وای چې ولی یې د ده له اجازې پرته وزیر صیب ته بلنه ورکړې وه. په همدې ورځ دسهار په اتو بجو په هرات کي د اهل تشیع مشران د حجت الاسلام رجب علي په مشرۍ راغلل او جلالي صیب ته، دوی په خپلو خبرو کې وویلې چې: په تېرو **۲۵** کلنو کې هرچا په افغانستان کې لاسوهنه وکړه خو دافغانستان په ملت دې افرین وي چې اوس یې هم خپل ځان استوار ساتلی دی. اوس یوه فضا پیدا شوې چې هر قوم چې هرچېرته وي باید مساوي حقوق ولري. کرزی صیب هیڅ قوم او هیڅ یوې کورنۍ ته په خاص امتیاز قایل نه دی. جلالي صیب زیاته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه د کورنیو چارو وزارت لپاره چندان لیواله نه ؤم ځکه چې دا یوه درنه وظیفه ده خو د کورنیو چارو وزارت باید د افغانستان وړوکی ممثل وی.

د اهل تشیع ډلې یو کس وویلې: چې دهرات په اداره کې د اویاو ریاستونو نه یوائې یو ریاست اهل تشیع ته ورکړل شوی همداشان په لسو ولسوالانو کې یو هم د اهل تشیع نشته دی. همدارنګه د هرات په ښار کې په سلو کې څلویښت شیعه ګان اوسیږي یو یې هم په ښاروالی کې کومه دنده نه لري. دوی وویلې چې موږ نه غواړو چې چوکۍ د قوم په اساس تقسیم شي خو تعادل باید په نظر کې ونیول شي. جلالي صیب د دوی په ځواب کې وویل چې په یوبل باور او فداکارۍ ته اړتیا شته او زموږ تصورات باید په واقعیتونو ولاړ وي او باید چې یو بل ته حق ورکړو تر څو زموږ ترمنځ باور زیات شي.

په همدې ورځ د جرمني سفیر چې په هرات کې وو د جلالي صیب سره وکتل او وویلې چې اسماعیل خان د دې مخالف دی چې ګوندې ایساف په هرات کې د بیارغونې ټیم پرانیزي (۱۲) خو جلالي صیب د جرمني سفیرته وویلې چې دا دمرکزي حکومت تصمیم دی او که د دې مخالفت کوي نو باید د هرات ولایت نه استعفأ ورکړي. په همدې ورځ یانې د جون په دېرشمه نیټه جلالي صیب د خپل پلاوي سره د پي - ار - ټي په سي یو سلو دېرش الوتکه کې بېرته کابل ته راغی.

---

(۱۲) د جرمني حکومت لومړی غوښتل چې په هرات کې د بیارغونې ټیم یا PRT جوړ کړي خو د اسمعیل خان د مخالفت په وجه بیا دوی د PRT ټیم د کندوز په ولایت کې جوړ کړ همدا شان د ایران سره د حساسیت په موخه امریکا نه غوښتل چې په هرات کې PRT جوړ کړي خو بیا وروسته ایتالویانو په هرات کې PRT ټیم جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د کورنیو چارو وزارت کې د ستر سلاکار په توګه زما ټاکنه:

که څه هم د هرات او شمالي ولایاتونو د سفر نه د مخه جلالي صیب راته په شفاهي توګه ویلی و چې زه به د کورنیو چارو په وزارت کې د ستر سلاکار په توګه دنده ترسره کوم خو کله چې موږ بېرته کابل ته ستانه شولو تقریبا په درې او نیو کې زما د تقرر پیشنهاد د انتقالي دولت رئیس جناب کرزي صیب لخوا منظورنه شو. کرزي صیب له جلالي صیب څخه غوښتي و چې زه باید په ارګ کې کومه دنده ترلاسه کړم خو ما جلالي صیب ته وویلې چې زه غواړم چې د کورنیو چارو په وزارت کې له تاسو سره دنده ترسره کړم او که دلته زما کار ستاسو سره نه کیږي نو زه په بل ځای کې کار نه کوم ځکه چې د جلالي صیب سره له ۱۹۸۵ څخه تر ۱۹۹۰م کلنو پوري ما د امریکا غږ راډیو د محلي خبریال په توګه په پیښور کې کار کاوه. ما غوښتل چې د جلالي صیب سره د نږدې نه کار وکړم ځکه چې نوموړي عالم او د تجربې خاوند دی او د هغوی له تجربو او پوهې څخه به ګټه پورته کړم او خپل هیواد او الو ته به ښه خدمت وکړای شم. باالاخره د سرطان د میاشتې په نولسمه نیټه کرزي صیب زما د تقرر فرمان لاسلیک کړو ( د فرمان کاپي د دي کتاب په اخره کې ضمیمه ده ).

لکه څرنګه چې ما د کتاب په پیل کې لیکلي و چې کله جلالي صیب د کورنیو چارو وزارت د نده ترلاسه کړه نو د وزارت وضعه ډېره خرابه وه، د کاري ظرفیتونو کچه ډېره ټیټه وه، او مالي منابع چې څنګه د پولیسو او سیمه ییزو ارګانونو د ادارو لپاره لازمې وې موجوده نه وې او له بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ددي نش په کچه امکاناتو سره همزمان ورځنۍ پيښې او امنيتي مسائلو تعقيب او اداره بايدهم په مخ بيولی شوي وای، او له دې سره په تدريجي توګه بايد د وزارت ظرفيتونو ته هم ارتقاء ورکړل شوي وای،نو د دې لپاره موږ بايد نړيواله ټولنه په دې قانع کړې وای چې د کورنيو چارو وزارت سره کافي مرسته وکړي چې ملي پوليس او محلي ادارې تقويه شي.

د دې ترڅنګ موږ بايد د اساسي قانون د لوی جرګې لپاره ټاکنې ترسره کړې وې او هم مو د راتلونکو پارلماني او جمهوري رياست ټاکنو لپاره دکارتونو د ويشلو لړۍ لپاره د امنيت زمينه مساعده کړې وی دکورنيو چارو وزارت وړانديز داوو چې دکارتونو پرځای دې د تذکرو د ويشلو پروسه تطبيق شي ځکه چې تذکرې ويشل په سمه توګه د هيواد اداري، سياسی او امنيتي ټولو پروسو سره مرسته کولی شي او هم له بلې خوا به هرکال دولت د ټاکنو لپاره د کارتونو د ويشلو په پلمه ميليونونه ډالرنه مصرفوي. خو متاسفانه چې زموږ دغه وړانديز ته د افغانستان حکومت او هم نړيوالې ټولنې په خپل وخت هر کلی ونه وايه او په عوض ددې چې د اداري چوکاټ دايمي اساس يا بنياد کېښودل شي په بدل کې د ټاکنو دکارتونو پروسه چې هېڅ بنياد نه لري مصارف يې تر اوسه پورې تقريباً دو سوو ميلونو ډالرو ته رسيږي حال داچې په هغه وخت کې تقريبا پنځوس ميلونه ډالره د کارټونو په ويش مصرف کېدلې.

په لومړي سر کې جلالي صيب ماته دنده وسپارله چې زه بايد د ولاياتي بيارغونې ټيمونو او د پوليسو د وجهي صندوق سرپرستي وکړم.

په ۲۰۰۳ م کال کې د افغانستان په مختلفو سيمو کې د مرکزي حکومت د لږ نفوذ د نشتوالي له امله محلي چارواکو او ټوپک سالارانو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت چلوه، او حتی اکثریت والیانو د ګمرکاتو عایدات مرکزي حکومت ته نه رالیږل او ددې ترڅنګ محلي قومندانانو چې د ائتلاف د قواؤ سره یې په یو شکل د اشکالو اړیکي درلودلې زیاتره به یې ولسي کسان د القاعده او طالب په نامه ځورول او نیول او په دې پلمه به یې له ولس نه باج هم اخیستو. اکثریت خلکو د لوړ پوړو چارواکو سره د کتنو په وخت کې د مرکزي حکومت نه دوه غوښتنې درلودلې چې د ائتلاف او ایساف ماموریت باید له کابل نه ولایاتونو ته وغځول شي چې د محلي چارواکو قدرت محدود شي او دا ځکه چې په هغه وخت کې د ملي پولیسو او د ملي اردو جوړیدلو ته زیات وخت او امکاناتو ته اړتیا وه.

د ولس دویمه غوښتنه داوه چې یو شمیر محلي قومندانانو او چارواکو خپل مخالفین یا رقیبان په بیلابیلو نومونو ځورول او نیول به یې نو له دې امله ولس ټینګار کولو چې ولایتي بیارغونې ټیمونه دې ولایاتونو ته پراخه شي او هلته دې د جنګسالارانو مخه ونیسي او محلي چارواکي باید دنورو سیمو او سیدونکي وي ترڅو یوه بې طرفه اداره رامنځ ته شي او دخلکو دزورولو مخه ونیول شي.

بالاخره د ناټو ځواکونو پریکړه وکړه چې دوی به د هیواد په یوشمیر ولایاتونو کې د بیارغونې ټیمونه جوړ کړي چې نیمایې کارونه به یې بیارغونه او نیمایې به نظامي فعالیتونه کوي او دا لاندې اهداف به ترسره کوي:

1. د مرکزي حکومت لمن به ولایاتونو او ولسوالیو ته پراخوي.
2. د افغانستان د امنیتي ارګانونو په روزلو او ملاتړ کې به مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. په ولایاتونو او ولسوالیو کې به د بیارغونې کارونو لپاره زمینه برابروي.

نو په دې توګه د کورنیو چارو وزارت تر مشرۍ لاندې یو عالي کمیسون چې څونورو وزارتونو او د امنیت شورا سلاکار هم په کې برخه درلودله جوړ شو تر څو د ولایاتي بیارغونې ټیمونو د کارونو سرپرستي وکړي. ددې کارونو دهمغږۍ لپاره د کورنیو چاروپه وزارت کې زما د مشاوریت په چوکاټ کې د پي ار ټي په نوم یو ریاست د جوړیدلو تصمیم ونیوه او زما د پیشنهاد په اساس جنرال سید کمال سادات ددغه ریاست د رئیس په توګه وټاکل شو. د ناټو د قواؤ سره په تفاهم د کورنیو چارو وزارت د جنرال په کچه یو کس د ولایتي بیارغونې په ټیمونو کې مقرر کړو چې د بیارغونې کارونه د محلي ادارو سره همغږي کړي. خو متاسفانه چې کله موږ په ۲۰۰۵م کال کې له وزارت نه استعفاٌ ورکړه دحکومت رول د ولایتي بیارغونې په ټیمونو کې کم شو. که څه هم د جلالي صیب وړاندیز داو چې د دغه پروسې نوم دې د ولایاتونو د ثبات ټیم په نامه ونومول شي خو متأسفانه د ولسمشر کرزي لخوا دغه غوښتنه ونه منل شوه او د PST (Provincial Stability Team) پرځای یې PRT (Provincial Reconstruction Team) یاني د ولایتي بیارغونې ټیم نوم غوره وګڼلو.

دغه نوم وروسته یو مشکل رامنځ ته کړو ځکه چې هر والي په دې فکر وو چې که ددوی په ولایت کې د ولایتي بیارغونې ټیم دامریکا پرته د نورو هېوادونو وي نو ددې مانا به داوي چې د دوی په ولایاتونو کې به بیا رغونه کمزوري وي نو هرچا د امریکایانو د PRT غوښتنه کوله ځکه چې دامریکا PRT زیاتې پیسې درلودلې. د امریکااو نورو هېوادونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراختیایي ادارو لکه USAID، DFID او GTZ هم خپلې مرستې د ولایاتي بیارغونې ټیمونو له لارې کولې او د دې نه برسېره د امریکا ترمشرۍ لاندې ائتلافي قواؤ د (Commander Emergency Respond Program) یا CERPپه نامه میلیونونه ډالر درلودل او هغه یې هم د ولایتي د بیارغونې ټیمونو له لارې د بیارغونې او نورو پروژو باندې مصرفولې تر څو د مخالفینو دنفوذ مخنیوی وکړي. په ۲۰۱۰م کال کې یوازې د CERP بودجه تقریبا دولس سوه میلونو ډالرو ته رسیدله.

مونږه ولېدل چې په وروستیو کلونو کې دې بې حسابه پیسو مصرفولو درې عمده ستونزې رامنځ ته کړې:

1. یو خو PRT په ولایاتونو کې دیوې موازي ادارې بڼه غوره کړه چې په ټولو برخو کې لکه اداره، امنیت او بیارغونې کې به یې ګوتې وهلې.
2. د PRT قراردادونه چې شفافیت په کې ډېر کم وو نو د اداري فساد لپاره یې زمینه برابره کړه او همدا شان زیات شمېر والیانو د ځانونو لپاره انجیو ګانې او ساختماني شرکتونه د خپلو خپلوانو په نامه جوړ کړي وو او ساختماني قراردادونه یې دخپلو شرکتونو په ګټه انحصار کړي وو.
3. مختلفو هیوادونو چې د ناټو غړیتوب درلوده د دې لپاره چې د امریکایې ځواکونو سره د تروریزم پرضد مبارزه کې برخه واخلي نو د جنګي اړخ په عوض یې د بیارغونې د ټیمونو په جوړولو کې ونډې اخیستلو ته ترجیح یا برتري ورکړه، د بیلګې په توګه لیتوانیا، نیوزیلینډ یا سکاندینوي هیوادونو چې مالي مرسته یې کمه وه نو د دوی د بیارغونې کارونه هم ډېر سست وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې امله يې په يو شمېر ولاياتونو کې منفي رقابتونه رامنځ ته کړل او د محلي چارواکو او د PRT ټيمونو ترمنځ اړيکې هم خرابې شوې. د کومو موخو لپاره چې دغه ټيمونه رامنځ ته شوی و هغه اهداف يې ترسره نه کړل اودا په زغرده ويلی شم که له يوې خوا PRT ځينې انکشافي کارونه کړي خو له بلې خوا د افغانستان د بې ثباتي او اداري فساد په زياتوالي کې هم مهم اغېز درلود او اکثره واليانو په عوض ددې چې د ولس ستونزې حل کړي نو زيات وخت به يې د PRT سره خپلو شرکتونو ته د قراردادونو په اخستلو تېراوه.

په ۲۰۰۳ م کال په اوايلو کې نړيوالو د افغانستان د ملی پوليسو د تقوويې لپاره يو وجهي صندوق د ملګرو ملتونو د انکشافي اداري په چوکاټ کې د LOTFA (Law and Order Trust Fund of Afghanistan) په نامه جوړ کړ چې ترڅو پوليسو ته معاشونه په خپل وخت ورسيږي او هم د تجهيزاتو اود ظرفيتونو په لوړوالي کې مالي پانګونه وکړي. په دغه وخت کې په محلي ادارو کې ياني په ولاياتونو او ولسواليو کې مستوفيتونه او هم بانکي سيستمونه فعال شوي نه و نو پيسې بايد په فزيکې ډول له مرکز نه ولاياتونو ته او د ولاياتونو نه ولسواليو ته انتقال شوي وی، په دې وخت کې د پوليسو شمېر د کاغذ پر مخ ټول درې اويا زره تنو ته رسيده خو موږ په دې نه پوهيدلو چې په افغانستان کې څومره واقعي پوليس شته دی او کنه.

د کورنيو چارو وزارت د ماليه وزارت له لارې د دغه ټول تشکيل په اندازه معاشونه، اعاشه، اباته او يونيفورم حواله کاوه خو دغه معاشونه او لوژستېکي امکانات اکثريت پوليسو ته نه رسيدل. کله به چې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاشونه حواله کېدل او بیا د ولسوالیو پورې پیسې انتقالیدلې نو هرچا به ترې یو څه کمیشن د کورنیو چارو او مالیه په وزارتونو کې اخسته او همدارنګه به د ولسوالیو او ولایاتونو قومندانانو هم ترې خپله برخه اخیستله. په دې وخت کې اکثریت پولیس راجستر یا ثبت نه وو او قومندانانو خپل ملګري او قومي کسان استخدام کړي وو او د هغوی معاشونه به یې په خپلو جیبونو کې اچول، دغه تش په نامه پولیسو به خپل ځانونو ته معاشونه اونورامکانات د ولس څخه د زور له لارې پیداکول.

که څه هم په دې وخت کې د پولیسو تنخواوې ډېرې کمې وې یانې تقریبا دېرش ډالره په میاشت کې وو خو بیا هم چې کله به یو هیئت کومې حوزې ته تللو نو یو کس به د یوې میاشتې معاش اخیستی و او بل کس به بیخي خبر هم نه و او یا به د غه پولیس بیخي حوزو سره راجستر هم نه و او په خپل سر به یې کار کولو.

جلالي صیب چې کله ماته د **LOTFA** مسؤولیت راوسپاره نو ماته یې وویلې چې د مالي وزارت اود **LOTFA** د پروګرام سره دا مسئله حل کړه چې څومره پولیس راجستر دي او څومره نه دي او ددې سربېره موږ څنګه کولای شو چې پولیسو ته د غه کم معاش هم په خپل وخت کې ورسوو.

کله چې زه د کورنیو چارو د وزارت د مالي او پیژند ادارو سره کیناستم نو دا راته معلومه شوه چې دوی د معاشونو د توزیع ځانګړی سیستم جوړ کړی چې دوی ته د غېر مشروع عایداتو یوه مهمه لاره وه نو په دې توګه موږ د مالي وزارت او د **LOTFA** د مسؤولینو سره غونډه وکړه او دا فیصله مو وکړه چې د کورنیو چارو وزارت به هره میاشت د موجوده پولیسو تعداد او شهرت د مالي وزارت ته لیږي او هغوی به د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاشونه د تشکیل په اساس نه ، بلکې د موجوده پولیسو په اندازه حواله کوي او هم د اد مالي وزارت مسؤلیت دی چې پیسې ولایاتونو ته انتقال کړي او په ولایاتونو کې مستوفیتونه باید په دوی معاشونه وویشي. وروسته له دې چې موږ د معاشاتو سیستم بدل کړو د پولیسو شمېر په دویمه میاشت کې له درې اویازرو څخه دوه پنځوس زرو ته راکوز شو نو موږ ته معلومه شوه چې یو ویشت زره پولیس یوازې د کاغذ پر مخ موجود وو.

غواړم چې یوې بلې موضوع ته اشاره وکړم چې څوک غواړي په اداره کې سمون راولي او ولس ته خدمت وکړي اکثریت ورځني اداري کارو نه کوم خاص تخصص ته ضرورت نه لري. یواځې پاکې او قوي ارادې او زړه سواي ته اړتیا ده. د بیلګې په توګه چې کله د کورنیو چارو وزارت ته راغلم نو د افغانستان دپاسپورټ موده یوکال وه، نوما د پاسپورټ رئیس جنرال ګل مېرخان راوغوښته او ورته مې ویل چې ددې پاسپورټ موده یو کال ولې ده؟ نو ده وویلې چې دقانون په اساس دا موده یو کال ټاکل شوې ده، نو ما ورته وویلې چې زه دومره پوهیږم چې د دې قانون یامقرره د تبدیلولو لپاره د لوی جرګې دابرېدو ته اړتیا نشته چې په اساسي قانون کې تغېر راولي یواځې یو پیشنهاد د وزېرانو شورا ته کیږي څکه چې پاسپورت د صکوکو قیمت لري او که کابینه منظوري ورکړي نو دا مقرره بدلیدلای شي اوکنه؟ ده راته وویل چې هو دا مقرره په دې ډوا بدلېدلې شي.

د امسأله مې د جلالي صیب سره مطرح کړه او سمدستي یې امر وکړ چې پیشنهاد جوړ کړي ماته یې راکړي چې د کابینې په غونډه کې پرې خبرې وکړو. هماغه و چې پیشنهاد مو جوړ کړو ا وجلالي صیب ته مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړو ، زموږ پیشنهاد داو چې د پاسپورټ موده باید لس کاله وي خو د مالي وزیر ډاکټرصیب اشرف غني نظر داو چې موږ باید نوي پاسپورټونه چاپ کړو او پس له هغې باید د پاسپورټ موده لس کاله کړو. متأسفانه چې نه کاله وروسته هم نوی پاسپورتونه هم چاپ نه شوي. نو په دې اساس کابینې د پاسپورټ موده د پنځو کلونو لپاره منظور کړه چې دا په حقیقت کې د یوې ورقې په لیکلو سره موږ په دفترونو کې پنځه ځلې د کار حجم کم کړو او د خلکو لپاره مو پوره سهولت برابر کړ. کله چې زه د ۲۰۰۴م کال د مۍ په لسمه نیټه د مخابراتو وزیر محمد معصوم ستانکزي او دنورو وزارتونو لوړ پوړو چارواکو سره د پکتیا، پکتیکا،خوست او لوګر ولایاتونو ته د خلکو دمشکلاتو د څیړلو لپاره په سفر لاړوم نو زیات شمیر خلکو د کورنیو چارو د وزارت له دې اقدامه سخته مننه کوله چې د پاسپورټ موده پنځه کلنه کړه او ډیرزیات خوشاله و ځکه چې د جنوبي سیمو زیات شمیر کسان په خلیج هیوادونو کې میشت او کار کوي نو هغوی د پاسپورټ د مودې د غځولو په اهمیت پوهېدل او خوشحاله وو.

همدارنګه په دغه وخت کې یوه بله ستونزه داوه چې له ولایاتونو نه به ډلې ډلې خلک چې د بیلابیلو سازمانونو او خلکو لخوا به سازمان ورکول کیدل او کابل ته به راتلل ترڅو دخپلو سیموله چارواکو شکایت کولو او حتې ځانونه به یې ددولت رئیس ته رسول چې دا ولسوال یا والي تبدیل کړه او په عوض یې دبلې ډلې نفر مقرر کړه. نو دوی به جهادي مشرانو تر درباره دروازې ټکولې او لوړ پوړي چارواکي به یې نه پریښودل چې خپل کارونه په اسانۍ سره سرته ورسوي او دهغوی وخت به یې ضایع کولو جلالي صیب هم مجبور و چې ددې ډلو سره چې اکثریت به یې د دولت د ریاست لخو راالیږل کیدل ملاقات وکړي، د دې ملاقاتونو یا کتنو مشکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



داو چي ټول لوړ پوړي دولتي چارواکو ذهنونه به يې مغشوشول او نه به پوهيدل چی د چا خبره ریښتیاده او د چاخبره دروغ ده. یوې ډلی به چې د یو چا صفت کولو نو بلې ډلې به يې غیبت کاوه نو موږ مجبور وو چي په داسي حال کې چې امکانات نه و او مخابراتی اړیکي د ولایاتونو او ولسوالیو سره کمزورې وي نو جلالي صيب به همیشه ماته دنده رأسپارله چې د یوناما، پي ار تي او یا د وزارت د نورو کشفي ادارو له لارې واقعی معلومات ترلاسه کړم چې په راتلونکې کې موږ وکولای شو چې سم او پرځای تصمیم ونیسو ،زه غواړم چې د ځینو غونډو او دخلکو د شکایتونو د یوڅو نمونو یادونه وکړم:

## د جولای د میاشتې اتمه نیټه ۲۰۰۳ م کال :

د غور ولایت یو شمېر سپین ږیري د خپلو ستونزو د حلولو په موخه کابل ته راغلي و او دا شکایت یې درلود چې د عبوري حکومت د راتګ نه وروسته په خپل منځیو جګړو کې شاو خوا **۲۵** کسان وژل شوي دي او د غور اداره د یو تنظیم او حتی د یو کلي په لاس کې ده او په دغه ولایت کې د بزګرانو څخه د کوکنارو د کرکیلې عشر اخلي. دوی غوښتنه کوله چې د غور امنیه قومندان باید بدل شي او له کابل نه یو ورکس د امنې قومندان په توګه ولیږدول شي. د یادولو وړده چې په دغه وخت کې د غور والي د جمعیت اسلامي غړی، ډاکټر ابراهیم و.

په همدې ورځ د نورستان د کامدیش دسیمې یو شمېر سپین ږیري د کورنیو چارو د وزېر سره لیدنه درلوده او په هغې ستونزې ورسره وغړیدل چې د کامدیش او دکشتوز کلو ترمنځ رامنځ ته شوې وه. دکشتوز خلکو ادعا کوله چې د کامدیش کلي د دوی کورنه ورسوځولي او دوی یې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اړکړي چې خپل کلي پرېږدي او د غازي اباد ولسوالۍ ته کډه شي. دغه ستونزه لا تر اوسه پورې حل شوې نه ده.

**د جولای لسمه نېټه** :

د فراه د ولایت یو شمېر مشران کابل ته راغلي وو او د فراه د والي عبدالحی اودامنیه قوماندان ضابط جلیل څخه یې شکایت درلود او غوښتل یې چې نوموړی باید تبدیل شي او په عوض یې له کابل نه بل قوماندان ولېږل شي. دوی دا هم ویلې چې د فراه خلک باید والي په خپله خوښه وټاکي.

**د جولای دولسمه نېټه**:

د کندهار والي ګل اغا شېرزی د جلالي صیب سره د لیدنې پرمهال د کندهار پرحالاتو وغږېدو او جلالي صیب ته یې د کندهار په اړه وویل چې د کندهار وضعه قومیت بازیو خرابه کړې او باید له کابل نه یو هئیت کندهار ته راشي چې د کندهار د ټولو ولسوالیو امنیه قوماندانان تعین کړو. شېرزي همدارنګه وویل چې په کندهار کې یوولس ولسوالان د پوپلزیو د قوم څخه دي او که خانو ( خان محمد چې د امنیه قوماندان و ) سرحدی قوماندان شي نو امنیتي وضعه به نوره هم خرابه شي. ځکه سرحدي لواء ډېره مجهزه ده چې ۲۳۷ منصبدار ، ۲۸۴ ساتمن او ۹۷۹ ساتونکي په تشکیل کې لري. دشېرزي غوښتنه داوه چې د کندهار د پولیسو شمېر باید له ۱۳۰۰ څخه ۱۸۰۰ تنو ته لوړ شي.

جلالي صیب په ځواب کې وویل چې موږ مرکزي پولیس جوړوو او هم به د لویو لارو لواء ګانې جوړې کړو چې د کندهار- سپین بولدک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار- کابل د لویو لارو امنیت وساتي. جلالي صیب زیاته کړه چې پخوا به په حکومتونو کې معیار اخلاق او اهلیت و خو اوس د ودانیو جوړل دي.

په همدې ورځ د عدلیه وزیر عبدالرحیم کریمي د جلالي صیب سره ناسته درلوده او جلالي صیب ته یې وویل چې په هرات کې د اسماعیل خان او امریکایې جنرال کرل ایکنبېري (۱۷) ترمنځ یو نزاکت پیدا شوی دي، ده وویل چې اسماعیل خان جنرال ایکنبېري ته وویل چی بهرنیانو ترهګر افغانستان ته راوستي خو ایکنبېري ورته په ځواب کې وویل چې ترهګر د جهادي رهبرانو لخوا راوستل شوي دي. جلالي صیب کریمي صیب ته وویلې که نړیواله ټولنه په افغانستان کې نه وای نو اسماعیل خان به هم، نن په هرات کې نه و.

د کریمې صیب د لیدنې موخه داوه چې د کرزي صیب د فرمان په اساس ټول محابس یا زندانونه باید دکورنیو چارو له وزارت څخه د عدلې وزارت ته انتقال شي، حال دا چې د عدلیه وزارت نه کافي بودیجه درلوده او نه یې کافي ظرفیت درلودلو چې دافغانستان د ټولو محابسو واک په خپل لاس کې واخلي. د دې سر بېره د محابسو د امنیت او ساتلو لپاره بیا هم پولیسو ته اړتیا شته دی. داغوښتنه اصلاً دایتالیا دحکومت وه چې دعدلې ریفورم دنده یې په غاړه درلوده یا په اصطلاح مخکښې هېواد و.

---

( ۱۷ )ایکنبیري چې وروسته بیا د امریکا لخوا په افغانستان کې سفیر شو مخکې له دې دی د امریکایې ځواکونو قومندان هم په افغانستان کې و او په دغه یعنی لومړۍ مرحله کې دامریکا دحکومت له خوا د ملي اردو د جوړولو چارو دنده په غاړه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملګرو ملتونو د يوناما دفتر له مشر ژان ارنو(Jean Arnault) سره کتنه:

په همدې ورځ جلالي صيب د ملګرو ملتونو ديوناما ددفتر د مشرژان ارنو سره غونډه درلوده او په څلورو مهمو موضوعګانو باندې سره خبرې وکړې.

1. د وسله والو بې وسلې کول
2. د ټاکنو لپاره د رايو ثبتول
3. د اساسي قانون د لويې جرګې لپاره د ټاکنو پروسه...
4. د راتلونکو ولسي جرګې او ولسمشرۍ ټاکنو ته تياری.

د جلالي صيب نظر داو چې که دا ټول کارونه په سمه توګه ونه شي نو د افغانستان ستونزې به نورې هم زياتې شي خو دملګرو ملتونو د دفتر دليل داو چې دا ټول کارونه بايد د بون دکانفرانس د پريکړو سره سم په خپل وخت ترسره شي.

**د جولای ديارلسمه نيټه:**

جنرال ايکنبېري د جلالي صيب سره په لاندېنيو موضوعاتو خبرې وکړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی**: د اسماعیل خان نه یې شکایت کولو چې مشکلات جوړوي او باید ډېر زر د پيي ار تیی لخوا په هرات کې د پولیسو د روزلو مرکز جوړ شي او همدارنګه د پولیسو د چټک غبرګون قطعه هم جوړه شي.

**دوهم** : د ملي دفاع وزارت د ریفورم په اساس باید د یو ښه کردار والا شخص لوی درستیز شي. په دې وخت کې دوی په دغه درې نومونو غور کولو: جنرال شېرمحمد کریمي، جنرال بسم الله خان او جنرال محمد رحیم وردګ. خو جنرال ایکنبېري وویلې چې مارشال فهیم د جنرال کریمي او جنرال رحیم وردګ سره مخالفت کوي. خوکرزی صیب په خوښه وروسته جنرال بسم الله محمدي د لوی درستیز په توګه، جنرال محمد رحیم وردګ د ملي دفاع دوزارت د لومړي مرستیال په توګه او جنرال شیر محمد کریمي د ملي دفاع وزارت د اوپرأسیون د رئیس په توګه تعین شول.

**د جولای څوارلسمه نیټه**:

د مرستندوی ه هیوادونو استازو جلالي صیب سره غونډه درلودله او د پولیسو د وجهي صندوق د تقویه کولو په اړه یې خبرې وکړې. جلالي صیب وویلې چې موږ باید تر پنځوسو زرو پورې ملي پولیس او تر دولسو زرو پورې سرحدي پولیس د پولیسو په تعلیمي اکاډمۍ کې وروزو چې د دې لپاره مالي لګښت ته اړتیا ده.

جلالي صیب وویلې چې موږ یو شمېر پخواني پولیس لرو چې د خپل عمر د زیاتوالي له کبله نشي کولای چې خپلو وظیفو ته دوام ورکړي او همدارنګه اکثریت نور چې د مجاهدینو د لیکونه پولیسو سره یو ځای شوي دي کافي تجربه نه لري او زیاتره یې بې سواده دي نو په دې اساس د نوو ملي پولیسو روزنه اړینه ده،د پولیسو په اکاډمۍ کې موږ اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ائې د اوسوو څخه تر اتو سوو پورې پولیس روزلی شو، د لویو لارو د ساتلو پولیسو ته مو هم اړتیا شته، ددې ترڅنګ موږ د مرکز او زونونو په کچه د چټک غبرګون پولیسو ته هم اړتیا لرو چې عاجلو او اضطراري حالاتو کې ترینه کار واخیستلی شي، په هوایې ډګرونو کې موږ هم مسلکي پولیسو ته اړتیا لرو چې د هوایې ډګرونو کنټرول خپل کړي.
په دغه غونډه کې د مالي وزیر ډاکتر اشرف غني وړاندیز داوو چې موږ عاجل دوه سوه میلونه ډالرو ته اړتیا لرو چې د پولیسو ریفورم، زده کړې او تربیه یې پرمخ بوزو خو نړیوالې ټولنې یو ائې د شپیتو میلونو ډالرو ژمنه کړې چې دا یو ائې د پولیسو د معاشاتو لپاره چې هغه هم ډېره کمه تنخواه ده کفایت نه کوي. ډاکټرصیب غنی زیاته کړه چې یو ټانکر تیل له هرات څخه کابل ته راځي شپاړلس ځایه ترینه پیسې اخیستل کیږي او بې له ملي پولیسو نه حکومتداري نشي کیدلای. ډاکټرصیب غنی وویل چې سم او مسلکي پولیسو په درلودلو سره د حکومت عایدات هم زیاتیدلای شي او بیا حکومت کولی شي چې د خپل پولیسو مصارف په غاړه واخلي.
په هغه وخت کې د افغانستان خلک ملي پولیس غوښتل خو نړیواله ټولنه د ملي پولیسو روزنې ته ځکه توجه نه کوله چې دوي ته د ملي اردو روزل اسانه و او د پولیسوروزل سخت وځکه چې ملي اردو یو ائې د جګړې لپاره روزل کیږي او ملي پولیس باید د جګړې د روزلو سربېره باید په قوانینو هم پوه شي او د خلکو حقوق باید وپیژني. بل دلیل داو چې نړیوالې ټولنې ملي پولیس دملت سازی برخه ګڼله چې دی کارته هغوي تیار نه و.
ډاکټرصیب غنی وویل چې د پولیسو د روزلو لپاره یو ائې د شپیتو میلونو ژمنې نه ۴۴ میلونه ډالر موږ ته راکړل شوي، حال دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ یوازې د پولیسو دمعاشاتو او د کورنیو چارو وزارت د مصارفو لپاره سږ کال یو سلو او اولس میلونو ډالرو ته اړتیا لرو.
د ملګرو ملتونو د انکشافي ادارې یا **UNDP** مشر ښاغلی مراد هم تایید کړه چې د پولیسو وجهي صندوق ۷۴ میلونه ډالر کسر یوازې د پولیسو د معاشاتو په برخه کې لري نو په دې اساس نړیوالې مرستندویه ټولنې ته په کار دي چې د پولیسو د تقوي لپاره عاجل کومکونه وکړي.
جلالي صیب زیاته کړه چې موږ اوس پولیسو ته د میاشتې ۸۰۰ افغانۍ چې ۱۸ ډالر کیږی ورکوونو څنګه کولای شو چې موږ په دغه لږ معاش ښه کسان پولیسو ته جذب کړو، ده وویل چې موږ یوازې یو محدود شمیر پولیس په کابل کې جذب کړي خو ولایاتونو کې په دې معاش موږ څوک نشو جذبولی او که جذب هم شي نو د سولې او امنیت لپاره کار نه کوي او یوازې د شخصي ګټو لپاره به کار کوي. موږ چې څومره زر پولیس ورزو هماغومره به زر اداره په ولایاتونو کې ښه شي.
ډاکټرصیب اشرف غنی وویلې که مرستندویه هیوادونه عاجل کومکونه ونه کړي د اګست د میاشتې د نیمایې نه وروسته موږ پولیسو ته داناکافي معاشونه هم نه شو ورکولی. په دی غونډه کې نړیوال بانک، اسیایې بانک، انګلستان، جاپان، امریکا او د ملګرو ملتونو د پرمختیاي ادارې استازو برخه درلودله.
په پای کې جلالي صیب وویلې چې څنګه دا نوې دوره پولیس فارغ شي نو د کورنیو چارو وزارت غواړي چې د اته ولایاتونو د امنیه قومندانان تبدیل کړي. جلالي صیب د بیلګې په توګه وویلې چې په کندهار کې په عوض د دې چې پولیس خلک وساتي خلک د پولیسو نه ځان ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جولای د میاشتې په ۱۵ نیټه د پولیسو پورته مشکلات د کورنیو چارو وزارت لخوا امنیتي مشورتي ګروپ ته چې د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ میاشتني غونډه وه وړاندې شول چې د پولیسو ریفورم تائید او عاجل کومکونه د پولیسو سره وکړي.

**د ایساف مشر جنرال نوربت وین هیسټ**

**( Gen Norbert Van Heyst)**

**سره د جولای دمیاشتې په ۱۲ نیټه غونډه**

د غونډې موخه د پاکستان د سفارت په هکله د امنیتي تدابیرو د نیولو وه ځکه چې د جولای دمیاشتې په اتمه نیټه د کابل ښار یو شمېر وګړي دپاکستان په سفارت ورغلل او دغه سفارت ته یې زیان ور واړولو. دغه پېښه هغه وخت رامنځ ته شوه چې داسې اوازې په کابل کې خپرې شوې چې ګوندې د مومندو په سیمه کې دپاکستان میشتو او افغاني عسکرو ترمنځ شخړه شوې چې په پایله کې یو شمېر پاکستاني عسکر د افغانستان خاورې ته ننوتلي دي.

د ایساف مشر په دې اند و چې ګویا اوس هم د پاکستان سفارت د امنیت له پلوه په تشویش کې دی خو جلالي صیب ورته اطمېنان یا ډاډ ورکړو چې موږ کافي ترتیبات نیولي او مخکنۍ پېښه د توقع خلاف وه او د یو شمېرمغرضوکسانو لخوا ترتیب شوې وه چې موږ په دې توانیدلي یو چې پنځه مشکوک کسان ونیسواو د افغانستان حکومت ژمنه کړې چې د پاکستان سفارت ته اوښتی تاوان جبېره یعنې بدل ورکړي. د ایساف مشر وویلې چې د ناټوعمومی مشرپه کابل کې په ایساف پړه اچولې چې ولې یې د پیښې په مخنیوي کې اجراات نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. جلالي صيب د ايساف مشر ته وويلې تاسې د پاکستان سفېر ته اطمېنان ورکړی، چې که دوی هرنګه مشکل لري نو ماسره دې اړیکه ونیسې زه به ورته نور اضافي پوليس ورولیږم.

د دې سربېره جلالي صيب د ايساف نه وغوښتل چې تاسې بايد په لارو کې چيک پوستونه جوړ نه کړئ او هميشه د پوليسو سره بايد په تماس کې اوسئ ځکه په خپل سر تحرکات زموږ او تاسو ترمنځ همغږی ته زيان اړوي.

**د جولای د میاشتې ۱۸ نیټه**:

جلالي صيب به هره پنجشنبه د کورنيو چارو په وزارت کې اونيز مطبوعاتي کنفرانس درلود چې دهيواد په امنيتي حالاتو باندې يې خبرې کولې، خپلې نيمګړتياوې او فعاليتونه به يې د رسنيو سره شريکولې او افغانان به يې د ټولو پيښو څخه خبرول په دې ورځ يې په مطبوعاتي کنفرانس کې په لاندې موضوعاتو خبرې وکړې:

د پاکستان په سفارت باندې حمله: نوموړی وويل چې دا له مخکې نه ترتيب شوی کار و چې موږ يې په تړاو پنځه تنه نيولي دي.

په شمال کې وضع ښه نه ده او هغه ډلې او قومي قطعات چې موجود دي هماغو په خپلو منځو کې مشکلات جوړ کړي نو دوی بايد بې وسلې شي ځکه که حکومت ولس ته امنيت برابر نه کړی نو خپل مشروعيت دلاسه ورکوي.

د ايران او پاکستان سره چې په سرحداتو کې کوم مشکلات لرو بايد د خبرو اترو له لارې حل شي، موږ د پاکستان د سفارت تاوان ورکوو او همداسې د افغانستان، پاکستان او امريکا ترمنځ دې درې اړخيز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیسون جوړشي او د پولې په شاوخوا کې چې کوم مشکلات دي هغه باید حل کړي.

په همدې ورځ د امریکا د دفاع وزارت مرستیالې **Ms. Lauren Keane** د جلالي صیب سره وکتل او د خبرو په ترځ کې یې وویلی چې د کورنیو چارو وزارت ښه مشکله وظیفه ده خو جلالي صیب ورته وویلې چې مشکل کار نه دی خو یو شمېر کسان موږ کارته نه پرېږدي، ده ورته وویلې چې د کنړ او پکتیا والیان مو بدل کړل او د فراه والي هم کیدای شي په دغو ځو ورځو کې تبدیل کړم. جلالي صیب بیا اسرار وکړو چې **PRT** باید دولایتي ثبات د ټیم **Provincial Stability Team** په نوم بدل شي. همدارنګه د پولیسو وجهي صندوق پیسي نه لري جرمني د پولیسو سره د مرستې ژمنه کړې خو څرنګه چې لازمه ده هومره مرسته نه شي کولای نو دامریکا متحده الات دې باید پولیسو سره په مرسته کې ونډه واخلي.

جلالي صیب وویلې چې د پولیسو او پوځ وظیفې سره جلا دي ځکه د پولیسو وظیفه دقانون حاکمیت دی او د پوځ وظیفه په اضطراري حالاتو کې د هیواد څخه دفاع کول دي. اوجلالي صیب وویلې چې ځومره اردو او یا بهرنۍ قواؤې په حکومتي چارو کې مداخله کوي هماغومره بدامنۍ زیاتیږي. اوس پوځ عملیات کوي، خلک نیسي او خپل زندانونه لري همداشان ملي امنیت ریاست د احق نه لري چې په دفاع وزارت کې دخپل ځان لپاره دوکان جوړکړي او هلته خلک وساتي. نو ښه به داوي چې یو امنیتي ستراتیژي موجوده وي چې د هر دولتی ارګان رول په هغه کې واضیح وي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت مرستیالې د جلالي صیب سره همغږۍ وښودله او وویلې چې دوی کوشش کوي چې دپولیسو سره مرستې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې سهار د جرمني سفېر د جلالي صيب سره د ليدلو لپاره راغى اوجلالي صيب ته يې ويلې چې زه نن تاسره د پوليسو په اړه جدي خبرې کوم ځکه تاسې انديښنه لرئ چې جرمني د پوليسو سره لازمه مرسته نه کوي. ده وويلې چې زه دا منم خوپوليس بايد مرکزي حکومت ته وفاداره اوسي او دکيفيت په لحاظ ښه وي نوښه به داوي چې کابل د جرمنى حکومت ته يو غوښتنليک واستوي او ترې وغواړي چې د پوليسو د روزنې چارې ګړندی کړي خوتر دې څنګ لا زياتو کمکونو ته اړتيا شته تر څو د ملي پوليسو د روزنې مرکزونه په اطرافو کې جوړ کړو.

جلالي صيب ورته وويلې چې زه په دې هلو ځلو کې ستړې شوی يم نو ځکه ما داخبره د هيواد ولسمشر اومرستندويه هېوادونو سره شريکه کړې ده ځکه چې له يو طرف نه د اساسي قانون د لويې جرګې لپاره هلې ځلې رواني دي او له بله پلوه د راتلونکي کال ټاکنې مو په مخ کې پرتې دي نو که عاجل اقدام ونشي نو بيا يوازې پيسې څه نه شي کولای. زه فعلاً يو زر افسرانو ته اړتيا لرم چې د پوليسو تعليمي مرکزونه فعال کړم او زه بايد پوليسو ته هاغسې معاش ورکړم چې د ملي اردو لپاره تعين شوی دی ،ما دا مسئله د جرمني د پوليسو د پروژې د مشر ښاغلي **Zumof** سره مطرح کړې چې که د دولت رئيس زما پلان ومني آيا جرمني کومک کولی شي چې مرسته وکړي او کنه؟ خو هغه وويلي چې جرمني نور کومک نه شي کولی ځکه جرمني اوس يوازې دولس تنه پوليس د روزنې لپاره لري چې دا کافي نه دي. جلالي صيب وويل چې د ملي پوليسو روزنه د افغانستان د ثبات لپاره يوه جدي مسئله ده اومرستندويه هېوادونه بايد دې ته جدي پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرمني سفېر وويلې چې زموږ ټولې پروژې د جرمنې د بهرنيو چارو وزارت له لارې اجراء کيږي نو ځکه د پوليسو د پروژې مشر هو ـ يا نه نشي کولای نو بايد په دې فکر وکړو چې څرنګه وکولای شو چې په راتلونکي کې د پوليسو لپاره مرستې جلب کړو نو د دې لپاره چې موږ له کابل نه ولاياتونو ته د پوليسو روزل وغځوونو سياسی ارادې، صحيح طرحه او امکاناتو ته اړتيا شته نو زه به د امريکا متحده ايالاتو ته هم وليکم چې راتلونکې پوليس به د تېرو پوليسو نه بايد تفاوت ولري.
جلالي صيب په ځواب کې ورته وويلې چې موږ خپل کورنی کار کړی دی ،پوره تفصيلي پلانونه مو جوړ کړي دي او د پوليسو لپاره مشخصات تعين شوي او هغه څوک چې د موجوده پوليسو ته د شرايطو وړ دي هغه به جذب شي او پاتې نور به يې رخصت شي.
د جرمني سفېر وويلې چې جرمني د مخکښه هيواد په توګه د پوليسو د پروګرامونو د همغږي کولو دنده پر غاړه لري خو دا به ښه وي چې د دولت رئيس ښاغلي حامد کرزی د جرمنی مشر ته يوليک واستوي او ددې خبرې دې يادونه وکړي چې بې له امنيته موږ ټاکنې نه شو کولای او د کابل نه بايد د پوليسو ريفورم ولاياتونو ته وغځوو نو ددې لپاره د تعليمي مرکزونو د جوړولو او زياتو امکاناتو ته ضرورت دی نو ښه به داوي چې د نورو هيوادونو د مشرانو سره يې مطرح کړي نو په دې توګه به د پوليسو سره د زياتو کومکونو امکانات برابر شي. جلالي صيب د جرمني سفېر سره ژمنه وکړه چې دې به ولسمشر کرزي لخوا د جرمنی چانسلر يعنې دحکومت مشر ته يو ليک واستوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د جولای ۱۹ نېټه** :

په همدې ورځ د پاکستان سفېر رستم شاه مومند د جلالي صیب سره د کتنې لپاره راغلی و چې د پاکستان د سفارت د امنیت او په شبرغان کې د پاکستاني بندیانو په هکله ورسره خبرې وکړي. د پاکستان د سفارت د امنیت په هکله جلالي صیب ورته وویلې چې زه به یو هئیت درولیږم او تاسي ورته خپل مشکلات په ګوته کړئ او ځومره پولیس چې د سفارت د امنیت لپاره ضروري دي هغه به موږ درولیږو. د شبرغان په بندي خانه کې تراوسه پورې ۵۴۰ پاکستاني اوسیدونکې چې د طالبانو نه یې حمایت کاوه بندیان ونود پاکستان د سفیرغوښتنه داوه چې هغوي یاخوشې کړئ او یا پاکستان ته د انتقال لپاره زمینه برابره کړئ.

رستم شاه مومند وویلې چې امریکایانو غوښتل چې د دغو بندیانو نه ابتدایي تحقیق ونه کړي ترڅو دوی خوشي نه شي خوځرنګه چې د دوی صحي وضعیت خراب دی که داپروسه چټکه شي نو بهتره به وي. جلالي صیب ورسره ژمنه وکړه چې دا موضوع به د دولت د رئېس سره مطرح کړي. رستم شاه مومند دا ادعا هم کوله چې یو شمېر پاکستاني اتباع دښاغلي مارشال فهیم سره هم بندیان دي خو جلالي صیب په ځواب کې ورته وویلې چې زه په دې هکله هیڅ معلومات نه لرم اوفکر کوم چې دامعلومات ستاسې سم نه دي.

په همدې ورځ په افغانستان کې دADB یعنې د اسیایې پراختیایې بانک مشر د جلالي صیب سره کتنه درلودله او مهمه موضوع داوه چې دوی غوښتل د کندهار او کابل ترمنځ سړک جوړ کړي خو په رقابت کې د دغه سړک د جوړولو چارې یوې پاکستانۍ کمپنۍ ګټلې وې خو وروسته چې بیا د اسیاي پراختیای بانک د دغه کمپنې مشخصات او تجربه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزيابي کړه باید دا قرارداد يې نه وی گټلی نو دويمه کمپنۍ چې يوه هندي کمپنۍ وه دغه قرارداد يې واخست خو هندي کمپنۍ بيا دغه قرار داد په دويم لاس پاکستانۍ کمپنۍ ته ورکړ. د دغه لارې د امنیت لپاره جلالي صيب اسيايي بانک ته وويلې چې په اوس وخت کې د لويو لارو امنيت ساتل اړين دي نو دا چې موږ د لويو لارو د ساتلو لپاره کافي پوليس نه لرو نو ښه به دا وي چې اوس ځايي خلک امنيت وساتي خو دوی بايد مرکز ته راپور ورکړي او په دې هکله به د لويو لارو د ساتنې رياست ته هدايت ورکړم.

**د جولای ۲۲/ ۲۰۰۳م کال** :

په دې ورځ د اروپايې ټولنې مشر د جلالي سره د کنتې لپاره راغی چې د کابل طورخم د سړک د جوړولو سروې په هکله خبرې وکړي او د کورنيو چارو وزارت د سروې په وخت کې د دغه سړک امنيتي تدابير ونيسي. د اروپا د اتحاديې مشر وويلې چې د کابل جلال اباد په لاره زموږ د سروې ټيم په مرکز باندې يو شمير کسانو چې د پوليسو او پوځيانو يونيفورم يې په ځان وو ورننوتي وو دروازه يې ماته کړې او د مخابرې دستگاه يې ورانه کړې وه. جلالي صيب ورته وويل چې موږ ددې پيښې په تړاو يو څوکسه نيولي او د قانون مطابق به ورته سزا ورکړو. د کابل - جلال اباد د لارې لپاره به موږ درې سوه کسيزه قطعه جوړه کړو چې دلارې امنيت وساتي او په دې اړه د ننگرهار او لغمان د واليانو سره به تماس ونيسم چې لازم تدابير برابر کړي. د اروپايې ټولنې مشر جلالي صيب ته وويلې چې د دې سړک سروې به په دوو مياشتو کې بوشپړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ورځ د نړیوال بانک يو هئيت د جلالي صيب سره وکتل او دوی په هغه سروې چې د اداري مشکلاتو په اړه د افغانستان په شپږو ولایاتونو کې شوې وه وغږیدل. په سروې کې راغلي و چې د تېرو درې لسيزو جګړو سره بيا هم په افغانستان کې اداري سيستم چوکاټ شته او په ولسواليو کې کارکيږي نو بايد چې ولسواليو ته خاصه پاملرنه وشي چې د محلي ادارو ظرفيت لوړ شي. جلالي صيب ورته وويلې چې ښه اداره واقعا په امنيت کې مرسته کولای شي او د ولسواليو جوړول زموږ د مهمو لومړيتوبونو څخه دي.

**د جولای ۲۴/ ۲۰۰۳ م کال** :

د ملګرو ملتونو د اداري مرستيال **Jean Arnault** د جلالي صيب سره وکتل او وويلې چې د دې امکان نشته چې د اساسي قانون لپاره لويه جرګه د اکتوبر په مياشت کې دا ېره شي نو کيدای شي چې لويه جرګه د ډيسمبر په مياشت کې راوغوښتل شي خو ترڅو چې د ملي دفاع وزارت کې په لوړه کچه ريفورم رانشي نو لويه جرګه بايد راونه غوښتل شي.

جلالي صيب په ځواب کې ورته وويلې چې که د لويې جرګې لپاره سم ترتيبات او تياری نه وي نيول شوی نو د هغې موخې لپاره چې دا جرګه راغوښتل کيږي هيڅ ګټه به ونه لري.

**د جولای ۲۷ /۲۰۰۳ م کال**

په افغانستان کې دانګليسي ځواکونو مشر د جلالي صيب سره تعارفي ملاقات درلود. په همدې ورځ په افغانستان کې د نړيوال بانک مشر **Alaistair Mckenzie** او د بانک مېنجر **William Byrd** د جلالي صيب سره وکتل او په د ې وغږيدل چې څرنګه دوی کولای شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پولیسو د وجهي صندوق سره مرسته وشي اوهم د ډیسمبر په میاشت کې په دوبۍ کې د مرستندویه هیوادونو په غونډه کې امنیتي سکټور سره د مرستې په هکله تیاری ونیسي. جلالي صیب دوی ته وویل چې له یوې خوا موږ غواړو چې خپل پولیس تقویه او وروزو خوله بله خوا راپورونه مو ترلاسه کړي چې د پولې هاخوا ته د سرحد او بلوچستان په ایالتونو کې طالبان او پاتې شوني یې ځانونه منظموي او د دغه ایالتونو والیان او حکومت ورسره مرسته کوي. جلالي صیب همدارنګه دوی ته وویل چې نشه یې توکي، اداري فساد او تروریزم د امنیت لپاره خطردی او د سیمه ییزې همکارۍ په وسیله کولای شو چې موږ د ګاونډیانو سره دا ستونزې حل کړو. ایران د افغانستان سره په پوله د ۲۵ امنیتي پوستو د جوړولو ژمنه کړې خو د ټولو نه مهمه خبره په افغانستان کې سیاسي ریفورم دی چې په دې ټولو مسائلو اغیز درلودلای شي.

**د جولای ۲۸ /۲۰۰۳ م کال**:

جلالي صیب په دې ورځ د ډي ډي ار **DDR** یا بې وسلې کولو د دفتر د مشرښاغلي سلطان عزیز سره وکتل او د دغه پروګرام د پرمختګ په اړه یې د پروان، کندوز، مزار، هرات، کندهار، بامیان، ګردیز او جلال اباد په سیمو کې معلومات ورکړل. د سلطان عزیز موخه داوه چې هغه صیب منصب چې د ملي اردو ځخه منفک کیږي باید په پولیسو کې جذب شي نو جلالي صیب ورته وویلې چې دغه کس چې تجربه لري نو بیا ولې د ملي اردو ځخه لرې کیږي نو ښه خبره به داوي چې په ملي اردو کې جذب شي او که یې ورتیا نه لري نو بیا په کورنیو چارو وزارت کې هم کار نشي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې ورته جلالي صیب وویلې چې موږ ته د دې صیب منصبانو لېست د تحصیل، درجه او کاري تجربې پر بنسټ برابر کړئ او هغه کسانو چې زموږ شرایط پوره کړای شول په پولیسو کې به یې جذب کړو.
همدارنګه له دې غونډې وروسته د ملګرو ملتونو د کابل د ساحې مشر Trevor Martin د وردګو او سروبي د سیمو په اړه جلالي صیب ته معلومات ورکړل او وویلې چې د وردګو او سروبي د پولیسو قومندانان د امنیت په راوستلو کې پاتې راغلي او ولسي وګړي زوروي. جلالي صیب ورته په ځواب کې وویل چې د وردګو والي هم خپله دنده سمه پرمخ نه بیایې او موږ د ټولو قومندانانو او والیانو په هکله معلومات راټولو چې هغوی څومره په خپلو دندو کې صادقه دي او ډېر ژر به نور تغېرات هم راشي.
همدارنګه له دې وروسته د وردګو یو شمېر مشران چې په اغلب ګومان د امنیه قومندان او والي لخوا رالیږل شوي و د جلالي صیب سره وکتل او دوی ادعا کوله چې د وردګو والي ، امنیه قومندان، مستوفي او د معارف د ریًس نه ټول ولس خوشاله دی او دوی مجاهدین دي او خدمتګاران دي نو دوی باید تبدیل نشي که دوی تبدیل شي نو په سیمه کې به ناامني زیاته شي اوهم یې وزېر صیب ته یې بلنه ورکړه چې ودرګو ته راشي او وضعیت له نږدې وګوري.
همدارنګه په همدې ورځ د ایساف د قواؤ یوتن مشر Major Torpin د کابل د سروبي او د وردګو د ولایت د یو شمېر قومندانان په هکله راپور ورکړو چې دوی د طالبانو او القاعده سره اړیکې لري او هم د نشه یې توکو قاچاق کې لاس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اګست ۳ /۲۰۰۳ م کال** :

په دې ورځ د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د همغږۍ اداري چې د ملګرو ملتونو مشرلخدار براهيمې هم موجود و غونډه وکړه او دا تصميم ونيول شو چې د امنيت د ښه والي لپاره بايد د نړيوالې ټولنې او حکومت د امنيتي ارګانونو ترمنځ يو شريکه اداره **Joint Coordination Body** په نامه جوړه شي، جلالي صيب د ايساف څخه مننه وکړه چې د کابل په امنيت کې ورسره مرسته کوي او وويلې چې پنځلس امنيتی پوستې به د کابل په شاو خوا کې د ايساف سره په همغږۍ رامنځ ته شي. همدارنګه نن د کابل د هوايې ډګر کنټرول د ايساف د قواؤ نه د کورنيو چارو وزارت نوو ملي پوليسو ته وروسپارلی شو.

جلالي صيب دوی ته ډاډ ورکړو چې د هوايې ډګر په شمالي برخه کې چې يو شمېر داخلي بيځايه شوې کورنۍ اوسېږي هغه به د تفاهم له لارې نورو سيموته واستوي. د ګارنيزون قومندان جنرال بسم الله خان او د ملي امنيت مشر انجنېر عارف هم د ټولو نه مننه وکړه او وويلې چې که څه هم د کابل امنيت نظر نورو سيمو ته ښه دی خو د نړيوالو او افغاني امنيتي ادارو د همغږۍ لپاره ضرورت شته دی او اميد دی چې د ملي پوليسو د ريفورم په پايله کې امنيتی وضعه نوره هم ښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له چپې خوا کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي ، دافغانستان ولسمشر حامد کرزی او د لوګر والي محمد امان حمیمي (لوګر د محمد اغې ولسوالی)



ولسمشر حامد کرزی او د امریکا سفیر زلمی خلیل زاد

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښاغلی حامد کرزی د یو شمیر چارواکو ، قومي مشرانو او د ښوونځي زده کوونکو په منځ کې ( لوګر محمد اغه ولسوالی)



له ښي خوا څخه لومړی زلمی خلیل زاد ، علي احمد جلالي ، حامد کرزی ،شهزاده مسعود ، زلمی رسول ،محمد یو سف پښتون او ولي منور (لوګر محمد اغه ولسوالي )

(c) ketabton.com: The Digital Library





علي احمد جلالي د تاجکستان د کورنيو چارو وزير سره (دوحه ، قطر)



ښاغلی حامد کرزی او شاه محمود مياخيل د کورنيو چارو د وزارت د پوليسو دعالي رتبه منصبدارانو سره (دارلامانې)

(c) ketabton.com: The Digital Library





له کېڼې خوا نه لومړي قطار ، شاه محمود میاخیل، شهزاده مسعود ، محمد عمر داودزی ، زلمی رسول ، زلمی خلیل زاد (USID)مشر ، جاوید لودین ، محمد یوسف پښتون ، امیره حق (UNAMA) مرستیاله،شیدا محمد ابدالي ،جنرال عبدالهادي خالد او ولي منور (لوګر محمد اغه ولسوالي )



ښاغلی علي احمد جلالي او شاه محمود میاخیل (دوحه قطر)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د پاکستان د کورنيو چارو وزير فيصل صالح حيات او شاه محمود مياخيل (کابل انټر کانټيننټل هوټل)



ښاغلی علي احمد جلالي اورسره پلاوی د قطر د حکومت د استازی سره کتنه (دوحه قطر)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډګر جنرال هلاالدین هلال او شاه محمود میاخیل (دوحه قطر)



له کینې خوا نه لطف الله مشعل ، ډګرجنرال هلال الدین هلال ،جنرال عبدالرحمن او شاه محمود میاخیل ( دوحه قطر)

(c) ketabton.com: The Digital Library





ميدان وردګو ولايت د نوي والي عبدالجبار نعيمي معرفي کولو مراسم : په عکس کې شاه محمود مياخيل ، ښاغلی سيد حامد ګيلاني ، ښاغلی سيد محمد ګيلاني او پخواني والي راز محمد دليلي هم ليدل کيږي



شاه محمود مياخيل د وردګو دپخواني والي راز محمد دليلي سره ( دنوي والي جبار نعيمي د معرفي مراسم )

(c) ketabton.com: The Digital Library





شاه محمود میاخیل د کنړ ولایت د نورګل ولسوالۍ دنوې ودانۍ د بنسټ
ډبرې د اېښودلو پر مهال



شاه محمود میاخیل د کنړ ولایت د نورګل ولسوالۍ دنوې ودانۍ د بنسټ ډبرې د
اېښودلو پر مهال دکنړولایت مرستیال حاجی محمد روزی سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بهرینو چارو وزارت مرستیال حیدر رضا سره یادګاري عکس (سویډن ستاکهولن)



دبلخ ولایت دشولګرې ولسوالۍ نه کتنه ، دښې خوانه میر عبدالرحمن معقول ،شاه
محمود میاخیل او دبلخ ولایت مرستیال محمد ظاهر وحدت لیدل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library




دبلخ ولايت د شولګرې ولسوالي د ودانۍ دکار له بهير څخه ليدنه


د بلخ ولايت دشولګرې ولسوالي دخلکو سره کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بلخ ولایت د شولګري ولسوالۍ په جامع جومات کې د خلکو سره خبرې



د بلخ ولایت دشولګري ولسوالۍ د پولیسو دقطعې معاینه

(c) ketabton.com: The Digital Library





دلوګر ولایت د ودانۍ دبنسټ ایښودلو مراسم (لوګر



د لوګر ولایت دسرخ اب دانجونو د ښوونځي دکار له بهیر څخه کتنه (لوګر)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لوګر ولایت د سرخ اب دانجونو د ښوونځي دکار له بهیر څخه کتنه:  په عکس کې شاه محمود میاخیل او
مشاور وزیر شاهزاده مسعود د لوکر د معارف ریس غروال سره (لوګر)



کابل نه شمالي ولایاتو ته سفر: د مخابراتو وزیر محمد معصوم ستانکزی، شاه محمود میاخیل،
محترم عبدالرحمن معقول او محترم انوری د سمنګانو د دولتی چارواکو سره روغبړ

(c) ketabton.com: The Digital Library





شمالي ولايتو ته کاري سفر د کيڼې خوا نه اغلی امنه افضلي ،د ولسمشر مرستيال محمد کريم خليلي، شاه محمود مياخيل ، ښاغلی معصوم ستانکزی اوښاغلی جمعه خان همدرد





شمالي ولايتونو ته د کاري سفر دموټرو د کاروان يوه بيلګه

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سمنګانو ولایت په ایبکو ښار کې د والي غلام حسین شفق سره (شمال ته کاري سفر یو ځنډه )




د شمال د کاري سفر په ترڅ کې په ایبکو ښار کې په هغه غونډه کې ګډون چې د کابل ښخه د ورغلي پلاوی لپاره جوړه شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولسمشر مرستیال محمدکریم خلیلي او ورسره پلاوی په ایبکو کې دتخت رستم څخه د لیدلو پر مهال



دولسمشر مرستیال محمدکریم خلیلي او ورسره پلاوی په مزار شریف کې د حضرت علي کرم الله وجهه د روضې څخه دلیدنې پرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولسمشر مرستيال محمدکريم خليلي په مزار شريف کې د خبريالانو پوښتنو ته ځواب وايي



د تاشقرغان په سيمه کې د بلخ والي عطا محمد نور د کابل څخه ورغلي پلاوی سره
خدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اګست ۲۰۰۳/۱۱ م کال** :

د بلغاریه د حکومت یو هئیت د جلالي صیب سره وکتل چې د بلغاریه د کورنیو چارو وزارت غواړي چې د پولیسو روزنه کې مرسته وکړي. جلالي صیب ورته وویلې چې تاسو د خپلو امکاناتو په نظر کې نیولو سره موږ ته ډاډ راکړئ چې څومره کسان د څومره مودې لپاره په کوم ځای کې تربیه کولای شئ. نو بیا موږ به هماغسې پروګرام ستاسې د امکاناتو په نظر کې نیولو سره ترتیب کړو. په همدې ورځ د ائتلاف د قواؤ قوماندان **Gen. David Barno** د جلالي صیب سره وکتل او د پولیسو د روزنې په هکله سره وغږیدل جلالي صیب غوښتنه وکړه چې د امریکا د دفاع وزارت باید د پولیسو په روزنه کې مرسته وکړي ، د جنرال بارنو سره د **(MPRI)** د دفتر مسؤل چې د ملي اردو روزنه یې په غاړه درلوده هم موجود و ، دوی په دې نظر وو چې د پولیسو د روزنې په برخه کې د کورنیو چارو وزارت لپاره مشاورین استخدام کړي خو د جلالي صیب نظر دا وو چې د مشاورینو لیست باید له مخکې نه راولیږي او باید د پولیسو په اړه تجربه ولري نو چې کله ده ددې مشاورینو لست منظور کړ نو بیا یې استخدام کړئ.

**دا ګست ۱۳ / ۲۰۰۳م کال** :

نن د ډنمارک سفارت او د بشر دحقوقو سازمان له خوا د ښځو دحقوقو په اړوندیو سیمینار برابر کړی وچې ښځو ته باید د کار او تعلیم زمینه برابره شي.سمونوال ګل محمدمددزی د کورنیو چارو وزارت د بشر د حقوقو د دفتر مسؤل وویلې چې د مهاجرینو لپاره باید استوګن ځایونه تعین شي خو د مهاجرینو وزارت خپله دنده په سمه توګه نه ده اجرا کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وویل چې دغه نوي مهاجرین په ځینو جرمونو کې لاس لري خو موږ یې ادرس نه شو پیدا کولای د بېلګې په توګه هغه بله ورځ یو ښځه راغله چې په اتمه ناحیه کې یې میړه لور په قمار کې بایللې وه ، همداشان په زندانونو کې ښځو ته مخدره مواد وړل کیږي، نورداسې جرمونو مخه باید ونیول شي اود ښځو لپاره باید په زندانونو کې روزنیز پرګرامونه ترتیب شي، د **USAID** مشر وویل چې په نوي اساسي قانون کې د بشر په حقوقو ډېر تاکید شوی او د ښځو حقوق باید خوندي وساتل شي.

جلالي صیب وویل: د اساسي قانون د جوړېدو په اړه ډېر بحثونه روان دي خو خلک د هر ډول افراط ګری نه ستړي دي، د ۱۹۲۱ م کال نه راپه دې خوا د افغانستان په ټولو اساسي قوانینو کې د شریعت د نفاذ او اسلامي قوانینو تطبیق مادې ځای پر ځای شوي دي او د هغې مطابق به بشري حقوق مراعت کیږي.

په همدې ورځ د ملي امینت په شورا کې د **PRT** یا بیارغونې د ټیمونو د اجرائیه کمیسیون غونډه وه چې د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر عبدالله، د ښارجوړونې وزیر انجنیر یوسف پښتون، دکلیو پراختیا وزیرښاغلي محمد حنیف اتمر، د ملي امنیت شورا مرستیال انجنیرمحمد ابراهیم سپین زاده، د امریکا شازدافیر **David Sydney**، دکورنیو چارو وزارت امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال او ما برخه درلوده. جلالي صیب دوی ته د **PRT** په هکله معلومات ورکړل. او وویلې چې په ۲۲ د دسمبر به د نیوزیلند **PRT** په بامیانو کې په کار پیل وکړي خو د جرمني حکومت لا تر اوسه تصمیم نه دی نیولی چې **PRT** په جلال آباد یا کندوز کې جوړ کړي خو دا مهمه ده چې **PRT** باید د پولیسو په روزنه کې مرسته وکړي. اوس **PRT** په ګردیز، مزار، کندهار، هرات او کابل کې جوړ شوي دي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه به دا وي چې ددې **PRT** لپاره یوه لایحه د وظایفو یا رهنمود جوړ شي او دوی خپل کارونه د حکومت سره همغږې کړي او دا لایحه باید راتلونکې غونډې ته وړاندې شي. جلالي صیب ماته دنده راکړه چې ددې لایحې مسوده د **PRT** لپاره ترتیب او راتلونکي غونډې ته یې باید وړاندې کړم دغه پورته کتنو او غونډو څخه مې د بېلګې په توګه یادونه وکړه خو ددې نه برسېره په لسګونو نور مسائل او غونډې وې چې د کورنیو چارو د وزیر او د وزارت د رئیسه هئیت وخت به یې نیوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په مزار شریف کې د جنرال عطامحمد نور او جنرال عبدالرشید دوستم د قواؤ ترمنځ لانچه :

داسې راپورونه وچې د مزار شریف په ښار کې د جنرال عطا محمدنور او جنرال دوستم د قواؤ تر منځ تشنج مخ پر زیاتیدو دی، حتی په ځینو سیمو کې نښتې هم رامنځ ته شوې دي او دواړو خواو خپل قطعات دښار په مختلفو سیمو کې ځای پر ځای کړي دي. دواړه خواوې ددې بهانه لټوي تر څو په یو پر بل حمله وکړي. دا کړکیچ هغه وخت اوج ته ورسیده چې د جنرال دوستم دوه قوماندنان د جنرال حبیب بای او ګل احمد په نامه د استاد عطا محمد نور د نفرو په واسطه دامام بُکري په سیمه کې اختطاف شولو چې وروسته د جنرال دوستم نفرو شله کسه ملکي وګړي بندیان کړل خو له جنرال روزي سره له تفاهم اوموافقې وروسته ملکي وګړي بېرته خوشې کړای شول اوهمدا شان دبلخ دامنیه قوماندانې، د **PRT** او **UNAMA**په کومک د پل امام بُکري په سیمه کې د دواړو قواؤ ترمنځ امنیتي پوستې واچولې تر څو دواړه خواوې په خپلو منځوکې جګړه ونه کړي. په **PRT**کې د کورنیو چارو وزارت استازي جنرال فضلي مونږ ته راپو راکړ چې دوه کسه نور د حبیب الرحمن او نصرت په نامه د **۵۱** فرقې د قوماندان علم خان له خوا تښتول شوی خو د دوی دخوشې کیدو په هکله د **PRT** نماینده د جنرال روزی او جنرال صبور چې د (۷) او (۸) قول اردو رئیس ارکان دي خبرې وکړې چې دوی خوشې کړې، دوی ویل چې دمزار پولیس بې طرفه نه دي او اختطافونه زیات شوي دي،څوورځې دمخه انجنېر صادق د کود برق دفابریکې اداري مرستیال هم د جمعیت اسلامي دنفرو له خوا تښتول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپتمبر او اکتوبر په میاشتو کې د مزار شریف په ښار کې بې امني او تښتوني اوج ته رسیدلي و. جنرال دوستم او جنرال عطأ ګروپونو چې یو بې د اومې قول اردو قوماندان او بل یې اتمه قول اردو په خپل کنټرول کې درلوده، غوښتل چې د مزار شریف په ښار کې باید نفوذ ولري، که څه هم جمعه خان همدرد د اتمې قول اردو قوماندان وو خو قدرت د جنرال دوستم سره وو.

استاد عطا محمد نور د جنرال دوستم نفوذ د مزارشریف په ښار کې د خپل قدرت لپاره تهدید ګاڼه نو کوښښ یې کاوه چې په یو شکل د اشکالو دجنرال دوستم لاس د مزارشریف نه لنډ کړي او ددې بدامنیو پړه په هغه واچوي. دا ګډوډې د اکتوبر د میاشتې په لومړی اونۍ کې داسې حد ته ورسیدله چې د دواړو خوا ترمنځ یو څه شخړې وشوې او د یو بل نفر یې یرغمل ونیول او حتی داسې آوازې هم خپرې شوې چې په دې شخړو کې پنځوسو نه تر شپیته کسو پوري وژل شوي دي.

د یوناما (UNAMA) او PRT مسؤولینو جلالي صیب ته خبر ورکړ چې که مرکزي حکومت ډیر ژر مداخله ونه کړي نو امنیتي وضعیت نور هم خرابیږي او د دواړو خواو ترمنځ د یو پراخه جنګ امکان شته دی.

دواړو خواو درندې وسلې لکه توپ، ټانکونه او BM-41 دستګاوې د یو بل پر ضد ځای په ځای کړي دي.

هماغه و چې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي، د ملګرو ملتونو د یوناما د دفتر مشر ژان ارنو (Jean Arnault)، د امریکا د سفارت مرستیال David Sydney، د انګلستان سفیر ران نش (Ron Nash) او زه د اکتوبر د میاشتې په نهمه نېټه چې د ۱۳۸۲ هـ ش کال دمېزان د میاشتې اولسمې نېټې سره سمون خوري مزار شریف ته لاړو تر څو د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواو ترمنځ اوربند وکړو او د بې وسلې کېدو پروسه هلته په چټکۍ سره عملي شي.

په دې وخت کې جنرال دوستم په کابل کې وو خو جلالي صیب ورته خبر ورکړ چې د اکتوبر په نهمه نېټه سهار وختي مزار شریف ته ځو نو تاسې هم باید هلته راشئ او کولای شې چې موږ سره یو ځای په الوتکه کې لاړ شې که څه هم جنرال دوستم نه غوښتل چې مزار شریف ته لاړ شي خو د کورنیو چارو دوزیر په اصرارجنرال دوستم دې ته مجبور شو چې له موږ سره یوځای لاړ شي. جنرال دوستم په دې خبره ټینګار کاوه چې جلالي صیب او ورسره هئیت باید په کابل کې ورسره وګوري خو د جلالي صیب او ملګري هئیت ټینګار په دې وو چې په کابل کې خبرې ګټه نه لري او ټول مسائل به د مزارشریف په ښار کې د نږدې نه حل کړو.

همدا نن د پنجشنبې په ورځ مزار ته له راتګ دمخه جلالي صیب په خپل اونیز مطبوعاتي کنفرانس کې د مزار حالاتو ته اشاره وکړه او ویې ویل : پرون دامنیت شورا یو څلور فقره یې پیشنهاد دکورنیو چارو د وزارت منظور کړی دی چې استاد عطامحمد نور او جنرال دوستم دواړه باید له مزار څخه کابل ته راوستل شي که څه هم جلالي صیب د کنفرانس په منځ کې نور زیات تفصیل ورنه کړ او همدارنګه د مزار دتګ په اړه یې هم معلومات ورنه کړل خو ماته یې خصوصي وویلې چې دکنفرانس نه وروسته مزار ته ځو او په شمال کې باید عمیق تغیرات راشي تر څو دشمال وضعه عادي حالت ته راوګرځي.

کله چې دکابل نه د مزارشریف هوایي ډګر ته ورسیدو نو دهوایي ډګر نه رأساً د **PRT** دفتر ته لاړو چې د انګلستان د حکومت له خوا هلته نوی پرانستل شوی و. په **PRT** کې د کورنیو چاروزارت استازې جنرال فضل

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد فضلي، د PRT قوماندان ډګرمن Dickie Davis او د پوليسو مشاور Maj. Zimmer د مزارشريف په حالاتو تفصيلي راپور د کورنيو چارو وزير او د کابل نه راغلي پلاوي ته وړاندې کړ د دې خبرې يادونه ضروري ده چې موږ کله د هوايي ډګر څخه د PRT مرکز ته چې دبلخ دروازې سره نږدې وو ورتلو نو د جګړې له و برې ټول دکانونه تړل شوي وو او هيڅوک په سرکونو نه ګرځيدل ، تا به ويل چې دمزار له ښاره ساه وتلې ده که څه هم د راډيو له لارې د ډېرو تلفاتو خبرې کيدلې خو دغه تلفات تر لسو کسانو نه زيات نه وو.

په مزار کې مو استاد عطامحمد نور، جنرال دوستم، جمعه خان همدرد او دبلخ والي اسحاق رهګذر ته خبر ورکړچې ټول بايد په دوه بجو د PRT دفتر ته راشي تر څو دمزار پر مسائلو باندې خبرې وکړو. که څه هم دوی غوښتل چې د کورنيو چارو وزېر علي احمد جلالي او ورسره هئيت له دوی سره جلاجلا وګوري خو وزېر صيب او ورسره هئيت غوښتل چې ټول به په يوځل ويني، ځکه چې موږ غوښتل چې دوی بيا دا فکر ونه کړي چې ګواکې مرکزي حکومت د کوم مشخصې ډلې څخه ملاتړ کوي نو ښه به دا وي چې دنړيوالې ټولنې داستازو په مخامخ له دوی سره خبرې وشي او دا خبره ورته په ګوته شي چې مرکزي حکومت او نړيواله ټولنه ددې ګډوډيو برداشت نه شي کولی.

دوی د PRT مرکز ته په ټاکلي وخت راغلل او دکنفرانس په خونه کې سره کيناستو په شمال کې د وحدت د حزب مشر سلطان سعيدي په مزار کې نه ونو د هغه پر ځای يې مرستيال ښاغلي سلطاني راغی. که څه هم جنرال دوستم بياهم اصرار کاوه چې له ده سره دې جلا وکتل شي خو جلالي صيب ورسره دا خبره ونه منله. استاد عطامحمد نور په لومړي سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وویلې چې موږ خو ونه شوکولای چې د حل لاره پیدا کړو داچې تاسې مشران راغلي یاست ښه به داوي چې تاسې یوه د حل لار راوباسئ.
جلالي صیب وویل: په دې هکله به مرکز تصمیم ونیسي خو دا چې اوس وضعه ارامه شي او جنګ ونه شي څه باید وشي ؟
استاد عطا محمد نور وویل :لومړی دې د دواړو خواو قطعات بېر ته خپلو پخوانیو ځاینو ته ستانه شي، څو د خلکو تشویش له منځه ولاړ شي، ځکه د جنرال دوستم د فرقې قطعات د شبرغان نه بلخ ولسوالۍ ته او د سرپل نه چمتال ولسوالۍ ته راغلي دي نو ځکه موږ هم خپل قطعات ویستلي دي او د امام بُکري په سیمه کې مو ځای پر ځای کړي دي، جلالي صیب وویل: مخکې له دې چې قواؤې بېرته خپلو اصلي ځایونو ته ستنیږي لومړی باید ټول نیول شوی کسان پریښودل شي.
استاد عطا محمد نور وویل: ایا دا سمه ده چې د اختطاف په نامه دې پنځه زره کسه دلته راټول شي، کله چې زه ددې خبرې نه خبر شوم نو والي صیب رهګذرته مې وویل: هرهغه چا چې دا نفر تښتولي هغه ونیسئ لومړنی خبر دا و چې دا نفر د آغا زلمي له خوا تښتول شوي دي نو والي صیب ته مو وویل چې هغه ونیسي، ومو کتل چې د اغا زلمي موټر چپه شوی دی اوهغه په شفاخه نه کې زخمي دی نو بیا مو دهغه ورور ونیوه، وروسته دوی (جنرال دوستم نفرو) وویل چې اغا زلمي دا کار نه دی کړی، دا نفر حبیب الرحمن تښتولي دي، کله مو چې دحبیب الرحمن دنیونې هڅه وکړه. دغه قوماندان چې لادرکه شوې تل به د ۱۵ تر ۳۰نفرو باډي ګارډانو سره ګرځیده خو دوی وایې چې دغه قوماندان کود برق فابرکې ته د ډوډۍ لپاره دعوت شوی او له هغه ځایه نادرکه شوی دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد عطا محمد نور هدف دا و چې دا یو ازې بهانه ده چې د جنرال دوستم له خوا جوړه شوې ده.
جلالي صیب وویل :ښه داده چې قطعات باید بېرته خپلو سیمو ته ستانه شي او د اختطاف په مسائلو باید تحقیق وشي. جلالي صیب له ټولو وغوښتل چې په نوبت خبرې وکړي تر څو لفظي شخړه رامنځ ته نه شي او باید دیو بل خبروته غوږ کیدو.
جنرال دوستم وویل: زه هم په کابل کې وم، زه او استاد پوهیږو چې یوه ورځ زیات باډي ګارډان لرو او یوه ورځ کم، دوی فیصله کړې چې زما قوماندانان دلته ونیسي، رجب بای یې ونیوه، تاسې (هیُت) دلته یاست دا مسائل بنیادي حل کړئ. زه بې غېرته نه یم چې زما قوماندان دې دلته وژل کیږي او زه دې دلته ګرځم له دې نه موږ ته مرګ بهتر دی، موږ دامنیت د شورا د پریکړې حمایت کوو، ټولې قواوې دې جمع شي او هغه ځای ته دې لاړې شي چې د قول اردو لپاره ټاکل شوی دی، موږ د لته د امنیت دخرابۍ باعث شوي یو دلته باید بې طرفه پولیس وي چې نه د جنرال دوستم نفر وي نه دعطا او نه دوحدت (هزاره ګروپ )،که په شمال کې امنیت خراب شي په جنوب هم تأثیر لري.
د یوې خبرې یادونه ضروري بولم داچې د جنرال دوستم نفر تښتول شوي و، نو ډېر بې حوصلې و خو د دې لپاره چې د مرکزي حکومت او نړیوالې ټولنې پریکړو ته غاړه کیږدي نو جلالي صیب د مجلس دمخه د انګلستان له سفیر څخه وغوښتل چې د **PRT** الوتکې دې د مزار په ښار، شبرغان او د جنرال دوستم په کور یو څو دورې ووهي، نو دا به په دواړو خواو تأثیر وکړي او دوی به زموږ پریکړو ته غوږ کیږدي، د انګلستان سفیر همداسې وکړل چې په نتیجه کې د دواړو غاړو مورال راټیټ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، که نه دوی هیڅکله حاضر نه و چې په یوه خونه کې سره کيني او خبرې وکړي.

د۸مې قول اردو رئیس ارکان جنرال مجید روزي وویل: زه د استاد عطامحمد دخبرو سره موافق نه یم داومې قول اردو رئیس ارکان جنرال صبور دلته دی، دغه دوه جنرالان (قوماندانان) دمابنام په شپږو بجو اختطاف شوي دي موږ اغا زلمې ونیوه خو هغه وویل چې دا بل چا اختطاف کړی دی.

جنرال دوستم وویل چې موږ موافق یو چې مزار باید بې وسلې شي او له جنرال عطا نه یې پوښتنه وکړه چې ایا ته موافق یې او کنه ؟

استاد عطأ وویلې چې مسئله دځای ده قواؤې به چېرته ځای پر ځای شي، جنرال دوستم وویل چې موږ به په غرونو کې شپې وکړو په موږ دې بلا راوغورځیږي، موږ په دشتو کې شپې کولای شو، وزارت دفاع دی موږ ته تجېرونه راکړي هغه به موږ ووهو.

جلالي صیب د **PRT** د قوماندانانو نه وغوښتل څه خبرې لري او کنه؟ خو په عوض کې یې د انګلستان سفیر(**Ron Nash**)وغږېده.

نوموړي وویل :موږ واوریدل چې اختطافونه شوي او کسان وژل شوي دي اول باید بارکونه تعین شي او ټول قطعات باید هلته په شا شي که داسې ونه شي نو دقتل او اختطاف تحقیقات هم نه شي کیدلای، که تاسې اوس موافقه کوئ او بیا یې ماتوئ نو داهم تاسې لپاره شرم دی،موږ به یو وخت دلته نه یو ، دا ستاسې د شهرت لپاره ښه نه ده ځکه تاسې خپل ملت ته شرم رسوئ، دا هفته **PRT** خپل وخت ستاسې ترمنځ دجګړې په کولو مصرف کړی، په بلخاب کې ستاسې او حزب وحدت تر منځ جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، PRT قواؤې هلته تللی و ې هغه پیسې چې دبیارغونې په نامه دلته راغلي هغه په دې جګړو مصرفیږي.
جنرال دوستم وویل چې زه موافقه کوم چې بلخ ولایت دې بې وسلې شي خو زه واضحه وایم چې زما په نفرو به حمله نه کیږي، همدا پیسې چې موږ په یوه ورځ جنګ مصرفوو پرې همغه ځایونه جوړولی شو. یوه شریکه قوه باید جوړه شي او هغه باید په ښار کې ځای پر ځای شي.
جلالي صیب وویل: اول باید د امنیت شورا د فیصلو لپاره یو پلان جوړ شي چې دلته امن راشي، دویم د اختطاف او وژنو مسئله جدي ده او دریم دا چې موجوده تشنج څنګه ختم شي باید حل لارې ولټوو.
دملګرو ملتونو مشر(Jean Arnault ) وویل چې د مزار د امنیت شورا عالي کمیسیون دې دا مسائل حل کړي.
بلخ والي ښاغلی اسحاق رهګذر وویل چې د مزار خلک تشویش لري او پنځه سوه مشران په دې ولایت کې جمع شوي وو او دهغوی طرحه دا وه چې په اول قدم کې باید ټول مسلح قوتونه د مزار له ښاره ووځي خو دا مشکل د مزار دامنیت کمیسیون نه شي حل کولای، یوازې جنرال دوستم او استاد عطا محمد نورچې دلته موجود دي، دوی دا مسائل حل کولای شي.
جنرال دوستم وویل چې د خپلو او پردیو تر ټولو دمخه بې ابرو شولو ولې شف شف کوو ،کوم ځایونه چې تعین شوي همغه ځایونو ته به قواؤې ولیږو.
استاد عطامحمد وویل چې د ښار غېر نظامي کول ماته قبول دي،دولت دې ماته خیمه راکړي او ځای دې راته جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال صبور وویل چې موږ په تېرو درې کالونو کې پلانونه درلودل خو ټول لوټه (کلوخ) په اوبو کې ړدي او پرې تېرېږي. ټول مشران دلته دي او باید اساسي فیصله وکړي، مسئله د دوه کسانو ترمنځ پیدا کیږي بیا پورته مشرانو ته رسیږي او په سیاسي جنگ بدلیږي، په شمال کې هیڅوک داسې نه شته چې د دې دواړو (جنرال دوستم او استاد عطامحمد نور ) د قوماندې څخه تېر شي ټولې ثقیله وسلې دې په یو ځای کې راټولې شي، قانون ته باید احترام وشي او هر مشکل چې پیدا کیږي باید د قانون له لارې حل شي.

جلالي صیب د مجلس په پایله کې وویل:

۱-جنگ باید بند شي

۲-ټول قطعات باید په یوه یا دوه ورځو کې خپلو ځایونو ته په شا شي.

۳-وروسته دې د ملي امنیت شورا فیصله عملي شي

۴-د اختطاف شوي کسانو لپاره دې یو کمیسیون جوړ شي او تحقیق دې وکړي.

۵-د کابل نه یوه قطعه پولیس د مزار ښار د امنیت لپاره رالیږم چې د ښار امنیت وساتي.

جلالي صیب جنرال صبور ته امر وکړ چې دا مواد په یوه ورقه کې ولیکه چې ټول یې امضاء کړي.

د فیصلې متن په لاندې ډول وو:

**<u>فیصله نامه ای هیت محترم عالی رتبه درقبال</u>**

**<u>رفع تشنج فعلی در ولایت بلخ!</u>**

جهت خاتمه دادن به وضعیت موجوده در ولایت بلخ ذیلا فیصله نامه صادر میگردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-اعتبار از همین لحظه آتش بست را طرفین رعایت نماید.
۲-قطعات قول اردو ۷و قول اردو ۸ درقدم اول قرار ذیل ازخطوط جمع وتجمع نماید.
الف : قطعات چمتال مربوط قول اردو نمبر۸ به قلعه غوث الدین و از قول اردو نمبر ۷ به دهدادی.
ب: قطعات مسبر بلخ از قول اردو۷بفرقه ۵۱ وا ز قول اردو۸به چاربولک.
ج: تمام قطعات طی دو روز به وضع الجیش خود منتقل شوند.
۳-همزمان با اجرائ عملیه فوق کمیسیون ذیل جهت برسی مسائل بعمل آمده توظیف میگردد:
۱-جنرال عبد المجید روزی ازجنبش
۲-جنرال عبد الصبور از جمعیت
۳-محترم سلطاني از حزب وحدت
۴-جنرال علم خان ازادی
۵-نماینده دفتر یوناما
۶-نماینده PRT
۷-نماینده ثارنوالي
۸-جنرال نبي خان از قول اردونمر ۸
۴-برای حل مسائل بطور دایمي تمام مواد ات موافقات شواری محترم امنیت ملی دولت انتقالي اسلامي افغانستان عملی گردد یعنی مرکز قطعات قول اردو۷ در تنگی مارمل-قول اردو ۸ در لوای ۷۲ سابقه و فرقه ۳۸ درتنگي شادیان جابجا گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵-وزارت محترم امور داخله یک قطعه به کمیت ۳۰۰ نفر پولیس مرکز را ظرف سه یوم به مزارشریف توظیف نماید.

۶-افراد یکه درجریان جنگ بیجا شده اند دوباره بمحلات شان جابجا گردند.

۷-نظارت از متن فیصله نامه به دوش دفتر یوناما و PRT میماند.

قرار شرح فوق فیصله نامه هذا صحت است وقابل اجرا میماند.

سند توسط ذوات آتی امضأ شد:

محترم ستر جنرال الحاج عبدالرشید دوستم

محترم سترجنرال عطامحمد نور

محترم الحاج محمد اسحاق رهگذر والی بلخ

محترم الحاج جمعه خان همدرد قوماندان قول اردو ۸

محترم الحاج سلطاني نماینده حزب وحدت

شاهد :سفیر محترم کشور دوست انگلستان Ron Nash

مسؤل یوناما ازکابل Jean Arnault

محترم وزیر امور داخله دولت انتقالي اسلامي افغانستان علي احمد جلالي

(اصل این فیصله با امضاء اشخاص فوق الذکر ضمیمه این کتاب است)

**ضمیمه فیصله نامه هیئت محترم عالي رتبه وبزرگان شمال** :

در ارتباط وحل کلیه مسائل درهمه ولایات شمال شامل بلخ، سمنگان، جوزجان، سرپل، فاریاب تمام موادات فیصله نامه مورخه ۱۷ میزان ۱۳۸۲درمزار شریف قابل اجرا میباشد وکمیسیون مؤظف به همکاری دفتر یوناما و PRT درعملي نمودن ان اقدام نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



این سند هم توسط ذوات آتی امضاً شد:
محترم ستر جنرال الحاج عبدالرشید دوستم
محترم سترجنرال عطامحمد نور
محترم الحاج جمعه خان همدرد قوماندان قول اردو ۸
محترم الحاج سلطاني نماینده حزب وحدت
محترم وزیر امور داخله دولت انتقالي اسلامي افغانستان علي احمد جلالي
شاهد :سفیر محترم کشور دوست انگلستان **Ron Nash**
مسؤول یوناما ازکابل**Jean Arnault**
محترم ډیویډ سیدنی **David Sydney** از سفارت کشور ایالات متحده امریکا
(اصل این فیصله با امضاء اشخاص فوق الذکر ضمیمه این کتاب است)

د یادولو وړ ده چې دافغانستان انتقالي دولت د بن دپریکړو پر بنسټ جوړ شوی وو، دملګرو ملتونو ادارې او ایساف دافغانسان په ثبات کې همکاري او دبن د پروسې دعملي کېدودنده یې په غاړه درلوده.

څرنګه چې وخت ډېر کم و، نو دمزار شریف د ښاریو شمېر سپین ږیري د **PRT** مرکز ته راغلل او غوښتل یې دکورنیو چارو وزېر سره وګوري. د کتنې پر مهال سپین ږیرو وزېر صیب ته وویل چې په زرګونو کسان دولایت په دفتر کې ستاسې د لیدو په خاطر راټول شوي وو نو جلالي صیب دوی ته وویل چې زه فکر نه کوم چې په زرهاو کسان دې په مزار شریف کې ووسیږي، سپین ږیرو وویل چې د مزار ښار په لکونو نفوس لري،جلالي صیب دوی ته وویلې چې داسې وي او په لکونو خلک دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او سیږي زه د کورنیو چارو د وزیر په توګه تاسې باید دې ته تشویق نه کړم چې مظاهرې وکړئ خو تاسې باید د دې ظالمانو پر ضد راپاڅیږئ او خپل اواز اوچت کړئ، دجلالي صیب هدف دا و چې ولس باید راتلونکي تغیراتو ته اماده وي ځکه دامنیت شورا دفیصلې پر اساس باید په ټول شمالي ولایاتونو کې تغیرات راشي. کله چې موږ د **PRT** نه راووتلو د **BBC** راډیو پښتو څانګې راته زنګ ووهلو چې مزار ته ستاسې د سفر نتیجه څنګه شوه، ځکه چې په دې وخت کې د جنرال دوستم او استاد عطا ترمنځ دجګړې په هکله رپوټونه خپاره شوې وکه څه هم په خبرونو کې مبالغه شوې وه خو بیا هم د مزار وضعه وخیمه وه. جلالي صیب راته وویل چې د **BBC** راډیو سره مرکه وکړه او ووایه چې دواړو خواو اوربند امضاء کړ او د مزار ښار د امنیت لپاره به د کورنیو چارو وزارت په درې ورځو کې له کابله یوه درې سوه کسیزه قطعه راولیږي چې د ښار امنیت وساتي. کله چې ما د بي بي سي راډیو سره مرکه وکړه خلک د راډیوګانو له لارې له وضعیت نه خبر شول نو کله چې موږ ماښام هوایي ډګر ته ستنیدو، نو د سړکونو پرغاړه په سلګونو کسان راوتلي وو او زموږ موټرو ته یې چکچکې کولې او خوښي یې څرګندوله.

پر سبا چې وزارت ته راغلو، نوما جلالي صیب ته وویلې چې اوس دا درې سوه کسه پولیس له کومه کوې ځکه مامخکې یادونه کړې وه چې په وزارت کې کافي مسلکي پولیس، موټرې او لوژستیکي امکانات نه وو نو جلالي صیب راته وویلې چې امنیتي معین جنرال هلاالدین هلالي سره دا کارونه همغږي کړه او که د وزارت باډیګارډان هم وي خو مزار ته یې ولیږه چې خپله وعده پوره کړو.جلالي صیب وویلې که درې سوه نفرنه پوره کیدل، فرق نه کوي خو نفر باید ولیږو ځکه چې څوک خو یې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شماري چې څوکسه لاړول، همغه وو چې د جنرال خلیل الله ضیایې په مشرۍ مو شا او خو دوه سوه پولیس د مزار ښار ته واستول چې د دې پولیسو په لیږلو د مزار په ښار کې پوره امن تأمین شو.

که څه هم دا د ملي دفاع وزارت دنده ځکه وه چې د دوی دوه قول اردو قوماندانانو په خپلو منځو کې په جګړه کې ښکیل شوي و خو متأسفانه چې مورږ سره د د فاع دوزارت هېڅوک هم په دې سفر کې نه وو او نه دې ته چمتو و چې دا مسله حل کړي. په دی وخت کې ښاغلی محمد قسیم فهیم ددفاع وزارت وزیر و. د ټولو خطراتو سره سره د کورنیو چارو وزارت دا ابتکار په لاس کې واخېست او په مزارکې امنیتي وضع یې کنټرول کړه.

له دې وروسته د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو په ګډه د پورته فیصلو په رڼا کې د امنیت شورا ته په شمالي ولایتونو کې د تغیراتو په هکله مشخص پیشنهادونه وکړل تر څو امنیتي وضعیت په دایمې توګه سم شي دواړو وزارتو په ګډه دا لاندې پیشنهادونه دملی امنیت شورا ته وړاندې کړل:

**پیشنهاد درمورد اصلاحات اداری ،نظامي و خلع سلاح در صفحات شمال** :

کمیسیون مؤظف در مورد تطبیق فیصله های شورای محترم امنیت ملی به منظور تحکیم امنیت وثبات در صفحات شمال افغانستان به تاریخ ۱۳۸۲/۷/۲۰نشست کاری نموده وموضوع برخوردهای مسلحانه منطقه را مورد بحث و ارزیابی قرار داده وریشه های اختلافات ذات البینی ، بدامنی وبی ثباتی راتحلیل نمودند وهیئت برای استقرار، ثبات وامنیت در منطقه تدابیر آتی را در سه مرحله پیشنهاد مي نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مرحله اول** : **پروسه رفع تشنج** : **الی ۱۰عقرب** ۱۳۸۲

۱-تطبیق فیصله های مورخ ۱۷و ۱۹ دولت در مزار شریف در مورد قطع جنگ و بازگشت قطعات به موقعیت های دایمې ایشان.

۲-تعین والی وقوماندان جدید در ولایت بلخ

۳-اخراج پوسته های مسلح از شهر مزار شریف ومحدودیت حمل سلاح برای اشخاص واجد شرایط نظربه تصمیم کمیسیون امنیتي.

۴-موکول بودن سوق قطعات مسلح از وضع الجیش اصلی آن به امر وزیر دفاع ملی و لوی درستیز

۵-تأمین امنیت شهر مزار شریف توسط قطعه سه صد نفری پولیس اعزامې مرکز.

**مرحله دوم** : **الی اخیر عقرب** ۱۳۸۲:

۱-تجدید ساختار قول اردو های هفت وهشت به فرقه ها وتنظیم آن به سطح یک قول اردو.

۲-تعدیل فرقه ها به غند ها.

۳-تعین قوماندان خوش نام و بی طرف در رأس قول اردو.

۴-تثبیت سلاح ،مهمات وسلاح ثقیله تا راکت انداز جمع آوری، دیپو وقرار دادن آن تحت کنترول **PRT**.

۵-غیر نظامې ساختن بندر شهر حیرتان.

**مرحله بعدی** : **اصلاحات وسیع تر اداری**:

۱-گزینش کادرهای در ادارات کلیدی دولتی که در بر گیرنده امتیازات تنظیمې نباشد و تقرر اشخاص مسلکی و متخصص با رعایت ترکیب قومې در این بست ها.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-توسعه اصلاحات اداری، امنیتی ونظامي به ساير ولايات شمال افغانستان.

**کمیسیون تطبیق پلان** :

برای تطبیق پلان فوق یک کمیسیون با صلاحیت وبی طرف از نمایندگان وزرات های محترم دفاع، امور داخله و وزارت خانه های ذيربط تعین گردد تا عملاً در ولایات شمال فعالیت نمایند.

این کمیسیون با مقامات محلي ولايتي در تعین اشخاص مساعد که سهولت را در تطبیق پلان مطروحه به وجود اورد کومک نماید.

کمیسیون عند اللزوم پیشنهادات مزاید سازنده رابه مقامات عالي دولت ارائه نماید ، برای ترمیم، اعمار وامنیت تمام دیپوها و ذخاير اسلحه و مهمات کومک و همکاري **PRT** خواسته شود.

**تقویه قوه امنیتي** :

به مقصد پشتباني این پروسه علاوه از قطعه سه صد نفري پولیس وزارت امور داخله، یک کندک اردو ملی و یک قطعه**ISAF** در ولايت بلخ جابجا شود.

نقش آینده سران ورهبران شمال درقبال شاخص های میزان کاري شان درصفحه تطبیق این پروسه تعین کننده پیشنهاد مي گردد.

علي احمد جلالي - وزير امور داخله

ستر جنرال عبدالرحیم وردگ - معاون اول وزارت دفاع ملي

دگر جنرال هلال الدین هلال - معین امنیتي وزارت امور داخله

دگر جنرال همایون فوزي - معاون وزارت دفاع ملي در امور پر سونل، تعلیم وتربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اصل این فیصله نامه با امضاء اشخاص فوق ضمیمه این کتاب است )
دپورته فیصلو دعملي کولو لپاره دامنیت شورا، د کورنیو چارو وزارات تر مشرۍ لاندې یو کمیسیون مؤظف کړ چې دپوره برسۍ نه وروسته دپورته مواردو دعملي کولو لپاره لازمې فیصلې وکړي.
د اکتوبر د میاشتې په ۲۲ مه نیټه دیکشنبې په ورځ جلالي صیب دیو هیّت مشري چې د ملي دفاع د وزارات لوی درستیز ستر جنرال بسم الله خان، دملي امنیت د شورا مرستیال انجنېر محمد ابراهیم سپین زاده، دمزار د اومې قول اردو قوماندان استاد عطا محمد نور، دامریکا د قواؤ یو تن جنرال (Gen. Prasek) او زه د کابل نه مزار ته لاړو تر څو دکمیسیون فیصله په مزار کې اعلان کړو او هم انجنېر حبیب الله د بلخ ولایت د سرپرست والي او محمد اکرم خاکریزوال دنوې امنیه قوماندان په توګه او یو شمېر نور چارواکي معرفي کړو دا غونډه چې د بلخ ولایت په مقام کې جوړه شوې وه جلالي صیب د جنرال دوستم او استاد عطا محمد نور نه مننه وکړه چې دامنیت شورا د فیصلو حمایت کوي.
دجلالي صیب له خبرو نه ورسته استاد عطا محمد نور لنډې خبرې وکړې اودبلخ په ولایت کې یې د ریفورم نه خپل پوره ملاتړ اعلان کړ او ویې ویل چې دبلخ په ولایت کې د ریفورم د تطبیق نه وروسته په نورو شمالي ولایتونو کې د ریفوم عملي کول اسانه دي، د حزب وحدت ګوند په استازیتوب استاد سعیدي او د جنرال دوستم مرستیال جنرال روزی هم د دغه فیصلې نه ملاتړ وکړ. شپه مو په مزرا کې وکړه او سهار مو امنیه قوماندان جنرااکرم خاکریزوال او د امنیت آمر جنرال عبدالرزاق په خپلو نوو دندو معرفی کړل، ورپسې د شاه اولیاء یعنې دعلي کرم الله وجهه روضې ته لاړو او له هغه ځایه مو دبلخ ولسوالۍ ته سفر وکړ ترڅو خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته اطمینان ورکړو چې دبلخ ولایت وضع عادي حالت ته بېرته راګرځېدلې ده. د بلخ په ولسوالۍ کې چې استاد عطا محمد نور هم رأسره و، وزېر صیب خلکو ته وویل چې دامنیت په راتګ سره به انکشافي کارونه هم پیل شي او خلکو ته به کار پیدا شي.

د بلخ ولسوالۍ یو تن قومي مشر الحاج عبدالقیوم وویلې چې ملت د حکومت نه ډېرې زیاتې هیلې لري خو دمرکزي حکومت په موجودیت کې د بلخ په ولسوالۍ حمله وشوه، زموږ دیو تن دوه پښې قطع شوي، دخواجه پارسا جومات چې دوه سوه کلن تاریخي قدامت لري، په خپل منځي جګړو کې تخریب شو، نو بې وسلې کولو پروسه باید دلته عملي شي او وسله وال ګروپونه باید د بلخ د ولسوالۍ نه ووځي. دچاربولک د ولسوالۍ یو تن قومي مشر د شېر افضل خان په نامه هم دچاربولک له ولسوالۍ نه د وسله والو ګروپونو د وتلو غوښتنه وکړه، ده وویل چې زموږ حاصلات لکه د پخته (پنبه) خریداري د دولتي چارواکو له خوا انحصار شوې ده او دا انحصار باید له منځه ولاړ شي او موږ باید پرېږدي چې خپل حاصلات په ازاده توګه په بازار کې خرڅ کړو ، ده وویلې چې د نظامي تشکیلاتو کمښت ضروري دی، ځکه دوی پر خلکو اعاشه حواله کوي او پنځلس ورځې کېږي چې دجنګونو له لاسه زموږ مکاتب تړل تړل شوي دي. دغه مشر زیاته کړه چې حکومت زموږ نه یوه کیلو پنبه په (۱۵) افغانۍ اخلي حال داچې په یوه کیلو زموږ (۲۰) افغانۍ مصرف کېږي، موږ د اوه کیلو غنمو په مقابل کې یو کیلو چای او د (۵۰) کیلو غنمو په مقابل کې یوه کیلو غوښه اخلو، داسې کسان هم شته چې کله د جنرال دوستم خواته ځي په ځان دعلي قل نوم ږدي او کله چې داستاد عطا خواته ځي نو پر ځان دعلي ګل نوم ږدي او کله چې د وحدت حزب خواته ځي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان د علي داد نوم ږدي، همدغه کسان دي چې دوی په جنګ اچوي. یو بل تن سپین ږیري د عطامحمد قریه دار په نامه چې د چمتال دولسوالۍ او سیدونکی و وویلې چې که امنیت نه وي د مرکز یو حکم هم دلته نه عملي کیږي، دلته ملت د جنګ سالارانو له لاسه په سر ولاړ دی او هر څوک چې دوه میله وسله ولري د خپلې سیمې پادشاه دی.

یو بل دقاري عبد الصمد په نامه وویلې چې اوس موږ ته امید پیدا شوی چې حکومت زموږ پوښتنه کوي خو دا مریض افغانستان د پرش کلن مریض دی او وخت ته ضرورت لري چې جوړ شي. استاد عطامحمد نور په اخر کې وویلې چې موږ د دولت هر امر منو، امنیت او دخلکو عزت غواړو او دامنیت شورا د وروستیو پریکړو ملاتړ کوو.

د بلخ دولسوالۍ د لیدلونه وروسته بېرته مزار ښار ته ستانه شولو او دیوناما په دفترکې مو د PRT د قوماندان سره وکتل. دیونامادا استازی او PRT دقوماندان نظر دا و چې د لوی څارنوالۍ نه باید یو باصلاحیته هیئت مزار شریف ته راشي تر څو د اختطافونو مسائل بررسي کړي دلته څارنوالان دمحلي چارواکو له خوا تهدید شوي دي او پوره بررسی نه شی کولای.

دبلخ په ولایت کې د فیصلې متن په لاندې ډول و:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فیصله کمیسیون مؤظف در ولایت بلخ
## شهر باستاني مزار شریف ۴/۸/۱۳۸۲

بمنظور تطبیق فیصله شورا امنیت ملي ومجلس کابینه اصلاحات لازم در پنج ولایات شمال در شهر مزار شریف مورخ ۴ عقرب ۱۳۸۲ فیصله ذیل بعمل آمد.

۱-به اساس منظوری مقام ریاست دولت انتقالی اسلامي افغانستان محترم برید جنرال محمد اکرم خاکریزوال بحیث قوماندان امنیه ولایت بلخ

۲-محترم برید جنرال عبدالرزاق بحیث آمر امنیت ولایت بلخ

۳-الی تعین اشخاص مؤظف ذوات آتی بحیث سر پرست دربست ذیل تعین گردیدند.

-محترم انجینر حبیب الله رئیس پوهنتون بلخ بحیث سر پرست والي بلخ باحفظ پست قبلي

- محترم محمد ظاهر وحدت بحیث سرپرست معاون ولایت بلخ

-محترم محمد یونس مقیم بحیث سرپرست شاروال بلخ

- به اساس فیصله وتصمیم وزارت امور خارجه نماینده وزارت امور خارجه در شهرمزار شریف تبدیل و شخص مسؤل متعاقباً معرفی میگردد.

-به اساس تصمیم ریاست عمومي امنیت ملي محترم جنرال عبدالخلیل عامل به صفت رئیس امنیت ملی فاریاب تعین وتقرر حاصل نموده است.

- همچنان تغیرات مشابه درسایر ولایت بعدا عملی میگردد وشخصیت های که از وظایف سبکدوش گردیده اند درظرف وقت کم مقرر میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴-قوماندان امنیه ولایت بلخ به همکاری هیئت های رهبری قول اردوهای ۷ و ۸ ومقام ولایت بلخ درهماهنگی باقطعه اعزامی پولیس مرکز در اخراج پوسته های داخل شهر ومحدودیت اسلحه درشهر طبق فیصله کمیسیون امنیتي مزار شریف وجا بجا نمودن پر سونل در عوض قرارگاه های اخراج شده از شهراقدامات مقتضی بعمل مي آورند.

۵-وزارت محترم دفاع ملی به همکاری مقامات محلی PRT و دفتر یوناما سلاح و مهمات اسلحه ثقیله (ماشیندار 14 mmوبالا تر ازآن ـ هاوان 82mm وبالاتر از آن، تمام راکت انداز ها، تمام وسایط توپچی به شمول توپچی راکتی تانک، ماشین محاربوی پیاده وزره پوش در تمام بلخ، ولایات شمالی که قطعات نظامي موجود میباشد تثبیت و شرایط را برای جمع آوری آن مساعد نموده وتمام این سلاح ها توسط وزارت محترم دفاع ملی الی آخر عقرب سال ۱۳۸۲ جمع آوری وتحت نظارت PRTقرار داده میشود.

اشخاص آتی فیصله مذکور را امضاً نمودند:

الحاج ستر جنرال عبدالرشید دوستم

مشاورخاص ریاست ۱۰۱۰ در امور امنیتي ونظامي

سردار سعیدي رئیس زون شمال حزب وحدت اسلامي افغانستان

الحاج اسحاق رهگذر والی بلخ

دگر جنرال بسم الله خان لوی درستیز

علی احمد جلالي رئیس کمیسیون مؤظف و وزیر امور داخله کشور

(پورتنی سند د دوی امضاء ګانو سره ددې کتاب په اخره کې ضمیمه دی.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاکستان ته دکورنیوچارو د وزیر رسمي سفر
## ۲۰۰۳م کال دجولای د میاشت ۲۳ـ۲۴مې نېټې پورې

د پاکستان د اسلامي جمهوریت د کورنیو چارو وزېر ښاغلي فیصل سیدصالح حیات د افغانستان د کورنیو چارو وزېر علی احمد جلالي ته ځو ځله بلنه ورکړې وه چې دا ړیکو دښه والي او ګډې همکاری لپاره پاکستان ته سفر وکړي. هماغه و چې دکورنیو چارو وزېر د یو لوړپوړي هیئت په مشرۍ دجولای په ۲۳ مه نېټه پاکستان ته رسمي سفر وکړ چې په دغه سفر کې د کورنیو چارو د وزارت امنیتي مرستیال ډګرجنرال هلال الدین هلال، دکورنیو چارو د وزارت د تروریزم سره دمبارزې پر ضد رئیس تورن جنرال عبدالجمیل جنبش، د کورنیو چارو دوزارت د استخباراتو رئیس جنرال نعمت الله جلیلي، په پاکستان کې دافغانستان سفېر ننګیالی طرزی او ما د کورنیو چارو د وزېر د سترسلاکار په توګه ګډون درلود.

زموږ الوتکه دسهار په نهه بجو او شلو دقیقو داسلام اباد په هوايي ډګر کې کښېنته شوله چې د پاکستان د کورنیو چارو وزېر ښاغلي فیصل صالح حیات دنورو لوړ پوړو چارواکو سره په هوايي ډګر کې هرکلي ته ولاړ وو. دروغبړ نه وروسته ښاغلي فیصل صالح حیات وویلې چې لومړی به زموږلپاره هغه استوګن ځای ته چې د اسلام اباد په **Marriott** هوټل کې تیارکړی دی لاړ شو او هلته به له لږې دمې نه وروسته په یولسو بجو او دېرش دقیقو د پاکستان له صدراعظم مېر ظفرالله خان جمالی سره مولیدنه ترتیب کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هوټل کې دلږ دمې نه وروسته کله چې موږ د پاکستان د صدر اعظم دفتر ایوان صدر ته لاړونو ښاغلی جمالي یو څو دقیقې ناوخته راغی، موږ چې دپاکستان د پلاوي سره په غیررسمی خبرواترو بوخت وو، د پاکستان د کورنیو چارو د وزارت سکرترجنرال له جلالي صیب څخه دګوریلایي جنګونو په اړه پوښتنه وکړه او ویې ویلې چې ستاسې بیوګرافي مې په انټرنیټ کې لوستلې او ډېر کتابونه مو لیکلي دي.

کله چې جلالي صیب د خوشال خان خټک د دورنه راپېدې خوا دګوریلایي جنګونو په اړه معلومات ورکړل نو د کورنیو چارو د وزارت سکرترجنرال سره نورې پوښتنې نه وې، نورې خورې ورې پوښتنې یې پیل کړې،بیا یې پوښتنه وکړه چې ایا د دري الفبا د عربي ژبې په شان ده او که څنګه؟ داچې د اردو ژبې ډېره برخه دري ده نو نوموړي باید داسې پوښتنه نه وی مطرحه کړې خو دې د جلالي صیب د خبرو تر تاثېر لاندې راغلی وه.

دپاکستان د صدارت ماڼۍ مخکې ما له داخل څخه نه وه لیدلې، کله به چې د هجرت پر مهال اسلام اباد ته تللو نو له بهره مودغه ماڼۍ (ایوان صدر )لیدله چې د سترې محکمې تر څنګ په یوه لیکه پرته وه. له بهر هم ډېره ښکلې معلومیده خو دننه هم ډېره زیاته ښایسته وه، په دغه کتنه کې له جلالي صیب سره یوازې امنیتي معین هلال الدین هلال،په پاکستان کې د افغانستان سفېر ننګیالی طرزي اوزه ملګري ووا ودزمونږ دپلاوې نور ملګري په هوټل کې پاتې شول.

کله چې صدراعظم مېر ظفر الله خان جمالي راغي نو لومړی یې وویل پاکستان ته ښه راغلاست جلالي صیب ورته وویلې چې ډېره ښه ده چې بیا دې وینم، ستاسې د میلمه پالنې او داچې وخت مو راکړ چې درسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګورو هم مننه کوم، (دا باید ووایم چې دا خبرې ټولې په انګلیسي ژبه وي).
ښاغلي جمالي وویلې چې ډېر خوشاله یم چې په لوړ موقف کې مو ګورم، له دې معلومیده چې جلالي صیب او جمالي له وړاندې سره هم پیژندل.
جلالي صیب وویلې چې زموږ د دواړو هېوادونو تر منځ روایتي دوستي د دواړو هېوادونو په ګټه ده، تاسې له افغانانو سره په تېرو پنځه ویشت کلونو کې مرستې کړي دي خو وروستی کومه پېښنه چې په کابل کې (د پاکستان اسلامي جمهوریت پر سفارت حمله وشوه ) یو غېر متوقعه پېښنه وه هیله لرم چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو به ناوړه اغیز ونه کړي.
ښاغلي جمالي وویلې چې ګیله خلک له نږدې دوستانو څخه کوي.
جلالي صیب وویلې چې موږ باید داپېښنه تر شا پرېږدو او دمسائلو دحل لارې چارې ولټوو، ځکه چې موږ د تروریزم سره په جګړه کې یو او موږ هره ورځ د مشکلاتو سره مخامخ یو که څه هم پاکستان دکرښې دې خوا خپل کوششونه کړي دي خو ډېرو هڅو ته اړتیا ده چې افغانستان ته د ترهګرو د اوښتنې مخنیوی وشي، موږ پر چا پړه نه اچو.
ښاغلي جمالي وویلې چې دافغانستان دبهرنیو چارو وزېر ډاکتر عبدالله عبدالله موږ ملامتوي.
جلالي صیب وویلې چې ځینې وخت د کرښې څخه ځینې کسان افغانستان ته د ورانۍ په موخه راوړي، دغه کار سړی بدګمانه کوي خو ګډو هڅو ته اړتیا ده چې د تروررېزم مخنیوی وکړو، پاکستان هم د قومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مذهبي کشمکشونو څخه متضرره کېږي خو يوازې ګډې هڅې کولای شي چې د دا ډول پېښو مخنيوی وکړي.
جلالي صيب وويلې چې موږ د پاکستان پر وړاندې هيڅکله بده اراده نه لرو او په کابل کې د پاکستان د سفارت د سوځيدو د پېښې په اړه ښننه غواړو او د دې قضيې په اړه مو شپږ کسه هم نيولي دي.
ښاغلي جمالي وويل چې ډېره زياته مننه، موږ بايد په وضاحت او صداقت سره خبرې وکړو، پخوا که د پاکستان د حکومت موقف هر څه و، په هغې نه غږيږو خو د يولسم سپتمبر د پېښې وروسته دپاکستان حکومت د متحدينو دقوتونو او د حامد کرزي د حکومت نه ملاتړ کړی دی او د تروريزم په مقابل کې د جګړې په لومړۍ کرښه کې پروت دی، دپاکستان په تاريخ کې دا لومړی ځل دی چې موږ دومره قواؤې قبايلي سيمو کې ځای پر ځای کړي دي. مګر بد بختانه بيا هم موږ ملامتيږو، موږ غواړو د دواړو غاړو ترمنځ روابط ښه شي، اوس جمال په پاکستان او جلال په افغانستان کې دی. موږ ستاسې دتحقيقاتو ( د سفارت په هکله ) هرکلی کوو، خو متاسفانه چې هم هلته او هم دلته داسې کړۍ شته چې نه غواړي د داوړو هېوادونو ترمنځ دوستي تقويه شي چې دا د تروريزم څخه بدتره خبره ده، زموږ نيت همدا دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ ښه راوبط وي اونور هم ښه شي او ټول افغانان وکړای شي چې خپل وطن ته ستانه شي. افغان مشر ښاغلي حامد کرزي له موږ غوښتي چې مهاجر افغانان بايد تر يو وخته په پاکستان کې پاتې شي چې موږ ورسره دا خبره منلې ده.
موږ غواړو مرسته وکړو او په افغانستان کې بهتري وګورو خو د مهاجرو ساتل يو خطر او يو قمار دی. افغانستان يواځنی هېواد دی چې دخارجيانو اشغال نه مني او دا په ځای وخت دی چې موږ بايد مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو ، مخکې له دې چې موږ مسائل د مطبوعاتو له لارې مطرح کړو ښه به دا وي چې د ډیپلوماسۍ له لارې مسائل حل کړو ، که مسائل د مطبوعاتو له لارې مطرح کېږي نو موږ هم مجبور یو چې د مطبوعاتو له لارې وغږیږو ځکه چې موږ دلته پارلمان لرو او په پارلمان کې زموږ د حکومت مخالفین ډېر قوي دي او له ما نه همیشه د افغانستان په هکله پوښتنه کوي.

جلالي صیب په ځواب کې وویل: ډېره زیاته مننه زه تاسره موافق یم خو موږ هم دفشار لاندې یو. دګوشتې، باجوړ، چمن او وزېرستان له لارې تروریستان افغانستان ته داخلیږي، افغانان هم له موږ توقع لري چې یو څه باید وکړو، جمال ښه نوم دی او دا توقع باید له یو بله ولرو وایې چې وروري به کوو حساب ترمنځه، یو بل ته به ارزښت ورکوو، دا د افغانستان لپاره خردمندانه نه ده چې له پاکستان سره خراب روابط ولري.

زه ستاسې انګېرنې پرځای ګڼم چې زموږ ترمنځ د روابطو دنه ښه کولو موانع باید له منځه یوسو.

ښاغلي جمالي وویل: زما دهېواد اوافغانستان ګټې سره نغښتې دي خو په افغانستان کې د نورو هېوادونو لکه دهند دنفوذ پراختیا چې موږ ګورو زموږ د اندیښنې سبب ګرځي، افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ یو مهم هېواد دی، دتیلو پایپ لاین او تجارتي کرښې د افغانستان نه تېریږي، په کندهار کې زه د هندوستان دفعالیتونو نه راضي نه یم، همدارنګه په هرات یا زاهدان کې هم د دوی فعالیتونه د اندیښنې وړ دي، موږ (افغانستان او پاکستان ) د ویني ورونه یو.

جلالي صیب وویل چې موږ په افغانستان کې هیڅ هېواد ته اجازه نه ورکوو چې دپاکستان پرضد فعالیت وکړي او دا زموږ په ګټه هم نه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هند دافغانستان سره روايتي دوستي لري او دا بايد د دې باعث نه شي چې زموږ روابط خراب کړي.
په اخره کې د پاکستان صدراعظم مېر ظفر الله جمالي د جلالي صيب نه وغوښتل چې د ده سلامونه ښاغلي کرزي ته ورسوي. دپاکستان صدر اعظم سره ليدنه ډېره مختصره وه او صرف تعارفي بڼه يې درلوده.
د دې نه وروسته زموږ پلاوی د پاکستان دکورنيو چارو وزارت ته دنورو خبرو لپاره لاړو ، لومړی د افغانستان د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي او د پاکستان د کورنيو چارو وزير فيصل سيد صالح حيات د پنځوسو دقيقو لپاره دوه په دوه سره وکتل او وروسته د دواړو هېوادونو پلاوي شريکه غونډه درلوده.
په دې غونډه کې لومړي دپاکستان د کورنيو چارو وزېر ښاغلي فيصل صالح حيات، جلالي صيب او ورسره راغلي پلاوي ته هرکلی ووايه او ويې ويل چې د ښاغلي کرزي له سفر وروسته ستاسې سفر ډېر مهم دی چې په ډېرو مسائلوبه سره خبرې وکړو ، هغه مسائل چې زموږ د دواړو هېوادنو پر اړيکو تاثېر لري .نوموړي زياته کړه چې موږ له افغانانو سره تاريخي روابط لرو ، موږ تل دافغانانو ترځنګ د ټولو چلنجونو تر څنګ دريدلي يو او په راتلونکي کې به هم ستاسې ترځنګ ولاړ يو.
په دې وخت کې په پاکستان کې هوا ډېره ګرمه وه، نو ښاغلي فيصل حيات وويل د موقع نه په استفاده غواړم چې دهوا دګرم والي په هکله معذرت وغواړم، ده زياته کړه چې زه اميد لرم چې زموږ خبرې به ګټورې او سازنده وي او مسائلوته بايد د حل لارې پيدا کړو ، له دې وروسته يې خپل ورسره پلاوی افغاني پلاوی ته ور وپيژنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلالي صیب د پاکستان د کورنیو چارو وزیر د صمیمانه خبرو څخه مننه وکړه او په خپل نوبت یې ورته افغان پلاوی وروپیژنده او وروسته یې وویل: دا ډېره ښه موقع ده چې نن سهار مو د پاکستان صدراعظم سره وکتل، زموږ روابط یوازې دګاونډیتوب په بنیاد نه دي بلکې داوړه هېوادونه دیوشان ګواښونو سره مخامخ دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډې همکارۍ ته ضرورت دی ، زموږ چلنجونه نهایت زیات دي چې خپلې اداري له سره جوړې کړو ، نو دپاکستان په ګډون نړیوالې مرستې ته اړتیا لرو ، موږ دتروریزم پر وړاندې ګډې مبارزې ته ضرورت لرو چې په خپلو هېوادونو کې امن راولو.

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ښاغلي فیصل حیات وویل: پاکستان ستاسې خپل کور دی، موږ د تروریزم پر وړاندې مبارزې ته ژمن یو او دا د دواړو هېوادونو او نړیوالې ټولنې په ګټه هم ده، موږ غواړو دتروریزم د ټولو ډولونو پر ضد مبارزه وکړو، جنرال مشرف په دې هکله خپله قوي اراده ښودلې ده. موږ د ټولو هغه ګوندونو او ادارو فعالیتونه بند کړي چې قومي او مذهبي تبعیضاتو ته لمن وهي .په پاکستان کې هم داسې عناصر شته چې زموږ امنیت تهدیدوی او موږ باید د دوی پر ضد جدي اقدام وکړو که دا فعالیتونه زموږ د سرحد شرقي لوري ته وي او یا هم غربي لوري ته، موږ دکابل قرارداد( د ډیورنډ کرښې معاهدي) (۱۸) له مخې

---

(۱۸) ددې خبرې یادونه ضروري ګڼم چې کله د ډیورند معاهده په کال (۱۸۹۳ ) کې امضا کېدله پاکستان اصلاً وجود نه درلوده او دا معاهده د بریتانوي هند سره د امیر عبدالرحمن خان له خوا لاسلیک شوې ده او د افغانستان یو حکومت هم د ډیورنډ د کرښې معاهده تر اوسه پورې په رسمیت نه ده پېژندلې.

(۱۹) کله چې محمد یونس قانوني د کورنیو چارو وزیر وو نو د کورینو چارو وزارت یو شمېر د پولیسو افسران هند ته د روزنې لپاره لېږلي وو نو د پاکستان حکومت وار وار دا غوښتنه کوله چې که افغانستان پاکستان ته هم یو څه پولیس د روزنې لپاره ولېږي خو د افغانستان حکومت په دننه کې ددې غوښتنې په هکله متضاد نظرونه لرل. ددې لپاره چې د دواړو هېوادونو ترمنځ توازن په نظر کې ونیول شي جلالي صیب وروسته ډېر محدود کسان چې تعداد یې تقریباً دېرش کسو ته رسیده د پولیسو افسران د کمې مودې لپاره پاکستان ته دزده کړو لپاره ولېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړيو چې په داوړو اړخونو کې امنيت تامين کړو، موږ به د افغانستان د ترقۍ سره مرسته کوو او دازموږ په فکر کې ده خو بعضې وخت ځينې خنډونه رامنځ ته کيږي او موږ غواړو چې هغه خنډونه له منځه يوسو، موږ په ګُلي توګه دټولو سرحدونو نه هغه خوا مداخلې په خاصه توګه په افغانستان کې په کلکه ردوو، موږ ارزو لرو چې ښاغلى حامد کرزى او دهغه حکومت موږ سره دوستي ولري او موږ د افغانستان ازادي او سوکالي غواړو، موږ دافغانستان د بيارغونې لپاره زياتې پيسې تخصيص کړي خو د امنيتي وجهې له امله لا تر اوسه دغه کمکونه مصرف شوي نه دي.که څه هم پاکستان په خپله محدود امکانات لري خو بيا يې هم له افغانستان سره د سل ميلونو ډالرو د مرستې وعده کړې ده،موږ د افغان پوليسو د روزنې لپاره هم يو څه پيسې جدا کړي دي(١٩) موږ به د پاکستان دپوليسو د اکاډمۍ نه کتنه هم وکړو او د پوليسو د روزنې په اړه به لومړني معلومات تاسې ته درکړو، خلاصه دا چې امنيت د دواړو ملکونو لپاره فوق العاده اهميت لري ،په سرحد کې مشکلات بايد د تفاهم له لارې حل شي. موږ دې ته حاضر يوچې دمهاجرينو په بېرته ستنيدنه او دپوليسو په روزنه کې تاسې سره مرستې وکړو، دافغان مهاجرو په هکله د ملګرو ملتونو دفتر**UNHCR** او زموږ د ارقامو ترمنځ اختلاف شته، افغان مهاجرينو تعداد په پاکستان کې تر دوه مېليونو پورې اټکل کيداى شي شايد چې غېر رسمي ارقام له دې هم اوچت وي، په سرحد کې موږ د مخدره موادو د قاچاق په اړه انديښنه لرو، دواړه ملکونه بايد دملګرو ملتونو په مرسته د دې مخنيوى وکړي ځکه چې دمخدره موادو قاچاق پر پاکستان ډېره منفي اغيزه کوي، همدارنګه موږ بايد پاکستان ته د غېر قانوني اجناسو د قاچاق په هکله هم خبرې وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداشان هغه افغان بنديان چې په پاکستان کې بنديان دي موږ به هڅه وکړو دهغوی دبند دمودې تر پشپړېدو پورې لازم سهولتونه برابر کړو او د دې ترڅنګ هغه پاکستاني بنديان چې په افغانستان کې بنديان دې دهغوی د راخوشې کولو هڅې هم بايد وشي، په دې هکله بايد ګډ کار وشي او ګډې همکارۍ ته ضرورت دی.

زموږ پاليسي دا ده چې د افغانستان په کورنيو چارو کې مداخله ونه کړو او هرهغه څه چې زموږ دګډو همکاريو مانع ګرځي هغه بايد له منځه يوسو، ستاسې د مؤفقيت په هيله.

له دې وروسته جلالي صيب خبرې وکړې او ويې ويل: زه ستاسې پر خبرو ډېر خوشاله شوم چې تاسې وويل چې پاکستان به د ټولو هغو ګروپونو او ډلو پرضد اقدامات وکړي چې د افغانستان پرضد فعاليتونه کوي او دا کار به ډېر ژر تغېرات رامنځ ته کړي، زه عقيده لرم چې پاکستان به په دې کار کې جدي وي، زه د خپل اړخه د همکارۍ وعده کوم. موږ دخپلو ادارو او خاصتاً د سرحدي پوليسو په جوړولو او ريفورم باندې کار کوو، همدارنګه مامعلومات ترلاسه کړل چې تاسې هم په خپلو ادارو کې په ريفورم کارکوئ نبه به داوي چې له يو بله زده کړه وکړو. موږ غواړو په راتلونکو څو مياشتو کې دپوليسو روزنه چټکه کړو. موږ د پېښو د بررسۍ او د شواهدو راټولولو په ساحه کې خاصتاً د نوې ټيکنالوژۍ په ساحه کې زيات کومک ته ضرورت لرو، موږ به ستاسې د دې پشنهاد چې غواړئ دپوليسو په برخه کې مرسته کوئ غور وکړو.

افغانان په پاکستان کې شته او دپاکستان خلکو او حکومت ورسره هر راز مرستې کړې دي، تېر کال يو ميليون افغان کډوال خپل وطن ته ستانه شوي دي او اميد دی چې دغه لړۍ لاپسې وغځېږي. په دې کې هيڅ شک

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شته چې افغانان اوس دپاکستان له خلکو سره ډول ډول اړیکي لري دوی به تګ راتګ لري نو امید دی چې دپاکستان حکومت په دې برخه کې همکاري وکړي، په ځانګړې توګه اسلام اباد ته څېرمه د کچه ابادۍ په کمپ کې باید افغان مهاجرینو سره له حوصلې کار واخستل شي. زموږ اطلاعات دا وایي چې پاکستان حکومت نږدې پنځه سوه افغانان یوازې په اسلام آباد کې په دې پلمه نیولي چې کارت نه لري، په بلوجستان کې هم ورته نیونې شوي چې موږ یې په اړه دقیق معلومات نه لرو، زموږ هیله ده چې د پاکستان حکومت به هغه افغانان چې په وړو جرمونو کې نیول شوي او د (۸ - ۹) کلونو پر بند محکوم شوي نو ددې کسانو دوسیې باید له سره وکتل شي او هیله ده چې خوشې شي. البته هرهغه څوک چې په غټو جرمونو تورن دي دوی باید سزا ووینې.

په افغانستان کې دپاکستاني بندیانو مسئله جلا ده، (۵۴۰) تنه پاکستانیان په شبرغان او (۱۰۳) کسه په کابل کې بندیان دي، په دې مسئله کې د امریکا حکومت هم دخیل دی، موږ هڅه کوو چې دا ټول بندیان کابل ته انتقال کړو او دوسیې یې تکمیل او ژر خوشی شي.

د مخدره موادو د کرکیله او قاچاق او بد امني په سیمه کې د اقتصادي رشد د کم والي له امله مخ په زیاتیدو ده. دا منطقوي او نړیواله مسئله ده او موږ کوشش کوو چې دنړیوالې ټولنې په مرسته یې مخنیوی وکړو تر څو چې د کوکنارو پر ځای متبادله کرکیله پیدا کیږي دا به ستونزمنه وي چې دا بوټی په اسانه له منځه لاړ شي، بل لوري ته وچکالۍ هم د کوکنارو په کښت کې زیاتوالی راوستی، موږ دکورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې د مخدره موادو پرضد اداره جوړه کړې ده، د جرمني او انګلستان په مرسته په یوه همه جانبه ستراتیژۍ باندې کار کوو چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه او هم په نړیواله کچه د دې مخنیوی وکړو. یو ملک په یوازې توګه له دې سره مبارزه نه شي کولای، موږ د ایران او تاجکستان سره هم په دوه اړخیزه همکاریو کار کوو چې ایران په دې برخه کې وعده کړې چې په سرحدي سیمو کې به امنیتي پوستې جوړوي، د تروریزم برخه کې ځکه ګډې همکارۍ ته اړتیا ده چې تروریزم د دواړو هېوادونو ګډ دښمن دی او دواړه هېوادونه له دغې پدیدې څخه ځوریږي او زیان ویني. زه د درې اړخیزه کمیسیون (۲۰) او کارونو ته سترګې په لاره یم چې په سرحد کې به د تاوتریخوالي په کمولو کې رغنده رول ولوبوي، موږ د یو بل د خاورې نیولو ته ضرورت نه لرو ،مننه.

له دې وروسته ښاغلي فیصل حیات وویل: چې موږ تیار یو چې د تروریزم مخه ونیسو ځکه موږ هم د تروریزم قرباني یو، موږ خوشاله یو چې درې اړخیزه کمیسیون جوړ شوی دی اوموږ دافغانستان دخپلواکۍ اوامنیت درناوی کوو، خودامنیتي وضعیت له امله ډېر پاکستاني قراردادیان له افغانستان څخه راوتلي او ځای یې هندي کمپنیو نیولی، د کچه ابادۍ مسئله به وځنډول شي خو بعضې اشخاص چې غېر قانوني لاس وهنو او جرمي مسائلو کې لاس لري باید مخه یې ونیول شي، موږ دوی ته مهاجر نه وایو بلکې دوی زموږ خویندې او وروڼه دي که چېرې تاسې داسې لست چې دقانوني اسنادو په نه لرلو یعنې **Foreign Act** په اساس بندیان شوي وي، نو موږ ته یې راکړئ هغه به خوشې کړو او یا که د چا د بند موده پوره شوی وي اونه وي خلاص شوی، هغه به هم راخلاص

(۲۰) د افغانستان، پاکستان او امریکا ترمنځ درې اړخیز کمېسیون جوړېدلو ته اشاره وه تر څو د افغانستان او پاکستان د پولو په شاوخوا کې د تاوتریخوالي مخه ونیسي او ګډې همکارۍ ته زمېنه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، مګر ځینې دا سې پیښې رامنځ ته کیږي چې منفي تاثیرات لري، دبیلګې په توګه په کابل کې دپاکستان پر سفارت حمله، که څه هم تاسې څه کسان نیولي دي او موږ ستاسې په اقدام خوښ یو خو دا لومړی ځل نه دی، موږ دامریکا او افغان حکومتونو سره دپاکستاني بندیانو په هکله غږیدلي یو او یو زماني چوکاټ به ورته تعین کړو خومګر موږ ته ویل شوي چې تقریباً (۱۰۵) کسه پاکستاني بندیان هند ته استول شوي دي او موږ یې لیست هم لرو.

د دې خبرو په جواب کې جلالي صیب وویل: غواړم د یوڅو خبرو وضاحت وکړم، پاکستانی کمپنی د امنیتي دلایلو پر بنسټ نه دي راوتلي، بلکې ستاسې کمپنیو د قرارداد مشخصات نه دي پوره کړي او همدا اوس په کندهار کې شپږزره پاکستانیان په کار بوخت دي، مامخکې هم وویل چې په کابل کې پر پاکستاني سفارت حمله غندو او د دې قضیې په اړوند مو کسان هم نیولي. ښاغلي کرزي هم د پاکستان له حکومت نه بښنه غوښتې او د اوښتي تاوان خساره یې هم ورکړې ده.په دې اړه زه هیڅ معلومات نه لرم چې ګواکې پاکستاني بندیان دې هند ته استول شوي وي که تاسې لیست لرئ موږ ته یې راکړئ موږ به پرې غور وکړو او موږ چمتو یو چې ټول مسائل دخبرو له لارې حل کړو.

د پاکستان د داخله چار وزیر وویل: هغه افغانان چې اسناد نه لري نو د افغانستان سفارت دې همکاري وکړي چې دوی ته اسناد ورکړي شي، موږ ۷۷۰ کسه افغانان له بنده خلاص کړي دي موږ دځینو امنیتي ملحوظاتو پر بنسټ ځینې افغانان نیولي دي او په دې کې هم شک نه شته چې پولیسو به ځینې د پیسو په خاطر هم نیولي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان سفیر ښاغلي ننګیالي طرزي وویل: هغه لستونه چې موږ د افغان بندیانو برابر کړي دي هغه د بشر حقوقو او خبریه ادارو له خوا هم تائید شوي دي، دابه مشکله وي چې موږ ټولو افغانانو ته پاسپورټونه ورکړو او یا هغوی په ویزو دلته راشي، د مخدره موادو دمخنیوي په اړه په نږدې راتلونکي کې د افغانستان د ولسمشر د ملي امنیت سلا کار زلمي رسول او دمخدره موادو دضد اداري رئیس مېرویس یاسني پاکستان ته راروان دي چې په دې اړه به تفصیلي خبرې په راتلونکې کې وشي. همدارنګه د مالي او تجارت وزیران هم راروان دي چې له پاکستان څخه افغانستان ته د غیرقانوني اجناسو په واردیدواوافغانستان ته دمالونوپه ترانزیت، له پاکستاني چارواکو سره خبرې وکړي او په ګډه به د دغه ستونزو د مخنیوي په موخه لارې چارې ولټول شي.

په پای کې جلالي صیب د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ښاغلي فیصل حیات ته بلنه ورکړه چې کابل ته راشي، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا غښتلې شي.

په پاکستان کې د متحده عربي امارتو سفیر علي محمد الشامي غرمنۍ تیاره کړې وه چې غرمه موهلته تېره کړه، دجولای په څلور ویشتمه نیټه سهار په نهه نیمو بجو د استرالیا د مهاجرینو وزیر چې په اسلام اباد کې و، له جلالي صیب سره وکتل او په استرالیا کې دافغان مهاجرینو پر ستونزو خبرې وشوې، دغه وزیر وویل چې استرالیا ته دغیر قانوني مهاجروشمېر ۳۹۰۰کسو ته رسېږي چې یو شمېر یې افغانان هم دي، نوموړي ژمنه وکړه چې د استرالیا حکومت د افغان حکومت ملاتړ کوي خو د غیر قانوني کسانو پر وړاندې د استرالیا دریځ ثابت دی او استرالیا نه غواړي چې غیر قانوني کسانو ته پناه ورکړي او هغه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هيڅ اسناد نه لري استراليا حکومت يې له بنده خوشې کوي او خپلو هېوادونو ته يې استوي که افغانان هم په دې کې وي استراليا به يې خپل هېواد ته واستوي.

جلالي صيب وويل چې تاسې قانوني ستونزه لرئ او موږ د امکاناتو نشتوالی، نو ښه به دا وي چې دافغانستان دمهاجرينو وزارت سره اړيکي ونسيئ او دې ستونزې ته به دحل لارې چارې ولټوو. موږ هم پوهيږو چې د خلکو قاچاق يو نړيوال مشکل دی اوحتې داسې کسان هم شته چې دافغانانو په نوم پاسپورټونه اخلي او په اروپا کې اويا نورو هېوادنو کې د سياسي پناه غوښتنه کوي، موږ حاضر يو تاسې سره په دې برخه کې همکاري وکړو.

په همدې ورځ يو ځل بيا افغان پلاوي د ښاغلي فيصل صالح حيات سره په کورنيو چارو وزارت کې وکتل، ښاغلي فيصل حيات وويل چې تقريبا په ټولو مسائلو خبرې وشوې خو جلالي صيب وويل يوه مسئله چې ډېره مهمه ده هغه دطالبانو هغه غړي او مشران دي چې په افغانستان کې ورانۍ کوي او دلته په پاکستان کې ازاد ګرځي نو د دوی مخه بايد ونيول شي، ځکه تروريزم د دواړو هېوادونو لپاره تهديد دی. جلالي صيب زياته کړه چې ښاغلي کرزي صيب دې ته ليوال دی چې هم د ولسونو او هم په حکومتي کچه له پاکستان سره ښې اړيکي ولري.

ښاغلي فيصل حيات وويل هر هغه ثوک چې د قانون خلاف فعاليت کوي مخه يې بايد ونيول شي. په پاکستان کې د اسې ډلې او ګروپونه شته خو دا بايد ووايم چې هيڅا ته به اجازه ورنه کړو چې په افغانستان کې بې ثباتي رامنځ ته کړي او په افغانستان کې بې ثباتي زموږ په ګټه هم نه ده. ځينې جهادي ګروپونه بيانونه صادروي، موږ دا منو چې ځينې کسان تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتګ کوي خو زموږ پوځونه په همدې موخه په سرحد کې ځای پر ځای شوي چې د دوی مخه ونیسي، موږ د امریکا نه هم غواړو چې د طالبانو مخه ونیسي، ځکه هغوی اوس یوازې د القاعدې د نیولو سره دلچسپي لري. موږ په ا فغانستان کې دهند دقونسلګریو په هکله تشویش لرو، ځکه دوی په افغانستان کې د پاکستان مخالفین روزي او حمایه کوي یې، په پای کې ستاسې له راتګ څخه مننه کوو او تاسې ته هر وخت هرکلی وایو که د سفر په پای کې یو تفاهم نامه لاسلیک کړو نو ښه به وي.

جلالي صیب په ځواب کې وویل: د اچې موږ په ډېرو مسائلوخبرې وکړې، موږ ستاسې دتعهداتو درناوی کوو، تاسې دهند سره زموږ د دوستۍ خبره بیا بیا تکرار کړه خو زه ډاډ درکوم چې افغانستان به هیڅاته اجازه ورنه کړي چې خاوره یې دګاونډیانو پر ضد استعمال کړي، دبلوچستان مسائل او پیښې د افراطیت پورې اړه لري.

وروسته دپاکستان د کورنیو چارو وزیر څرګنده کړه چې د افغانستان د کورنیو چارو د وزیربلنه ورته منظوره ده او ژمنه یې وکړه چې ډېر ژر به د افغانستان دوره وکړي او زیاته یې کړه چې ټول واړه او غټ مسائل باید دخبرو له لارې حل شي.

له دې وروسته دواړو وزیرانو ګډ خبري کانفرانس ته خبرې وکړې او د ژور نالستانو پوښتنو ته یې ځواب ووایه په کانفرانس کې لومړی د پاکستان د کورنیو چارو وزیر د افغانستان د کورنیو چارو وزیر او ورسره پلاوي ته هرکلی ووایه او بیا یې مننه وکړه چې د افغانستان د کورنیو چارو وزیر دده په بلنه د ښاغلی حامد کرزي د سفر په تعقیب اسلام اباد ته تشریف راوړی دی. نوموړي زیاته کړه چې پاکستان او افغانستان له ډېر پخوا دیو بل سره همکاري لري او په راتلونکې کې به هم دغه همکاریو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوام ورکړي موږ په ډېرو خبرو سره غږېدلي یو او دخپلو خبرو له پایلو راضي یو، موږ یو بل ته ضرورت لرو او دا زموږ په ګټه هم ده، پاکستان چې څنګه زموږ کور دی داسې د ټولو افغاني خویندو او ورونو کور هم دی. پاکستان د افغانستان سره دوستۍ ته خاص ارزښت ورکوي ځکه چې موږ ګډې کلتوري، اجتماعي او اقتصادي اړیکي لرو او موږ د ښاغلي حامد کرزي د حکومت مؤفقیت غواړو، موږ باید خپل کوششونو او ګډو همکاریو ته دوام ورکړو ځکه دا زموږ د دواړو هېوادونو، سیمې او نړۍ په ګټه ده، دا د ټولې نړیوالې ټولنې مسؤولیت دی چې د افغانستان سره مرسته وکړي، پاکستان هم په خپل وار د خپلو اقتصادي مشکلاتو سره سره سل میلیونه ډالره مرسته د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړې کړې ده، موږ دعدم مداخلت واضحه پالیسي په ټولو ملکونو کې او په ځانګړې توګه د ګاونډیو هېوادونو پر وړاندې لرو، پاکستان به هیڅ ډلې او یا ګروپ ته اجازه ورنه کړي چې دافغانستان پر ضد فعالیت وکړي ځکه تروریزم د دواړو هېوادونو د ګټو پر ضد دی، په کویټه کې وروستی فعالیت ددې ننبه ده او دازموږ شریک مسؤولیت هم دی.

د مخدره موادو د قاچاق او کرکیله زموږ د دواړو ملکونو ګډه ستونزه ده او باید دملګرو ملتونه او نړیواله ټولنه په دې برخه کې مرستې وکړي، دافغان مهاجرینو ستونزه موږ د **UNHCR** یا د مهاجرو د عالي کمشنري له لارې غواړو چې حل یې کړو تر څو افغان مهاجرین په عزت سره خپل وطن ته ستانه شي، همدارنګه موږ د سرحدي ستونزو، ترانزیټ او د افغان پولیسو په روزنه هم خبرې وکړې.

وروسته جلالي صیب خبرې وکړې او ویې ویل: لومړی د پاکستان د کورنیو چارو دوزېر څخه مننه کوم چې زموږ ښه میلمه پالنه یې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، موږ په مختلفو هراړخیزو مسائلو خبرې وکړې، دواړه ملکونه شریکې فرهنګي، اقتصادي او اجتماعي اړیکي لري او دواړه غاړې قوي نیت لري چې یو له بل سره همکاري وکړي او په دې اطمینان لرو. زه د دواړو خواو دمذاکراتو نه راضي یم، موږ په دې وخت کې کومک او همکارۍ ته ضرورت لرو تر څو د خپلو ادارو ظرفیت لوړ کړو، افغانستان به هیچاته اجازه ورنه کړي چې زموږ خاوره د بل چا پر ضد استعمال کړي او موږ باید یو له بل سره همکاري وکړو او د تروریزم او بنیاد ګرایې مخه باید ونیسو، ځکه دا زموږ د سیمې او د نړیوالې ټولنې په ګټه هم ده، پاکستان د افغان مهاجرینو سره کومک کړی دی تر څو چې د افغانستان اقتصادي وضعیت ښه کیږي هغه مهاجرین چې دلته اړیکي لري، دوی به ځي راځي، همدا شان د پولیسو په روزنه خبرې وشوې خو ډېر نور داسې مسائل لا پاتې دي چې باید په تفصیل خبرې ورباندې وشي، دبیلګې په توګه دپاکستان له لارې دافغان مالونو د ټرانزیټ مسئله او داسې نور...

وروسته جلالي صیب اسلام اباد ته څېرمه دپاکستان دپولیسو له اکاډمۍ نه لیدنه وکړه چې د پولیسو د اکاډمۍ قوماندان له خوا معلومات ورکړل شول، جلالي صیب وویل چې موږ غواړو زموږ پولیس دخدمت په یو ځواک بدل شي تر څو د خلکو اوپولیسو ترمنځ همکاري زیاته شي. دپولیسو داکاډمۍ له لیدنې وروسته مازدیګر مهال جلالي صیب او ورسره پلاوی بېرته کابل ته رأستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو چارو په وزارت کې د ولسوالیو او ولایاتو اړوند ورکشاپ

د ۲۰۰۳ م کال د اکتوبر په یویشتمه نیټه د نړیوال بانک په مرسته د کورنیو چارو په وزارت کې د ولایاتونو او ولسوالیو د تقویې لپاره ورکشاپ جوړ شوی و چې په دغه سیمینار کې د کورنیو چارو وزیر او منسوبینو برسیره دملګرو ملتونو استازي او د مالي وزیر ډاکتر اشرف غني احمدزي هم ګډون کړی و.

د کورنیو چارو وزیر په خپلو خبرو کې لومړی په اداري اصلاحاتو رڼا واچوله او ویې وویل چې که څه هم دافغانستان د اداري فزیکي زېربنا له منځه تللې خو د دې سره په ادارو کې کارونه پر مخ ځي او خلک مختلفو ادارو ته مراجعه کوي، دافغانستان په تشکیلاتو باید تجدید نظر وشي او خارجي متخصصین باید یوازې دمشخصو ضروریاتو په بنیاد استخدام شي موږ دفزیکي زېربنا د جوړولو لپاره یو جامع پلان جوړ کړی ترڅو په ولسوالیو کې امنیت او ثبات تامین شي او د دغې پلان په اساس به خلکو ته خدمات وړاندې شي. د دغه پلان په اساس، د ولسوالیو او ولایاتونو ترمنځ مخابراتي اړیکي به ټینګې شي تر څو داسې یوه اداره رامنځ ته شي چې خلک پرې اعتماد وکړي. د جلالي صیب له خبرو وروسته، **Dr. Andrew Wilder** ، د **AREU** یا دافغانستان د ارزیابۍ او تحقیق اداري مشر خبرې وکړې او د خپل رئیسرچ او تحقیق پر پایله وغږېده. ده ویې ویل چې د افغانستان محلي ادارو اسکلیت سره له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه نیمو لسیزو جنګونونه وروسته اوس هم موجود دی او خلک ورسره اشتایی لری. له دې وروسته د افغانستان دمالي وزیر ډاکټر اشرف غني احمدزي خبرې وکړې او ویې ویل: زموږ هدف واضح دی، موږ یو پرمختللی او مرفه افغانستان غواړو او داسې هېواد غواړو چې د ټولو حقوق په کې خوندي وي، دولت باید د خلکو خدمتګار وي نه بادار ، دولت او حکومت باید دخلکو دحقوقو ساتونکی وي، نن ملت دی چې موږ رهنماي کوي، ملت د دولت نه حساب غواړي. ملت د دولت نه شفافیت غواړي،دا ټولې هغه خبرې دي چې د اسلام پیغمبر صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو یې بنسټ ایښی دی، هغوی د بیت المال دیوه خس حساب هم ورکاوه، ملت یو قوي دولت غواړي او دیو قوي دولت معنی دا نه ده چې هر څه په مرکز کې وي، افغانستان اجتماعي عدالت غواړي، افغانستان یوازې کابل نه دی بلکې کابل د اطراف لپاره وسیله د خدمت ده، زموږ دراتلونکي تصوير معلوم دی، دملي انکشاف په چوکاټ کې دحکومت پالیسي ده چې په لاندې ستنو ولاړه ده.

اوله ستنه: امنیت دی چې ملي اردو، ملي پولیس او ملي امنیت باید په وسلو مجهز وي ترڅو امنیت وساتي خو متأسفانه دتوکیو په کنفرانس کې دې اصل ته توجه ونه شوه او دا اشتباه وه مګر اوس دا نیمګرتیا مخ په ترمیمیدو ده.

دویمه ستنه: بشري قوت دی، موږ یو اداري نسل له لاسه ورکړی ځکه اوس یو وزیر د یو مدیر کار هم کوي او مدیر دکاتب کار کوي، بې صلاحیته مسؤلیت نه شي اخستل کیدای او همدا شان بې مسؤلیته کار نه شي ترسره کیدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه ستنه: اقتصاد دی او څلورمه ستنه: اداري اصلاحات دی، ډاکټر اشرف غني احمدزي زیاته کړه چې زموږ اداره معیوبه ده او له اداري اصلاحاتو پرته موږ نه شو ای کولای چې نړیواله ټولنه په دې قانع کړو چې موږ سره مرسته وکړي، زورګویې او زیات ګویې ځای نه نیسي، د دولت مامورین باید حساب ورکړي او هرڅوک باید خپل د دارایي فورمه ډکه کړي چې څومره پیسې لري، زما په فکر وزارت مالیه لا تر اوسه مؤفقه نه ده ځکه په خپل وخت مامورینو ته معاش نه شي رسولی، وزارتونه باید د خپلو تشکیلاتو او افرادو صحیح لست وزارت مالیې ته راوړي. ده وویل چې هیڅوک د قانون نه اوچت نه دی افغانستان یو مشر لري چې هغه ښاغلی کرزی دی او ولایات خود مختاره نه دي، اکثره بودجې د وزارتونو د ضرورت په مطابق نه دي، نوځکه د مالي وزارت ته د قبول وړ نه دي.

که موږ د جلالي صیب او ډاکتر اشرف غني پورته ته ذکر شوو خبرو ته وګورو، نو دوی دافغانستان د راتلونکې لپاره جدي او عمیق پلانونه درلودل خو متأسفانه چې د جناب کرزي صیب او د بین المللي ټولنې له خوا د دوی ملاتړ ونه شو نو ځکه افغانستان په موجوده وخت کې له نامعلوم برخلیک سره مخامخ دی.

د دې ورکشاپ نه وروسته په سبا یعنې د اکتوبر د میاشتې په دوه ویشتمه نیټه د بهرنیو چارو د وزارت په تالار کې د افغانستان د والیانو او قوماندانانو یو سیمینار د اداري او پولیسو د سمپوزیم په نامه جوړ شوی وو چې لومړی ورته جلالي صیب خبرې وکړې او ویې ویل: که له یوې خوا داداري د جوړیدو پروړاندې زیات چلنجونه شته، بل خوا امیدونه هم شته، اداري باید د ګروهي شکل نه ووځي، زموږ مشکل ډېر په دې کې دی چې زموږ اداري ګروهي بڼه نیولې او ستونزې یې پیدا کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ددغو ادارو مؤثریت باید زیات شي تر څو خلکو ته ښه خدمات وړاندې کړی شي او امنیت برقرار شي، ترهغې چې محلي ادارې مرکزي حکومت ته وفاداره نه وي امنیت نه شي راتلای، زموږ پولیس ګروهي شکل لري، په شمال کې امنیت د همدې رقابتونو او جګړو په پایله کې خراب شوي دی، کله چې یو قوماندان تبدلیږي ټول پرسونل یې ورسره ځي، لکه چې په زابل، فراه، میدان او تریو حده په کندهار کې همداسې وشول، دا هم باید ووایم چې په اته سوه افغانیو موږ څنګه کولای شو چې ځوانان ملي پولیسو ته راجذب کړو، دپولیسو معاشونه باید لوړ کړای شي او د ملي اردو د عسکرو سره باید برابر شي. پولیس باید غیر نظامي شکل ولري ترڅو د قانون حاکمیت تحکیم کړي اوس پولیس دجګړې په لومړۍ کرښه کې دي، حتی ترافیک هم ثقیله وسلې او راکټ انداز ګرځوي، که اداره ښه شي او خلک پرې اعتماد وکړي امنیت په خپله راځي خومتاسفانه چې زموږ اکثریت ولسوالۍ ودانۍ نه لري او ولسوال په یو کرایې کور کې دفتر جوړ کړی، نه موټر لري او نه نور امکانات، نو څنګه به خلک داسې ولسوال ته د احترام په سترګه وګوري، موږ دمحلي ادارو لپاره پلان ترتیب کړی او امېد دی چې نړیواله ټولنه به زموږ د دې پلان ملاتړ وکړي.

له جلالي صیب وروسته د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې لخدار براهیمي وویل: د افغانستان موجوده حکومت د نړیوالو له خوا په رسمیت پیژندل شوی خو امکانات نه لري چې خپله اداره وچلوي او حاکمیت تامین کړي، موږ باید خپل فعالیتونه سره هماهنګ کړو او هغه مخرب کسانو ته چې امنیت خرابوي دا وښایو چې دوی نور وس نه لري چې امنیت خراب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لخدار براهیمي نه وروسته د مالي وزیر ډاکټر اشرف غني احمدزي خبرې وکړې او ویې ویل: زموږ اصلي مسئله دولت جوړول دي او موږ داسې دولت نه لرو چې دولس نمایندګي وکړي، دولت په ولس د زور وسیله نه ده بلکې د ولس خدمتګار باید وي او ټول باید دقانون په چوکاټ کې کار وکړي، د دولت د رئیس نه نیولې تر سرکاتب پورې، هر څوک چې له قانونه وځي ولس ته د منلو وړ نه دی.

دنیا له موږ سره کومک کوي نه له موږ نه تیل غواړي او نه اډه.

د دولت ادارې باید دعدالت بنیاد وي ،نن خلک د دې دولت نه شاکي دي که اساسي لاره د حل پیدا نه شي موږ به بیا دنیا او هم خدای جل جلاله ته خجله اوسو. نن تاسې (والیان او قوماندانان) د وضعې نه شکایت کوئ، د دې وضعې مسؤل موږ او تاسې یو ځانته باید ګوته ونیسو موږ دتاریخ نه عبرت نه دی اخستی چې بیا به قوماندانان بې سره نه وي، رشوت به نه وي، مګر داسې نه ده، دنیا دا وضعیت نه مني، اداري رشوت باید ورک شي، دولتي موقف څخه شخصي استفاده باید ودرول شي په خاصه توګه د مخدره موادو دقاچاق او کرکیلې په برخه کې، موږ له یو پلوه له دنیا نه کومک غواړو او له بل پلوه مخدره موادو ته توسعه ورکوو، دوه شیان په یو کمیس کې نه ځایږي ، دافغانستان وګړی د حق خاوند دی، سپیڅلتیا باید موجوده وي، دولت مالیه بنده کړې خو قوماندانان په خپل سر مالیه اخلي او حتی د اپینو ( تریاک ) نه هم مالیه اخلي او دغه اپین په دولتي موټرو کې انتقالوي، دا نه شي کیدلای چې دنیا ته یوه خبره او ځانته بله خبره وښایو ،له امنیت پرته اقتصادي رشد ممکن نه دی ترڅو چې سرمایه ګذاری ته شرایط برابر نه شي تر هغې پورې زموږ مشکلات حل کیدای نه شي خو زموږ افغان پانګوال باید د امنیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضعیت څخه مطمئین شي او په اسانۍ سره ځمکې د دوی په اختیار کې ورکړل شي چې فابریکې په کې جوړې کړي، تر څو چې موږ خپله عادي بودجه دخپل ملک له عایداتو پوره نه کړو موږ په جرات له نړیوالې ټولنې سره خبرې نه شو کولای،موږ په دوه لاري کې ولاړ یو یا به مثبت طرف ته ځو او که نه منفي طرف ته خو روان یو ، دحکومت تصامیم باید په ټولو برخو کې عملي شي او هغه طرحه چې د کورنیو چارو وزیر د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې ته وړاندې کړې ده هغه موږ ټولو ته دمنلو وړ ده او باید عملي شي، افغانستان یوه ټوټه ده او ولایات صرف اداري واحدونه دي، اجرات باید دقانون په چوکاټ کې ترسره شي، زموږ ناکامي په دې کې ده چې اول وزارت مالیه باید په یو وخت کې ټولو ادارو ته معاش ورکړي او موږ هیله لرو چې دا ستونزه به دکال تر پایه حل شي ، دویمه خبره دا ده چې موږ نه پوهیږو چې موږ په ولایاتونو کې څومره مامورین لرو. دریم هغه کسان چې مقرر شوي ایا د دې وړتیا لري چې کار وکړي او کنه؟ د دوی سوانح باید وکتل شي. څلورم د وزارتونو تشکیلات باید اصلاح شي او بې ځایه کاغذ پراني باید ختمه شي ځکه یو وزارت په دریو میاشتو کې یو مکتوب تر وزارت مالیه نه شي رارسولی، د عاجل او غیر عاجل کارونو توپیر باید وشي، مثبته خبره دا ده چې زموږ خزاین اوس ټول کمپیوټري شوي دي او مستوفیتونو ته باید تخصیص ولیږل شي او دبانک دلارې باید پیسې حواله شي تر څو ولایتونو ته فزیکي بودجه ورسول شي.

دډاکتر اشرف غني له خبرو وروسته دپکتیا والي اسدالله وفا خبرې وکړې او ویې ویل: د دې خبرې یادونه ضروري گڼم چې د طالبانو د سقوط نه وروسته دپکتیا امنیتي وضعه ډیره خرابه وه او باالاخره د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت او نړیوالې ټولنې په ګډه یو امنیتي پلان جوړ کړ چې هلته باید PRT جوړ شي او هم په اداره کې باید تغېرات راشي. دپکتیا PRT په افغانستان کې لومړنۍ PRT وه. کله چې د راز محمد دلیلي پرځای اسدالله وفا د پکتیا والي شو. نو جنرال حی ګل سلیمانخیل د امنیه قوماندان په توګه وټاکل شو او امنیتي وضعه د پکتیا په ولایت کې ښه شوله. په دغه شپو کې د حکومت او نړیوالې ټولنې د همکارۍ یوه ښه نمونه د پکتیا ولایت و. اسدالله وفا وویلې چې د پکتیا نفوس نږدې ۱.۲میلیونه دی، پاکستان سره ۹۲کیلومتره پوله لري اونه لوی قومونه په پکتیا کې ژوند کوي، په پکتیاکې ۲۰ لیسې او ۱۹ متوسطې فعالې دي چې یو لک او شل زره شاګردان پر زده کړو بوخت دي. ده وویل چې اول مو د هرې ولسوالۍ نه دوه دوه کسان ولایتي شورا لپاره تعین کړل او اوس مو په ولسوالیو کې اداري فعالې کړې دي او په مرکز کې مو د قوماندان سالارۍمخه نیولې ده، د امنیې قوماندانې، اردوملي او ملي امنیت سره په ګډه کار کوو، د پاچا خان ځدران (۱) د ستونزې پرته بله ستونزه په پکتیا کې نه شته او PRTموږ سره د بیارغونې په پرګرامونو کې مرسته کوي.

دغه سیمینار ته جمهور رئیس کرزي هم خبرې وکړې نوموړي په خپلو خبرو کې وویل: وضع به شکل عمومي بهتر شده، از لحاظ اقتصاد، زراعت وغېره، اما از لحاظ امنیت من راضي نیستم، ما خود را حکومت اسلامي مې ګویم اصل حکومت اسلامې باید امن بیارد وعدالت تامین

۱-پاچاخان ځدران په دغه وخت کې دمرکزي حکومت نه ناراضه و او دحکومت پر ضد یې فعالیت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کند ، حکومت کفر مې چله و بقا میداشته باشد ولی حکومت ظالم بقا کرده نمې تواند ، متاسفانه درحکومت ما در بعضی نقاط ظلم موجود است و ما باید جلو ظلم را بگریم.

ما باید درگریبان خود به صفت حکومت سیل کنم و ببینیم که بنام ولسوال، والي، وزیر، معاون ریاست دولت، ورئیس دولت آیا خدمت کرده یم یانه. مردم های که من از اطراف ملاقات دارم هر هفته. ازحکمران های محلی شکایت دارند از دست قوماندان بازی به تنگ رسیده ، کسی به تجار گفته اگر پیسه نه دهي القاعده هستی وبه خارجی میدهم ات.

اگر قصه های مردم رأست است وحقیقت دارد ما وقتی خود را حاکم عادل بگویم که مردم از دست ولسوال، قوماندان امنیه، و دیگر مسؤلین امنیتي ترس نه داشته باشد ، در ولایت جنوبي مردم ازار مې شود ، اگر پول نه دهید نام القاعده را سرش مانده می شود ، در شمال مردم از جنگسالاران روز نه دارند.

حکومت مسؤلیت بسیار بزرگ دنیاوی وهم اخروی است در دنیا بدنامې دارد ودر اخرت بازخواست دارد ، حکومت جای پیسه پیداکردن نیست، اگر پیسه مې خواهید کار دیگری را باید بکیند حکومت جای این نیست که از بیت المال دزدی کنیم، این فکر وطرز باید عوض شود. حکومت جای ظلم وخود نمایی هم نیست، درهیچ جای دنیا نیست، و درافغانستان باید قطعا نه باشد که ما از یوغ ظلم برخاستیم خواهش من از شما والي صاحبان وقوماندانان این است که بامردم رویه نیک کنید ، حداقل باید باعث ازار شان نه شوید ، روابط راکم کنید وبه ضوابط اصرار کنید ، در شهرها وضع شاید بهتر باشد اما در ولسوالي ها وضع بدتر است، به بازسازی توجه کنید ما مردم غریب هستم مردم ما ازما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابادی های بلند منزل یا سرک های شیشه آینه نه مې خواهد ، تنها زنده گی عادي مرفع مې خواهد. مهاجرین مې گوید که تا جمع آوری سلاح نه شود ، وامنیت نه بیاید و ایساف به ولایات نه رود نه مې آید یعنی ایساف باید توسعهٔ پیدا کند. درجمع آوری اسلحه باید همکاري کنید تا افغانستان ازاد و مستقل سر پای خود ایستاده شود. بیدون این تا ابد احتیاج کشورهای خارج خواهیم بود ، امسال اوازه ها است که در اکثر نقاط تریاک کشت شده ، در ظاهر یک چند نفر محدود را پیسه دار مې سازد اما درحقیقت مردم ما رامحکوم و بد نام مې کند ، زراعت ما راخراب مې کند ازهمه بالاتر ضد دین است این حرام است.

له دې وروسته د سیمینار گډون کوونکي په څلورو گروپونو تقسیم شول چې په مسائلواو مشکلاتو بحث وکړي او لازم پیشنهادات کابینې ته وړاندې کړي، د دې گروپونو عمده پیشنهادات داوو چې وسله باید ټوله شي ، ملي پولیس تقویه شي، د بیارغونې پروسه باید گړندۍ شي، که حکومت پولیسو ته معاش نه شي ورکولی نو د مکلفیت عسکري دوره دې بیا شروع شي. د دې والیانو او قوماندانانو یو پیشنهاد دا هم وچې د کابینې په سطحه تفاهم او صمیمیت نه شته نو ځکه اکثریت دغه مسلح قوتونه دکابینې په یویا بل غړي پوري تړلي دي او دوی په اطرافونو کې مشکلات پیدا کوي، باید داسې کابینه جوړه شي چې د خلکو د اعتماد وړ وي او دکابینې اعضا دتخصص تر څنگ باید د ملي خدمت تعهد هم ولري، دمجاهد غیر مجاهد ، طالب غیر طالب په نامه اختلافات باید له منځه لاړشي او د ملي پخلاینې پروسه باید پیل شي. د دې بر سیره د افغانستان سرحدات باید د تروریستانو او قاچاقبرانو پر مخ وتړل شي چې د بد امنۍ باعث کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسیمینار په اخر کې جلالي صیب په خپله اختتامیه وینا کې وویل: مهم مسائل مطرح شول او دحل لارې چارې پیشنهاد شولې مګر اوس عمل کولو ته ضرورت دی، بې له همکارۍ بله لار نشته دی ترڅو یوه فضیله کړۍ چې په اجتماعی عدالت ولاړه وي جوړه کړو اود دولت داری خبیثه کړۍ باید ماته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## روسیې ته د کورنیو چارو د وزیر ښاغلي علي احمد جلالي سفر ۲۰۰۳کال د نومبر ۱۳-۱۵ نیټه پورې

د روسیې د کورنیو چارو وزیر څو ځلې د افغانستان د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي ته بلنه ورکړې وه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښه همکارۍ په خاطر سفر وکړي که څه هم دغه سفر څو ځلې وځنډیده خو جلالي صیب په عاجله توګه ومنله چې داسفر د ۲۰۰۳ م کال دنومبر په یولسمه نیټه ترسره کړي. په دغه سفر کې له جلالي صیب سره یوازې زه او د جلالي صیب یاور جنرال ګل اغا روحاني ملګري وو. د مسکو په هوایي اډه کې د روسیې دکورنیو چارو وزارت د پروتوکول مشر، په روسیه کې دافغانستان سفیر احمد ضیأ مسعود او د سفارت یو شمېر نور کارکوونکي د استقبال لپاره ولاړ وو. دا مسکو ته زما لومړنی سفر وو، مسکو یو ښکلی او تاریخي ښار دی او دپخوانیو امپراطوریو عظمت په کې له ورایه ښکاریده، زموږ موټرې د روسیې دکورنیو چارو وزارت د استقبالیه موټرو په واسطه بدرګه کیدلې او موږ ته یې د اوسیدلو لپاره د مسکو په ( Presidential Hotel ) کې ځای برابر کړی و. دغه هوټل چې ډېر پخوانی و، د پخواني شوروي اتحاد دسیاسي بېرو مشرانو به هغه مهال په دغه هوټل کې استوګنه کوله.

روسیې ته زموږ د سفر موخه له روسیې سره د ښو اړیکو جوړول او له بل پلوه که وتوانیږو چې دکورنیو چارو وزارت ته د روسانو له خوا پولیسو ته د تجهیزاتو او نقلیه وسایطو کمکونه راجلب کړای شواو همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاجکستان سره په پوله روسي ځواکونه میشت دي نو موږ غوښتل چې روسیه د مخدره موادو د قاچاق دمخنیوي په اړوند زموږ سره همکاري وکړي، له افغانستان څخه قاچاقبران مخدره مواد د تاجکستان له لارې روسیه او له هغه ځایه یې شرقي او غربي اروپا ته لیږدوي.

په همدې ورځ په هوټل کې د لږ استراحت وروسته زموږ پروګرام د روسیې د کورنیو چارو وزارت له خوا د روسیې د سلاح دخرڅولو یو شرکت سره برابر کړی و، کله چې مو د دغې کمپنۍ له مشر سره وکتل، نو نوموړي وویل: دا لومړی ځل دی چې د افغانستان دحکومت له یو پلاوي سره ګورو، نو جلالي صیب له دوی نه پوښتنه وکړه چې زه باید پوه شم چې د پولیسو په کومو تخنیکي برخو کې تاسې له موږ سره مرسته کولای شئ؟ دکمپنۍ مشر وویل: متاسفانه چې موږ کافي معلومات نه لرو خو د روسیې د سلاح خرڅولو ۹۵٪ صادرات زموږ د کمپنۍ له لارې کیږي چې تېر کال مو د څلور ملیارده ډالرو په ارزښت سلاح خرڅې کړې دي او امید دی چې سږ کال دا رقم پنځه ملیارده ډالرو ته لوړ شي. زموږ ډېر صادرات هیلیکوپترې او کشتۍ دي خو که کاماز یا نورې موټرو خریداري تاسې کوئ موږ کولای شو چې هغه هم تاسې ته برابرې کړو. دکمپنۍ مشر زیاته کړه، دا چې زموږ کمپنۍ یوه دولتي کمپنۍ ده، هغه څه چې د دفاع وزارت موږ ته راکوي هغه موږ خرڅوو خو زموږ قیمتونه د ټولو نه کم دي. د دې کمپنۍ هدف دا و چې موږ باید کمکونه دپیسو په مقابل کې واخلو.

جلالي صیب وویل: هغه قراداد چې تاسې د هیلکوپترو په اړه رالیږلی یو اندازه تخنیکي معلوماتو ته ضرورت لري، ځکه چې موږ وړو کشفي هیلکوپترو ته ضرورت لرو، بل دا چې موږ مستقیما ستاسې کمپنۍ سره قرارداد نه شو کولای ځکه زموږ د حکومت د تدارکاتو قوانین دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایجابوي چې ستاسي قیمتونه او مشخصات باید د نورو هېوادونو سره پرتله شي.
څرنګه چې روسیه ته زموږ سفر ژر برابر شو د روسیې د کورنیو چارو وزیر چې د جمهور رئیس پوتین سره د دغې هېواد یو بل ایالت ته په سفر تللی و زموږ دهیت دلیدو لپاره راونه رسیده. د نومبر په دیارلسمه نیټه مو د روسیه دکورنیو چارو په وزارت کې د دغه وزارت له مرستیال او ورسره پلاوي سره وکتل.
د روسیه د کورنیو چارو د وزارت مرستیا ل له هر کلي وروسته وویل: غواړو د مخدره موادو د قاچاق او تروریزم په هکله سره خبرې وکړو او موږ څنګه کولای شو د دغه دواړو پدیدو مخنیوی وکړای شونومونږ وویل چې دمخه مو د افغانستان دکورنیو چارو له وزیرانو محمد یونس قانوني او تاج محمد وردګ سره رابطه درلوده اوس موږ خوشاله یو چې تاسې سره په اړیکه کې یو.
جلالي صیب هم په خپل وار دنومونږ د میلمه پالنې نه مننه وکړه او ویې ویل: زما سلامونه د روسیې دکورنیو چارو وزیر ته ورسوه. تروریزم، مخدره مواد، د انسانانو قاچاق او نور سازمان یافته جرایمو پرضد مبارزه، دواړو هېوادونو ته خورا ډېر ارزښت لري.
په دې وخت کې د افغانستان دسفارت ترجمان سمه ترجماني نه شوه کولای نو جلالي صیب پخپله په روسي ژبه کله کله مداخله کوله او کوم ځای چې به په خبرو کې ترې پاتې کېده هغه یې تصحیح کوه، د روسیې د کورنیو چاروزارت مرستیال وویل چې تروریزم موږ لپاره عمده مشکل دی او په خپل وزارت کې د تروریزم پر ضد اداره جوړه کړې ده نو د دواړو ملکونو ترمنځ ګډې همکارۍ ته اړتیا ده، ده وویل د قفقاز په سیمه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د تروريزم له ستونزې سره مخامخ يو ، زه علاقمند يم چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د تروريزم پر وړاندې دمبارزې يو ګډ کميسيون جوړ شي.
د روسيې د تروريزم د ادارې رئيس چې په غونډه کې ناست و وويل: دتروريزم سره مشکلات په ټولو هېوادونو کې يو شانته دى او يوازې پوليس ورسره مبارزه کوي خو بايد ټول ارګانونه په ګډه د تروريزم پر وړاندې مبارزه وکړي، موږ بايد خپلې تجربې له يو بل سره شريکې کړو ، دتروريزم پر وړاندې همکاري او دمعلوماتو شريکول ټولو ملکونو ته ضروري دي او د راتلونکي کال په پيل کې بايد دا کميسيونونه جوړ شي که څه هم د تروريزم اداره په روسيه کې د دولتي امنيت د وزارت په غاړه ده خو د کورنيو چارو وزارت سره ګډه همکاري لري.
جلالي صيب په ځواب کې وويل: څه چې تاسې وويل زموږ برداشت هم همدا دى ځکه افغانستان زيات ضرر ليدلى او تروريزم زموږ سياسي، کلتوري او اجتماعي اړخونه تخريب کړي دي او د دې ځاى نه يې نه يوازې افغانستان ته ضرر ورساوه بلکې نورې نړۍ ته يې هم ضرر ورساوه، هغه رژيم چې د تروريستانو حمايت يې کولو هغه اوس نه شته دى خو موږ اوس هم د تروريزم سره مبارزه کوو او د افغانستان امنيت ته يو جدي ګواښ دى، هغه تروريستان چې افغانستان ته راځي په يو ملک پورې تړاو نه لري او که خداى نا خواسته تروريزم يو ځل بيا په افغانستان کې غلبه کوي، نو موږ ټولو ته يې خطر دى، دې کې هېڅ شک نه شته چې د جناب کرزي د رهبرۍ لاندې افغانستان د تروريزم پرضد مبارزه کوي خو تر څو چې زموږ د اداروظرفيت لوړ شوى نه وي زموږ مبارزه کاميابيداى نه شي او موږ نړيوالو مرستو ته اړتيا لرو ، په افغانستان کې ملي امنيت، ملي دفاع او دکورنيو چارو وزارت په شريکه سره همکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي خو پولیس په افغانستان کې د تروریزم سره د جګړې په لومړۍ کرښه کې دي، موږ په سرحداتو کې په لسګونو حتی په سلګونو پولیس له لاسه ورکړي، نو په دې اساس د افغان ملي پولیسو تقویه ډېره مهمه ده، دا ډېر ښه کار دی چې د تروریزم پر ضد مشترک کمیسیون جوړ کړو چې زمونږ د کورنیو چارو وزارت د تروریزم د ریاست سره اړیکي ولري او معلومات تبادله کړي. زموږ د علاقې وړ بله مسئله زموږ د ملي پولیسو انکشاف سره د مرستې مسئله ده او امید لرم چې څرنګه روسیه له افغانستان سره تاریخي اړیکي لري نو په دې برخه کې دې موږ سره مرسته وکړي ځکه چې د پولیسو روزنه د اردو له روزنې په پرتله ارزانه ده، نړیواله ټولنه هم په دې فکر کوي چې د ملي اردو د روزنې سره د ملي پولیسو تقویه او روزنې ته هم انکشاف ورکړي نو امید لرم چې د روسیې کمکونه هم راجلب کړای شو.

د روسیې دکورینو چاروزارت مرستیال وویل: زه امید لرم چې د راتلونکي کال په لومړۍ ربعه کې به په همکارۍ پیل وکړو، بله مسئله چې موږ ته مهمه ده هغه د مخدره موادو قاچاق دی چې موږ د کورنیو چارو په وزارت کې د مخدره موادو پر ضد اداره لرو او د عدلیې وزارت سره ګډه همکاري لري او په تېرو نه میاشتو کې چې دا دفتر جوړ شوی د مخدره موادو د قاچاق یو غټه شبکه مو نیولې او **۳۲۴** کیلو ګرامه هېروین مو ضبط کړي دي نو موږ حاضر یوچې په ټولو ساحو کې له تاسې سره همکاري وکړو.

جلالي صیب وویل: د مخدره موادو ترافیک نه یوازې تنظیمي او ډله ییزو جګړو سره مرسته کوي بلکې د تروریزم سره هم مرسته کوي نو موږ په دې عقیده یو چې د مخدره موادو سره مبارزه په عین زمان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروریزم سره مبارزه ده. او موږ په دې هکله جدي یو خو د تنظیمې جګړو له امله په افغانستان کې د کوکنارو کرکیله زیاته شوې وه، مګر دهقانانو ته یې فایده ډېره کمه ده او زیاته ګټه یې قاچاق چیانو ته ده، دمخدره موادو پر ضد مبارزه د یو هېواد کار نه دی بلکې نړیوالې همکارۍ ته اړتیا لري ځکه د دغه توکو قاچاق له ډېرو سرحدونونه تېرېږي نووددی مسئله حل یوسیمه ییز او نړیوال میکانزم ته ضرورت لری چې د مخدره موادو قاچاق مخه ونیسو ، که دملګرو ملتونو د **UNODC** اداره دا ابتکار په لاس کې واخلي نو ښه به وي.

د روسیې د داخله وزارت مرستیال وویل: زه ستاسې د ټولو نظریاتو ملاتړ کوم، موږ دمشترک المنافع دهېوادونو ترمنځ دا ډول همکاري لرو او کیدای شي قرغیزستان او تاجکستان هم په کې شامل شي، بله مسئله د افغان مهاجرینو مسئله ده چې یو تعداد یې په روسیه کې په قانوني توګه ژوند کوي خو یو تعداد نور بیا په غېر قانوني توګه په روسیه کې اوسېږي. د روسیې د مهاجرینو د ادارې مشر وویلې چې دا مسئله هم د تروریزم او مخدره توکو د قاچاق نه کمه نه ده، ځکه چې په تېرو لسو کالونو کې تقریبا ۱۲۰۰۰۰ افغانان د روسیې له لارې اروپا ته تللي دي چې تقریبا ۲۰۰۰ یې غېر قانوني اسناد درلودل، تراوسه دولس زره افغانانو د روسیې څخه قانوني اسناد ترلاسه کړي دي، موږ کوشش کوو چې په روسیه کې ټول بهرني اتباع باید قانوني اسناد ترلاسه کړي او یا بېرته خپلو هېوادونو ته ولیږدول شي، په دې هکله موږ د ملګرو ملتونودمهاجرت ادارې سره په تماس کې یو او یوازې څلورسوه کسان تر اوسه پور ې موږ بېرته خپلو هېوادونوته استولي دي، موږ پوهیږو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان اقتصادي مشکل لري او دوی جعلي ویزې جوړوي نو باید په دې ساحه کې همکاري وشي.

جلالي صیب وویل: زموږ او ستاسې نظریات سره ډېر نږدې دي، مخکې وضعیت داسې وه چې افغانانو بهرته مهاجرت ته زړه ښه کاوه خو اوس په دې دوه کلونو کې نږدې دوه نیم میلیونه افغانان بېرته خپل هېواد ته رأستانه شوي دي او دا سلسله دوام لري او زه هیله لرم چې افغانان دنړۍ په هر ګوټ کې وي بېرته خپل وطن ته رأستانه شي، زه امید لرم چې دافغانانو غېر قانوني مشکل هم راکم شي او موږ باید په دې هکله سره همکاري وکړونو ښه به داوي چې په راتلونکې کې تاسې یو تخنیکي هیئت کابل ته را واستوئ چې په دې ټولو موضوعاتو زموږ له تخنیکي کسانو سره خبرې وکړي.

د روسیې د کورنیو چارو دوزارت مرستیال دجلالي صیب د دې وړاندیز سره موافقه وکړه، جلالي صیب یو ځل بیا یادونه وکړه که تاسې د پولیسو په تجهیزاتو کې مرسته وکړئ نو ښه به وي خو د کورنیو چارو وزارت مرستیال وویل ستاسې پیشنهادونه مې ولسمشر پوټین ته وړاندې کړي او موږ په منظمه توګه هغه ته معلومات ورکوو تر اوسه هغه موږ ته ځواب نه دی راکړی ځکه ددغه مسائلو په هکله تصمیم مشخصاً د ولسمشر پوتین پورې اړه لري.

په همدې ورځ مو د روسیې د دولتي امنیت له وزېر سره دهغه په دفترکې ولیدل، جلالي صیب نوموړي ته وویل: داچې روسیه او افغانستان تاریخي روابط لري نو اوس دزیاتې همکارۍ لپاره زمینه برابره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روسیې د دولتي امنیت وزیر وویل زه د تاسې سره هم نظره یم زموږ او ستاسې ادارې باید سره نږدې اړیکې ولري او زه هیله لرم چې دغه اړیکې لا پسې پراخې شي، موږ د افغانستان د ځینو ادارو سره یو لړ کمکونه کړي دي او امید لرم چې له نورو ادارو سره هم ورته کمکونه وکړو. موږ د ښاغلي کرزي او دهغه دکابینې دغړو څخه حمایت کوو، موږ لیواله یو چې په دې سیمه کې سوله راشي ځکه چې د تروریزم، مخدره موادو قاچاق او غېر قانوني وسلو شتون او خرڅلاو لا هم په دې سیمه او نړۍ کې غټ مشکل دی نو موږ حاضر یو چې همکاري وکړو.

جلالي صیب وویل: هغه مشکلاتو ته چې تاسې اشاره وکړه واقعا عمده مشکلات دي خو په افغانستان کې ثبات د سیمې او نړۍ په ګټه دی او ګډې همکارۍ ته ضرورت دی، موږ باید خپلې ادارې لکه ملي پولیس، ملي اردو او عدلیه تقویه کړو ترڅو موږ په شریکه په سرحدي سیمو کې همکاري وکړو، موږ دولس زره سرحدي پولیس جوړو چې اته لواوې به ولري چې د دې لواګانو نه پنځه لواوې به دافغانستان په شمال او غرب کې ځای پرځای شي، د مخدره موادو د قاچاق د مخنیوي په اړه موږ له ایران سره موافقه کړې چې په سرحد کې ۲۵ تانې جوړې کړي، که ملي پولیس په افغانستان کې تقویه شي او په افغانستان کې امنیت ښه شي نو څرګنده ده چې په سیمه او نړۍ هم خپل اغیز لري. ستاسې له مرستیال سره مې په کابل کې لیدنه درلوده، که څه هم تاسې دمقاومت پر وخت د تروریزم پر ضد کمکونه کړي دي خو اوس چې په افغانستان کې حکومت جوړ شوی باید خپلې مرستې زیاتې کړئ.

د روسیې د دولتي امنیت وزیر وویل: سږ کال د مارچ په میاشت کې د روسیې سرحدي قواوې د دولتي امنیت وزارت پورې وتړل شوې، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امنيتي شورا لرو چې په رأس کې يې زه يم او بايد دوه اړخيزه همکاري سره ولرو ځکه سرحدي مسائل موږ لپاره ډېر مهم دي او د پخواني شوروي اتحاد هېوادونه نه شي کولای خپل سرحدات په خپله وساتي، موږ په افغانستان کې سوله او امن غواړو خو موږ د تاجکستان په سرحد کې امنيتي ستونزې لرو.

جلالي صيب وويل: د تاجکستان سره په پوله يو څه پوستې شته خو د دغه سرحد کنټرول مشکل دی نو د دې لپاره زموږ د سرحدي پوليسو تقويه ضروري ده چې هم امنيت وساتي او هم کشفي فعاليتونه ولري خو د دې تر څنګ موږ کشفي هوايي ځواک او چټک غبرګون قطعې ته اړتيا لرو البته ورته مشکل موږ په جنوب او جنوب ختيځ کې هم په خپلو سرحداتو کې لرو او هلته چيچن، ازبک، عرب او د نورو هېوادونو ډلې فعاليت کوي چې د روسيې او سيمې په امنيت تاثير لري نو ښه به دا وي چې روسيه هم د سيمو په هېوادونو فشار راوړي چې د افغانستان په ثبات کې مرسته وکړي څرنګه چې تاسې د افغانستان د ملي دفاع وزارت سره يو څه کومک کړی نو د کورنيو چارو وزارت سره هم مرستې ته اړتيا شته دی.

د روسيې د ملي امنيت وزير وويل: د سرحدي همکاريو لپاره به هم يو مشترک کميسيون جوړ کړو او په هرحالت کې به موږ له تاسې سره مرسته کوو.

که څه هم په دې او نورو ورته سفرونو کې به روسيه د افغانستان د کورنيو چارو وزارت سره د مرستې وعدې کولې خو تر هغې چې جلالي صيب په کورنيو چارو وزارت کې و، روسيې هيڅ راز مرسته ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ورځ مو د روسيې د مخدره موادو د قاچاق پر ضد د کميټې له رئيس Alexander Fedorov سره وکتل او نوموړي وويل: دغه رياست په ۲۰۰۳ م کال د مارچ په مياشت کې جوړ او دجون په لومړۍ نيټه يې خپل کار پيل کړی او دغه رياست رأساً د جمهور رئيس پوټين د قوماندې لاندې کار کوي چې درې ځلوېښت زره پر سونل لري او د روسيې د فدرأسيون په ۸۱ رياستونو کې په دندو بوخت دي. ډاکټر زلمي رسول موږ ته بلنه راکړې وه چې په افغانستان کې په هغه نړيوال کنفرانس کې ګډون وکړو چې د مخدره موادو پر ضد مبارزې تر عنوان لاندې په کابل کې جوړيږي نوموړي وويل موږ غواړو تاسې سره همکاري وکړو، د ملګرو ملتونو د ارقامو پر اساس په راتلونکي کال کې به په افغانستان کې د مخدره موادو د توليد اندازه شايد ۳۲۰۰ ټنو ته لوړه شي نو په لومړي قدم کې بايد د مخدره موادو د قاچاق مخه ونيسو او په دوی م قدم کې د مخدره توکو کرکيله له منځه بايد يوړل شي، ده زياته کړه چې د روسيې، ترکمنستان، قزاقستان او تاجکستان ترمنځ ګډه همکاري شته مګر سره له دې د افغانستان مخدره مواد د روسيې له لارې اروپا ته انتقاليږي خو د دې تر څنګ موږ د روسيې د يورال په ايالت کې په مخدره توکو د روږدو کسانو لوړه شمېره لرو او په ټوله روسيه کې نږدې درې ميلونه وګړي په مخدره توکو روږدي دي چې نيمايې په هېروينو اخته دي.

جلالي صيب وويل: متاسفانه چې په افغانستان کې د مخدره موادو توليد زيات شوی چې دا اندازه ۳۴۰۰ ټنو ته رسيږي، هغه کسان چې کمې ځمکې لري ګمان کوي چې له دې لارې به ډېرې پيسې ترلاسه کړي خو ګټه په اصل کې قاچاقبران کوي نه کروندګر، ډله ييزو او تنظيمي جګړو د مخدره موادو د توليد په زياتوالي کې مرسته کړې ده او تروريستان هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورڅخه ګټه اخلي نو دمخدره موادو پر ضد مبارزه یو پیچلې او اوږد مهالې مبارزې ته اړتیا لري، په افغانستان کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې پالیسي د ملي امنیت د شورا له خوا جوړېږي خو د تنفیذ برخه یې په کورنیو چارو وزارت پورې اړه لري، د مخدره موادو له منځه وړلو لپاره د افغان پولیسو او امنیتي ادارو تقویه او اقتصادي پرمختګ ته اړتیا ده، د دې برسېره دوه اړخیزو منطقوي او نړیوالې همکارۍ ته هم ضرورت دی، د ۳۵۰۰ ټنو اپینو څخه ۳۵۰ ټنه هېروین جوړېږي او دیو کیلو ګرام اپین قیمت درې سوه ډالره دی خو د سل ګرامو هېروینو قیمت لس زره ډالرو ته رسیږي.

د روسیې دمخدره موادو رئیس وویل: موږ غواړو د مخدره توکو دقاچاق پر ضد ځو کمربندونه جوړ کړو، ځکه ځومره چې د مخدره موادو دقاچاق مخنیوی کیږي په همغه اندازه یې په کرکیلې کې هم کمښت رامنځ ته کیږي خو د دې لپاره د کدرونو تربیې او دوه اړخیزه همکارۍ ته ضرورت دی نو په دې هکله باید د همکارۍ یو سند هم امضاء کړو.

د نومبر دمیاشتې په څوارلسمه نېټه موږ په مسکو کې د پولیسو د تجهیزاتو ننداړتون ته لاړو او دوی غوښتل چې پر موږ خپلې وسلې او تجهیزات خرڅ کړي خو جلالي صیب ورته وویل چې ښه به دا وي چې خپل مشخصات او قیمتونه راولیږئ چې زموږ د مالي وزارت او تخنیکي هیئت سره په دې هکله خبرې وکړي موږ د چنې وهلو یا بارګین لپاره دلته نه یو راغلي.

د ننداړتو ن له لیدنې وروسته مو د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د لومړي مرستیال Vyacheslav Trubnikov سره په داسې حال کې ولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په افغانستان کې د روسیې پخوانی سفیر ښاغلي کابلوف چې تازه د افغانستان لپاره بیا ټاکل شوی و هم حاضر و.

د روسیې د بهرنیو چارو دوزارت لومړي مرستیال له هرکلي وروسته وویل: روسیه دافغانستان دحکومت او د اساسي قانون له مسودې نه حمایت کوي موږ په افغانستان کې ډېر ژر سوله او ثبات غواړو او موږ د افغانستان تحولات د نږدې نه تعقیبوو چې څرنګه پر مخ ځي او په افغانستان کې امنیت راوستل ضروري خبره ده،روسیه دې ته حاضره ده چې په دې هکله مرستې وکړي، موږ حاضر یو چې د ملي اردو په جوړولو کې مرسته وکړو، موږ د افغانستان سره د همکارۍ ښې تجربې لرو، موږ د اساسي قانون د لوی جرګې پایلو ته منتظر یو او غواړو چې د بن پروسه په سمه توګه عملي شي.

جلالي صیب وویل: له تاسې نه مننه چې په دې لنډ وخت کې مو له ماسره وکتل، دافغانستان وضعیت ساده نه دی افغانان له څو لسیزو جګړو وروسته غواړي اساسي قانون ولري او خپل راوبط د راتلونکي په بنیاد ټینګ کړي نه د سابقه پیښنو په بنیاد، موږ غواړو چې ټولو هېوادونو سره ګډې اړیکې ولرو او د نړیوالې ټولنې پرته موږ خپل هدف ته نه شو رسیدلی او د روسیې رول هم په دې اړیکو کې ډېر مهم دی، دوه اړخیزه او څو اړخیزه همکاریو ته ضروت دی او د دې لپاره یو روډمپ **Road Map** یعنې تګلارې ته ضرورت دی، زموږ مسائل په درې اړخونو کې روان دي اول سیاسي ثبات، دویم امنیت او دریم د بیا رغونې پروګرام، روسیه په شپږ جمع دوه (۲+۶) هیوادونو، د بن په پروسه کې او هم په نورو مسائلوکې دخیله وه، زموږ روسي دوستان په دې پوهیږي چې زموږ مسائل ډېر مغلق دي، امید لرم چې راتلونکې اساسي قانون سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونو ته شرایط برابر کړي، د ټاکنو لپاره دنوم لیکنې پروسه په راتلونکې میاشت (ډیسمبر) کې پیل کیږي ځومره چې خلک په سیاسي فعالیتونو کې برخه اخلي په همغه اندازه ثبات راتلای شي اما د سیاسي پروسې مؤفقیت په امنیت پورې تړلی دی او دواړه مستقیما پر بیا رغونه تاثیر لري زموږ ټولې اداري بیا رغونې ته ضرورت لري نو ددې لپاره دا یو مغلقه پروسه ده او حل یې هم مغلقې ستراتیژۍ ته ضرورت لري، روسیه د یو عنعنوي دوست هېواد په توګه باید په دې ټولو ساحو کې له موږ سره مرستې وکړي، په تېرو درې ورځو کې موږ ستاسې د کورنیو چارو وزارت ، دولتي ملي امنیت (FSB) او د مخدره موادو ضد ادارې مسؤلینو سره ګټورې لیدنې درلودې، په دې لیدنو کې مو په دې بحث وکړ چې څرنګه سره ګډ کار وکړو هغه ځوک چې دامنیت دنده پر غاړه لري، هغه خوب نه لري ځکه دوی د تنظیمي او ګروهي جنګونو، مخدره موادو قاچاق او سازمان یافته جنایاتو دخطر سره هره لحظه مخامخ وي، افغانستان کافي ظرفیت نه لري چې د دې ټولو چلنجونو سره مبارزه وکړي، موږ نړیوالو مرستو ته تر هغې ضرورت لرو ترڅو خپل ظرفیتونه لوړ کړو، موُثره امنیتي قواوې یوازې کولای شي چې امنیت تامین کړي نه دکمیت لوړ والی، جلالي صیب زیاته کړه: دخپلې موجوده وظیفې (د کورنیو چارو وزیر) نه برسېره زه مسؤلیت لرم چې د PRT او ISAF پراختیا او تقویې لپاره هڅه وکړم، تاسې کولای شئ هغه پروژو سره مرسته وکړئ چې تاسې دمخه په افغانستان کې عملي کړي دي، دافغانستان ثبات په سیمه او نړۍ کې له ثبات سره مرسته کولای شي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال د جلالي صیب نه وغوښتل که دروسیې آژانسونو سره مرکې وکړي ډېر به ښه وي او زما هیله د تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دا ده چې دا کار وکړئ، روسیه په افغانستان کې ثبات غواړي، مخدره مواد زموږ لپاره مشکل دی او زه چې په تېره اونۍ کې په ایران کې وم، دهغوی سره مې هم په دې هکله خبرې کړي او موږ غواړو چې دملګرو ملتونو اداره باید فعاله نقش ولوبوي.

جلالي صیب وویل: د مخدره موادو زیاتوالي موږ ټول نګرانه کړي یو ، دروسیې د کورنیو چارو وزارت او مخدره موادو پر ضد ادارې مسؤلینو سره مو په همدې خبرې وکړې، همدا رانګه دروسیې دمخدره موادو پر ضد ادارې مسؤل ومنله چې په نږدې راتلونکې کې به په کابل کې د مخدره موادو په اړه په جوړېدونکې کنفرانس کې برخه واخلي.

دنومبر په پنځلسمه نیټه دروسیې د کورنیو چارو وزارت له مسکو نه بهر د پولیسو د وسلو دښودلو او تطبیقاتو یو پرګرام جوړ کړی و چې د سختې یخنۍ سره بیا هم دلچسپه و، د پروګرام وروسته جلالي صیب هلته په یوه خبري ناسته کې خبرې وکړې او دخپل سفر پر موخو او اهدافو یې ژورنالستانو ته معلومات ورکړل. ماسپښین مهال مو د روسیې څخه بېرته افغانستان ته رأستانه شوو ، دیادلو وړه ده چې د دغه سفر په جریان کې جلالي صیب په مسکو کې له ځینو افغانانو سره هم وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړي استازي مرستیال ژان ارنو( Jean Arnault) سره کندهار ته سفر ۲۰۰۳ م کال دنومبر اولسمه نیټه :

ځنګه چې دمسکو له سفر نه کابل ته راورسیدو د ملګرو ملتونو دفتر د کورنیو چارو وزارت ته خبر ورکړ چې دکندهار ولایت وضعیت په دې ځو ورځو کې ډېر خراب شوی دی که د کورنیو چارو وزارت کندهار ته پولیس ونه لیږي نو د ملګرو ملتونو او ځینې نور خېریه اداري به په کندهار کې خپل دفترونه وتړي او دا به دا ساسي قانون دلوی جرګې او ټاکنو د ثبت نام پروسې ته صدمه ورسوي نو هماغه و چې د کورنیو چارو وزېر د ملګرو ملتونو د ځانګړې استازې د مرستیال ژان ارنو څخه وغوښتل چې دکورنیو چارو وزارت دیو لوړ پوړې پلاوي په ملتیا دې دنومبر پر اولسمه نیټه کندهار ته سفر وکړي او وضعیت دې له نږدې وڅاري او خپل وړاندیزونه دې دکورنیو چارو وزارت سره شریک کړي.

د هئیت په رأس کې جلالي صیب زه تعین کړم او ماسره بې د کورنیو چارو وزارت د تروریزم پر ضد دمبارزې رئیس پاسوال (تورن جنرال) عبدالجمیل جنبش ولیږه چې په امنیتي او سیاسي لحاظ دکندهار وضعیت ارزیابي کړو. کندهار ته له رسیدو سره سم مو د کندهار والي انجینر محمد یوسف پښتون سره وکتل او نوموړي وویل: پرون مو د امنیه قوماندان، د ملي امنیت رئیس، د قول اردو او ایتلافي ځواکونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوماندانانو سره غونډه درلوده، دوی ټول په دې عقیده دي چې طالبانو د کندهار په شا او خوا کې ځانونه منسجم کړي دي او غواړي دکندهار امنیتي وضعه خرابه کړي، تېره شپه پولیسو یو کس چې په موټر سایکل سپور و او چاودیدونکي توکي ورسره وو نیولی دی همدا شان ټول هغه موټري چې نمر پلیټ نه لري نیسي، دکندهار شورا چې د هر ې ولسوالۍ نه په کې دوه کسه دي دا اوازې یې تأید کړي دي چې طالبانو د کندهار ښارپه څنډو کې ځانونه منظم کړي دي او غواړي چې دکندهار امنیتي وضعه خرابه کړي.

په همدې ورځو کې د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان او نیمروز پنځو ولایاتونو دبیرنۍ لوی جرګې غړي په دې موخه سره راټولیدل چې په کابل کې د اساسي قانون دتصویب لپاره د جنوبي ولایتونو څخه **۵۳** غړي وټاکي، نو د دوی امنیت ساتل هم یو چلینج دی. موږ وړاندیز وکړ چې د دې غونډې او هم دملګرو ملتونو او غېر دولتي ادارو د امنیت لپاره باید د کورنیو چارو وزارت له کابله دپولیسو یو درې سوه کسیزه قطعه راوستاوي تر څو په ولایت باندې فشار کم شي او ښه به دا وي چې د کندهار پولیس او امنیتي ارګانونه خپل فعالیتونه د کندهار ښار څخه بهر زیات کړي، دکورنیو چارو وزارت سره له تفاهم وروسته موږ لا په کندهار کې ووچې درې سوه کسیزه قطعه د سمونوال لوګر شینواري په مشرۍ کندهار ته راورسیده او وظیفه ورکړل شوه چې دملګرو ملتونو دفاتر او غېر دولتي ادارو امنیت وساتي.

په همدې ورځ مو دکندهار امنیه قومندان سمونوال هاشم خان سره وکتل. نوموړي وویل: د کندهار دپولیسو استخباراتي شبکه غېر فعاله ده، امنیتي پلانونه مو جوړ کړي دي خو مخابروي وسایط، موټرې او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهمات نه لرو ، مسلکي پرسونل نه لرو چې د کندهار څخه بهر کمربندونه واچوو اوهم دا کمربندونه کنټرول او حمايه ته ضرورت لري، دکندهار لپاره تقريبا دوه زره پوليس پکار دي خو موږ يوازې اته سوه کسه لرو ، ده وويل چې د معروف، ارغستان او شورابک ولسواليو کې طالبانو بيا فعاليت پيل کړی دی پرون (۱۲ نومبر) يې په معروف ولسوالۍ کې يو قومي مشر چې د دولت طرفداري يې کوله په ډزو وويشته چې سخت ټپي شوی دی.

په همدې ماښام د ملګرو ملتونو د يوناما ميلمستون ته لاړو او سهار يعنې د نومبر پر ۱۸ مه نيټه مو ديوناما کارکوونکو ، PRT او ايتلافي قواؤ له قوماندانا نو او د امريکا سفارت استازي سره غونډه درلوده، دوی وويل چې اصلي مشکل د دغو سيمو واليانو جوړ کړی دی. البته د کندهار له والي پرته چې فساد کې ککړ نه دی، نور ټول د دې سيمې چاروا کي په بد امنۍ او دمخدره موادو په قاچاق کې لاس لري خو دکندهار والي سره محلي چارواکي همکاري نه کوي. دهلمند ولايت د څلورو کسانو په ولکه کې دی چې ټول دمخدره موادو په قاچاق کې لاس لري او په لوی لاس غواړي دهلمند وضع خرابه کړي، دوی نه غواړي چې غير دولتي ادارې او حتی د ملګرو ملتونو د ادارو په شمول هلته فعاليت وکړي دوی وويل: دارزګان والي يوازې هغو سيمو ته ځي چې دحکومت په لاس کې ده خو په حقيقت کې ارزګان دحکومت په کنټرول کې نه دی او دنړيوالې ټولنې استازي هم هلته سفر نه کوي، دلته هم محلي چارواکي د مخدره توکو په قاچاق کې ښکيل دي او له خلکو نه ټکس اخلي حتی دهلک پر سر محلي چارواکي يو بل وژني، دجنګونې لپاره يو سپی په پنځه شپږ لکه افغانۍ رانيسي، دوی وويل چې د پاکستان حکومت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کويټې په ژوب سيمه کې دطالبانو د روزنې لپاره يو کيمپ جوړ کړی اوله هغه ځايه په زابل کې فعاليت کوي، په زابل کې يوازې درې ولسوالۍ دحکومت په کنټرول کې دي او نورې ولسوالۍ د طالبانو سره دي، د زابل والي چې کرزي صيب سره خپلوي لري په خپل دفتر کې بې غمه ناست وي، هيڅ کار نه کوي، همدا علت وچې يوه نيمه مياشت د مخه ټولې نړيوالې غېر دولتي ادارو په زابل کې خپل دفترونه وتړل او ووتل.
دوی وويل: په ډنډ، دامان، ميوند او شګه په ولسواليو کې امنيت ښه دی او د بيا رغونې کارونه يو څه روان دي خو د شاه ولي کوټ، ميانشين، شوراوک،لوی کاريز، معروف او سپين بولدک کې وضع خرابه ده، دکندهار والي غواړي د بيارغونې کارونه دسرحدي ولسواليو نه پيل کړي خو کله چې حکومتي قواؤې د سيمې نه ووځي نو طالبان هلته نفوذ کوي، که څه هم خلک طالبان نه غواړي، خو خلک د محلي چارواکو نه هم ناراضه او مايوسه دي، دملګرو ملتونو د يوناما د دفتر مشر طلعت بيګ موسيداکوف(**Tolatbek Mosedykob**) چې اصلا دقرغيزستان و او په پښتو ژبه يې رواني خبرې کولې وويل: ايتلافي قواؤې هم دطالبانو پر ضد سم عمليات نه کوي او حکومت هم بايد په کار پوه او مسلکي کسان د واليانو په توګه په دندو وګماري، ده وويل: دکندهار دپوليسو مشر مريض دی، ناوخته کارته راځي او د روژه ماتي وروسته يې هم درک نه لګيږي، يو نفر هم خپل نه لري چې د امنيت به ساتنه کې ورسره مرسته وکړی، دیادونې وړ ده چې دا مهال د روژې مبارکه مياشت وه. د امنيت امر چې د بارکزو دقوم نه دی زيات نفر لري خو داسې ويل کيږي چې دطالبانو سره اړيکي لري. محلي رقابتونه خاصتا دپوپل زيو، الکوزيو او بارکزيو ترمنځ وضعيت نور هم خراب کړی دی. که څه هم جنرال اکرم او ګل اغا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېرزی د کندهار نه لرې شوي دي، خو دلته اوس هم نفوذ لري او په چارو کې لاس وهنه کوي، د استخباراتو مشر چې د شمالي سیمو څخه دی هیڅ فعالیت نه لري او اکثر پولیس په چرسو اخته دي، نو دکندهار په ولایت کې د پولیسو په لیکو کې جدي تغېراتو ته ضرورت دی.

په همدې ورځ په لسو بجو مو د کندهار د والي انجنېر یوسف پښتون سره د کندهار دولایت په مقام کې غونډه درلوده او په دې غونډه کې د کندهار چار واکو برسېره د **PRT** او ایتلافي قواؤ قوماندانان، دامریکا دسفارت استازی او دملګرو ملتونو د ځانګړي استازي مرستیال برخه درلوده. په څلورو مسائلو مو خبرې وکړې:

۱-څنګه د اساسي قانون د لوی جرګې ټاکنو ته په کندهار کې امنیت تامینولی شو؟

۲-څنګه دنړیوالو او غیر دولتي ادارو امنیت ساتلی شو؟

۳-څنګه د ټول کندهار امنیت تامین شي ؟

۴-څنګه د راتلونکې کال ټاکنو ته د نوم لیکنې دپروسې امنیت تامینولی شو؟

په کندهار کې د اساسي قانون د پروسې د دفتر مشر ډاکټر همایون وویلې چې د زابل ولایت په پنځو ولسوالیو کې امنیت نه شته او دخلکو استازي نه شي کولای چې د کندهار ښارته راشي، ځکه دغه استازي د تهدید سره مخامخ دي. هغه زیاته کړه چې د خاص ارزګان خلک دارزګان مرکز ترینکوټ ته د حکومت له وېرې نه شي راتلای او دکجران خلک هم د چار چینو د ولسوالۍ له لارې مرکز ته د طالبانو له وېرې نه شي راتلای او هم د زابل په ولایت کې ښځې د اساسي قانون په لویه جرګه کې برخه نه شي اخستلای. تقریبا ۱۵۰ پولیسو ته ضرورت دی چې په کندهار کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوې جرګې د ټاکنو د غونډې امنیت ونیسي خو په دې شرط چې بین المللي قواؤې یې نظارت وکړي. جنرال سالم وویل چې دلوي جرګې د غونډې او ټاکنو د تامین لپاره باید د بین المللي او افغاني امنیتي ارګانونو ترمنځ یو مشترکه کمیسیون جوړ شي او لازم تدابیر په شریکه ونیسي.

د امنیه قوماندان د دې پر ځای چې پر امنیتي پلان وغږېږي وویل: موجوده پولیسو چې زیاترو یې پنځه ویشت کاله د یونیفورم په مقابل کې جګړه کړې ده او اوس چې دریشي اغوندي او له یو نیفورم څخه دفاع کوي دا هم یو کامیابي ده.

د نومبر په ۱۹ مه نیټه مو سهار په جنوب غرب سیمه کې دغېر دولتي موسساتو دهماهنګۍ اداري سوابک (SWABAC) سره د کندهار د امنیتي وضع او د دوی پر فعالیتونو خبرې وکړې چې دوی هم په چټکۍ سره د امنیتي وضعیت له خرابیدو اندیښنه درلوده. له دې وروسته مو د کندهار ښاروال عبدالله پوپل سره وکتل نوموړي وویل: په کندهار کې امنیتي وضع ځکه خرابه ده چې ګل اغا شېرزی تبدیل شوی او اوس څوک له حکومت سره همکاري نه کوي او خلک په مرکزي حکومت بې اعتماده شوي دي.

په همدې ورځ مو د اساسي قانون د ټاکنو په دفتر کې ډاکټر همایون او عمر ساطي سره وکتل او ددوی نظر هم دا ووچې د هلمند، ارزګان او زابل والیان باید تبدیل شي او ورته وویل شي چې د اساسي قانون دلوی جرګې د ټاکنو په پروسه کې مداخله ونه کړي. دوی سره له کتنې وروسته د کندهار والي انجنیر یوسف پښتون مو بیا ولیده او نوموړي وویل چې هغه پولیس چې دکابل څخه دسپین بولدک د سړک جوړونې د هندي کمپنۍ د ساتنې په موخه راغلي دوی باید خپله وظیفه اشغال کړي او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دې بېرته کابل ته ستانه شي، ځکه هندي کمپنۍ وايې موږ دوی ته ضرورت نه لرو ، که په راتلونکې کې کومه پېښه رامنځ ته کیږي نو مسؤلیت به یې د دوی پر غاړه وي. کندهار والي سره له لیدنې وروسته د ملګرو ملتونو په ځانګړې الوتکه کې بېرته کابل ته را ستانه شو او خپل راپور مو د کورنیو چارو وزیر ته وړاندې کړ. د ملګرو ملتونو د سرمنشي د خاص استازي مرستیال ژان ارنو ( **Jean Arnault** )د کورنیو چارو وزیر نه خاصه مننه وکړه چې د کندهار امنیتي وضعیت د ښه کیدو لپاره یې عاجل دري سوه کسیزه د پولیسو قطعه ولیږله او د ملګرو ملتونو او غیر دولتي ادارو د دفترونو د بندیدو مخه یې ونیوله خود دې تر څنګ کندهار ته توجه په کار ده تر څو یو بې طرفه او فعاله اداره چې ټول قومونه په کې استازیتوب ولري ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پروان د PRT افتتاح او دقبايلو او سرحدونو چارو وزير عارف نورزي سره د دولت د مرستيال امين ارسلا په دفتر کې کتنه

د نومبر د مياشتې په دوه ويشتمه نيټه په بګرام کې ما د پروان PRT نوى دفتر دبګرام په سيمه کې دايتلافي قواودقوماندان سره يوځاى افتتاح کړ چې د پروان، پنجشېر، کاپيسا، کابل، لوګر او وردګو په ولايتونو کې د بيارغونونې او امنيتي ارګانونو سره به د امنيت په راوستو کې مرسته کوي.

په همدې ورځ راته د کورنيو چارو وزېر هدايت راکړ چې د انتقالي دولت مرستيال هدايت امين ارسلا په دفتر کې دقبايلو او سرحداتو وزېر عارف نورزي سره په سرحدي ولايتونو کې د ميشته قومونو په اړه مجلس دى نو ته بايد برخه په کې واخلې خو هغه پلان چې د سرحداتو وزارت غواړي ځانګړې مليشې جوړې کړي ونه منې.

کله چې د ښاغلي هدايت امين ارسلا دفتر ته لاړم نو دقبايلو وزېر عارف نورزي د پکتيا ولايت يو شمېر سپين ږېري هم رسمي مجلس ته له ځانه سره راوستل چې په اصولو کې بايد دا کار نه وى شوى، ځکه د ارسلا صيب په مشرى د دواړو وزارتونو ترمنځ مجلس و.

دکورنيو چارو وزارت موقف دا و چې له يوې خوا د غېر مسؤلو قوماندانانو بې وسلې کولو پرګرام چې د DDR په نامه يادېده پيل کړي او له بلې خوا دوى غواړي چې قومي مليشې جوړې کړي نو داسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسي نه ده، دویم داچې داخلي امنیت ساتل یوازې د کورنیو چارو وزارت دنده ده نه دبل وزارت یا ارګان چې ځانونو ته امنیتي معینیتونه جوړ کړي حتی که ملي اردو او یاهم ملي امنیت په داخل دافغانستان کې په امنیتي چارو کې ونډه اخلي نو باید د کورنیو چارو وزارت سره په همغږۍ او غوښتنه فعالیت او همکاري وکړي، دریم داچې که قومي مشران غواړي حکومت نه حمایت وکړي نو ښه داده چې خپل ځوانان د سرحدي پولیسو او یا هم دملي اردو په لیکو کې ځای پر ځای کړي خو د سرحداتو دوزیر عارف نورزي دلیل بیا دا و چې په موجوده وخت کې ملي پولیس نه شته دی او امنیت نه شي ساتلی نو د قومونو ملیشې به په امنیت کې ښه رول ولوبوي، که څه هم زموږ بحث جدي شو خو دا پیشنهاد مې د سرحداتو د وزیر سره ونه مانه او د کورنیو چارو وزیر هم تر پایه دغه پیشنهاد ونه مانه او په خپل موقف کلک ودریده او د سرحداتو وزارت او یا هم کوم بل ارګان ته یې اجازه ورنه کړه چې قومي ملیشې جوړې کړي، ځکه په نږدې تاریخ کې همدغه ملیشې ډېر کرته د مرکزي حکومتونو د ضعف لامل ګرځیدلي دي چې ښه بیلګه یې د ډاکټر نجیب الله د حکومت سقوط یادولی شو. خومتأسفانه چې دافغانستان حکومت او ایتلافي قواوپه تیرو څو کلونو کې د کمکي پولیسو، محافظوی پولیسو او محلي پولیسو په نامه پروګرامونه عملي کړل چې په ځای د دې چې په امنیت کې مرسته وکړي، په زیاتو سمو کې همدا ملیشې د بدامنی سبب ګرځیدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ترکي انجينر خوشې کيدل
## د نومبر دپرشمه نيټه ۲۰۰۳ کال :

د سيپټمبر په مياشت کې يو تن ترکي انجينر چې د کابل کندهار د سړک جوړولو په پروژه کې يې کار کاوه د زابل او غزني ولايتونوترمنځ د طالبانو له خوا وتښتول شو خو د غزني والي اسدالله خالد په هلو ځلو دغه ترکي انجينر چې حسن اونال ( Hassan Onal ) نوميده خوشې شو او د کورنيو چارو وزارت ته يې راوست چې د ترکيې سفارت ته يې تسليم کړي، کله چې دغه ترکي انجينر د کورنيو چارو د وزير دفتر ته داخل شو او دترکي سفارت استازی يې وليدل نو په ژړا شو او جلالي صيب ته يې غيږه ورکړه، يوه عجيبه غوندې صحنه وه چې زموږ د ټولو احساسات يې هم را وپارول او د ټولو دسترګو نه اوښکې توی شوې، دغه ترکي انجينر وويلې چې ده واقعا خپل مرګ په سترګو ليدلی او هيڅ تصور نه کوي چې دی خوشې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دهرات د PRT افتتاح

## د ډیسمبر لومړۍ نیټه۲۰۰۳م کال :

د هرات والي اسمعیل خان سره د زیاتو لانجو او مذاکراتو نه وروسته باالاخره د هرات په ولایت کې د PRT جوړیدل، د ډیسمبردمیاشتې په لومړۍ نیټه افتتاح شو. دهرات PRT افتتاح لپاره له کابل څخه دکورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي، دامریکاسفیر زلمې خلیل زاد، د ایتلافي ځواکونو قوماندان جنرال ډیویډ بارنو ( Gen. David Barno )، د عامې روغتیا وزیره ډاکټر سهیلا صدیق، دپلان وزارت مرستیال علي اصغر پیمان او زه هرات ته لاړو. د هرات په هوایي ډګر کې دهرات والي محمد اسمعیل خان، د فراه والي عبدالحی نعمتي، د بادغیس والي ګل محمد عارفي او په غربي سیمه کې د امریکایې قواؤ قوماندان جنرال استن ( Gen Austin ) د هرکلي لپاره ولاړ وو چې دهوایي ډګرنه راساً د PRTمرکز ته لاړوو او دهرات PRT یې افتتاح کړه. د امریکا سفیر په خپلو خبرو کې وویل چې په څوارلسمه او پنځلسمه صدۍ کې هرات د یورپ د فلورانس د ښار سره مقابله کوله او دا سیمه د دنیا دغلې ګدام و، علي شیر نوایي وایي: په هرات کې چې کله پښه غځوې نو پښه به دې په یو شاعر لږېږي خو دشلم قرن په اخره کې د روسانو د اشغال، تروریزم او داسې نورو عواملو په اساس په دې سیمه کې دتورتم سیورې خپور شو او امید دی چې هرات بېرته خپل تاریخي اهمیت په سیمه کې اعاده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په جلال اباد کې د اساسي قانون د لويې جرګې د غړيتوب لپاره د مشرقي د څلورو ولايتونو ټاکنې د ډيسمبر د مياشتې ۱- ۵ نيټې پورې

څنګه چې له هرات څخه رأستانه شولو زه جلال اباد ته د مشرقي د څلورو ولايتونو د استازو ترمنځ د اساسي قانون دلوی جرګې دغړيتوب په ټاکنو کې دبرخه اخستلواو نظارت لپاره لاړم، څرنګه چې زه د خاص کنړ د ولسوالۍ څخه د بيړنۍ لوی جرګې منتخب غړی وم، دغه ټاکنې هم دهغو دوه زره او څلورسوو کسانو ترمنځ کيدله څوک چې دمشرقي څخه دبيړنۍ لوی جرګې ته په لومړي مرحله کې تعين شوي وو.

د ډيسمبر په لومړۍ نيټه دجلال اباد په قبايلو رياست کې لومړۍ ټاکنې د لغمان ولايت د استازو ترمنځ وشوې چې دا لاندې کسان د اساسي قانون د لوې جرګې لپاره درايو په اساس انتخاب شول.

| شمېره | نوم | ولسوالي |
|---|---|---|
| ۱ | الحاج سيد موسی | قرغه يې |
| ۲ | الحاج مکرم خان | قرغه يې |
| ۳ | معلم اسدالله | عليشنګ |
| ۴ | قاضي جبار | عليشنګ |
| ۵ | انجينير محمد اکرام | دولت شاه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۶ | انجنیر قرار | علینګار |
| ۷ | ډاکټرعبدالله لغمانی | مرکز (مهترلام) |

د دیسمبر په دریمه نیټه د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون د پریکړې پر اساس چې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي یې مشري کوله انجنیر قرار یې له لست نه وویست ځکه د روژې په میاشت کې د ده د نفرو له خوا په یو برخورد کې دوه کسه وژل شوي وو او په عوض کې یې مولوي قیام الدین کشاف چې په نوموړي پسې یې زیاتې رای وړې وې د اساسي قانون د لوی جرګې د غړي په توګه وټاکل شو.

د ډیسمبر په دویمه نیټه د نورستان د استازو تر منځ ټاکنې ترسره شوې او دا لاندې کسان د اساسي قانون د جرګې د غړیتوب لپاره انتخاب شول:

| شمیره | نوم | ولسوالي |
|---|---|---|
| ۱ | محمد تمیم نورستاني | برګمټال |
| ۲ | مولوي عبدالمنان | کامدیش |
| ۳ | وکیل غلام سخي | ننګراج |
| ۴ | امیر حمزه | دواب |
| ۵ | محمد مالک | ویګل |

د ډیسمبر په دریمه نیټه د کنړ ولایت ۵۰۲ استازو د ټاکنو په نتیجه کې دا لاندې اته کسان انتخاب شول :

| شمیره | نوم | ولسوالي | د رای |
|---|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | مولوي شهزاده شاهد | څوکۍ | ۹۳ |
| ۲ | قاضي عبدالستار | ناړۍ | ۳۸ |
| ۳ | حاجي منګل | وټه پور | ۳۷ |
| ۴ | مولوی محمد اسلم | نورګل | ۳۴ |
| ۵ | سید احمد خان | مروره | ۲۸ |
| ۶ | استاد محمد رحیم | خاص کنړ | ۲۸ |
| ۷ | حاجي امانت خان | سرکانو | ۲۲ |
| ۸ | جان سردار | اسمار | ۲۲ |

مخکې له دې چې دکنړ د **۵۰۲** استازي په خپلو منځو کې پورته اته کسه تعین کړي ما دخپلې ولسوالي منتخبو استازو ته وویل زه له تاسې ډېره مننه کوم چې دبیړنۍ لوی جرګې په وخت کې مو زه د ټولو په اتفاق سره خپل استازی تعین کړم نو داځلې زه او یا زما له کورنۍ څخه هیڅوک کاندید نه دی نو ښه به دا وي چې تاسې یو کس ټول په اتفاق په خپلو مینځو کې تعین کړئ تر څو د ولایت په سطحه په ټاکنو کې یې د ګټلو چانس زیات شي که څه هم په دې وخت کې زما ورور سلطان محمود میاخیل غوښته چې ځان کاندید کړي خو زما د اصرار په اساس د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانديتوب نه تېر شو ، ما دوی ته وويلې چې پښتنو کې متل دی چې وايي ( ژرنده که دپلار ده هم په وار ده ) دا چې زه او زما کورنۍ نه څوک نه دی کانديد نوځکه په زغرده خبرې کولای شم نو لوی جرګې ته بايد ډېر پوه کسان تعين کړئ، که څه هم دلوی جرګې ورځې کمې دي خو په دې بايد پوه شو چې دغه جرګه اساسي قانون تصويبوي او اساسي قانون زموږ دټولو په ژوند مثبت او منفي اغيز درلودی شي. داخبرې مو د کنړ ټولو استازيو ته هم په عمومي غونډه وکړې.
دخاص کنړ ولسوالۍ نه په اخره کې مولوي مطيع الله د چندراو د کلي نه ډګروال محمد الله خان د شامکار د کلي نه او استاد محمد رحيم خان د برې اراضۍ د کلي نه کانديد پاتې شول. دوی يو بل ته نه تېريدل خو ما د دې درې واړو کانديدانو څخه هيله وکړه چې تاسې بېرون ته ووځئ موږ دخاص کنړ نماينده ګان په خپلو منځو کې به مشوره وکړو او موږ چې هره پريکړه وکړه هغه به تاسې منئ. موږ داسې فيصله وکړه مخکې له دې چې د ولايت په کچه په ټاکنو کې برخه واخلو ښه به دا وي چې په خپلو منځو کې رائ ګېري وکړو او هر کس چې د دې درې کانديدانو څخه زياته رايه واخسته هغه به زموږ د ولسوالۍ څخه په شريکه کانديد وي.
کله چې رای ګېري وشوه استاد محمد رحيم خان پنځلس رائ، مولوی مطيع الله يولس رائ او ډګروال محمد الله خان اته رائ اخستې وې نو په دې اساس مولوي مطيع الله او ډګروال محمد الله خان دخپل کانديتوب څخه تېر شول.
زما دخبرو او د خاص کنړ د ولسوالۍ د فيصله نه وروسته د کنړ ولايت ۱۵۱ کانديدانو نه يوازې څلور ويشت کانديدان د مقابلې لپاره ودريدل چې مخکې ذکر شوی اته کس دزياتو رايو داخستنې پر اساس انتخاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول. د دې خبرې یادونه ضروري ګڼم چې دخاص کنړ ولسوالۍ د ۴۳ استازونه یوازې ۳۴ کسانو په ټاکنو کې برخه اخستې وه چې په دې کې شپږو کسو د خاص کنړ د ولسوالۍ کاندید استاد محمد رحیم خان ته رایه نه وه ورکړې ځکه محمد رحیم خان ټولې ۲۸ رای ګټلې وې.

د ډیسمبر په پنځمه نیټه د ننګرهار ولایت د استازو ترمنځ ټاکنې ترسره شولې چې دا لاندې ۲۳کسه د اساسي قانون لوی جرګې لپاره انتخاب شول:

| شمېره | نوم | درایو شمېر | ولسوالي | سیاسي اړیکې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مېرویس یاسني | ۷۱ | کامه | ملي محاذ |
| ۲ | حاجي روح الله | ۳۸ | رودات | دخالص اسلامي حزب |
| ۳ | حاجي شهزاده | ۳۱ | کامه | اسلامي جمعیت |
| ۴ | ملک قیس (نوراغا حاجی) | ۳۳ | ښیوه | |
| ۵ | عبدالله دعبدالرحمن زوی | ۴۱ | حصارک | |
| ۶ | حاجي داود ارسلایی | ۳۵ | سره رود | دخالص اسلامې حزب |
| ۷ | انجینرمحمد غوث | ۳۶ | دره نور | دخالص اسلامې حزب |
| ۸ | حاجی شاه پور | ۳۳ | کوټ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | معلم گل محمد | ۲۸ | شېرزاد | افغان ملت |
| ۱۰ | ضابط محمد ظاهر | ۲۸ | شېرزاد | ملی اسلامې محاذ |
| ۱۱ | سوچه گل | ۳۳ | دور بابا | دخالص اسلامې حزب |
| ۱۲ | سید عبدالغفار پاچا | ۳۷ | خوگیانې | اسلامې جمعیت |
| ۱۳ | انجنېر عبدالغنی | ۳۸ | دره نور | |
| ۱۴ | فریدون مومند | ۳۳ | گوشته | |
| ۱۵ | حاجی محمد داود | ۴۰ | حصارک | دخالص اسلامې حزب |
| ۱۲ | سید جمال پاچا | ۲۲ | بهسود | دحکمتیار اسلامې حزب |
| ۱۷ | ملک نظېر | ۳۹ | اگام | دخالص اسلامې حزب |
| ۱۸ | امان الله | ۴۴ | چپرهار | دخالص اسلامې حزب |
| ۱۹ | همایون شینواری | ۲۸ | اچین | دملی جبهه نجات |
| ۲۰ | انجنېر عبدالغفار | ۴۵ | بهسود | دحکمتیار اسلامې حزب |
| ۲۱ | روح الامین | | گوشته | افغان ملت |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | حاجی سید عزیز | | کامه | دحکمتیار اسلامې حزب |
| ۲۳ | حاجي امان خبري | | خوګیانې | ملي اسلامي محاذ |
| ۲۴ | صفیه صدیقی | | سره رود | |

د اساسي قانون د لوی جرګې د امنیت د ساتلو او برګزاري په اړوند د دولت رئیس حامد کرزي د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او د کورنیو چارو وزارت هغه ۸ کسیزه ګروپ ته چې زه په کې هم شامل وم چې دلویه جرګه د امنیتي پلان ثارنه یې کوله د خدمت مدال د ۲۰۰۴ زکال دجنوري په دولسمه نېټه ورکړ ل شو چې ددغه مډال پیشنهاد د لوی جرګې د کمیسیون د مشرتابه له خوا شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډیسمبر اومه نیټه ۲۰۰۳ کال
# د جرمني په سفارت کې د مرستندویه هیوادونو ترمنځ د پولیسو دهمکارۍ غونډه

دکورنیو چارو وزارت د مشرتابه ستونزه همدا وه چې څنګه د نړیوال او په خاصه توګه د امریکا متحده ایالات په دې قانع کړي چې د پولیسو سره باید عاجلې مرستې وکړي ځکه چې پولیس د حکومت لومړنۍ څېره او د تروریزم پر ضد د جنګ په لومړي صف کې ولاړ دي، په دې وخت کې د امریکا متحده ایالات یوازې دې ته حاضر وو چې د پولیسو سره یوازې د روزنې په برخه کې مرستې وکړي او د تجهیزاتو په برخه کې باید یو بل هېواد دا بار اوچت کړي، دترکیې هېواد د مخابروي تجهیزاتو وعده کړې وه خو تر اوسه یې څه درک نه لړېده، همدا شان ایټالیا وعده کړې وه چې دپولیسو د یونیفور م په برخه کې به مرسته کوي خو دامریکا دمتحده ایالاتو دمرستو نه پرته نور د ټولو هیوادونو مرستې ډېرې کمې او ناچیزې وې، نو ځکه خو دغه غونډه هم ډېره موثره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ترافيکي پيښه کې
## زما ورور سيد معصوم وژل کيدل
## د ډيسمبر نهمه نيټه ۲۰۰۳م کال

په خپله خونه کې ويده وم چې سهار وختي زما ياور سمونيار امرالله زماد خونې دروازه وټکوله چې زما ورور سيد معصوم په ترافيکي پيښه کې دتخار ولايت د خوست او فرنګ په سيمه کې وژل شوی او جنازه يې کابل ته راوړې ده. که څه هم دوه ورځې دمخه ما په اوپراتيفي راپور کې لوستي و چې يو موټر د خوست اوفرنګ په سيمه کې د ګړنګ نه غورځيدلی او دولس کسه سورلۍ ټولې په کې مړې شوې دي خو په دې نه وم خبر چې زما ورور هم په دغه موټر کې دی، داچې په دغه وخت کې د مبايل ټيلفون سيستم په ټول افغانستان کې فعال نه و، نو زما ماما ګان چې کله خبر شوي و، هغوی يې جنازه کابل ته انتقال کړې وه، زما د ورور د وژل کيدو خبره زما د پلار لپاره ډېره سخته وه ځکه چې دا يې دريم زوی و چې په ځوانۍ کې يې له لاسه ورکړ، له دې وروسته مونږ جنازه د ګنې شمېر دوستانو په موجودتيا کې دخاص کنړ ولسوالۍ ته انتقال کړه.

زما نورو ورونو او دوستانو زما د ورور د مرګ حادثه زما د پلار څخه پټه ساتلې وه خو هغه په دې پوه شوی و چې څه خبره شته او داسې ګمان يې کاوه چې ګوندې زه وژل شوی يم ځکه دخاص کنړ ولسوال او ځينې سپين ږيري زمونږ کورته راغلي وو، پلار مې وروسته راته وويلې چې هر زوی ځانته بيل ځای لري خو ما دا فکر کاوه چې ته وژل شوی يې او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو مره به چې خلکو تسل راکاوه خو زما تشویش تر هغه وخته پورې وه چې زه خپل کلي منګوال ته دجنازې سره ورسیدم، جنازه مو د چهارشنبې په ورځ په خپله پلارنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارله او د جمعې په ورځ بېرته کابل ته ستانه شولو او د ډیسمبر په څوارلسمه نیټه مو د کابل د وزیر محمد اکبرخان په جامع جومات کې عمومي فاتحه واخستله، ټولو هغه دوستانو ته چې مورې سره یې په جنازه اوفاتحه کې برخه واخسته د لوی خدای جل جلاله څخه ورته اجرعظیم غواړم او زما دورور روح دې ښاد وي. دیادونې وړده چې زما یو ورور سردامحمود په ۱۹۹۰ م کال کې په پېښور کې د نامعلومو کسانو له شهید کړې شو او بل ورور مې امیر محمودپه ۱۹۸۷ م کال کې په پېښورکې زما د ماما د زوی اجمل ختک سره یو ځای لادرکه شول چې ترنن پورې لا درکه دی. د دوی د لادرکې قصه ما په خپل مخکنې کتاب کې چې د واقعیتونو په بهیر کې نو میږی لیکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د استاد کريم خليلي تر مشرۍ لاندې د بې وسلې کولو د کميسيون غونډه

## جنوري دوه ويشتمه ۲۰۰۴ م کال

نن د صدارت په ماڼۍ کې د DDR يا بې وسلې کولو د کميسيون د مشر او د دولت دمرستيال استاد کريم خليلي تر مشرۍ لاندې د بيلابيلو وزارتونو او دمرستندويه هېوادونو د استازو سره غونډه درلوده. ستر جنرال عبدالرحيم وردګ دملي دفاع وزارت لومړي مرستيال وويل چې د بې وسلې کيدو پروسه ته لا تر اوسه توجه نه ده شوې او داچې ټاکنې راتلونکي دي بايد د ټاکنو د مخه د اپروسه تکميل شي او دا لاندې کارونه بايد ترسره شي:

۱.مستقيما بايد قوماندانانو سره خبرې وشي چې خپلې وسلې مرکزي حکومت ته وسپاري او له دې وروسته دوی يا په نورو ادارو کې جذب شي او يا اعزازي رتبې ورکړل شي.

۲.په اوله مرحله کې دوی بايد ثقيلې وسلې مرکزي حکومت ته تسليم کړي ځکه اوس دوی او هم حکومت يو قسم وسلې لري حتی ځينې د دوی نه له حکومته څخه هم بهترې وسلې لري دا توازن بايد تغېر ومومي.

۳.هغه سيمې چې لومړی وسلې تسليموي هغو سيمو سره بايد اقتصادي مرستې وشي، څو يو تشويقي جنبه اختيار کړي، په دې هکله بايد دولتي او بين المللي اداري خپل فعاليتونه سره همغږي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴.دجمهوري رياست ټاکنو پورې سل په سلو کې بايد وسلې راټولې شي او د DDR پروسه بايد حکومت رهبري کړي ځکه تر اوسه په دې برخه کې بهرنيان تصميم نيسي.

د جاپان سفير چې هېواد يې د DDR په پروسه کې مخکښه رول لوباوه وويل چې دDDR پروسه پنځه مياشتې دمخه پيل شوې ده خو اسانه کار نه و او اوس بايد په نوي شکل عملي شي او د DDR پروسې ابتکار بايد حکومت په لاس کې واخلي او په لومړۍ مرحله کې ټول پخواني قطعات بايد منحل اعلان شي چې د دوی منحل کيدل به د ټاکنو سره هم کومک وکړي. د پوهنې وزارت مرستيال ښاغلي حسيني وويل چې موږ يو کس استازی په دې کميسيون کې لرو او هغه اشخاص چې د معلمۍ شرايط پوره کولای شي موږ حاضر يو چې هغوی د معلمينو په توګه استخدام کړو ځکه چې موږ ۳۵۱۰۴تنه معلمين په ولاياتونو کې کمبود لرو او حتی موږ په سږکال بودجه کې هغه معلمينو ته چې اطرافو ته ځي يو څه اضافي امتيازات هم په نظر کې نيولي دي. د کار او اجتماعي امورو وزارت استازي وويل چې دوی هم درې سوه کسانو ته ضرورت لري چې په مختلفو ريشتو کې وروزي. دکليو پراختياوزارت استازي وويل چې موږ په ۹۰ ولسواليو کې د ملي پيستون پروګرام پيل کړی او موږ کولای شو چې يو زيات شمېر کسان په دولتي، بين المللي او خوصوصي سکتور کې جذب کړو او په دې هکله مو دوه پروپوزلې يا طرحې د DDR کميسيون مرستيال محمد معصوم ستانکزي ته ورکړې دي.

په اخر کې استاد خليلي وويل چې موږ ټول په دې موافق يو چې دولت بايد د دې نوي پروګرام رهبري په خپل لاس کې واخلي او اوس د دولت په سطحه يوه هماهنګي رامنځ ته شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د DDR په هکله ډېر زيات تبليغات وشول زياتې پيسې مصرف شوې خو دی پروسې يوازې سياسي شکل درلوده او د دې پروسې له لارې يوازې د پنځوس زره په شا اوخوا کې وړې وسلې راټولې شوې خو په افغانستان کې په ميلينونو سپکې او درنې وسلې موجودې دي چې اوس هم شته. د DDRپروسې ته زياتره قوماندانانو داسې زړې وسلې ورکړې دي چې نه ورڅخه ملي اردو او نه هم ملي پوليس استفاده کولای شي ، حکومت د يو زاړه او بې استفادې کلاشينکوف په مقابل کې ۱۵۰ ډالره ورکولې او که نور مصارف پرې ورواچول شي نو ديو کلاشينکوف مصارف تقريبا ۳۰۰ ډالرو ته رسيدل، حال داچې يو کلاشينکوف په هغه وخت کې په بازار کې سل ډالر قيمت درلوده او حتی داسې ويل کيده چې بعضې قوماندنانو به د زړو کلاشينکوفونو په عوض بيا نوي کلاشينکوفونه چې له منځنۍ اسيا نه قاچاق کيدل پېرودل او بيا به دغه کلاشينکوفونه قاچاقبرانو د منځنۍ اسيا څخه د هيواد شمال او جنوب ته قاچاق کول او همدغو قاچاقبرانو به د مخدره موادو قاچاقبري هم کوله او د تروريستي ډلو سره يې هم اړيکي درلودې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ښاغلی علي احمد جلالي د قطر حکومت له استازیو او کنفرانس ګډونوالو سره (دوحه قطر)



ښاغلی علی احمد جلالی او ورسره پلاوی د ایتالیا دبهرنیو چارو وزارت دمرستیالی سره کتنه (دوحه قطر)



دقطر شيخ حسن له خوا په جوړه شوې ميلمستيا کې ښاغلی علي احمد جلالي او ورسره پلاوی



دکينړ خوا څخه په قطر کې دافغانستان سفير ، ډګر جنرال هلال الدين هلال ، علي احمد جلالي ، شيخ حسن ، شاه محمود مياخيل، ډګر جنرال عبدالجميل جنبش او ډګر جنرال صبغت الله صايق (دوحه قطر)

(c) ketabton.com: The Digital Library







شاه محمود میاخیل او ترڅنګ يې د کابل والي ښاغلی سید حسین انوري او قومي مشران دکابل د استالف ولسوالۍ د تعمیر د بنسټ د ډبرې د ایښودلو په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





باميانو کې د نوي والي اغلی حبيبه سرابي معرفي کول (باميان)



شاه محمود مياخيل په باميانوکی د قومي مشرانواو د کورنيو چارو وزارت د منسوبينو په منځ کې (باميان)

(c) ketabton.com: The Digital Library





دباميانو د نوي والي اغلی حبيبه سرابي معرفي کولو مراسم (باميان)



شاه محمومد مياخيل د باميان ولايت د چاروا کو سره د بودا مجسمو دکتلو پرمهال(باميان)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ۲۰۰۴ کال د جمهوري رياست ټاکنې د ټاکنو د يوې حوزې څخه کتنه، شاه محمود مياخيل او د مکرويانو د سيمې د پوليسو مشر سمونوال ګلا جان (کابل)



د شاه شهيد په سيمه کې د ټاکنو له حوزې څخه کتنه (کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library





په صدارت کې له رای اچونې وروسته شاه محمود میاخیل له خبریالانو سره خبرې کوي



دکارته نو په سیمه کې شاه محمود میاخیل د ټاکنیزې حوزې څخه د کتنې  پرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library







شاه محمود میاخیل او د کابل والي ښاغلی سید حسین انوري د کابل
د سروبي ولسوالۍ د بنسټ ډبره ږدي. په انځور کې عبدالمالک صدیقي هم تر سترګو
کیږي (سروبي ولسوالي کابل)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل د کلکانو ولسوالۍ دنوې ودانۍ دبنسټ ایښودنې مراسم شاه محمود میاخیل د کابل والي انوري اونور قومي او دولتي مشرانوسره (کابل کلکان)



دپولیسو دفراغت او شهادتنامو دویشلو مراسم د ښې خوانه ډگر جنرال نورالله ځل ، ډگرجنرال شیرآغا روحانی، امنیتی معین ښاغلی ضرار احمد مقبل ،شاه محمود میاخیل ،ډگر جنرال سید محمد خان ، تورن جنرال سید کمال سادات او ډگر جنرال صبغت الله صایق

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لوګر ولایت د سرخ اباد ولسوالۍ د لومړني ښوونځي څخه کتنه دغه ښوونځی چې یوې امریکایې ښځې له خوا چې په عکس کې ښکاري رغول شوی دنومورې ښځې زوی د ۱۱ سپتمبر په پیښه کې وژل شوی اوس دغه ښځه هم مړه ده په عکس کې د لوګر دمعارف ریس غروال ، او انجنیر محمد اشرف پوپل هم لیدل کیږي



شاه محمود میاخیل او د لوګر والي محمد امان حمیمي د قومي مشرانو سره د روغبړ پر مهال (لوګر)

(c) ketabton.com: The Digital Library





دبلخ ولایت دشولګرې ولسوالۍ د صحي کلینک د منسوبینو څخه کتنه



د پکتیا ولایت له قومي مشرانو سره کتنه ، په عکس کې دمخابراتو وزیر محمد معصوم ستانکزی او دکورنیو چارو وزارت سلاکار معین مرستیال هم لیدل کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library







کنړ نوي والي اسدالله وفا ته دکنړ د خلکو هرکلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امانې کوي



شاه محمود مياخيل د پوليسو د اکاډمۍ د قوماندان ډگر جنرال محمد موسی نعيمی سره ( د کورنيو چارو وزارت )



د کيڼې خوا نه جنرال محمد شفيق فضلي ، جنرال نعيمی ،شاه محمود مياخيل، جنرال مطيع الله او جنرال محمد حبيب ناصري ( د کورنيو چارو وزارت )

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کورنيو چارو وزارت د پيژنتون د اسنادو د کمپيوتري کولو مراسم : دکيڼ خوانه شاه محمود مياخيل ، جنرال شيراغا روحاني ،انجنير محمد حسيب لطيفي ، جنرال سيد محمد خان او جنرال محمد ناصر هاشمي



د کورنيو چارو وزارت د پيژنتون داسنادو د کمپيوتري کولو نه کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library





بغلان ته د نوي والي جمعه خان همدرد د معرفي کولو لپاره تلې او په سالنګونو کې د زیاتو واورو وریدو له امله ودریدل



شاه محمود میاخیل د کورنیو چارو وزارت رئیسانو او قوماندانو سره (ارګ ماڼۍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library






افغاني پلاوی د بلجیم د بروکسل په ښار کې



شاه محمود میاخیل د کنړ ولایت د امنیه قوماندان جنرال مطیع الله خان ساپي او د کورنیو چارو
وزارت د قرارگاه د قوماندان سمونوال عبدالوحید سره ( د کورنیو چارو وزارت )

(c) ketabton.com: The Digital Library





شاه محمود مياخيل د کنړ نوي والي اسدالله وفا د معرفي کيدولو په مراسمو کې د کنړ خلکو ته وينا پر مهال



دخاص کنړ د ولسوالۍ د قومي مشرانو سره ليدنه (د کورنيو چارو وزارت)

(c) ketabton.com: The Digital Library






د پکتیا ولایت څخه کتنه په عکس کې له کیڼې خوا څخه ښاغلي هر یو شریفي ، شاه محمود میاخیل ،محمد معصوم ستانکزی ، محمد احسان ضیا او معین مرسیتال (دګردیز هوایي ډګر)



دپکتیا والي اسدالله وفا سره کتنه:د کینې خوانه امنیه قوماندان جنرال حی ګل سلیمانخیل،ښاغلی هریوفضل احمد عظیمي ،شاه محمود میاخیل، اسدالله وفا او محمد معصوم ستانکزی (ګردیز ښار)

(c) ketabton.com: The Digital Library





دجمهوری ریاست د ټولټاکنو په مهال شاه محمود میاخیل د کورینو چارو وزارت ویاند
لطف الله مشعل اوجنرال عبدالمنان فراهی د استقلال لیسه په حوزه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پکتیا ولایت مشرانو سره د کورنیو چارو د وزیر کتنه
## مارچ څوارلسمه نیټه ۲۰۰۴ م کال

د پکتیا ولایت یو شمېر مشران د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي سره د لیدنې په موخه کابل ته راغلي وو چې دخپلو سیمو ستونزې د کورنیو چارو د وزیر سره شریکې کړي. دوی هیله درلوده چې د کورنیو چارو وزارت ورسره په دې برخه کې لازمه همکاري وکړي، د د غه مشرانو له ډلې څخه یو هم عبدالحکیم منیب چې دطالبانو په وخت کې د مخابراتو د وزارت مرستیال و وویل چې د پښتنو په سیمو کې درې قوتونه دي، دولت، ایتلافي ځواکونه او ترهګر او موږ د دې درې واړو څخه په عذاب یو، ترووریزم (القاعده ) دفتر نه لري چې عریضه ورته وکړو تر څو موږ ته ضرر ونه رسوي او تر اوسه ترې په عذاب یو، دولتي مامورین موږ په عذابوی رشوت رانه غواړي او نور مشکلات راته پیدا کوي، د ایتلافي قواؤ سره هم په مشکل کې یو زموږ نفر بې ځایه نیسي. ده وویل چې څوک د حکومت سره جنګیږي او مجرم وي موږ یې هم مخالف یو او په شریکه باید مبارزه ورسره وکړو خو یوازې د زرمت په سیمه کې دوه سوه کوره په یوه وخت کې تالاشي شول او هیڅوک یې هم ونه نیوه خو بې عزتي یې وکړه او دوی په اخره کې راته یوازې **sorry** یعنې بښنه غواړم وواېې او لاړ شي. ښاغلي منیب زیاته کړه چې د حاجي سپین ورور چې بر ات نومیده، هندوستان ته د تداوی لپاره تللی و کله چې له هندوستان څخه بېرته راغی نو امریکایانو ونیوه او د۱۳۸۲ هـ ش کال د جدي د اتمې نیټې نه تراوسه پوري نادرکه دی، د لوګر ولایت اداري رئیس د حاجي محمد ولي موټر وړی او اوس د موټر مصارف هم د ده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي، همدا شان د دوی په سیمه کې دامنیتي پوستې قوماندان خلک راغواړي او وايي چې د ځمکو اسناد مو راوړئ او که نه ځمکې درنه ضبطوو او د خلکو نه پیسې غواړي حال دا چې په پکتیا کې اکثریت خلک د ځمکو اسناد نه لري،حال داچې ددغه سیمې امنیه قوماندان هم دامریکایانو سره ارتباط لري او هم دطالبانو سره، زما کورېې تالاشي کړ او دلته په کابل کې زما په جایداد دعوه لري.یو بل تن وویلې چې زما ورور تورن محمد امان چې پخوا یې دحزب اسلامي سره جهاد کړی و ، نه میاشتې وړاندې امریکایانو نیولی او تر اوسه پورې بندي دی په داسې حال کې چې دپکتیا په قول اردو کې برحاله مدېر د پېژند و ، دقول اردو قوماندان او والي هم د دې تصدیق کوي خو څوک یې نه خوشې کوي، دې مشرانو وویل چې بله مسئله د پاچا خان ځدران ده که دا حل شي نو په پکتیا کې به دا نیول او کمشکش راکم شي، همدا شان اکثریت قوماندانانو بیا د پخوا په شان پاټکونه اچولي او خلک څوروي. د وزېرو یو تن مشر حاجي ګل محمد وویلې چې د وزېرستان، احمدزیو او اتمانزیو ټول مشران موږ دلته په اتفاق راغلي یو او د انګورو په اډه کې باید ولسوالۍ جوړه شي ځکه موږ د دشمن په دروازه کې یو او دا زموږ عرض دی چې تاسې ته مو ورساوو او خپل راتلونکي نسل ته به زموږ غاړه ازاده وي چې موږ د دوی عرض ترتاسې رارسولی دی.

همداشان د ګومل دخروټو د قوم یو تن مشر د محمد حسن په نامه وویل چې تاسې باید له موږ سره یو هیئت ولیږئ چې له نږدې نه سیمه وګوري او دا دوه کاله کیږي چې د سرحدي لوا په نامه تشکیل شته دی، معاشونه اخستل شوي دي خو هلته په سیمه کې نه نفره هم نه لري، دې مشرانو دا هم غوښتل چې په خپلو سیمو کې قومي ملیشې جوړې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د کورنیو چارو وزارت د دوی دې غوښتنې سره موافق نه و، جلالي صیب دوی ته وویل چې ما د پکتیا والي راغوښتی او ډېر ژر به د پاچاخان مسئله حل شي ستاسې نورې ټولې خبرې سمې دي او دهر مشکل لپاره حل لارې چارې لټوو.

په همدې ورځ د غزني یو شمېر مشران د حضرت ابوبکر په مشرۍ چې دوه اونۍ دمخه د کلیفورنیا نه راغلی و د کورنیو چارو د وزېر سره د کتنې لپاره راغلل او دا غوښتنه یې کوله چې ټول مجاهدین او عام طالبان چې بندیان دي باید خلاص شي ځکه دوی جهاد کړی او مجاهدین دي، د جهاد په دور کې یوازې د غزني د اسفنده کلي کې یو کور چې څلور ویشت کسه په کې شهیدان شوي اوس دغه کلی د شهید خیلو په نامه یادېږي، ده وویل چې پښتانه د سرکونو له سره نیول کیږي او بندیان کیږي حضرت ابوبکر خپله ملکي پخوله او غوښتل یې چې په دې توګه دځان پسې یوه ډله جوړه کړي.

په همدې ورځ د هزاره جاتو دایکندي یو شمېر مشران د سلیمان یاري په مشرۍ د کورنیو چارو دوزېر سره د کتنې لپاره راغلل او ددوی غوښتنه داوه چې د رئیس جمهور له خوا د هزاره جاتو په سیمه کې د څلورو نورو ولایتونو او **۵۲** ولسوالیو دجوړیدو امر موجود دی اما اجرات پرې نه دي شوي، دوی وویل چې ترڅو د احزابو نمایندګان زموږ په سیمو کې حاکمان وي هلته د خدمت هیله نه شته دی نو دوی باید تبدیل او هم بې وسلې شي ځکه چې د دوی دلاسه دشهرستان، ورس او پنجاب زیات ولس مهاجرت ته مجبوره شوی دی، د دوی ادعا دا وه چې محلي چارواکي د مخدره موادو په قاچاق کې لاس لري او دبیا رغونې د کارونو نه کمشن اخلي. د ایت الله بهشتي زوی ښاغلي فخري وویل چې د شهرستان په سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ټول چارواکي د یوې کورنۍ نه دي او یوازې درې زره منه اپین یې دعشر په نامه د خلکو نه ټول کړی دی زموږ مشکل د دولت سره دا دی چې په موږ یې ظالم حاکمان مقرر کړي دي. سلیمان یاري په اخره کې وویل چې یو وختې زموږ ټول محلي چارواکي پښتانه و خو موږ دومره شکایت نه درلوده خو اوس موږ د خپلو هزاره ګانو نه په عذاب یو.
دا خبره ریښتیا ده ځکه د هرې سیمې او هر قوم جنګسالارانو په خپلو سیمو کې خپل خلک زورولي او ظلمونه یې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کابل د پولیسو د تعلمي مرکز څخه د پولیسو د فراغت په مراسمو کې ګډون اپریل څوارلسمه ۲۰۰۴ز کال

نن د PRT دمشرتابه د نظارت کمیټې دغونډې نه وروسته د جلالي صیب سره یو ځای په موټرکې د پولیسو د تعلیمي مرکز پر لور روان ووچې د ملي پولیسو د یو ګروپ دفراغت په مرأسمو کې ګډون وکړو ، په لاره کې راته جلالي صیب وویل چې پرون مې کرزي صیب ته وویل دا ښه نه ده چې داسمعیل خان پر ځای یو بل هراتی د هرات دوالي په توګه وټاکل شي ځکه دا کومه مېراثي چوکۍ نه ده چې خامخا به هراتی ټاکل کیږي نوښه به دا وی چې د اسمعیل خان پرځا باید یو بې طرفه کس وټاکل شي، له بله خوا دا امتیاز ورکول هم نه دی پکار چې دده زوی دې د هوانوردۍ او ترانسپورت وزیر شي ځکه په دې توګه د ده نفوذ په مرکزي حکومت کې اضافه کیږي او په هرات کې به هم لاس وهنه کوي خو کرزي صیب زما دا پیشنهاد ونه مانه. جلالي صیب وویلې چې که زما اصرار نه وای نو کرزي صیب جنرال دوستم د ملي دفاع د وزیر په توګه ټاکلو ما ورته وویلې که دا کار وشي نو دا په دې مانا ده چې ده ته باج ورکوي، د دې خبرې یادونه ضروري ده چې د اپریل په اتمه نیټه د جنرال دوستم نفرو چې د فاریاب د والي په کور او دفتر برغل وکړ اودفاریاب والي عنایت الله عنایت چې ازبک هم و د جنرال دوستم دنفرو دلاسه وتښتیده او دامنیه قوماندان هم ښار پرېښود ، جنرال دوستم بیا وویلې چې په دغه سیمه کې دا مشکل د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او دملي دفاع وزیر مارشال فهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ کړی نو دوی دواړه باید دخپلو وظیفو نه لرې شي. جنرال دوستم ویلي چې والي دحکمتیار د اسلامي حزب پورې تړاو لري او دامنیه قوماندان هم طالبان تقویه کوي ، حال داچې د۲۰۰ مې فرقې قوماندان هاشم حبیبي څو ورځې د مخه والي ته خبر ورکړی و چې جنرال دوستم خپل نفر په شخصي جامو کې په کورونو کې ځای پرځای کړي دي او د فاریاب په ښارکې د ګډوډۍ تکل لري چې همداسې وشوله خو د فاریاب PRT، ښار دچوراو چپاول نه وژغورلو ، دکورنیو چارو وزارت سمدستې درې سوه پولیس او ملي اردو۷۵۰ کسه د میمنې ښارته ولیږل تر څو وضع ببرته په کنټرول کې راشي.

د پولیسو د فراغت په مرأسمو کې پولیسو ته په خطاب کې جلالي صیب وویل چې تاسې دافغانستان دخلکو به زړه کې ځای لري خو د هغه چا د سترګو اغزي یاستې څوک چې په افغانستان کې دامنیت دخرابې په لټه کې دي، دا ستاسې ملي افتخار دی او هم دا ستاسې مسلکې او شخصی افتخار دی ځکه تاسې دخلکو د امنیت مسوُل کېږی او تاسې وضعیت کنترولوې، که په دې کارکې بریالې شولې نو دا به ستاسې لوی افتخار وی خو اصلي کنترول تاسې باید د خپل ځان نه پیل کړي، امید لرم چی تاسې خلک وګوری نو تاسې ته مراجعه وکړی نه چې خلک دتاسې نه وتښتي او تاسې د خلکو د ځورونې سبب شي ځکه اوس زمونږ ولس د دولتې کسانو له خوا ځورول کېږي. زه له تاسې یوه هیله لرم چې تاسې خپل خدای حاضر وګڼې او د خدمت کولو شعار خپله دنده وګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جنوبي ولایاتونو (پکتیا ، پکتیکا خوست او لوګر) ته د مخابراتو د وزیر په مشرۍ د یو لوړ پوړي پلاوي سفر دمې دمیاشتې دلسمې نیټې نه تر دولسمې نیټې پورې ۲۰۰۴زکال

د وزیرانو شورا دپریکړې پر اساس د مخابراتو وزیر محمد معصوم ستانکزي په مشرۍ یو لوړ پوړي پلاوی تعین شو تر څو د مې د میاشتې په لسمه نیټه د پکتیا ، پکتیکا ،خوست او لوګر ولایتونو ته سفر وکړي او د دغو سیمو د امنیتي، اداري او هم د بیارغونې د کارونو نه مفصل راپور د وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. د دغه پلاوي غړي په لاندې توګه وو.

۱.ډګرجنرال فضل احمد عظیمي دکورنیو چارو وزارت اداري معین
۲.ښاغلی محمد احسان ضیأ د کلیو او پراختیا د وزارت معین
۳.انجینر جلال زاده د ښار جوړونې وزارت معین
۴.ښاغلی صدیقي د مالي وزارت سلاکار
۵.محمد انور رحماني د اداري اصلاحاتو د کمیسیون غړی
۶.معین مرستیال د کورنیو چارو وزارت سلاکار او دافغانستان د تحیکم ثبات د پروګرام مسؤل
۷.ارسلا جمال دافغانستان دتحکیم ثبات د پروګرام معاون
۸.شاه محمود میاخیل د کورنیو چارو وزارت ستر سلاکار

دکابل د هوایي ډګر نه مو دملي دفاع وزارت په الوتکه کې سهار اوه بجې او پنځه څلویښت دقیقې پرواز وکړ اود پنځه څلویښتو دقیقو الوتنې نه وروسته د سهار په اته بجو او دېرشو دقیقو د ګردیز ولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوايي ډګر ته ورسيدو او د ولايت په مقام کې مو د پکتيا والي او مشاور وزير اسد الله وفا، د امينه قوماندان جنرال حی ګل سليمان خېل او نورو محلي چارواکو سره وکتل او د خپل سفر موخې مو ورته وويلې چې:

۱ـ دولسواليو عمومي ارزيابي، د پرسونل، ودانيو او تجهزاتو له امله.

۲ـ د امنيتي وضع او اداري اصلاحاتو ارزيابي

۳ـ کومې يو ميليون ډالره چې د اساسي قانون په لويه جرګه کې د دولت رئيس کرزي صيب له خوا هر ولايت ته منل شوي دهغو لپاره دپروژو انتخابول.

اسدالله وفا زموږ د پلاوي د راتګ نه مننه وکړه او وويلې چې موږ دوه رهايشي يا استوګن ځايونو پروژې د مارانو چينې په سيمه کې چې هر يوه يې د دولس سوه کورونو لپاره دځمکې نمرې په کې په نظر کې نيول شوي او هم د ۲۷ لوړ پوړو ودانيو پروژه اونقشې نهه مياشتې دمخه د کورونو او ښار جوړولو وزارت ته د منظورولو لپاره لېږلي خو تر اوسه يې هېڅ درک نه شته دی، د ولسواليو ټول مرکزونه د ودانيو لپاره ځمکې لري او ودانۍ جوړولو لپاره څه مشکل نشته دي. اريوب ځاځي، زرمت، سيد کرم او ځمکنی ولسوالۍ يو څه ودانۍ لري خو نورې ولسوالۍ هېڅ ودانۍ نه لري. ده وويل چې کله چې موږ دلته راغلو يو ميل سلاح هم د امنيه په قوماندنې کې نه وه خو اوس د کورنيو چارو وزارت دوه سوه ميله سلاح او ۸ جيپان رالېږلي دي خو د ولسواليو سره مخابراتي سيستم نه لرو او صرف يو ستلايت تيلفون مو هرې ولسوالۍ ته ورکړی خو د ستلايت د کارت لپاره چې ولسوالان موږ ته تيلفون وکړي پيسې نه لرو. همدا شان د پکتيا د ټولو مشرانو دا خوښه ده چې په هغه يو ميليون ډالره چې د ولايت لپاره وعده شوې د پکتيا د پوهنتون په جوړولو مصرف کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پوهنتون د ځمکې نه دیوال پرې را تاو کړو. اسدالله وفا وویل د پکتیا لپاره مهمه پروژه دمچلغو بند جوړول دي او همدا شان د ګردیز د ښار د سړکونو جوړول خورا مهم دي.

په هغه غونډه کې چې د قومي مشرانو او اداري پرسونل سره جوړه شوی وه، د پکتیا والي اسد الله وفا وویلې چې دلته موږ قومي شورا او حتی د ښځو د چارو د سمبالښت لپاره شوراګانې جوړې کړي او د حکومت سره همکاري کوي او غواړي چې د ټاکنو لپاره د رایو د کارتونو په پروسه کې برخه واخلي. په پکتیا کې ټوپک سالاران ختم شوي او ټول عایدات د ګمرکاتو د حکومت په خزانه کې تحویلېږي، ده وویل چې تېر کال یوازې ۸ لکه افغانۍ حکومت ته تحویل شوې وې او سږکال تر او سه پورې څلور میلیونه افغانۍ د حکومت خزانې ته تحویل شوي خو ده وویل چې په پکتیکا کې امنیت د قومونو له خوا نیول شوی دی خو د خلکو سره ډېرې وعدې شوي او تر اوسه پورې یوه یې هم نه ده عملي شوې.

د پکتیا د والي د خبرو نه وروسته دمخابراتو وزېر محمد معصوم ستانکزي دکابل نه راغلي پلاوي په استازیتوب لومړی د دولت رئیس حامد کرزي سلامونه دوی ته ورسول او وویل چې په تېرو دوه لسیزو کې د افغانستان ټولو خلکو قرباني ورکړې مګر د افغانستان خلکو د آزادۍ د نعمت نه ګټه وانخستله او باالاخره نړیوال راغلل چې موږ بیا جوړ کړي، دا زموږ لپاره د تاسف ځای دی خو بیا هم باید موږ ددې فرصت نه ګټه واخلو، ځکه د ټوپک په زور وطن نه شي ابادیدای او د خلکو حمایت او همکاري ضروري ده که ډېر څه نه شو کولای یو څه خو کولای شو او هغه څه چې کولای شو هغه باید عملي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستانکزی صیب د خبرو نه وروسته د بیړنۍ لوی جرګې وکیل داود شاه نیازی خبرې وکړې او وویلې چې کله مشکل وي نو د پکتیا دخلکو نه ملاتړ غوښتل کېږي خو چې کله د امتیاز وخت راشي بیا لویه پکتیا شاته واچول شوي. ده وویل چې شپږ میاشتې دمخه د پکتیا پوهنتون د کاغذ پر مخ منظور شوي خو عملي هېڅ ګام نه دی اخستل شوی، په رېږه او لونګۍ موږ ته القاعده ویل کېږي خو دا زموږ کلتور دی او د دې نه تېریدی نه شو، موږ پوهېږو چې څوک د افغانستان د وحدت لپاره کار کوي نو موږ د هغوی په څنګ کې ودریږو ده وویل چې موږ ۱۸۰۰ کسه ملي اردو ته لېږلي او دې ته حاضر یو چې ملي پولیسو ته هم نفر ورکړو.

د پکتیا په ولایت کې بل عمده مشکل د څلور غېر رسمي ولسوالیو موجودیت وو چې د ټولو داغوښتنه وه چې مرکزي حکومت هغه باید په رسمیت وپېژني او هم د پولیسو تشکیلاتو او تجهیزاتو ته جدي توجه وشي ځکه د ګردیز د ښار لپاره یوازې ۴۵ پولیس په تشکیل کې نیول شوي دي. دوی وویل چې درې کسه د منګلو او یو کس د ځمکنیو په سیمو کې چې د پاکستان له خوا تقویه کېدل او بمونه یې ایښودل د اربکیو له خوا ورسره جګړه وشوه چې دوه یې مړه او یو یې زخمي شو او د دوی د له منځه وړلو نه وروسته په سیمه کې ارامي راغلې ده.

د پکتیا د خلکو یو مشکل داوو چې دوی د هغه کسانو نه چې د امریکایانو سره کار کوي او د کمپاین په نامه یادېږي او په عملیاتو کې برخه اخلي شکایت درلوده چې دوی د کورونو د تالاشۍ په وخت کې غلاوې کوي او زیات مشکل دوی جوړ کړی دی.

د ګردیز نه وروسته د مې د میاشتې په یولسمه نېټه مازدیګر په دریو بجو او پنځه څلویښت دقیقو د ګردیز نه خوست ته په چورلکه کې لاړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شلو دقیقو پرواز نه وروسته دخوست په هوايي ډګر کې کیناستو د خوست والي معرا ج الدين پټان، دخوست د ولايت مرستيال ډاکتر محمد ابراهيم، د امنيه قوماندان جنرال محمد ايوب، د فرقې قوماندان جنرال خيال باز او ګڼ شمېر مشرانو سره د ولايت په مقام کې مو وکتل او د خپل سفر موخې مو ورته تشريح کړې د مخابراتو وزير ورته وويلې چې افغانستان زموږ او ستاسې مشترک کور دی اوداوطن به د افغانانو په لاسونو جوړېږي ځکه نړيواله ټولنه يوازې د موږ سره مرسته کولای شي، مخدره مواد، بهرني مداخلې، بې اتفاقي او اداري فساد زموږ د نه پرمختګ اصلي دليلونه دي.

د خوست والي معراج الدين پټان په خصوصي غونډه کې وويل چې د خوست د دېرشو ادارو د مشرانو نه ۲۷يې غله دي او د دولت د جوړولو هېڅ اراده نه لري او ټول بايد تبديل شي، د خوست د والي احساسات او طرز تفکر دا و چې د خوست په سيمه کې Disney World (21) يعنې د دنيا د ننداري عجايب ګر جوړ کړي البته دا او داسې نورې پروژې چې ده په نظر کې درلودې د قدر وړ وې خوعملي اړخ يې نه درلوده، د خوست والي وويلې چې د تڼی، يعقوبي، صبری او سپېری ولسواليو کې امنيتي يو څه مشکل شته خو په نورو سيمو کې امنيت ښه دی د خوست د ښار د اوبو د شبکې فعالول اساسي مشکل دي چې د خوست ښاريانو ته صحی اوبه ورسېږي او دا بايد عاجل جوړ شي. د خوست د مشرانو يوه جدي غوښتنه دا وه چې که د خوست د طب فاکولته چې د لوړو تحصيلاتو وزارت له منځه وړي بېرته فعاله نه شي او د لوړو تحصيلاتو وزارت د

(۲۱) Disney world يا Disneyland عجايب ګر په ټوله دنيا کې په دريو ځايونو کې جوړ شوی دی چې دوه يې په امريکه او يو يې په فرانسه کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې دغه پریکړې نه صرف نظر ونه کړي نو د خوست ولایت به د مرکزي حکومت سره هېڅ همکاري و نه کړي او هم به د خوست ولس په ټاکنو کې برخه وا نخلي، زموږ د سفر نه وروسته د لوړو تحصیلاتو وزارت د خپل دغه تصمیم نه تېر شو او د خوست د طب فاکولته یې بېرته په رسمیت وپېژندله.

د خوست مشرانو د کورنیو چارو وزارت نه مننه وکړه چې د پاسپورت موده پنځه کاله کړې او د مخابراتو وزارت دوی ته یوه مخابراتي دستګاه منظوره کړې تر څو په کار پیل وکړي او همدا شان یې د مالیه وزارت څخه چې د دوی پخوانۍ مالیه معاف کړې ده مننه وکړه.

د مې د میاشتې په دولسمه نېټه مو سهار د پکتیکا ولایت مرکز شرنې ته سفر وکړ او په چورلکه کې د څلوېښتو دقیقو پرواز نه وروسته هلته ورسیدو او د پکتیکا د نوي والي ګلاب منګل سره مو ولیدل.

د شرنې ښار ډېر وړوکي ښارګوټي و او د نوي والي د راتګ سره د دولتي ادارو د ودانیو د جوړولو یو څه کار د PRT په مرسته پېل شوي و.

پکتیکا ۱۹ رسمي ولسوالي درلودې او د څلورو نورو ولسوالیو پیشنهاد یې د کورنیو چارو وزارت ته لېږلی و چې منظور شي، د پکتیکا والي وویل چې د پکتیکا ولایت ۳۵۰ کیلومتره سرحد د پاکستان سره لري او د نفوسو شمېر یې د۱.۵میلیونو په اندازه کې تخمین شوی دی. پخوا کټواز او ارګون دوه لوی ولسوالي وې چې د لوی پکتیکا ولایت پورې مربوط وې خو وروسته دغه دواړه لوی ولسوالۍ سره یو ځای شوې او د پکتیکا په نامه ولایت چې مرکز یې شرنه شوه جوړ شو.

د پکتیکا والي وویل چې په پکتیکا کې شپږ لیسې شته چې څلور یې ودانۍ لري او دوه یې نه لري. خو ابتدائیه او متوسطه ښوونځي هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودانۍ نه لري او یوه وړه شفاخانه په مرکز کې موجود ده او سرکونه حتی د ولایت په مرکز کې هم پاخه نه دي، هر ریاست اوس یوه خونه لري چې هم دفتر دی او هم د مامورینو د خوب ځای او هم پخلنځای (آشپزخانه)!

ګلاب منګل وویلې چې د برمل ولسوالۍ تقریبا شل ورځې دمخه بیا فعاله شوې او شپته کسه مسلح پېره او ګزمه کوي ده وویل چې د ټولو ولسوالیو لپاره دولتي ځمکې شته چې ودانۍ په کې جوړې شي. که څه هم د شرنې ښار ماستر پلان د داود خان په وخت کې ترتیب شوی خو ځمکه وجود نه لري او دد ې ځای خلک ددې مانع ګرځي چې دغه پلان دلته تطبیق شي ځکه دوی قبالې لري او دولت باید د دوی د ځمکو بیه ورکړي.

دامنیه قوماندان مرستیال سمونوال شاه ولي سروضه وال وویل چې د پکتیکا په ولایت کې یوازې پنځلس کسه مسلکي صیب منصبان شته او نور ټول یې غېر مسلکي دي فعلاً جنګي عملیات نشته خو د کټواز، وړممۍ، تروې، ډیله او جاني خېلو ولسوالیو کې طالبان تګ او راتګ لري او ددې ځای نه په زابل او نورو سیمو کې هم فعالیت کوي، دنوې والي د راتګ سره په زیادترو ولسوالیو کې قومي شوراګانې جوړې شوی او امنیتي وضع ښه شوې ده.

د پکتیکا والي ګلاب منګل وویل چې زیاتره ولسوالي د محلي شوراګانو په قوت ساتل شوي او د تروې، وړممي او وازه خوا په ولسوالیو کې د شوراګانو او طالبانو ترمنځ یو څه تفاهم شته ځکه موږ دومره قوت د ملي اردو او ملي پولیسو نه لرو چې هلته یې ولېږو. څوورځې دمخه د ائتلاف قواؤ د پکتیکا ولایت دمرستیال او د امنیت د رئیس په کورونو چاپه واچوله او هغه یې تالاشي کړل چې دې کار دولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقف ته يو څه ضرر ورساوه. د پولسو په تشکيل کې ۲۴۰ صيب منصبان لرو چې يوازې شل کسه يې موجود دي ګلاب منګل وويل چې مرستندويه خېريه ټولنې شاګردانو ته يو څه کومک ورکوي مګر هغه هم د معارف رئيس په خپلو جيبونو کې اچوي او همدا شان د کليو پراختياريا ست پخوا قراردادونه يوازې يوې NGO ته ورکول خو اوس مونږ دا ټول بند کړي او هر سړي د قراردادونو په داوطلبۍ کې برخه اخيستلي شي، ده وويل چې په جنوبي وزيرستان کې د پاکستان د قواؤ دعملياتو نه وروسته زيات طالبان افغانستان ته راغلي خو په ټول سرحد کې يوه امنيتي پوسته هم نشته چې مونږ يې مخه ونيسو يوازې په شکين کې ائتلافي قواؤې يو مرکز لري. ګلاب منګل وويل چې د پکتيکا ولايت هغه ولسوالۍ چې بيا فعاله شوي بايد ډېر ژر تقويه شي که نه د خلکو اعتماد پر حکومت کمېږي او دغه ولسوالۍ به بيا د مخالفينو له خوا ونيول شي.

د والي د ليدو نه وروسته مو د يوناما او PRT د استازو سره وکتل او ټولو د پکتيکا دنوي والي د کار نه خوښي څرګندوله.

په همدې ورځ يعنې د مې د مياشتې په دولسمه نېټه د غرمې ډوډۍ نه وروسته په چورلکه کې د پکتيکا ولايت نه د لوګر ولايت په لور حرکت وکړ چې د دېرشو دقيقو دالوتنې نه وروسته د لوګر ولايت مرکز پل عالم ته ورسيدو. د لوګر والي محمد امان حميمي، د امنيه قوماندان پاسوال پکتين او نورو محلي چارواکو سره وليدل. د لوګر والي وويلې چې د لوګر د شپږو ولسواليو له جملې نه يوازې د خروار په ولسوالۍ کې امنيتي وضع ښه نه ده ځکه د غزني او پکتيا ولايتونو سره نښتې ده اودغه ولسوالي د طالبانو په وخت کې جوړه شوې ده چې پخوا د نرخ د ولسوالۍ مربوط سيمه وه خو خلک يې د لوګر ولايت نه ځان بيګانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسوي نو ښه به داوي چې دغه ولسوالي د غزني يا پکتيا ولايت سره يو ځای شي ځکه خلک يې د دغه دوه ولايتونو سره زياتې اړيکې لري، ده وويل چې په عبوري دوره کې د دغه ولسوالۍ خلک د طالبانو په نامه د لوګر ولايت د چارواکو له خوا زوريدلي او تهديد شوي وو نو ځکه د لوګر ولايت د مرکز سره اړيکي نه نيسي او سرک هم دغه سيمې ته نشته چې مونږ هلته زيات تګ راتګ وکړو.

د امنيه قوماندان وويل چې دوی اوس د ټولو ولسواليو سره مخابراتي اړيکې د دُوربعد (لرې واټن) مخابرې په اساس لري خو د پوليسو د جلب او جذب پروسه ورو روانه ده. ځينې ولسوالان او قوماندانان چې بې سواده دي او د دوی موقف په خطر کې دی يو څه ګډوډي او تشنج جوړوي خو د ټاکنو نه دمخه بايد د لوګر ولايت په ټولو ولسواليو کې يو څه تغيرات راشي.

د لوګر والي وويل چې ټولې ولسوالۍ ودانۍ نه لري او په ځينو حساسو سيمو کې لکه تنګي واغجان، بيني شېرافګن او په څرخ کې بايد امنيتي پوستې واچول شي تر څو امنيتي وضع مطمُينه شي.

د لوګر د والي او امنيه قوماندان سره د خبرو نه وروسته د پل عالم د کوچيانو مکتب سالون ته لاړو چې د دغه ولايت د سپين ږيرو او مشرانو سره وګورو. د مخابراتو وزير محمد معصوم ستانکزي زمونږ د سفر موخې تشريح کړې او د خلکو همکاري يې دامنيت په راوستلو، بيارغونې او اداري اصلاحاتو په برخو وغوښته.

د لوګر ولايت مشرانو لکه حاجي سيد محمد، ډاکتر فضل الله مجددی، محمد عثمان طارق، وکيل عنايت، وکيل بسم الله، ډاکتر اسدالله همتی او حاجي محمد عمر په خپل وار سره خبرې وکړې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې په مشکلاتو وغږېدل. دوی د دولت د رييس د غوښتنې نه چې طالبان او اسلامي حزب کسان بايد راشئ او په ټاکنو کې ګډون وکړي خوښي ښکاره کړه دوی په خپلو خبرو کې د هغه کسانو په نيولو کې چې د حکومت سره همکاري هم کوي خو دائتلافي قواؤ له خوا نيول کېږي انديښنه ښکاره کړه او وويل چې د ائتلافي قواؤ فعاليتونه بايد د لوګر په ولايت کې د امنيه قوماندان، ملي امنيت او د اردو د قطعاتو سره همغږي شي څکه خلک دولت ته ضرورت لري او دولت خلکو ته.

د لوګر ولايت د کتنې نه وروسته زموږ د پلاوي ټول غړي په موټرو کې کابل ته ستانه شول.

ددې سفر نه وروسته موږ يو تفصيلي راپور کابينې ته وړاندې کړ چې په هغه کې مشخص امنيتي، اداري او بيارغونې کارونو د پرمختګ او د ولس د اعتماد د جلبولو لپاره په کې وړانديزونه موجود وو. همدارنګه د مې دمياشتې په شپاړلسمه نېټه د مخابراتو وزير او ما د ملګرو ملتونو د خاص استازي په کور کې ټولو مرستندويه هېوادونو استازو ته د خپل سفر په هکله معلومات ورکړل او د دوی نه مو وغوښتل چې خپل کارونه بايد د محلي ادارو سره همغږي کړي او د افغانستان د تحکيم ثبات پروګرام سره بايد مرسته وشي تر څو د افغانستان ولسوالۍ فعاله، ودانۍ يې جوړې او د شايستګۍ پر بنياد پرسونل استخدام شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قطر کې د افغانستان د پولیسو سره دحمایت په کنفرانس کې د کورنیو چارو د وزیر او ورسره پلاوي ګډون
## د مې میاشت د اولسمې نیټې څخه تر نولسمې نیټې پورې، ۲۰۰۴ز کال

د قطر کنفرانس لومړنۍ کنفرانس و چې د پولیسو سره د کمکونو د جلبولو په منظور جوړ شوی و، په دغه کنفرانس کې د ګاونډي هېوادونو دکورنیو چارو وزیرانو، د پولیسو سره د مرستو په برخه کې مخکښنه هېواد جرمني د کورنیو چارو وزیر او د افغانستان دکورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او دسیمې د یو شمېر نورو هیوادونو استازو ګډون کړی وو. جلالي صیب سره په دغه سفرکې د کورنیو چارو د وزارت امنیتي مرستیال ډګر جنرال هلال الدین هلال، د ترویزم سره دمبارزې رئیس پاسوال عبدالجمیل جنبش، د پولیسو د ریاست مرستیال پاسوال محمد حسن اتمر د سرحدي قواؤ مرستیال مل پاسوال عبدالرحمن، دجنایې جرمونو رئیس پاسوال صبغت الله صایق د مخدره موادو پرضد دمبارزې رئیس سمونوال ستاري، دترافیکو عمومي رئیس پاسوال عبدالشکور خېر خواه او زه ملګري وو.

د مې د میاشتې په ۱۸ مه نیټه مخکې له دې چې کنفرانس په رسمي توګه په لسو بجو پیل شي د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي د چین د خلکو دجمهوریت د پلاوي سره ولیدل او د چین پلاوي د پولیسو سره د کومکونو ژمنه وکړه، کنفرانس د قطر دولت د امنیت د وزیر له خوا پرانستل شو او ټولو راغلو پلاوو ته یې هرکلی ووایه. ورپسې جلالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صيب خبرې وکړې او دافغانستان په روانو حالتو او د پوليسو په مشکلاتو يې رڼا واچوله او دټولو ګډونوالو څخه يې مننه وکړه چې په دې کانفرانس کې برخه اخستې ده نوموړي له ټولو وغوښتل چې د افغان پوليسو سره دې په تجهيزاتي برخه کې مرستې وکړي.

د کنفرانس په جريان کې د روسيه، پاکستان، تاجکستان، هند، متحده عربي امارات، انګلستان، ازبکستان او دامريکا متحده ايالاتو پلاوي خبرې وکړې او دافغانستان د ملي پوليسو د روزنې او مجهز کولو ژمنې يې وکړې.

د کنفرانس په ترڅ کې جلالي صيب د مختلفو هېوادونو د پلاوو سره دوه اړخيزې ليدنې هم درلودې نو په دې برخه کې يې دايران د کورنيو چارو وزير موسوي لاري سره دوه اړخيزه غونډه درلوده او دهغه غوښتنه داوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دې يو امنيتي کميسيون جوړ شي تر څو په امنيتي مسائلو سره وغږيږي او دا غونډې بايد منظمې وي، د ايران د کورنيو چارو وزير دا پيشنهاد هم وکړ چې که دافغانستان دبهرينو چارو وزرات په غوښتنه دايران دکورنيو چارو وزارت مرستيال ته د افغانستان د سفر زمينه برابره شي دابه ډېره ښه وي تر څو له نږدې په دې موضوعاتو مفصلې خبرې وکړای شو. ده وويل چې دا به ښه وي چې دکانفرانس د ختميدو نه مخکې دافغانستان د ګاونډيو هېوادونو پلاوي په خپلو منځو کې يوه مشترکه غونډه وکړي، د ايران د کورنيو چارو وزير يادونه وکړه چې دوی د پاکستان سره هم د سرحدي مسائلوپاره يو مشترک کميسيون لري. د تاجکستان د کورنيو چارو وزير سره په کتنه کې هغه هم په دې نظر و چې د دواړو هېوادونو ترمنځ بايد د سرحدي همکارۍ په اړوند يوه تفاهم نامه جوړه شي ځکه چې د تاجکستان سرحدي قواؤې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنیو چارو د وزارت پورې نه دې تړل شوې. دواړو وزیرانو د افغانستان د کورنیو چارو وزیر ته بلنه ورکړه چې په فرصت کې ددوی له هېوادونو نه لیدنه وکړي.
په همدې ورځ د ایټالیا د بهرنیو چارو وزیر مرستیالې د جلالي صیب سره وکتل او جلالي صیب ته یې د ایټالیا د کورنیو چارو وزیر له خوا بلنلیک ورکړ چې د ایټالیا نه کتنه وکړي. جلالي صیب هم په خپل وار د ایټالیا د حکومت او خلکو نه مننه وکړه چې په افغانستان کې د عدلي ریفورم په برخه کې مخکښه هېواد دی او زیاتې مرستې یې کړي دي. د ایټالیا د خارجه وزارت مرستیالې وویلې چې دوی په افغانستان کې د زندانونو او خاصتاً په شبرغان کې د بندیانو د وضعیت په هکله اندېښنه لري ځکه په عراق کې د بندیانو سره د امریکایانو بدچلند موږ په تشویش کې اچولي یو خو جلالي صیب اطمینان ورکړ چې د شبرغان بندیان د پلچرخي محبس ته انتقال شوي او موږ ته هم مشکله ده چې دا پاکستاني بندیان د زیات وخت لپاره وساتو. نړیوال سره صلیب ته اجازه ورکړې شوې چې وخت په وخت ددې بندیانو نه لیدنه وکړي.
په همدې ورځ د افغانستان د کورنیو چارو وزیر د جرمني د کورنیو چارو د وزیر Otto Schily او د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ښاغلي فیصل سید صالح حیات سره ځانګړې دوه اړخیزې کتنې درلودلې دوی جلالي صیب ته د دوحا کنفرانس د بریالیتوب په اړه چې زیات کمکونه او حمایت یې د پولیسو لپاره جذب کړ مبارکي وویله.
د پاکستان د کورنیو چارو وزیر زیاته کړه چې عربي هېوادونو ونډه ډېره مهمه ده او د افغانستان سرحدي قواوې باید تقویه شي تر څو سرحدي مشکلات حل شي ده زیاته کړه چې پاکستان د غلام خان په بندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې غواړي چې د پاسپورت دخولي او خروجي مرکز جوړ کړي تر څو د تروريستانو د تګ او راتګ مخه ونيسي ده زياته کړه چې امريکا په سيمه کې يوې اوږدمهالې پاليسي ته ضرورت لري او که افغانستان ته د ده د سفر په موقع يوه شريکه تفاهم نامه خاصتاً د مخدره موادو د قاچاق د مخنيوي په لحاظ لاسليک شي نو زياته به ښه وي.

جلالي صيب د پاکستان د کورنيو چارو وزير ته په خبرو کې وويل چې لومړي ستاسې نه مننه کوم چې په دې کنفرانس کې مو برخه واخيسته او ستاسې د حسن نيت او ښه پيشنهادونو هرکلی کوم خو درې نقطې ډېرې مهمې دي: اول دا چې بايد يو بل سره ښه وپېژنو، دوهم دواړه هېوادونه د يو شان چيلنجونو سره لکه تروريزم او مخدره مواد مخامخ دی او بې له يو بل سره همکاري نه بله لار نشته ده، او دريېم افغانستان د پاکستان په اړوند ښه نيت لري او بې له ښه نيت درلودلو نه موږ کاميابيدای نه شو. جلالي صيب زياته کړه چې دا څلورم ځل دي چې زه او ته سره ګورو او په هر ځل ليدو زموږ ترمنځ د اعتماد او باور فضا زياتېږي. فعلاً زموږ ۳۷کسه افغاني پوليس په پاکستان کې د تربيه او روزنې لاندې دي د افغانستان د سفېر په قول زموږ د پوليسو تربيه او روزنه په ښه توګه په مخ ځي. کله چې تاسې د جولای د مياشتې په يولسمه نېټه افغانستان ته تشريف راوړ دا تفاهم نامه به لاسليک کړو، موږ بايد د يو بل سره نږدې اړيکي ولرو او هر مشکل بايد د تفاهم له لارې حل کړو.

په همدې ورځ د ماښام په اته بجو د افغانستان، ايران او جرمني د کورنيو چارو وزيرانو يو ځای سره کتنه درلوده او درې اړخيزو مسائلو باندې سره خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب ته وویلې که دهقانانو ته په افغانستان کې د کوکنارو د نه کرلو پر ځای پیسې ورکړو ستاسې څه نظر دی. د جرمني د کورنیو چارو وزیر سمدستي وویل چې موږ ددې وړاندیز مخالف یو.

د افغنستان د کورنیو چارو وزیر وویلې چې دوه کاله دمخه دهقانانو ته په افغانستان کې پیسې ورکړل شوې خو د کوکنارو کرل نور هم پراختیا پیدا کړه. دوه ګروپه کسان کوکنار کري چې یو یې دهقانان چې د مجبوریت له مخې کوکنار کري او بل جنایتکاران دي چې دهقانان دکوکنارو کرلو ته تشویقوي نو دهقانانو ته باید متبادل کرکیلي شرایط مساعد کړو او د جنایتکارانو په مقابل کې باید جدي برخورد وشي. جلالي صیب وویل چې موږ په افغانستان کې د جنایتکارانو لست برابر کړي او د دوی سره باید قانوني جدي برخورد وشي د بېلګې په توګه په بدخشان کې جنګسالاران د کوکنارو د حاصل نه فیصدی اخلي او خلک د کوکنارو کرلو ته هڅوي.

د ایران د کورنیو چارو وزیر وویل چې اوریدلي مې دي چې په هرات کې زعفران د کوکنارو نه زیات حاصل لاسته راوړي، په نورو سیمو کې چې هوا او شرایط د زعفرانو کرلو ته مساعد نه وي څه باید وکړای شي؟

ددې پوښتنې په ځواب کې د جرمني د کورنیو چارو وزیر د ایران د کورنیو چارو د وزیر نه پوښتنه وکړه چې ستاسې په نظر سیاسي تحولات په ایران کې څنګه دي؟

د ایران د کورنیو چارو وزیر په ځواب کې وویل چې اول باید د کوکنارو مسئله حل کړو خو د جرمني د کورنیو چارو وزیر بیا وویلې چې دا دیپلوماتیک ځواب و نو ښه به دا وي چې تاسې د بهرنیو چارو وزیر شئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د کورنیو چارو وزیر باید مستقمې خبرې وکړي. ده د جلالي صیب نه پوښتنه وکړه چې آیا بعضې ددې جنګسالارانو نه ستاسې سره همکاري کوي او کنه؟

جلالي صیب ورته وویلې چې زه د عدلې او قضایې څانګو سره په تماس کې یم هغه مجرمین چې نیول کېږي باید محاکمه او محکوم شي ځکه یوازې نیول او ضبطول د مخدره موادو کافي نه دي.

د جرمني د کورنیو چارو وزیر وویلې چې دا مشکل هر چېرته دی بیا د ایران د کورنیو چارو وزیر د جلالي صیب نه پوښتنه وکړه چې څومره کسان د اړتیا په بنیاد کوکنار کري.

جلالي صیب ورته وویلې یوه برخه یې د اړتیا په اساس او دوه برخې یې د حرص په بنیاد کوکنار کري. د جرمني د کورنیو چارو وزیر وویلې چې دا یو جدي چیلنج دی که د افغانستان سرحدات بند شي شاید چې د مخدره موادو د قاچاق مخه ونیول شي.

د ایران د کورنیو چارو وزیر وویلې چې دا امکان نه لري چې سرحد بند شي ځکه د پاکستان سره موږ زیات مشکل لرو چې د هغه لارې نه مخدر مواد ایران ته ورل کېږي او ددې لپاره یوې نړیوالې همکارۍ ته د ملګرو ملتونو له لارې اړتیا ده.

د جرمني د کورنیو چارو وزیر وویلې چې هر څوک باید خپل مشکل په داخل د خپلو هېوادونو کې حل کړي ګډه همکاري، دهقانانو سره کومک، محاکمه د خلکو او داسې نور خو دا مسائل په دې یوه ورځ نه شي حل کېدای او ښاغلي جلالي په مطبوعاتي کنفرانس کې د ېر ښه ځواب ورکړ چې یوه سمه اداره، ښه پولیس او صحیح محاکم کولای شي چې ددې مسائلو مخه ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ په هېواد کې يو متل دی چې وايي هېڅ شی مؤفقه نه دی بې له مؤفقيت نه (Nothing is very successful than success) د جرمني د کورنيو چارو وزير زياته کړه چې په افغانستان کې ټاکنې به هم يو مؤفقيت وي خو زه ددې کنفرانس د پايلې نه زيات راضي يم چې د افغانستان ګاونډي او د سيمې هېوادو استازو پکې برخه واخيستله او بې له دوي د همکارۍ افغانستان جوړول امکان نه لري.

د ايران د کورنيو چارو وزير وويلې چې دوه خبرې په دې کنفرانس کې ډېرې مهمې وې چې مرکزي حکومت او پوليس بايد تقويه شي او دويم دا چې د ټولو په خبرو کې او خاصتاً ستاسې (د جرمني د کورنيو چارو وزير) په خبرو کې او هم د امريکا د استازي په خبرو کې وويل شول چې تروزيزم د مخدره موادو قاچاق چيانو له خوا تقويه کېږي که چېرې مونږ دغه دوه اصله په نظر کې ونيسو زيات مشکلات حل کېدای شي د ايران اسلامي جمهوريت دغه دوه اصلونو ته جدي پاملرنه لري.

د جرمني د کورنيو چارو وزير وويلې چې د مخدره موادو د موضوع په هکله مونږ ټول هم نظره يو. دا ايران د کورنيو چارو وزير په ځواب کې وويل چې په عمل کې به وګورو چې څه کېږي او ګفتار او عمل ترمنځ څه فرق دی.

د جرمني د کورنيو چارو وزير وويلې چې مونږ بايد تروريستان او قاچاق بران په ګوته کړو او هغه د عدالت منګولو ته وسپارو هغه تروريستان چې هم ځان وژني او هم خلک هغه بايد ونيول شي او د دوی فکرونه بايد روښانه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران د کورنیو چارو وزیر وویلې چې زه د تاسې سره موافق یم چې د القاعدې غړو سره باید همداسې رویه وشي چې ونیول شي او محاکمه کړای شي خو نه چې ګوانتانامو ته ولېږدول شي.
د جرمني د کورنیو چارو وزیر په ځواب کې وویلې چې موږ د یو ملک سره په جنګ کې نه یو بلکې د اشخاصو او افرادو سره په جنګ کې یو چې د تمدن مخالف دي نو د جینوا قوانین دا مشکل حل کولای نه شي.
د ایران د کورنیو چارو وزیر وویلې: ښه داده چې دا بحث پرېږدو ځکه چې زموږ د نظریاتو ترمنځ زیات تفاوت شته دی، امریکایان په عراق کې یوازې فالوده خوري او وروسته خپل وطن ته ګرځي.
دجرمني د کورنیو چارو وزیر وویلې چې امریکا یو لوی هېواد دی او دې کې شک نشته چې امریکا دمشکل سره مخامخ ده خو د دنیا ثبات لپاره یې ډېر کار کړي دی د هر څوک دې د خپل کور مخه په خپله پاکه کړي.
د ایران د کورنیوچارو وزیر وویلې چې موږ څه کولای شو؟ د جرمني کورنیو چارو وزیر وویلې چې موږ باید دا ابتکار په لاس کې ونیسو چې دافغانستان سرحدي پولیس تقویه کړو.
د ایران د کورنیو چارو وزیر وویلې چې د ښاغلي جلالي سره باید کومک او همکاري وشي.
د جرمني د کورنیو چارو وزیر وویلې چې اوس ښاغلي جلالي ډېرې پیسې لري.
د دوی د خبرو وروسته جلالي صیب دوی ته وویلې چې ستاسې خبرې اترې ډېرې دلچسپه او ښې وې البته د پولیسو روزنه وخت او زیات لګښت ته اړتیا لري چې د ټولو اړخونو همکاري ته اړتیا لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرمني د کورنيو چارو وزير وويلې چې موږ بو د جوي مشکل لرو او د ايران په شان سرمايه داره نه يو ، ستاسې د وخت نه مننه ډېر دلچسپه بحث زما لپاره هم و.

ددې خبرې يادونه په کار ده چې د ايران او غربي نړۍ اړيکې ښه نه دي او ايران هئيت غوښته چې ددې کتنې په اساس د جرمني او ايران ترمنځ د خبرو اترو لار پرانيزي خود جرمني موقف داسې و چې دوی نه غوښتل چې د افغانستان مسائلو نه په غېر په نورو مسائلو د ايران سره وغږېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کابل ته د جرمني د کورنیو چارو وزیر Otto Schily سفر د مې د میاشتې شلمه نېټه

د قطر د کنفرانس د ختم نه وروسته د شپې له خوا د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او ورسره پلاوی دمې په ۱۹ مه نېټه کابل ته ستانه شول تر څو په سبا یې د جرمني د کورنیو چارو وزیر ته په کابل کې هرکلی ووایې. د جرمني دکورنیو چارو وزیر چې د لږ وخت لپاره د قطر نه کابل ته راغی لومړی یې د پولیسو د اکاډمۍ نه کتنه وکړه او بیا وروسته یې د جمهور رئیس کرزي سره کتنه وکړه او ورپسې یې د کورنیو چارو په وزارت کې دواړو وزیرانو دوه په دوه کتنه درلوده د کتنې نه وروسته د دواړو هېوادونو پلاوو په ګډون دواړو وزیرانو غونډه وکړه.

د افغانستان د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي د جرمني د کورنیو چارو وزیر ته وویلې څه چې تاسې د پولیسو په اکاډمۍ کې ولیدل دا د جرمني د حکومت مرسته د افغانستان سره ده او جرمني پخوا هم ( د پادشاه او داود خان په وخت کې ) د پولیسو سره زیاتې مرستې کړې دي.

د جرمني د کورنیو چارو وزیر Otto Schily وویلې چې زه ستاسې د ګرم او ښه هرکلی نه زیاته مننه کوم او خاصتاً چې د پولیسو اکاډمۍ کې ماته د ماشومانو له خوا هر کلي ډېر زیات په زړه پورې و موږ د پولیسو سره مرسته دوه کاله د مخه پیل کړې او د افغانستان ښه راتلونکي ته سترګې په لار یو. د دولت رئیس د لیدو نه مننه کوم او ډېر ښه سیاست مدار دی همدا شان زه ستاسې د شخصي هلو ځلو نه مننه کوم چې د پولیسو په روزنه کې کوښښ کوئ. دجرمنی دکورنیوچارو وزیر وویلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زه به ددې مجلس نه وروسته هغه موټرې چې د جرمني حکومت د کورنيو چارو وزارت ته تياري کړي تاسې ته وسپارم خو ما غوښته چې يو موټر ځان ته وساتم خو هغه به زه تاته درکړم. دجرمني دکورنيو چارو وزېر زياته کړه چې سبا چې زه بېرته جرمني ته ګرځم ځه چې ما دلته وليدل زما لپاره ډېر اميد کننده دي او دا به د جرمني حکومت سره شريک کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ناټو د مشرانو سره د کتنې لپاره د افغانستان د حکومت پلاوي سفر بلجیم ته

## د ۲۲ـ ۲۵ مې ۲۰۰۴ زکال

د افغانستان حکومت پلاوی د جنرال شېر محمد کریمي په مشرۍ د کابل نه د مې د میاشتې په ۲۲مه نېټه حرکت وکړ تر څو دناټو د ملکي او نظامي مشرانو سره په افغانستان کې د ناټو د قواؤ د پراختیا او د افغانستان شمالي او جنوب غربي سیمو ته د PRT دجوړولو په پروسه باندې خبرې وکړي په دغه پلاوي کې د اقتصاد د وزارت معین ډاکتر نظېر احمد شهیدي د مالي وزارت معین محمد طارق فرمولي، د ښځو د وازرت مرستیاله نجیبه شریف د ملي امنیت د شورا غړی ډاکتر عبدالقدېر امېر یار او ما د کورنیو چارو د وزارت په استازیتوب ګډون درلوده. په بروکسل کې موږ د ناټو سکرتر جنرال جیک دهوپ شپر Jeap de Hoop Scheffer، د ناټو د سکرتر جنرال مرستیال په عامه پالیسي کې Jenn Fovrnet په شیپ کې SHAPE (Supreme Headquarters of Allied Powers Europe) یا د ناټو په نظامي مرکز کې، د پوځي مشرانو سره وکتل. د ناټو د چارواکو د معلوماتو په اساس په دې وخت کې ۲۵هېوادونو د ناټو عضویت درلوداو په شیپ کې یوازې ۲۵۰۰ کسانو کار کاوه او دناټو پوځي تړون هدف د سولې، بحران او د جنګ په وخت کې د یو بل سره د دښمن په مقابل کې همکاري ده، دوی وویل چې دوی لپاره اوسمهال موجوده خطر د تروریزم – د جنوب نه شمال ته او د شرق نه غرب ته مهاجرتونه – سرحدي لانجې- اقتصادي بحران- طبعي آفات، نژادي شخړې، افراطي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناسونالیستي او مذهبي حرکتونه، منځنۍ ختیځ لانجه او خطرناکې جمعي تخریبي وسلو استعمال دي.

دوی وویل چې د ۲۰۰۱ م کال د سپتمبر د ۱۱ مې نېټې نه وروسته د ناټو د تړون پنځمه ماده، دناتو هیوادونو د لومړي ځل لپاره بیا احیا کړه چې حمله په یوه غړي هېواد باندې حمله د ناټو په ټول تړون ده. دوی وویل چې د ۹۰نه تر ۱۸۰ ورځو پورې ناټو کولای شي چې ۲۰۰۰۰هوایي او بحري قواؤې د جنګ لپاره اماده کړي او همدا شان په یوه کال کې ۲.۲میلیونه پوځ د جنګ لپاره تیارولی شي.

د ناټو سکرتر جنرال ته موږ وویل چې د ناټو ماموریت باید ډېر ژر د کابل نه ولایاتونو ته پراخ شي ځکه چې د افغانستان اردو او پولیس لا تر اوسه پورې په دې نه دي توانیدلي چې په ټول هېواد کې امنیت ونیسي. د ناټو سکرتر جنرال وویلې چې ناټو هېوادونه دې ته حاضر دي چې خپل ماموریت د کابل نه برسېره د افغانستان نورو سیمو ته پراخ کړي، ده وویل چې افغانستان د ناټو لپاره لومړیتوب حق لري خو دا ددې معنې نه لري چې زموږ کومکونه به د تل لپاره وي ځکه موږ نه غواړو چې افغانستان همیشه مرستو ته اړ وي، باید افغانستان په خپلو پښو ودرېږي، د DDR (بې وسلې کولو ) او د بن پروسه باید په بریالي توګه عملي شي ده وویل که موږ افغانستان له لاسه ورکړونو دا ددې معنې لري چې موږ بېرته اولنې نقطې ته برګشت کوو، که څه هم ښاغلی کرزی وایې هر چېرته چې دی ځي خلک PRT غواړي مګر دا هم مشکله پروسه ده چې د ټولو هېوادونو حمایت را جلب کړم نو د استانبول په کنفرانس کې چې د جون د میاشتې په اخره کې جوړېږي موږ به د ناټو د پراختیا په هکله فیصله وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سرپل په ولایت کې د جنرال دوستم د تقرو له خوا د کورنیو چارو وزارت د پولیسود ځای پرځای کیدو مخنیوی د جون د میاشتې یولسمه نېټه ۲۰۰۴ز کال

نن د کورنیو چارو وزارت د پولیسو یو سل کسیزه قطعه د سرپل ولایت ته په دې خاطر ولېږدوله تر څو د سرپل نوی والي غلام حسین شفق ته د تګ زمینه مساعده کړي. څو ورځې دمخه ښاغلی شفق د سرپل د والي په توګه تعین شوی و خو د جنرال دوستم دده د تقرر سره مخالفت کاوه. کله چې د کورنیو چارو پولیس سرپل ته رسېږي د جنرال دوستم نفر چې دمخه یې هلته ځای په ځای کړي و په پولیسو باندې د تېږو ګذارونه کوي چې یو کس پولیس زخمي کېږي او ددوی د موټرو شیشې ماتوي او دغه پولیس دې ته مجبورېږي چې بېرته مزارشریف ښار ته وګرځي. په دې وخت کې د دولت رئیس حامد کرزي او د کورنیو چارو وزېر علي احمد جلالي د امریکا په سفر وو او مارشال فهیم د دولت سرپرست رئیس و خو کله چې د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین ډګرجنرال هلال الدین هلال د مارشال فهیم سره تماس نیسي چې څه باید وکړو خو هغه په دې هکله هېڅ تصمیم نه نیسي. دولت داسې ښکارېده چې روح په کې نه وي او د مرکزي حکومت د عدم تصمیم له وجې امنیتي وضعیت ورځ په ورځ مخ په خرابېدو و. ددې نه څو ورځې دمخه د جون د میاشتې په اتمه نېټه ما د ائتلافي قواؤ مرستیال جنرال کوپر (General Cooper ) سره دهغه په دفتر کې وکتل او د موجوده امینتي وضعیت په هکله مو خبرې وکړې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وويلې چې په دولت د خلکو اعتماد کم شوی دی او دولتي افرادو سره د خدمت کولو انګيزه ورځ په ورځ کمېږي ځکه چې دولت کوم کسان په بې کفايتۍ لرې کوي هغه وروسته په اوچتو پوستونو مقررېږي او همدا شان زياتره کسان چې د مخدره موادو په قاچاق اخته دي په لوړو چوکيو مقررېږي چې دا سې مقررۍ ګانې دا په خپله ثابتوي چې د مافيا او طالبانو نفوذ په دې حکومت کې ورځ په ورځ زياتېږي که د بېړنۍ لوی جرګې نه را په دې خوا وګورو په هر مرحله کې په عوض ددې چې د خلکو اعتماد په دولت زيات شي کمېږي. ددې لپاره چې د خلکو اعتماد په دولت زيات شي جدي او موثر اقدام ته اړتيا ده چې ددغه جنګسالارانو نه بايد يو څو کسه چې د دولت د پاليسو خلاف عمل کوي او قوانين د پښو لاندې کوي بايد ونيول شي او همدارنګه دولت بايد يوه مشخصه ستراتيژي او پلان طرحه او هغه عملي کړي ځکه د کرزي صيب او د بعضې تنظيمونو ترمنځ غونډې چې د ټاکنو په سر معامله کوي د خلکو په منځ کې بې اعتمادي رامنځ ته کړې ده. ما جنرال کوپر ته وويلې چې په افغانستان کې استخباراتي شبکو تجارتي شکل نيولی او بې ګناه کسان نيول کېږي همدا شان د ائتلاف قواؤې بايد د کورونو په تالاشيو کې احتياط وکړي ځکه چې زموږ ولس پرې خفه کېږي او د حکومت او د ائتلاف د قواؤ پر ضد د ولس کرکه زياتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو چارو د وزیر علي احمد جلالي سره د وزارت په چارو خبرې اترې او مشورې دجون د میاشتې ۲۱مه نېټه ۲۰۰۴زکال

نن سهار زه د وزیر صیب داخله کور ته ورغلم چې تازه له امریکا د سفر نه رأستون شوی و تر څو د افغانستان په حالاتو او خاصتاً د کورنیو چارو د وزارت په ستونزو ورسره خبرې وکړم.

ما جلالي صیب ته وویلې چې د افغانستان د خلکو اعتماد په دولت او د بُن په پروسه کم شوی او همدا علت دی چې اداري فساد، تخریبي عملیات او د مسلحو محلي چارواکو له خوا خودسري مخ په زیاتېدو ده. که موږ د افغانستان نقشې ته نظر واچوو ګورو چې په هر ولایت کې بدامني زیاته شوې ده که هغه دهېواد په شمال کې ده او که جنوب کې او که په ختیځ کې ده او که په لویدیځه برخو کې، که دولت او نړیواله ټولنه جدي اقدام ونه کړي حالات نور هم خرابېږي او دغه حالاتو د کورنیو چارو وزارت په فعالیتونو باندې هم مستقیم اغېز کړی دی څومره چې خلک دکورنیو چارو وزارت فعالیتونو ته خوشبینه او امیدواره وو اوس د خلکو ناهیلي مخ په زیاتېدو ده، هم د وزارت په دننه او هم د وزارت نه بهر باید جدي فکر وشي. د وزیر صیب د قناعت لپاره ما په وزارت کې دننه د مختلفو ادارو په فعالیتونو رڼا واچوله.

د دې خبرو نه وروسته وزیر صیب د سه شنبې په ورځ چې د جون د میاشتې دوی شتمه نېټه وه د کورنیو چارو وزارت ټول رهبري هئیت ( د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ادارو رئیسان) د معینانو په ګډون راوغوښتل چې د نوموړي د خبرو خلاصه یا نچوړ په لاندې توګه و:

جلالي صیب وویل چې ما خپلو همکارانو اوهم هغه اشخاصو او اداروته چې دمونږ سره مرستي کوي دنده سپارلې وچې دکورنیوچارود وزارت ازونه وکړي او ماته راپور راکړي نو زه نن د تاسې سره دهغه ارزیابې پایلي شریکوم. ده وویل چې زه واقع بین یم او نه شو کولای چې داسې کدرونه ولرو چې د هره پلوه رسیدلې وي خو چې بعضی برخي ددی ارزیابي زه لولم نو زه خجالت وباسم ځکه اداري فساد داسې اوج ته رسیدلی چې شاید مونږ پکې اول نمره شوی یو. هغه پولیس چې د لوي لارو امنیت ساتنې ته لېږو پخپله غله کېږي، هغه پولیس چې د کابل دښار د دخولي دروازو امنیت ساتي پخپله باج د خلکو نه اخلي، همداشان هر پولیس چې د وطن د خدمت په لاره کې شهید کېږي، په مسنقیمه یا غیر مسنقیمه توګه مونږ ټول پکې مسؤلیت لرو، پرون یو تن پولیس په کندهار کې شهید شوی دی نور زه دا وضغیت نشم تحمل کولای.

جلالي صیب زیاته کړه چې مونږ باید تشکیلاتی ساختارکې تغیر راولو او باید یو شمیر کدرونه تبدیل کړم او ټول باید شریکه داداری فساد پر ضد مبارزه وکړو، زه ستاسې د هریو سره جلا جلا ګورم که څه مشکلات وي نو ما ته یي واضحه ووایي او که نه نو هیڅ دلیل نشته دی چې وضع سمه او ښه نشي. جلالي صیب زیاته کړه چې دوزارت په ځینو تشکیلاتو کې پرسونل هسې عاطل او باطل ناست دي نو دي ته جدی توجه پکار ده چې دکدرونو نه صحیح ګټه واخستل شي، په بعضی حوزو کې چې ۱۰۳ نفر پرسونل لري یوازی دری کسه موجود دی نو په دا شکل مسلکې روزنه او امکانات هیڅ په درد نه خوري ځکه هیڅ تخنیک د انسان ځاې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولي، زه په عمومي توګه نه وایم ځکه ښه اشخاص شته خو په مجموعې توګه احساس د وظیفوي له منځه تللې دی نو مونږ ټول باید احساس د مسؤلیت وکړو.

جلالي صیب زیاته کړه چې ددی ټولو نیمګړتیاوسره سره یو څه ښه کارونه هم شوي دي د بیلګی په توګه ۱۹۲۰۰ کسه د پولیسو د تعلیمی مرکز نه فارغ شوي دي او ما د دولت د ریٔس سره خبره کړی چې د پولیسو تنخواه با ید د ملی اردو د عسکرو سره باید یو شان وی، زه کوشش کوم چې هغه کسان چې وطن ته د خدمت په ډګر کې شهیدان کیږی باید دهغوی کورنیو ته ترڅوماشومان یې متکفل کیږي باید تنخواه ورکړل شی ځکه اوس چې کوم نا چیزه څه د شهیدانو کورنیو ته ورکول کیږی دا د دوی کورنیو لپاره اهانت دی.

د جون د میاشتې په څلورویشتمه نېټه د پنجشنبې ورځې په خبري کنفرانس کې د کورنیو چارو وزیر وویلې چې د غور ولایت وضع فعلاً آرامه ده او یو قطعه پولیس مو د کابل نه ولیږل چې د امنیې د قوماندان سره مرسته وکړي. همدا شان سږکال مو ۱۵زره هکتاره ځمکه په شپاړسو ولایتونو کې د کوکنارو د کرولو نه پاکه کړې ده جلالي صیب وویل چې سږکال مونږ اولس ټنه دمخدره موادو توکي نېولي دي داسې اټکل شوې وه چې د جون د میاشې تر اخره پورې شل زره پولیس باید په تعلیمي مرکزونو کې وروزل شي چې زمونږ د روزنو پولیس ددې نه زیاتېږي چې څلور زره ددې پولیسو نه د پولیسو په اکاډمی کې د ساتنمن او افسرانو په توګه روزل شوي دي.

څو ورځې دمخه د کندوز په ولایت کې څو تنه چینایانو چې د سرک جوړلو په پروژه کې کار کاوه وژل شوي وو نو د BBC نماینده دجلالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب نه پوښتنه وکړه چې داسې ښکاري چې ددې چینایانو په وژلو کې ترهګرې ډلې لاس نه لري بلکې دمحلي رقابتونو په نتیجه کې وژل شوي دي ستاسې نظر په دې هکله څه دی ؟

د کورنیو چارو وزیر په ځواب کې وویل چې تحقیقات جریان لري او داسې ښکاري چې دا کار د ترهګرو کار نه دی او د نورو رقابتونو په نتیجه کې وژل شوي دي څرنګه چې تحقیقات جریان لري نه غواړم چې نور تفصیل ورکړم ځکه زموږ تحقیقاتو ته صدمه رسیږي خو دا وایم چې تر څو سلاح جمع نه شي او راتلونکي پارلمان ته دملت اصلي نماینده ګان را نشي د افغانستان د خلکو مشکل حل کولای نه شي هغه پارلمان چې د زور او زر په واسطه راشي د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي لا به ستونزې جوړې کړي. ددې خبرونه وروسته د کورنیو چارو وزیر په وزارت کې دننه اساسی تغیر راوسته اود دولسو مهمو ریاستونو ریُسان کې دتبدیل او یا د دندو نه لری کړل. همداشان د ولایتونو په پرسونل کې هم کافی تغیرات راوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په انټر کانټيننټال هوټل کې د مخدره موادو سره د مبارزې د ورځې د لمانځلو په موقع دکورنيو چارو د وزير علي احمد جلالي بيانيه او ملي دفاع وزارت ته رسمي ليک د ۷۱۷غونډ د قوماندان د بندي کېدو په ارتباط د جون د مياشتې ۲۲مه نېټه ۲۰۰۴زکال

نن سهار د ټاکنو د کميسيون د دفتر په يوه موټر کې د قول اردو روغتون سره نږدې(قوای مرکز سره ) چاودنه وشوه چې درې کسه په کې مړه او يوولس زخميان شول. دا پېښه په داسې حال کې وشوه چې د کورنيو چارو د وزير په دفتر کې د ملګرو ملتونو د عمومي سر منشي خاص استازي ژان ارنو، ډاکتر فاروق وردګ د ټاکنو د کميسيون د دارلانشأ رئيس، د کورنيو چارو وزارت امنيتي معين جنرال هلال الدين هلال، د کورنيو چارو د وزارت د دفتر رئيس جنرال سيد شبر آقا روحاني او ما د ټاکنو د امنيت د ساتلو په اړوند غونډه درلوده. ددې غونډې نه وروسته د کابل په انټرکانټيننټال هوټل کې د مخدره موادو پر ضد د مبارزې نړيوالې ورځې په اړوند کنفرانس جوړ شوي و او موږ هلته لاړو. جلالي صيب او زه په يوه موټر کې و او په لار کې يې مصلحت کاوه چې څه بايد په خپلو خبرو کې ووايم ما ورته وويل تر اوسه پورې چې د مخدره موادو د مبارزې پر ضد څه فعاليتونه شوي د هغه يادونه وکړه او په راتلونکي کې څه پروګرامونه په نظر کې لرو؟ خو چې کله هلته لاړو د جلالي صيب لهجه بالکل بدله وه. په دغه کنفرانس کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازې ژان ارنو، د دولت د رئيس مرستيال هدايت امين ارسلا،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعدلیه وزیر ډاکتر عبدالرحیم کریمي او د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر عبدالله عبدالله هم برخه درلوده.

جلالي صیب په خپلو خبرو کې وویل: دمخدره موادو په قاچاق کې دولتي کسان لاس لري او ما د کورنیو چارو په وزارت کې د مخدره موادو د کنټرول او ارزیابي شعبه جوړه کړې ده.

ده وویل هغه کسان چې دولتي بانفوذه کسان او یا ملیشه دي اود مخدره موادو په قاچاق کې لاس لري لستونه یې برابر شوي دي. ددې لپاره چې د دوی نومونه د جنګسالارانو، دمرګ سالارانو اوهېروین سالارانو په قطار کې رانشي نو باید د مخدره موادو د قاچاق نه ځانونه لرې کړي که نه نو زه د دوی نومونه اعلانوم او په تاریخ کې به د دوی نومونه د مرګ سالارانو، جنګ سالارانو او قاچاق برانو په لست کې د تل لپاره پاتې وي.

دجون د میاشتې په **۲۹** مه نېټه چې د سه شنبې ورځ وه سهار دکورنیو چارو وزارت د دفتر د رئیس خونې ته ورغلم چې جنرال سید عزیز احمد د مخدره موادو پر ضد د مبارزې رئیس هلته ناست دی او د پزې نه یې وینې روانې دي او زخمي دی. ده وویل چې سهار پنځه بجې امنیتي معین ډګر جنرال هلال الدین هلال په امراو دمخکنې اطلاع په اساس چې موجوده وه، په یو کرولا موټر کې څلویښت کیلوګرامه هېروین بار دي او شمال ته د قاچاق په توګه وړل کېږي کله چې د خبرخانې کوتل سره د ښار د خروجي دروازې موظفین موټر نیسي او فاعلین ولچک کوي نو د ګارنیزون نفر چې هم په دغه دروازه کې مؤظف دي دوی نه پرېږدي چې دغه قاچاقبر او هېروین د مخدره موادو د مبارزې پر ضد ریاست ته راوړي. هماغه و چې د کورنیو چارو مؤظف کسانو جنرال سید عزیز احمد ته تیلفون کوي او دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپله د څلورو کسو سره د خېرخانې کوتل ته ورځي چې دغه نفر او هېروین خپل ریاست ته راوړي خو په دې وخت کې د کابل د ګارنیزون د ۷۱۷قطعه قوماندان جنرال نجیم د یو شمېر مسلحو کسانو سره رسېږي او غواړي چې دغه نفر او هېروین د ځان سره یوسي. جنرال سید عزیز احمد ورته خپل د هویت کارت ورښکاره کوي او ورته وایې چې دا صحیح نه ده ځکه د قانون په اساس دا نفر سره له موادو باید د مخدره موادو دمبارزې پر ضد ریاست ته یوړل شي ځکه چې دا زموږ وظیفوي مسؤلیت دی چې د دوی نه تحقیق وشي خو په دې وخت کې جنرال نجیم په جنرال سیدعزیز ګذار کوي او وایې چې تاسې خائنین د کورنیو چارو په وزارت کې جمع شوي یاست او اخ و ډب رامنځ ته کیږي ،کله چې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي ددغه واقعې نه خبرېږي ډېر سخت په غوسه کېږي او دا لاندې مکتوب دملي دفاع وزارت او نور دولتي ارګانونو او غېر رسمي کاپي ISAF، امریکا او انګلستان سفارتونو ته استوي.

د مکتوب متن په لاندې ډول و:

**به مقام محترم وزارت دفاع ملي!**

موضوع: در حین تعقیب و گرفتاری موتر کرولای ( سرمه یی رنګ ) که حامل تریاک و هېروین بوده در پوسته تالاشی کوتل خېرخانه رئیس مبارزه بامواد مخدره این وزارت از جانب قواندان ۷۱۷ و ګروپ مسلح او مورد توهین، لت و کوب و جرحه قرار ګرفته است:

با ارائه احترامات قبلی:

نظر به احکام مواد (۷)، (۵۲) و (۵۷) قانون اساسی کشور و فرمان نمبر (۴) مورخ ۹/۱/۱۳۸۲مقام ریاست دولت انتقالي اسلامې افغانستان حفاظت جان و مال اتباع کشور، رعایت قانونیت، تامین امنیت داخلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزه با جرایم، ترور و دهشت افگنی، مبارزه با زرع، تورید ، ترافیک و قاچاق مواد مخدر از جمله وظایف قانونی وزارت امور داخله بمثابه یگانه ارگان مسؤل توجیه و توضیح شده است.

در حالیکه متاسفانه به صبح ۹/۴/۱۳۸۲ در پوسته کنترول و تالاشی کوتل خیرخانه قضیه اتفاق افتیده که فشرده آن ذیلاً ارائه مې شود:

نظر به راپور های قبلی در یک موتر سرمه یی رنگ کرولا بدون نمبر پلیت ترافیک مقدار زیاد تریاک و هیروین جابجا شده در حال انتقال و فرار بوده، در ساحه دروازه کنترولی کوتل خیرخانه از جانب موظفین پولیس و پرسونل آن حوالی ساعت پنج بجه صبح ۹/۴/۱۳۸۳ متوقف و دستگیر شده در حالیکه موتر و متهمین مورد بررسی عاجل قرار داشته غرض رسیدگی به وزارت امور داخله انتقال گردند، جنرال نجیم قوماندان (۷۱۷) به همراهی گروپ مسلح خود وارد پوسته تالاشی شده مستقیماً و عملاً به جانبداری قاچاقبران به تهدید تفنگ مداخله نموده نخست رئیس مبارزه بامواد مخدره را به کلمات رکیک توهین و دشنام داده، زمانیکه جنرال عزیز احمد خود رامعرفی و قوماندان مذکور را به کودینه وظیفه قانونی متوجه گرداینده از طرف قوماندان (۷۱۷) مورد لت وکوب قرار گرفته که از ناحیه (انف و جهه) مضروب و مجروح گردیده که جرح باز خون ریزی دارد ،و سپس موتر را با مواد مخدر جبراً با تهدید سلاح از پوسته گرفته متهمین را از ولچک رها نموده با خود به جانب شهر برده اند، از اینکه قوماندان ۷۱۷ عملاً و عمداً به گروپ مسلح خویش برغم مصرحات مندرج قانون اساسي، مشی و پالیسی بین المللی دولت انتقالی اسلامي افغانستان در جهت مبارزه با ( ترافیک و تهدیدمواد مخدر) با سوُ استعمال واستفاده از قدرت مفوضه دولتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وظیفه و گروپ مسلح) خویش جنرا ل سید عزیز احمد رئیس مبارزه با مواد مخدر را در حال اجرای وظیفه قانونی و مشروعش توهین و دشنام گفته و بعداً مورد لت و کوب قرار داده است که جریان و حقایق بررسی وظیفوی پوسته تالاشی کوتل خبر خانه، تیم بررسی محل واقعه صریحاً و دولت به تداخل و تجاوز وظیفوی قوماندان ۷۱۷ می نماید.

مزید به آن:

۱-جرم توهین و دشنام

۲-جرم لت و کوب رئیس مواد مخدر

۳-ادعای حق العبدی رئیس مبارزه به مواد مخدر

۴-جرم جانبداری از شبکه تورید و ترافیک مواد مخدر.

۵-جرم حمایت و پشتیبانی از قاچاقبران مخدر

۶- جرم رهایی و استخلاص متهمین وبردن موتر بامواد محموله مخدر آن

فوتوکاپی تذکره حاجی علم الدین متهم مسکونه ( جرحسن تال بغلان) که درپوسته اخته شده بملاحظه ضماً ارائه میشود.

۷- جرم توجه وتهدید تفنگ علیه ممثل سلطه عامه ( افسران پوسته – رئیس مبارزه باموادمخدر)

۸- اینکه بحیث ممثل ونماینده قوای مسلح ( اردوی ملی) شخصاً وعمداً ثبات،نظم ودسپلین اداری،امنیت را درحوزه صلاحیت پوسته و شاهراه عامه قصداً مختل وبی ثبات گردانیده است.

بناً خواهشمندیم در جهت اجرا و رسیدگی قانونی قضیه محترم قوماندان(۷۱۷) را باکرولا حامل مواد مخدر باموادمحموله آن به وزارت امور داخله معرفی اعزام وهمکاری بفرمایند تا جهت رسیده گی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتحقیقات قانونی به معنیت نظامې خارنوالی قوای مسلح معرفی و احاله گردد، در اخیر احترامانه خواهشمندیم تا به منظور پیشگری از تداخل و تثبیت غیر موجه و غیر قانونی درامر پیشبرد وظایف امن و نظم عامه در آینده شهر کابل و جلوگیری قبلی از تکرار همچو جرایم و تخطی صریح وظیفوی و تضعیف نه شدن اداره دولتی رجعت قطعه ۷۱۷ را از دروازه های تالاشی ( دخولی و خروجی ) شهر کابل به وضع الجیش اصلی اش هدایت بفرمایند.

توجه و همکاری های بی شایبه و متداوم آن مقام را آورز مي بریم.

بااحترام

علی احمد جلالي

وزیر امور داخله

کاپی ها :

- بریاست محترم عمومې اداره امور
- بریاست خارنوالی وزارت امور داخله
- به معنییت محترم امور امنیتی وزارت داخله
- به مدیریت محترم وقوماندانی امنیه ولایت کابل
- به ریاست محترم مبارزه با جرایم جنایی
- به ریاست محترم لوی خارنوالی

کاپی غیر رسمي به ISAF، سفارت امریکا و انگلستان

په همدې ورځ ماسپښین لوی درستیز جنرال بسم الله محمدی، د گارنیزون قوماندان جنرال ایوب سالنگی مشهور په دل آغا او رئیس ارکان د ۷۱۷ قطعه د عذر په شکل دکورنیو چارو وزارت ته راغلل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنیو چارو له وزیر علي احمد جلالي نه معذرت وغواړي خو وزیر صیب دوی ته وویل چې دا د عذر مسئله نه ده. ددغه مکتوب په استناد باید عمل وکړي. قوماندان نجیم – مخدره مواد، متهمین سره د کرولا موټر باید د کورنیو چارو وزارت ته وسپارئ.

په همدې ورځ سهار د کورنیو چارو وزیر د امریکا د جمهور رئیس خاص استازی او سفیر زلمي خلیل زاد سر ه وکتل او د جلالي صیب په قول هغه ته یې ویلي و چې دا د مافیا او قاچاقبرو یو بانډ دی او باید چې په دې هکله جدي اقدام وشي دا با نډ چې د دولت په داخل کې وي نو ر زما له دوی سره جنګ اعلان دی او زه نور مطبو عاتو ته د دوی نومونه افشا کوم او که بین المللي ټولنه جدی اقدام او ملاتړ نه کوي نو دا ددې معنې لري چې نړیوا له ټولنه هم د قاچاقبرو ملګرې ده او دا حکومت د مافیا حکومت دی د دې نه وروسته زلمي خلیل زاد د دفاع وزیر او د دولت مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم سره کتلی وو او نوموړي د جنرال نجیم د بندي کولو شفاهي امر ورکړی و خو تر مازدیګر پورې جنرال نجیم ونه نیول شو. د کورنیو چارو وزیر په قول ده پخپله هم مارشال فهیم ته په سهار کې ویلي و چې دا جدي مسئله ده او دا سې نفر چې ستا په شاوخوا کې دي ددې ضرر هم تا ته دي او هم ملت ته ځکه څه موده دمخه مو د شلمې فرقې قوماندان سره ۳۶۰ کیلوګرامه مواد مخدر ونیول او اوس دا پېښه وشوه، همداشان په زابل کې مو ۸۰ کیلوګرامه هېروین ونیول چې په موټر کې د امنیت د معاون مکتوب او کارت ورسره و.

مازدیګر پنځه بجې او دېرش دقیقې د انګلستان سفیر ران نش Ron Nash د کورنیو چارو وزیر لېدو ته راغی او هغو ته یې وویل چې دا د مخدره موادو د قاچاق پر ضد جنګ دي او موږ دې ته حاضر یو چې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخري سرحده پورې که په هر چا تمامېږي و جنګېږو. که حکومت دا مبارزه جدي نه کړي حکومت خپل اعتبار له لاسه ورکوي او د مخدره موادو مافیا د حکومت په داخل کې ده.

یو څه غواړم چې ضروري بولم اکثره کسان چې به د مخدره موادو او یا نور درندو جرایمو باندې نیول کېدل د عدلي او قضایي ارګانونو له خوا به خلاصیدل چې دا هم یوه لویه ستونزه امنیتي ارګانونو ته وه.

د مارچ د میاشتې په څوارلسمه نېټه د مخدره موادو د نظارت د کمیټې مشر او د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین ډګرجنرال هلال الدین هلال راته وویلې چې یو کس مجرم مو د ۳۲ کیلوګرامو اپین سره څارنوالی ته وسپاره خو وروسته محکمې حکم وکړ چې دا مجرم سره له اپینو خوشې کړئ او فیصله کې یې لیکلی چې کافی شواهد ددی مجرم سره نه ویعنی ۳۲ کیلوګرامه کافی شواهد نه حسابیږي نو څنګه به پولیس بیا خپل ژوند په خطر کې واچوي او د مخدره موادو قاچاقبران به ونیسي.

همدا شان ۲۰۰۳ م کال د جولای د میاشتې په دربمه نېټه د بي بي سي د پښتو څانګې خبریاله ملالی شینواري زما دفتر ته راغله او وویلې چې د بي بي سي پښتو څانګه غواړي چې تاسې سره خبرې وکړي څنګه چې ملالی شینوارې د بي بي سي خبریال په خپله ستودیو کې زماسره په تیلفون رخ کړ نو د مانه یې پوښتنه وکړه چې د مزار شریف په ښار کې ۳۲ کیلوګرامه اپین نیول شوي او د استاد عطا محمد نور نفر وایې چې ددغه اپینو انتقال کې د مزار د امنیه قوماندان جنرال محمد اکرم خاکریزوال لاس لري خو خاکریزوال وایې چې دا یوه دسیسه ده او دروغ دي کله چې ما له خاکریزوال څخه په تیلفون کې پوښتنه وکړه هغه وویل چې د کندهار یو تجار په سرای کې خپل موټر جوړو او استاد عطا محمد نفر ورغلي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجار یې له ځان سره بیولی دی او ورته ویلې دي چې په دې موټر کې تریاک دي حال دا چې دا دروغ او دسیسه ده.

په همدی ورځ سهار شپږ بجې راته د کورنیو چارو وزیر سریاور جنرال امین الله امرخېل تیلفون وکړ چې د استاد عطا محمد نور نفرو د خاکریزوال ۵۰-۷۰ کسه بې وسلې کړي او هغه یې په کور کې محاصره کړی دی نو ما ورته وویلې چې همدا اوس وزیرصیب خبر کړه ځکه چې دا مهمه مسئله ده .PRT هم ماته خبر راکړ چې استاد عطا محمد نور وایې چې خاکریزوال باید تبدیل شي. اصلاً دامنیت د امر جنرال عبدالرزاق چې د اسلامي جمعیت سړي و او د خاکریزوال تر منځ اختلاف و او استاد عطا محمد نور غوښتل چې د بلخ ولایت په ټولو مهمو وظایفو کې خپل نفر مقرر کړي او د بلخ په ولایت باید تسلط ولري ځکه جنرال دوستم د فاریاب او سرپل په ولایتونو کې خپل نفر ځای په ځای کړي وو او داسې راپورونه هم وو چې د جنرال دوستم او د وحدت اسلامي ګوند (هزارګانو ) هم خپل نفر د مزار په ښار کې بیا ځای په ځای کړي دي نو ددې موضوع د حل لپاره د کورنیو چارو وزارت او د ملي دفاع وزارت یو مشترک هئیت مزار ته ولېږه چې دا مسائل له نږدې نه بررسي کړي. د استاد عطا محمد نور ادعا دا وه چې دا تریاک دده د نفرو له خوا نه بلکې د امنیت ملي د نفرو له خوا چې مشر یې سروري دي نیول شوي دي. دا لانجه بیا وروسته حل شوله او څه موده وروسته جنرال خاکریزوال د بلخ دولایت نه تبدیل او د کابل د امنیه قوماندان په توګه او جنرال خان محمد مجاهد د کندهار د بلخ د امنیه قوماندان په توګه تعین شولو.

د جولای د میاشتې په څلورمه نېټه دا افغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د امنیتي ستراتیژیک ګروپ (Strategic Securtiy Group)

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه وه چې د بې وسلې کولو پروسه ارزيابي کړي په دې غونډه کې د ملي دفاع د وزارت نه جنرال شېر محمد کريمې او جنرال نوری، د ائتلاف د قواؤ مرستيال جنرال جان کوپر General Croper، د ISAF د قواؤ مرستيال جنرال کورتی( General Korte)، د يوناما د دفتر نه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي خاص استازي مرستيال فليپو ګرندي Flippo ) (Grandi او د ملي امنيت شورا استازی موجود و د ټولو ارزيابي داوه چې د روان کال د پارلماني ټاکنو پورې په سلو کې ۱۰- ۱۲ پورې غېر مسؤل وسله وال نشي بې وسلې کېدای او ښه به داوي چې پارلماني ټاکنې معطله شي او يوازې د جمهوري رياست ټاکنې بايد ترسره شی همدا شان د ايساف قواؤې هم نه شي کولای چې شمال او غرب د افغانستان ته پراختيا ومومي، د يوناما استازي وويل چې يوناما دواړو ټاکنو ته همزمان تياری نيسي خو امنيتي ستونزې يو مشکل دی خو د اګست په مياشت کې دواړه ټاکنې ( پارلماني او رياست جمهوري) ښايې امکان ولري او کنه. ده وويل چې تراوسه پورې ۵.۵ ميليونه کسانو ثبت نام کړي چې په سلو کې ۳۸يې ښځې دي، په دې غونډه کې دا تصميم هم ونيول شو چې د کورنيو چارو په وزارت کې بايد د ټاکنو يو عملياتي مرکز هم جوړ شي چې امنيتي وضعيت د نږدې نه وڅاري.

که موږ پورته جريانونو او پېښو ته وګورو د افغانستان د حکومت زيات وخت، انرژي او امکانات په دې مصرفيدل چې څنګه په داخل دحکومت کې د هغو ډلو او اشخاصو سره په بې امنۍ او ګډوډۍ کې خپله بقا لټوي مبارزه وکړي نو اصلاً ستراتيژيکي مسايلولکه د تروريزم سره مبارزه، د اداري پياوړي کيدل او خلکو ته د روزګار پيدا کول په اړه هيڅ فکر نه و او همدا علت و چې کله د ۲۰۰۵م کال په اخرو کې د کورنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزیر علي احمد جلالي او یو شمېر نور فعاله وزیران او چارواکي د حکومت نه ووتل، امنیتي وضع ورځ په ورځ مخ په خرابیدو شوه او خود سره چارواکو ته موقع په لاس ورغله چې د دولت ټول امکانات د ځان په ګټه استعمال کړي. نړیوالې ټولنې هم یې تفاوتي اختیار کړه چې اوس هم د دولت او هم د نړیوالې ټولنې نه لار ورکه ده.

د جولای د میاشتې په اومه نېټه د RPT د نظارت په عالي کمېټه کې چې مشري یې د کورنیو چارو وزیر علی احمد جلالي کوله د نورو کسانو سربېره د ائتلاف د قواؤ مشر جنرال ډیویډ بارنو (Gen. David Barno)، د ایساف د قواؤ د قوماندان مرستیال جنرال کارتي Gen. Korte او د مالي وزیر ډاکتر اشرف غني احمدزي هم برخه درلوده. د کورنیو چارو وزیر وویل چې د هرات، غور، فاریاب، سرپل او د بلخ ولایتونو په ځینو سیمو کې امنیتي وضع د محلي جنګسالارانو له امله مخ په خرابیدو ده. د تشنج د رفع کولو لپاره موږ د چټک غبرګون قطعات دغه سیمو ته لېږدو چې وضعیت نورمال شي خو ددې لپاره چې وضع په دایمي توګه ښه شي جدي تصامیمو ته هم د حکومت له خوا او هم د نړیوالې ټولنې له خوا ضرورت دی. موږ ددې کال تر اخېره پورې شاید پنځه دېرش زره پولیس وروزو خو دا کافي نه دي او باید PRT فعاله رول د امنیت په راوستلو کې واخلي. په تېرو دوه میاشتو کې چې په شمال کې وضع خرابه وه د مزار PRT چې د انګلستان د حکومت قواؤې هلته دي ډېر مهم رول ولوباوه مګر د نورو هېوادنو PRT چې جوړېږي دوی سمه همکاري نه کوي.

د ایساف قواؤ قوماندان مرستیال جنرال کورتي وویل چې د جولای د میاشتې د لومړۍ نېټې نه ایساف د مزار د PRT قومانده په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستلې ده او په بغلان کې به هم PRT جوړ شي چې د امنيتي وضعيت په برخه کې کومک وکړي.

ډاکتراشرف غني احمدزي د PRT ستيرينګ يا نضارت کمېټې ته وويل چې د افغانستان څلور ميليونه کسان په ورځ کې د نيم امريکايي ډالر نه کم عايد باندې ژوند کوي نو امنيت د انکشاف لپاره حتمي او ضروري دی که امنيت نه وي موږ نه شو کولای چې خصوصي پانګوال دې ته تشويق کړو چې په افغانستان کې پانګه واچوي . ده وويل چې د ۲۰۰۴زکال د جنوري نه را په دې خوا د افغانستان امنيت خراب شوي او خلک لږ ځانونه مصؤن ګڼي. هسې شيندل د پيسو څه فايده نه کوي اوس هم په سلو کې ۴۰ نه تر۵۰ پورې پيسې بې ځايه مصرفېږي، خلک د جنګسالارانو د ژغ لاندې ژوند کوي او د خلکو اساسي حقوق د پښو لاندې کېږي. په سلو کې ۲۰ د ښوونځيو زده کوونکي په اول يا دويم صنفونو کې دي او په سلو کې ۶ خلک برق لري. ډاکټر غني وويلې چې ما اته مياشتې دمخه خبرداري ورکړه چې د افغانستان دولت په يو مافيايي هېواد باندې بدليدونکی دی ځکه چې که يو متر مربع کار حکومت په ۴۸ امريکايي ډالره کولی شي هغه NGO ګانې او قراردادیان يې په ۱۵۰۰ ډالره کوي نو دا د پيسو د مصرف طريقه ډېره مهمه ده بايد شفافيت او هماهنګي د حکومت او د نړيوالې ټولنې ترمنځ موجوده وي.

د ائتلافي قواؤ قوماندان جنرال ډيويد بارنو (Gen. David Barrno) وويل چې په افغانستان کې موږ د درې قسمه جنګ سره مخامخ يو.

۱. د تروريستان سره جنګ چې القاعده، طالب او اسلامي حزب په کې شامل دي. (!!)

۲. د جنګ سالارانو او د مواد مخدر مافيا د بېلا بېلو ګروپونو سره. (!!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ سازمان یافته جنایي ګروپونو او لوږه (فقر) سره (!!)

د جولای د میاشتې په اتمه نېټه د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي په خپل اونیز مطبوعاتي کنفرانس کې د پنجشنبې په ورځ وویل چې په سلو کې ۷۵ د دنیا اپین یعنې ۳۵۰۰ټنه اپین سږکال په افغانستان کې تولید شوي دي. دا امکان نه لري چې ددې توکو قاچاق دې د دولتي افرادو له مرستې پرته سرته ورسېږي موږ شواهد ټولوو او داسې ورځ به ورسېږي چې ددې قاچاقبرانو سره به محاسبه وشي.

د بي بي سي خبریال خپلواک ساپي پوښتنه وکړه چې د مزار وروستۍ پېښې (د استاد عطا محمد او خاکریزیوال تر منځ پېښه چې مخکې یې یادونه شوې) او په کابل کې د خارجیانو له خوا د شخصي زندانونو په هکله ستاسې نظر څه دی؟ ایا ریښتیا ده چې د مخدره موادو سره د مبارزې رئیس د قاچاقبرانو د دستګیرۍ په وخت کې د یو ګروپ سره دجګړې پرمهال زخمي شوی دی؟

جلالي صیب په ځواب کې وویل چې د مزار د مسئلې په هکله تحقیق لا روان دي او زیات څه نه شم ویلی خو یوطرف ته قانون موجود دی او بل طرف ته ملیشه یې نظام دی چې دواړه سره متضاد دي. ملیشه ګران دوه کارته په جیبونو کې لري چې کوم یو یې په ګټه دی هغه راوکاږي او استعمالوي یې خو خلک باید په سیاسي لحاظ بسیج یعنی منظم شي چې خپل غږ اوچت کړ ي خو متاسفانه چې اوس د خلکو غږ نه پورته کیږي او د ملیشه ګرانو او قدرت سالارانو غږ اوچت دی، ابتدایي رپوټ دادی چې د یو سړي موټر یې نیولي او په امنیه قوماندان یې اتهام لږولی او امنیه قوماندان د قول اردو په قوماندان اتهام لږولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خارجیانو د زندان په هکله جلالي صیب وویلې چې په کابل کې درې خارجیانو په غېر قانوني توګه یو ګروپ جوړ کړی وو چې ګوندې وښايي چې د تروریستي ډلو پر ضد فعالیت کوي او د ائتلاف د قواؤ سره اړیکي لري، دوی اته کسه نیولي وو او هم دې کسانو جعلي صادراتي کمپنۍ جوړه کړې وه. په شپږم دجولای ۲۰۰۴م امنیت ملي او پولیسو په شریکه دا درې خارجیان او د دوی څلور ترجمانان د کارته پروان په سیمه کې په یوه کور کې ونیول او ۸ کسه د دوی سره بندیان وو، دوی افغانان د القاعده او د اسلامي حزب په نامه نیول، شکنجه کول او د هغوی نه یې پیسې اخستې. ددې ډلې مشر ي یو تن امریکایې د Jonathan k. Idema په نامه کوي او د دوی د کور نه زیاتې وسلې له څه نورو شواهدو سره هم پیدا شوي دي او د امنیت ملي له خوا ترې تحقیق روان دی. موږ د امریکایې قواؤ او د امریکا سفارت سره هم تماس نیولی او هغوی هم د دې خبرې پخلی کړي چې دوی د امریکا سفارت یا ائتلافي قواؤ سره هېڅ تړاو نه لري جلالي صیب وویلې وطن چې خاوند ونه لري نو هر څوک په تناره کې خپلې پیرې ( زغالی ) پورې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دولت رئیس حامد کرزي د ۲۰۰۴ زکال د جولای په میاشت کې د ریاست جمهوري د ټاکنو نه دمخه دخپلو معاوینینو ټاکل دجولای د میاشتې ۲۲ مه نېټه ۲۰۰۴ زکال

نن د افغانستان د دولت رئیس حامد کرزي د روان کال د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره د اساسي قانون په اساس خپل دوه معاونین احمد ضیا مسعود د لومړي معاون په توګه او استاد عبدالکریم خلیلي د دوم معاون په توګه وټاکل او د مطبوعاتو له لارې یې اعلان کړل. د احمد ضیا مسعود ټاکل د اکثریت ولس د توقع په خلاف و چې ګوندې دی به د مارشال محمد قسیم فهیم پر ځای چې دواړه د پنجشېر دي وټاکل شي اوهم به احمد ضیا مسعود دې ته چمتو نه شي چې د مارشال محمد قسیم فهیم چوکۍ قبوله کړي.

دمخه اکثریت ناظرین په دې عقیده وو چې که مارشال فهیم بیا انتخابېږي نو دا به په دې معنی وي چې وضع نه ښه کېږي او هر څه به په خپل ځای پاتې وي او دا به د ولس لپاره چندان د قبول وړ نه وي. IRI (International Republic Institute) هم یوه سروې خپره کړې وه چې مارشال فهیم او استاد خلیلي په تاجکو او هزارګانو کې خپل محبوبیت د لاسه ورکړی او د دوی نفوذ په سلو کې ۲۷٪ نه زیات نه دی. د IRI د دفتر د سیمې یوتن مسؤل ماته وویلې چې دوی ددې سروې پایلې د دولت رئیس ښاغلي حامد کرزي ته هم ښودلي دي.

د انګلستان د سفېرې Rosalind Marsden سره په یوه کتنه کې څو ورځې دمخه جلالي صیب یادونه وکړه چې مارشال فهیم اوس د دولت لپاره بوج یا Liability ده او که هغه بیا انتخاب شي نو د دولت اعتبار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور هم کمېږي. په دغه کتنه کې جلالي صیب دا هم وویل چې د دولت رئیس به په طالبانو هم غږ وکړي چې په ټاکنو کې برخه واخلي او د هېواد په ثبات کې باید رول ولوبوي. همدا شان په شمال او لویدیځ کې به د دولت تصامیم (د چارواکوبدلون ) به جنوب او ختیځو سیمو باندې هم تاثیر واچوي. جلالي صیب د انګلستان د سفېرې سره په کتنه کې وویل چې دغه ملیشه یې چارواکي دوه کارتونه په جیب کې لری یو یې ملیشه او بل یې دولتي ! ددې ملیشه یې چارواکو پر ضد باید جدی موقف ونیول شي تر څو امنیت ګډوډ نه کړي او ددې کار لپاره د نړېوالې ټولنې حمایت ضروري دي هغه کسان چې قابل اصلاح نه دي باید د هغوی په مقابل کې جدي تصمیم ونیول شي.

کله چې مارشال فهیم خبر شو چې د دولت رئیس دی د خپل معاون په توګه نه انتخابوي نو یو شمېر سرشناسه پنجشېریان او د هغوی هوا خواهان لکه محمد یونس قانوني، ډاکتر عبدالله عبدالله، بسم الله خان محمدي او محمد یوسف اعتبار په صدارت کې د مارشال فهیم په ګډون راټول شوي وو چې تعداد یې تقریبا پنځوسو کسو ته رسیده او احمد ضیا مسعود یې په دې قانع کړی و چې د جمهوري ریاست د مرستیالۍ دنده قبوله نه کړي. د جلالي صیب او د ملي امنیت دمشر امرالله صالح له قوله احمد ضیامسعود ماسپښین ارګ ته ورغی او د دولت رئیس ته یې وویل چې دی د خپل کاندیتوب نه د جمهوري ریاست د مرستیال په توګه منصرف شوی دی. دوی وویلې چې احمد ضیاْ مسعود هم دا خبره تائید کړه چې یو تعداد پنجشېریان چې تعداد یې پنځوسو کسو ته رسیده په دې دا فشار اچوي چې باید دخپل کاندیتوب نه تېر شي. دوي وویلې چې کرزي صیب هم دا خبره ټېنګه کړه او احمد ضیاْ مسعود ته یې وویلې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پنځو سو کسو په خاطر ددې نه منصرف کيږي نو دا ښه کار نه دی. هماغه و چې احمد ضيا مسعوديې بيا قانع کړ چې د کرزي صيب د مرستيالی کانديتوب ومني.

ددغه فيصلې سره سم محمد يونس قانوني هم دپوهنې د وزارت نه استعفا ورکړه او د جمهوري رياست لپاره يې ځان کانديد کړچې تاج محمد وردګ او عالم بلخي يې خپل مرستيالان وټاکل. همدا علت و چې په دې ټاکنو کې کرزي صيب د پنجشېر نه يوازې ۳۲۷رای اخستې وې حتې په پنجشېر کې د مسعوده جلال او عبدالحفيظ منصور نه هم کمې رای د کرزي صيب وې.

د دولت د رئيس حامد کرزي د اعلان سره سم چې ګوندې احمد ضيا مسعود به لومړی مرستيال وي دا اوازې د کابل په ښار کې خپرې شوې چې د مارشال فهيم طرفداران شايد کومه ګډوډې جوړه کړي خو د کورنيو چارو وزارت، ايساف او د ائتلاف قواؤ د کابل ښار د امنيت لپاره لازم ترتيبات نيولي وو. په همدې ورځ په يولسو بجو موږ د يوناما په دفتر کې دټاکنو په هکله اونيزه ناسته درلوده چې په هغه کې د ايساف مرستيال Gen. Korte، د ائتلاف د قواؤ قوماندان مرستيال Gen. John Cooper، د ملګرو متلونو د خاص استازې مرستيال Fillipo Grandi او ما برخه درلوده خو موږ په غونډه کې د ټاکنو د امنيت په اړه خبرې و نه کړې او د کابل د ښار امنيت د ساتلو په ارتباط لازم ترتيبات ونيول شي.

له دې غونډې وروسته د ايساف قوماندان Gen. Rick Hillier او د ائتلاف د قواؤ قوماندان مرستيال Gen. John Cooper په ارګ کې د جلالي صيب سره وکتل او دا فيصله يې کړی وه چې د کورنيو چارو په وزارت کې بايد يوه مشترکه قومانداني د ايساف، ائتلافي قواؤ، امنيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي او ملي دفاع وزارت په ګډون جوړه شي او په دې هکله باید د ماښام په اوه بجو د کورنیو چارو په وزارت کې اضطراي غونډه وشي. د ماښام په اوه بجو غونډه کې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي، د ائتلافي د قواؤ مرستیال Gen. Cooper، د ISAF قواؤ قوماندان Gen. Rick Hillier د ملي امنیت مشر امرالله صالح، د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال، د کورنیو چارو وزارت ویاند لطف الله مشعل او ما برخه درلوده.

ددې نه دمخه د مازدیګر په شاوخوا کې د کورنیو چارو په وزارت کې د قوماندانۍ ګډ مرکز فعال شو او د کورنیو چارو وزیر ماته دنده را وسپارله چې د ائتلاف او ایساف د قواؤ سره په تماس کې باید اوسېږم او هر عاجل خبر باید هغه ته ورسوم.

په همدې ورځ بله مهمه پېښه وشوه چې د کورنیو چارو وزارت سره مخامخ د صدارت په څلور لارې کې د جمهوریت روغتون ودانۍ چې یوې چینايي کمپنۍ پرې کار کاوه د بیخه راونړیده چې دوه ویشت کسه په کې زخمیان او درې کسه په کې مړه شوي وو. د سه شنبې په ورځ ماښام د کورنیو چارو وزیر او زه پیاده دغه ودانۍ ته ورغلو چې وګورو د ژغورنې کار څنګه روان دی. په سلګونو کسانو کار کاوه خو داسې وسایط نه و چې دغه درې مړي ژر را وکاږي چېرته چې د دوی جسدونه د ودانۍ د یو غټ کمر لاندې پراته وو.

کله چې مارشال فهیم د ایساف او ائتلافي قواؤ جدیت ولیده نو په کابل کې هېڅ داسې پېښه ونه شوه چې امنیت خراب کړي.

د جولای د میاشتې په اوه ویشتمه نېټه ماښام په شپږو بجو د کورنیو چارو په وزارت کې د ملي امنیت عمومي رئیس امر الله صالح، د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزارت امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال د ایساف مرستیال جنرال کورتي Gen. Korte، د ائتلافي قواؤ مرستیال جنرال کوپر Gen. Cooper، د ملي دفاع وزارت د پالیسي رئیس جنرال محب الله او ما د کورنیو چارو په وزارت کې غونډه درلوده. امر الله صالح وویل چې ده د سهار په لسو بجو مارشال فهیم سره غونډه درلوده او ورته یې ویلې و چې ښه به داوي چې مثبت رول ولوبي او په کابینه کې برخه واخلي. دده په قول مارشال فهیم ویلې و چې تر هغه به دی د حکومت پر ضد بیانیه ور نه کړي تر څو دی د حکومت په کابینه کې وي یعنې د ټاکنو تر وخته پورې.

جنرال محب الله هم وویل چې لوی درستیز بسم الله خان ټولو قطعاتو ته ویلي که هره قطعه د یو ځای نه بل ځای ته حرکت کوي او یا د بې وسلې کولو پروسه عملي کوي نو باید چې دوی د تحرکاتو نه د مخه د ایساف او ائتلاف قواؤ ته خبر ورکړي تر څو سؤ تفاهم پیدا نه شي.

د اګست د میاشتې په لومړۍ نېټه یعنې د یکشنبې په روځ ماښام ډاکتر فاروق وردګ د ټاکنو د کمیسیون د دارلانشأ مشر، محمد عمر داودزی د دولت د رئیس د دفتر مشر، زلمي غازي عالم او زه د کاؤن کاکړ په کور کې مېلمانه وو، موږ د داود زی نه پوښتنه وکړه چې کله کرزي صیب د ټاکنو د مبارزې لپاره خپل معاونین تعینول د ارګ په داخل کې فضا څنګه وه او ددې جریان په هکله مو ترې وغوښتل چې یو څه رڼا واچوي.

داود زي وویل چې تېرې یکشنبې په ورځ چې د جولای د میاشتې په پنځه ویشتمه نېټه شی د ملګرو ملتونو دعمومي سرمنشي خاص استازي ژان ارنو (Jean Arnanlt ) د ائتلاف د قواؤ قوماندان جنرال ډیوید بارنو Gen. David Barno، د ایساف د قواؤ قوماندان جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریک هیلېر Gen. Rick Hillier،او د امریکا سفېر زلمي خلیل زاد په ارګ کې د دولت رئیس حامد کرزي سره غونډه درلوده او دا یې ورته وویل چې مارشال فهیم باید په راتلونکي ټاکنو کې ستا مرستیال نه وي.
نو ما ته رئیس صیب (کرزي) وویل چې احمد ضیا مسعود سبا سهار ۹ بجې د مسکو نه باید کابل ته راوستل شي. باالاخره د آریانا سره مو تماس ونیوه او یوه الوتکه چې د سعودي نه ناوخته راتله هغه مو ترمیز ته ولېږله تر څو د ترمیز نه احمد ضیا مسعود کابل ته راولي ځکه چې د مسکو نه ترمیز ښار پورې الوتکې پیدا کیدلې، نو د شپې په دولس بجو مو زلمی خلیل زاد د خوبه راویښ کړو چې د امریکایې قواؤ سره تماس ونیسي تر څو ازبکستان د آریانا الوتکې ته په ترمیز ښار کې د کیناستو اجازه ورکړي، هماغسې وشو او سهار احمد ضیا مسعود کابل ته راورسېد او رأساً مو ارګ ته یوړو نوره قصه هماغسې دپورته په شان وه چې احمد ضیا مسعود د جمهوري ریاست معاونیت ومانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو چارو وزارت د اداري معین په توګه زما ټاکنه
## د اګست ۱۲مه نېټه ۲۰۰۴ز کال
## ۲۵ سرطان ۱۳۸۳هـ ش

دکورنیو چارو په وزارت کې د سرمشارو په توګه له دندې نه د څه د پاسه یو کال وروسته د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي چې زما عملي کار او تجربه ولیده نو زه یې د کورنیو چارو دمعین په توګه پیشنهاد کړم او دغه پیشنهاد د سرطان د میاشتې په پنځه ویشتمه نېټه د دولت د رئیس حامد کرزي له خوا منظور شو ( پیشنهاد او د منظورۍ سند ددې کتاب په اخېره کې ضمیمه دی). که څه هم د دې دمخه د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب ماته د پولیسو دوجهې صندوق ، د PRT او د افغانستان د تحکیم ثبات پروګرام د چارو مسؤولیت په مستقیمه توګه رأسپارلی ووخو ددې نه برسېره دېرې نورې مهمې دندې او خاصتاً د نړیوالې ټولنې سره روابط یې هم ماته سپارلي ووخو تقریبا د شپږ اوه میاشتو راپه دې خوا جلالي صیب غوښتل چې د پورته وظایفو برسېره د کورنیو چارو د وزارت د اداري معین دنده هم ما ته راوسپاري تر څو زه د کورنیو چارو په وزارت کې اجرائیوي صلاحیت هم ولرم خو دا کار د سیاسي ملحوظاتو په اساس او خاصتاً پخواني معین ته چې د جمعیت اسلامي د سهمېې په چوکاټ کې د جلالي صیب د راتګ نه دمخه مقرر شوی و کوم بل ځای پیدا کړو. په وروستیو میاشتو کې جلالي صیب او د کورنیو چارو د وزارت امنیتي معین هلال الدین هلال او هم نړیوالې ټولنې دا هڅه کوله چې ګوندې زه د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د معین په توګه مقرر شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ما چې حالاتو ته کتل نو دا راته ګرانه وه چې زه پورتنۍ دنده په ښه توګه اجرا کړم نو جلالي صیب ته مې وویل چې د اداري معینت د کارونو سره یو څه اشنايي لرم او که دا امکان نه لري نو خپله موجوده دنده چې د کورنیو چارو وزارت سر مشاوریت دی راته بهتر دی .

باالاخره جلالي صیب د کارونو د ښه والي په خاطر زما د تقرر منظوري د دولت د جمهور رئیس حامد کرزي نه واخستله او پخوانی معین ډګرجنرال فضل احمد عظیمي یې د مشاور په توګه مقرر کړ خو هغه د مشاوریت وظیفه قبوله نه کړه او په کور کیناست.

ځنګه چې مخکې ما یادونه وکړه د معنیت سره زما مسؤلیت نورهم زیات شو ځکه چې د مشاوریت دندې هم زما په خپل حال پاتې شوې او د محلي اداري د جووړلو لپاره چې د هېواد د اداري سیستم اصلي رکن جوړوي زیات کار ته اړتیا درلوده.

په دې وخت کې د افغانستان اکثریت ولسوالیو کې دولسوالیو ودانۍ موجودې نه وې، د پرسونل د ظرفیت ارتقا یا اوچت والي لپاره باید جدي کار شوی وای،اداري اصلاحات هم باید د کورنیو چارو وزارت کې عملي شوي وی. البته دې کار د نړیوالې ټولنې نه د مرستو جلبولو اویو قوی سیاسي حمایت ته اړتیا درلوده چې له نیکمرغه دکورنیو چارو وزیر پر ما پوره اعتماد درلوده او د وزارت ټول صلاحیت یې ما او امنیتي معین ته راکړی و او دوزارت د ادارو کارونه د وزیر لاسلیک ته نه معطل کیده خو له بده مرغه د کورنیو چارو وزیر په سلو کې ۹۰ وخت په سیاسي کشمکشونو تېریده او دی یې نه پرېښوده چې په ستراتیژیکه توګه په هېواد کې د امنیت راوستلو او د ادارو په ښه کولو فکر وکړي. چې څه نمونې یې ما مخکې په دې کتاب کې یادې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زه اداري معین شوم نو ما ددې معینت اداري پرسونل یعنې کارکوونکو ته په لومړۍ غونډه کې چې د کورنیو چارو وزارت په پخواني تالار کې جوړه شوې وه وویل چې که زه وکړی شم د خپل دې ماموریت په دوره کې درې کارونه چې یو یې د نوو تذکرو ویشل، د ولسوالیو د ودانیو جوړول او د اداري اصلاحاتو پروسه چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو د کمیسیون له خوا پیل شوي عملي کړم نو دا به زما ډېر مؤفقیت وي.

که څه هم موږ د کورنیو چارو د وزارت د رئیسانو او خاصتاً د ثبت احوالو نفوس د رئیس عبدالرحمن معقول په مرسته د تذکرو د ویش پروسه، د کارتونو ټول ډیزاین ، د تذکرې ارتباط د پاسپورت ، د ټاکنو دثبت نام، د موټرو د نمبر پلیټ او لیسنس سره برابر کړی و او دوه کمپنۍ یوه یې جرمنۍ او بله یې چې انګلیسي وه دې ته حاضر و چې ددې پروسې قرارداد امضأ کړی تر څو عملي کار پیل شي خو بعضې داخلي او بین المللي ادارو ددی کار مخالفت کاوه. د مالیه وزیر ډاکتر اشرف غني هم په اخره کې دامنلی وه چې دا پروژه دمالي وزارت له خوا باید یو له دې دوه کمپنیو ته ورکړي شی خو متاسفانه چې هم ډاکتر اشرف غني او هم موږ د وزارت نه ډیرژر لاړو او دا پروژه تر اوسه پورې عملي نه شوه. دا پروژه د افغانستان د اداري سیستم اساس تشکیلوي چې په راتلونکي کې یې د میلیونو ډالرو د مصرف مخه نیوله او هم په اداري او امنیتي چارو کې خورا موثره و.

په هغه وخت کې په دې پروژې تقریبا څلویښت میلیونه ډالره مصرف په دریو کلونو کې راتله خو د ملګرو ملتونو د راپورونو له مخې یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټاکنو د نوم لیکنې په پروسه تر اوسه پورې تقریبا د دوه سوو میلیونو ډالرو نه زیاتې پیسې لږېدلي دي.

دودانیو د جوړولو په برخه کې د ۳۶۰ ولسوالیونه تقریبا د ۱۵۰ ولسوالیو دودانیو تهداب زموږ په وخت کې کېښودل شو خو متاسفانه چې د بعضې ولسوالیو تهداب چې تقریبا اوه نیم کاله دمخه ایښودل شوي و تر اوسه پورې تکمیل شوی نه دی حال دا چې په هماغه وخت کې ددی ودانیو د جوړولو لپاره کافی پانګه موجوده وه. د افغانستان د تحکیم د ثبات یا ASP (Afghanistan stabilization Program) پروګرام لپاره مونږ تقریبا ۷۸میلیونه ډالرو ژمنه د نړیوالې ټولنې نه اخستې وه چې تقریبا ۴۷میلیونه ډالره یې د مالي وزارت ته انتقال شوې وې خو متاسفانه چې د تحکیم ثبات پروګرام د اداره د منجمنت د بې کفایتۍ په وجه تقریبا دېرش میلیونه ډالره چې مرستندویه هېوادونو ژمنه کړې وه، ورنه کړی او د خپلې ژمنتیا نه په شا شول.

د اداري اصلاحاتو پروسه هم دکورنیوچارو وزارت د همکارانو په مرسته پېل شوه چې لومړۍ مرحله یې د بلخ ، شبرغان او سمنګان په ولایتونو کې عملي شوه خووروسته زموږ د تګ نه دا پروسه هم ډېره بطی وه چې کلونه یې ونیول او څنګه چې لازمه وه هغسې عملي نه شوه او په عوض ددې چې اداري اصلاحات او د پولیسو ریفورم په افغانستان کې اداري ثبات راولي او امنیت ښه شي برعکس یې د اداري ثبات له منځه یوړل، په وظایفو کې بې ثباتي رامنځ ته شوله او امنیتي وضعیت نور هم خراب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د DynCorp د دفتر سره چاودونه
## د اګست د میاشتې دپرشمه نېټه ۲۰۰۴ زکال

نن ماښام د شپږو بجو په شاوخوا کې په خپل دفتر کې ناست وم او د خپل میز د سرکاغذونه مې لټول چې د یوې درندې چاودنې آواز مې تر غوږ شو چې زما د دفتر او دهلیز شیشې یې هم ماتې کړې ما فکر وکړ چې زما د دفتر تر شا چا بم ایښی دي ځنګه چې د له دفتر نه راووتم کتل مې پولیسو منډې وهلې او ما فکر وکړ چې د کورنیو چارو دوزېر دفتر ته چې زما د دفتر د ودانۍ تر څنګ و، چا بم ایښی دی خو هلته هم څه نه و. موږ د کورنیو چارو د وزیر د دفتر د ودانۍ سر ته (بام) وختلو کتل مو چې د انصاري چوک سره نږدې د کورنیو چارو وزارت شمال لویدیځ برخې ته د اورلمبې ښکاري، دغه چاودنه دومره درنده وه چې موږ فکر کاوه چې په لسګونو کسان به مړه یا ژوبل شوي وي. د ماښام په اوو بجو تقریبا یو ساعت د پېښې نه وروسته د کورنیو چارو وزېر علي احمد جلالي او زه د پېښې ځای ته ورغلو چې لیدل مو د سړکونو شاوخوا او حتی د ډېرو لرې پرتو ودانیو او کورونو شیشې ماتې شوي دي. په کومه کوڅه کې چې دا چاودنه شوي وه د موټرو پرزې حتی دوه درې سوه متره لرې پرتې وې. په دې پېښه کې لس کسه وژل شوي وو چې درې یې امریکایان، درېې نیپالي پېره داران چې د ګورکه (Ghurkha ) په نامه یادیدل او څلور محلي کارکوونکي وو، دغه چادونه ډېره دقیقه طرح ریزي یا پلان شوی وه ځکه چې په همدې وخت د DynCorp د موسسې غړي چې د مخدره موادو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضد د مبارزې سره د کوکنارو په چپه کولو کې او هم د پولیسو په روزنه کې مرسته کوله په دغه ودانۍ کې د ډوډۍ خوړلو وخت و خو په دې ماښام ددې دفتر ډیرې خارجیانو په یوه بله نږدې ودانۍ کې دماښام ډوډۍ خوړه ځکه چې په دغه ودانۍ کې چې دوی همېشه په همدې وخت د ماښام ډوډۍ خوړله څه د ترمیم کارپکې روان و نو په دې ماښام دوی تغېر د ځای کړي وو اصلاً دا چاودیدونکې مواد د یوه ډاینا وړې لارې په منځ کې چې دې ودانۍ ته یې شګه راوړله ځای په ځای شوې وو نو ځکه د چاودنې طاقت یې د نورو چاودنو پرتله زیات و. که د DynCorp امریکایې کارکوونکو په دې ماښام ځای نه وای بدل کړی نو شاید چې په لسګونو امریکایان به په دې چاودنه کې وژل شوي وای، په دې پېښه کې اته اوږدې امریکایې شورلیت جیپان هم له منځه تللي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هرات والي اسمعیل خان تبدیلیدل
## د سپتمبر ۱۱ مه نېټه ۲۰۰۴ ز کال

نن د سپتمبر د میاشتې په یولسمه نېټه د امنیت شورا بالاخره داتصمیم ونیوه چې د هرات والي اسمعیل خان باید تیدیل شي، د اسمعیل خان د تبدیلیدو اوازې او کار د یو کال نه را په دې خوا روان و خو د دولت رئیس حامد کرزي فکر کاوه که اسمعیل خان تبدیل شي نو د افغانستان غربي سیمې ولایتونو امنیتي وضعیت به ناآرامه او بې ثباتي به زیاته شي خو د کورنیو چارو وزېر نظر دا و چې کله دمرکزي حکومت لمن ولایاتونو ته پراخه شي او افغانستان د ملک الطوایفي نه خلاص شي نو د خلکو اعتماد به په حکومت زیات شي او که په موقتی توګه وضعیت یو څه خراب هم شی خو په اوږدمهال کې د خلکو به مرسته او ملاتړ امنیت ښه کېږي.

د اسمعیل خان د لرې کیدو نه مخکې د کندهار والي ګل آغا شېرزی هم د کندهار د ولایت نه لرې او د فوائد عامې د وزېر په توګه تعین شوي و، له بله پلوه په دې وخت کې زیاترو پښتنو هم دا شکایتونه کول چې ګوندې مرکزي حکومت یوازې په پښتنو زور رسېږي او له جنرال دوستم ، استاد عطا محمد نور او اسمعیل خان ته څه نه وایي چې په خپل سر د سیمې پاچیان دي. د پکتیا په سیمه کې خاصتاً پاچا خان ځدران حتی په بیړنۍ لویه جرګه کې دا ادعا کوله چې دوی ټول د بن د پروسې په اساس او د B-52 طیارو په زور بېرته افغانستان ته راغلي نو څنګه چې حاجي قدیر د ننګرهار ولایت، اسمعیل خان دهرات ولایت، جنرال دوستم د شبرغان او استادعطا محمد مزار ونیوه نو دی باید د لویې پکتیا د والي په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعین شي، کله چې باچاخان ځدران د پکتیا د والي په توګه تعین نه شو نو د مرکزي حکومت پر ضد یې مسلحانه فعالیت پیل کړ.

ددې فیصلې نه دمخه جلالي صیب امریکا ته تللي و او بېرته دوبۍ ته رأستون شوی و او یو شرط یې داو چې دی بېرته کابل ته نه ستنېږي تر څو اسمعیل خان د هرات نه بل چېرته بدل نه شي. د امریکا سفېر زلمی خلیل زاد هم په دې وخت کې د اسمعیل خان د لرې کولو طرفدار نه و ځکه چې په عراق کې امریکایې قواؤې د سخت مقاومت سره اخته وې او د بوش اداري غوښتل چې په ظاهري توګه د افغانستان جنګ مؤفقه ارزیابي کړي نوزما په اند خلیل زاد په دې فکر و چې د جنګسالارانو سره باید ګذاره وشي تر څو امنیتي وضع خرابه نه شي تر څو جمهور رئیس بوش د د دویم ځل لپاره د امریکا جمهور رئیس شي. د افغانستان د جمهوري ریاست ټاکنې چې په اکتوبر کې پلان شوې وې د همدې لپاره وې چې د نومبر په میاشت کې د امریکا د ټاکنو نه باید دمخه ترسره شي تر څو بوش په امریکا کې خپل ولس ته وښایې چې په افغانستان کې د د یموکرأسۍ پروسه په مؤفقه توګه روانه ده او دوی په افغانستان کې بریالي دي نو کرزی صیب هم د خپلو راتلونکو انتخاباتو په مقصد د زیاتې ګذاره نه کار اخسته.

خوبالاخره د جلالي صیب په اصرار زلمی خلیل زاد هم مجبور شو چې د دولت رئیس حامد کرزی په دې قانع کړي چې اسمعیل خان د هرات نه لرې او دحکیم تنهوال پر ځای یې د کانو او صنایعو وزېر مقرر کړي، د کورنیو چارو امنیتي معین چې د کورنیو چارو وزارت سرپرست و راته وویل چې پرون دوی اسمعیل خان ته وویل چې کابل ته راشي او هم مو ورته نن سهار تیلفون وکړ چې د دولت د رئیس هدایت دی چې ته باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته راشې خو اسمعیل خان ورته ویلي و چې نه درځم او همدلته پاتې کیږم. دښاغلی هلال په قول اسمعیل خان ورته ویلي و زه په هغه حکومت کې چې دافغانستان د رهبرۍ قابلیت نه لري برخه نه اخلم. د ماښام په اوه بجو او پنځوسو دقیقو د کورنیو چارو وزارت سرپرست او امنیتي معین جنرال هلال راته تیلفون وکړو چې نن ماښام پنځه بجي مونږ په ارګ کې د هرات د مسئلې په هکله غونډه درلوده او کرزي صیب وویلې چې د ریاست دولت مرستیال پوهاند نعمت الله شهراني او زه سبا ته باید د هرات د نوی والي سید محمد خېر خواه سره باید هرات ته لاړ شو او دی د نوې والي په توګه معرفي کړو. سید محمد خېر خواه له دې نه مخکې په اوکراین کې د افغانستان سفېر و او په هرات کې د اسلامي جمعیت د بلې ډلې چې د شهید افضلي د ډلې په نامه یادېږي غړي و چې د اسمعیل خان سره مخالف و ، که څه هم د اسمعیل خان لرې کېدل ښه کار و خو د خېرخواه تعیندل د والي په توګه ښه نه و ځکه دا داسې ښکارېده چې ګوندې دی د شخصي خصومت په اساس لرې کېږي نه د اداري د ښه والي په منظور، او همداسې وشو، خېر خواه چې چندان فعاله سړي نه و او هم یې د خپلې ډلې نفر مقرر ول نو د هرات وضعه ډېر ژر په دریو علتونو خرابه شوه یوه دا چې اسمعیل خان هم خپل طرفدارانو ته ویلي و چې د نوي والي سره همکاري ونه کړي، دویم دا چې خېر خواه هم چندان فعاله اداره چې نه ووا و په خپلې ګوندي بازۍ اخته و او درېیم دا چې د دولت مخالفینو ته هم له دې موقع څخه ګټه پورته کړه چې د هرات وضع ناآرامه کړي.

په هر حال د سپتمپر د میاشتې په دولسمه نېټه په آریانا الوتکه کې شهراني صیب – زه او د هرات نوي والي سید محمد خېره خواه د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلاوي په مشرۍ د ماسپښین په یوه نیمه بجه د کابل نه حرکت وکړ او په دوه نیمو بجو هرات ته ورسیدلو په دغه پلاوي کې مشاور وزیران شهزاده مسعود، محمد عالم رأسخ عرفاني او د ملي دفاع وزارت ویاند جنرال محمد ظاهر عظیمي چې د اسمعیل خان د مخالفې ډلې نه و هم د مونږ سره و.

کله چې هرات ته ورسیدو د هرات په هوایې ډګر کې د هرات د ولایت مرستیال حاجي مېر د قول اردو قوماندان باز محمد احمدي، د ملي دفاع وزارت نه جنرال نوري او جنرال معین، امنیه قوماندان جنرال ضیأ الدین محمودي، د هرات د سرحدي قواؤ قوماندان غازي محمد، د ملي امنیت رئیس جنرال مایل او یو ګڼ شمېر سپین ږېري او مشران هرکلي لپاره ولاړ وو.

په همدې ورځ جلالي صیب د دوبۍ نه کابل ته راغی او چې څنګه هرات ته ورسیدو نو ماته یې د کابل هوایې ډګر نه تیلفون وکړو په داسې حال کې چې موږ د هرات د هوایې ډګر نه د هرات ولایت په لوري روان وو چې وضعیت څنګه دی.

ددې نه دمخه د سهار له خوا د اسمعیل خان یو شمېر طرفدرانو د بسم الله دیوانه، حاجي عبدالباقي، معروف لنګ، غلام یحي سیاوشان (۲۲)، فیض محمد قوماندان او امین الله د امنیت امر په مشرۍ د دوه درې سوه

۲۲-غلام یحی سیاوشان چې مخکې د هرات ښاروال و د همغه وخت نه یې د حکومت پر ضد وسلوال فعالیت کاوه چې بالاخره د ۲۰۰۹م کال د اکتوبر د میاشتې په شپاړسمه نیټه د سیاوشان په سیمه کې د افغاني او بهرنیو قواؤ له خوا په یو عملیاتي برید کې د یو شمیر ملګرو سره ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو په حدود کې مظاهرې کړې وې چې د زراعت د ریاست دروازې او د یوناما په دفتر کې یې څلور موټرې سیزلې وې.
د هرات د ملي امنیت رئیس جنرال مایل راته وویلې چې سهار یحی سیاوشان په موټرو کې څلویښت کسه راوستي او په ښار کې یې خوشې کړي وو چې تخریب وکړي ،سهار چې امریکایې قواؤ خپل کماندو ښکته کړه دوی هلته دمخې نه ځای په ځای وو چې د اخ وډب په نتیجه کې یو امریکایې مړ او یو تن زخمي شو. ما د ملي اردو د قطعې قوماندان جنرال معین ته وویلې چې تاسې ولې دا نفر نه نیسئ ځکه چې دا خو مسلح آمیزه مظاهرې نه دي او د ودانیو او د موټرو سیځل او د خلکو وژل جرم دی نو دوی باید ونیسئ. جنرال معین راته وویلې چې کرزي صیب دوی ته امر کړی چې څوک ونه نیسي ځکه چې وضعیت باید نور خراب نشي نو په دې وخت کې زه د جلالي صیب سره غږېدم او راته یې وویلې چې هر څوک تخریب کوي هغه ټول ونیسئ نو ما ورته وویلې چې ښه ده همدا امر د ملي اردو قوماندان جنرال معین ته هم وکړه. جلالي صیب جنرال معین ته هم وویل چې څوک تخریب کوي هغه ونیسي. زه او د امنیت ملي رئیس جنرال مایل چې مخکې د کورنیو چارو په وزارت کې د موږ سره کار کاوه یو ځای په موټر کې کیناستو او ماته یې وویلې چې د ټولو کسانو نیولو ته اړتیا نشته که یوازې غلام یحی سیاوشان، فیض محمد او حاجي عبدالباقي ونیول شي او امین الله د امنیت امر برطرف شي هېڅوک نور نشته دی چې په مظاهره کې برخه واخلي ځکه چې د مظاهره چیانو تعداد د اخري راپور له مخې د څلویښت نه تر پنځوسو کسانو نه زیات نه دی. ما دې ته وویلې چې د کورنیو چارو د وزېر همدا امر دی چې څوک تخریب کوي هغه ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د دوی د نیولو هڅې پیل شوې مظاهرې ختمې شوې. د ماسپښین په درې بجو او شلو دقیقو د هرات ولایت مقام ته ورسیدو او شدید امنیتي تدابیر د PRT او افغاني قواؤ له خوا چې د مرکزي دولت طرفدار و نیول شوي وو نو دهرات سالون چې ډېر لوی و نیمایي ډک و کله چې موږ په سالون کې کیناستو د هرات ولایت اداري رئیس صمیمي ماته راغي او وویلې چې اسمعیل خان وایې چې کرزي صیب هغه ته تیلفون کړی چې نوی والي نن مه معرفي کوئ. ده دا خبره په داسې حال کې وکړه چې د هرات ولایت نه بهر د پراګنده ډزو آوازونه هم اوریدل کېږي. ددې خبرې سره د استاد شهراني رنګ هم یو څه ژیړ شو او وویل چې دا یو بل شرم دی خو ما ورته وویلې چې کله موږ دې سالون را ننوتلو نو زه د کورنیو چارو د وزیر سره په تیلفون کې وم او راته یې وویلې چې والي همدا اوس معرفي کړئ نو کرزی صیب چې اسمعیل خان ته په دې وخت کې تیلفون کوي ولې موږ ته تیلفون نه کوي چې موږ یې دلته رالېږلي یو. موږ یې نن معرفي کو او کرزی صیب دې سبا ته بېرته برطرفه کړي په همدې موقع جلالي صیب ماته په درې بجو او پنځه پنځوسو دقیقو بیا تیلفون وکړ چې نوی والي مو معرفي کړی که نه؟ ما ورته وویلې چې په سالون کې ناست یو او د معرفي پروګرام مرأسم روان دي خو دهرات اداري رئیس وایې چې اسمعیل خان ته کرزي صیب ویلي چې نوي والي نن مه معرفي کوئ. جلالي صیب وویلې چې زه د کرزي صیب سره ناست یم او دا خبره دروغ ده او داسې آوازې چې څوک خپروي هغه هم ونیسئ. ددې نه وروسته د کرزي صیب د دفتر رئیس جاوید لودین هم تیلفون راته وکړ چې حالات څنګه دي نوما ورته وویلې چې څه خبره نشته او نوی والي مو معرفي کړو او مظاهرې په ختمیدو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرات د نوي والي د معرفي کېدو غونډه د قرآن عظيم الشان د څو اياتونو په تلاوت پېل شوه لومړی د هرات د والي مرستيال حاجي مېر په مختصره توګه وويل چې زه اسمعيل خان او خېرخواه دواړه د نږدې نه پېژنم او د جهاد د ابتدا نه يې زيات زحمتونه ويستلي او مؤفقيت ورته غواړم خو د اسمعيل خان د فعاليتونو ستاينه يې وکړه.

شهراني صيب هم مختصرې خبرې وکړي او وويل چې دا د دولت لزوم ديد دی چې تغيېرات راولي. هرات نوي والي هم ډېره مختصره وينا وکړه او وويلې چې يوه آزاده ټولنه د يوې واقعي ډيموکراسۍ د راوستلو په اړوند کومک کولی شي، د هرات د نوي والي د معرفي کېدو نه وروسته د هرات وضع عادي شوه او د مازديګر په پنځو بجو بېرته کابل ته رأستانه شو.څنګه چې د کابل هوايي ډګر ته راورسيدم د کابل د هوايي ميدان مشر راته وويلې چې کرزي صيب غوښتل چې د تا سره خبرې وکړي خو څنګه چې تاسې په هوا کې وی نو موږ ونه شو کړای چې تاسې سره تماس ټينګ کړم . کله چې زه د کورنيو چارو وزارت ته راورسېدم او جلالي صيب ته مې تفصيلي راپور ورکړ نو ترې پوښتنه مې وکړه چې د کابل د هوايي ډګر مشر راته وويلې چې کرزي صيب غوښتل چې ما سره وغږېږي څه خبره خو نشته ده؟ جلالي صيب راته وويلې چې کرزي صيب غوښتل چې زه بايد يو څو ورځې په هرات کې د نوي والي سره هلته تېرې کړم خو دا چې تاسو بېرته کابل ته حرکت کړي وو نو ومو نه شو کړای چې د تاسې سره تماس ونيسم او نور څه خبره نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سمنګانو د ولایت د مرستیال حاجي غلام سخي معرفي کېدل د سپتمبر د میاشتې څوارلسمه نېټه ۲۰۰۴ز کال

دکورنیو چارو وزارت له خوا د بغلان ولایت پخوانی مرستیال حاجي غلام سخي د سمنګانو د ولایت د مرستیال په توګه تعین شوی و خو د سمنګانو والي غلام حسین شفق ددې معرفي کول دوه درې اونۍ ځنډولی و ، څرنګه چې د سمنګانو والي د هزاره د قوم نه او د امنیه قوماندان سید احمد د ازبک د قوم نه و نو د کورنیو چارو وزارت دا لازمه وګڼله چې حاجي غلام سخي چې د بغلان د پښتنو د قوم نه دی هلته د والي د مرستیال په توګه تعین کړي تر څو یو نسبي توازن هلته برابر شي ځکه چې په دغه سیمه کې چې پښتانه اقلیت وو او په تېرو څو دورو کې ورسره یو څه زیاتی شوی وو. حاجي غلام سخي چې پخوا بغلان کې د والي مرستیال و او کافي تجربه یې درلوده نو د کورنیو چارو وزارت په دې اند و چې دده په مقررۍ سره به پښتانه هم په دغه ولایت کې دحکومت نه ځانونه بېګانه احساس نه کړي او هم به دحکومت سره همکاري وکړي.

د حاجي غلام سخي د تقرر نه وروسته بعضې هزاره ګانو دا ادعا وکړه چې ګوندې حاجي غلام سخي د جهاد په دوره کې ددغه سیمې بعضې کسان وژلي دي نو شاید چې خلک ورسره یو څه حساسیت ښکاره کړي، ما د سمنګانو والي ښاغلی شفق ته تیلفون وکړ چې که دې خلکو څه ادعا درلودې نو ولې ددې د تقرر نه دمخه یې دا مسئله نه مطرح کوله نو ښه به دا وي چې تاسې د سمنګانو د ولایت دا نوی مرستیال معرفی کړئ خو د سمنګانو والي هغه او دغه کول نو ماسپښین ما د کورنیو چارو وزیر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل چې د سمنګانو والي ،حاجي غلام سخي نه معرفي کوي څه باید وکړو. جلالي صیب ډېر زیات په قهر شو او وویلې چې ته دې بې انصافۍ ته ګوره چې د سمنګانو ولایت په ټوله اداره کې دا یوازینې پښتون دی چې هلته معرفي کېږي خو دوی یې تحمل نه شي کولی بیا یې ماته هدایت راکړ چې والي ته ووایه که دا نه معرفي کوې نو موږ د مرکز نه هئیت درلېږو او هلته به دا معرفي کړي خو په هغه صورت کې به دا ستا بې کفایتي وښایې او دی به هم له خپلې دندې نه لرې کړي شی.

کله چې ماښام زه د سمنګانو دوالي سره وغږیدم او د جلالي صیب دا پیغام مې ورته ورساوه هغه بیا هغه دغه کول نو ما ورته وویل چې یوه خبره راته وکړه چې معرفي کوې یې او کنه؟ که نه یې معرفي کوې یې نو موږ سبا ته هئیت درلېږو او دا معرفي کوو. نو بیا والي زړه نا زړه وویل چې سمه ده خو که چا قبول نه کړ نو زه ورسره بیا هم بیرته درځم. ما ورته وویلې چې فرق نه کوي نو بیا تاسې هم وظیفه پرېږدئ او کابل ته راشئ. نو والي بیا یې راته وویلې چې که ته د امنیه قوماندان ته تیلفون وکړې نو ښه به وي چې امنیت ونیسي، ما ورته وویل چې ته حاکم او مشر د منطقې یې، ته ورته ووایه او که هغه ستا امر ونه مانه نو بیا موږ ته شفر یعنی مخابروی خبر راکړه نو موږ به د هغه هم څه چاره وکړو. هماغه وه چې سبا د سمنګانو ولایت مرستیال حاجي غلام سخي معرفي شو او هېڅ څه پېښه ونه شوه او حتی تر او سه هم هلته د سمنګانو د والي مرستیال دی. واقعا په داسې مواردو کې قاطع تصامیم ډېر زیات تاثیر لري او همېشه چې موږ د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب نه د مهمو مسائلو په هکله هدایت اخستی ډېر قاطع هدایت یې را کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فراه PRT افتتاح
## د سپټمبر د مياشتې پنځلسمه نېټه ۲۰۰۴ زکال

نن د فراه ولايت د PRT د افتتاح لپاره د دولت يو لوړپوړي هيئت د کابل نه فراه ولايت ته سفر وکړ تر څو د بيارغونې کارونه هلته ګړندي شي. په دې سفر کې موږ سره د عدليه وزير ډاکټر عبدالرحيم کريمي د عامې روغتيا وزيره ډاکتر سهيلا صديق، د ښځو د چاره وزيره مېرمن حبيبه سرابي، د کرهنې وزارت معين غلام مصطفي جواد، د اوبو او انرژي د وزارت معين ښاغلی عزيزي، د مخابراتو وزارت امنيتی مسوول جنرال محمدايوب اصيل، د امريکا ژاز دافير ښاغلی ډيويډ سدنی، د ملګرو ملتونو او د ائتلاف د قواؤ استازې موږ سره ملګري وو. د کابل د هوايې ډګر نه په C-130 الوتکه کې لومړی د شين دنډ هوايې ډګر ته په پنځه ځلويښت دقيقو کې ورسيدو او د هغه ځای نه په څلورو امريکايې الوتکو کې د نيم ساعت پرواز نه وروسته د فراه ولايت مرکز ته ورسيدو. د هوا نه مو چې د فراه ولايت ته نظر اچوه په غېر د خړو غرونو، د شنو شګو او ګرد غبار نه نورڅه نه ښکاريدل. کله چې د PRT مرکز کې زموږ چورلکي کيناستې هم غېر د شګو باديدلو نه پرته نورڅه نه و. د فراه والي اسدالله فلاح او امنيه قوماندان محمد شاه کاکو، دفراه ولايت د يو شمېر سپين ږيرو او مخورو، ښځو او ماشومانو سره د هر کلي لپاره ولاړ وو. د فراه وضع ته چې سړي ګوري ډېره وروسته پاتې ولايت دی او دا چې خلک څنګه هلته ژوند تېروي دا د هغوی د همت پورې اړه لري چې څنګه د ژوندانه ستونزې ګالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د فراه ولایت د بر زیات لوړ رتبه کسان په اوسني حکومت او هم په پخوانیو حکومتونو کې د جمهور رئیس د معاون تر څوکۍ پورې لوړ پوړې عهدې درلودې خو د دغه ولایت خلکو ته چندان کار نه دی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت اکبر وفادار شعر
## د سپټمبر د میاشتې شلمه نېټه ۲۰۰۴ ز کال

په افغانستان کې دا رسم او رواج شته څوک چې چېرته مقررېږي نو یو شمېر دوستان او ملګري ورته مبارکۍ ته ورځي نو په دې لړ کې د کنړ ولایت د پشد د کلي یو تن تکړه شاعر او لیکوال حضرت اکبر وفادار هم زما د نوي وظیفې مبارکۍ ته راغی او وویل چې د ګلانو په بدل کې ما درته دا لاندې شعر راوړي دي:

**د مبارکي مراتب**

راتلم مبارکۍ ته خو ناوخته شو په دې
ما ویلې درته جوړي کړم د سرو ګلو غنچې
چمن خزان وهلی دی ګلونه تالا شوي
د دې وطن مسکون خلک کوم بل وطن ته تللي
دریم قیامت تېر شوی خو حساب او کتاب نشته
د دې ملت تاریخ کې کوم صحیح انتخاب نشته
لیکمه، ټولومه مرغلرې د ادب
په تا باندې شیندمه دا خبرې د ادب
پند لیکه وفاداره له میاخیله څه پرده ده
باران دې د ډالرو خو کنړ باندې سوکړه ده
په درناوی
حضرت اکبر وفادار پشدی
۲۸ سنبله ۱۳۸۳ هـ ش کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته ددې شعر مطلب دا و چې د کنړ ولایت اوس هم وروسته پاتې دی او باید چې ددې ولایت بیارغونې ته موږ توجه وکړو، حضرت اکبر وفادر اوس په حق رسیدلی او روح دې ښاد وي.

**د زابل ولایت یوه دردونکې پېښه**: د سپتمبر د میاشتې په شپږویشتمه نېټه د زابل ولایت د خاک افغان د ولسوالۍ سپین ږیري دکورنیو چارو وزارت ته راغلل چې زما سره وګوري او ویې ویلې چې د دوی مشران طالبانو نیولي او هغه یې حلال کړي دي او بیا یې د مړو سره کاغذ (لیک) پرېښې و او لیکلي و: دا چې موږ بندي خانې نه لرو او بندیان نشو ساتلې نو ځکه دوی دغه کسان حلال کړي دي. د دوی په قول په وژل شوو کسانو کې د ارغنداب د سیمې د سایګس د ولسوالۍ شاه صیب چې د توخو د قوم مشر او ضابط عزت الله هم شامل و. افسوس په داسې محاکمه او داسې وحشت چې د افغانستان مشران په ډېره بې رحمۍ سره له منځه ځي او نه پوهیږو چې دا سلسله د ورور وژنې به تر څه وخته پورې روانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې د جمهوري رياست لپاره لومړنۍ ټاکنې د شنبه ورځ دميزان ۱۸مه نېټه ۱۳۸۳هـ ش کال (د ۲۰۰۴زکال د اکتوبر نهمه نېټه)

د ۲۰۰۴زکال د جمهوري رياست د ټاکنو امنيت اوهم دخلکو برخه اخستنه په ټاکنو کې يوه تاريخي موضوع وه چې شخصاً زما لپاره چې په لومړي ځل مې په افغانستان کې په ټاکنو کې برخه واخستله ډېره په زړه پورې وه ځکه چې الله تعالي يوځل بيامونږ ته دا موقع په لاس راکړه چې د خپلې خوښې کانديد ته رايه ورکړو. کله چې زه په پاکستان او يا امريکا کې وُم نو کله به چې ټاکنې کيدې نو مونږ د راى اچونې حق نه درلوده او د يوه عاطل مخلوق غوندې به د ټاکنو په هکله بې تفاوته وواو همدا ارزو مې د مهاجرت په وخت کې درلوده چې که خداى افغانستان آزاد کړى نو په ټاکنو کې به برخه اخلم او هم به ځان دولسې جرګې ته کانديدوم او دا خو زما په فکر کې هم نه وه چې ګوندى زه به داسې دنده ولرم چې دټاکنو په امنيت کې به عمده رول ادا کوم.

که څه هم زمونږ په هېواد کې د ډيموکراسۍ نه دوه معنې خلک اخلي يوه دا چې په ډيموکرأسۍ کې د چا څه خوښه وي هغه بايد وکړي او دويمه دا چې بعضې خلک ډيموکرأسي يوازې ټاکنې ګڼي ، په تېرو څو ټاکنو کې مونږ وليدل چې په ټاکنو کې درغلۍ له حده زياته وه نو د خلکو په منځ ګې د ټاکنو پروسه هم بې اهميته شوه حال دا چې ټاکنې د ډيموکراسۍ يوه برخه ده چې چاروا کو ته مشروعيت ورکوي او که آزادانه او شفافه ټاکنې نه وي نو مشروعيت هم نه شي ورکولى خو اصلاً اداره يا حکومتداري په اعتبار چلېږي چې خلک په خپلو مشرانو که هغه منتخب وي او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتصابي اعتماد وکړي او د هغوی د پروګرامونو، پالیسو او سیاسي روند ملاتړ حاصل کړي. اصلاً ډیموکرأسي که د لفظي معنی نه وکاروو نو ډیموکرأسي د قانون د حاکمیت په معنې ده چې په یو هیواد کې وضع شوي قوانین به په ټولو اتباعو باید په یو شان تطبیق شي.

د ۲۰۰۱م کال نه راپدې خوا ما په ټولو ټاکنو او جرګو کې برخه اخستلې ده او امید لرم چې په راتلونکې ټاکنو کې هم برخه اخلم که ژوند و او همدا زما غوښتنه د ټولو افغانانو خویندو او ورونونه ده چې په ټاکنو کې باید همیشه فعاله ونډه واخلی او بې تفاوته پاتی نه شی ولو که انتخابات د دوی له نظره ناسم او نیمګړي هم وی ځکه هغه څوک که په درغلی او نورو هیلو هم انتخابات وګټی خو دانه شي ویلی چې ګوندی ده او هغې څوکې په زور ګټلی او دا د دوی میراث دی او دا اندیښنه به ورسره همیشه وي چې ګوندی ولس د دوی نه یوه ورځ خامخا پوښتنه کوی.

البته دا ډېر لوی بحث دی او زه به ترې تېر شم خو زه غواړم په اصله موضوع چې د ۲۰۰۴ز کال د جمهوري ریاست ټاکنې دي او په دې برخه کې د کورنیو چارو وزارت رول څه و په هغې به یو څه رڼا واچوم.

د ټاکنو دمخه د یوناما دفتر چې د بن د پروسې پر اساس یې د ټاکنو اصلي مسؤولیت په غاړه درلوده په رابطه کې ورسره و چې تقریبا پنځه زره د رای ورکونې مرکزونو امنیتي پلان جوړ کړو ځکه چې د حکومت د مخالفینو له خوا داسې اندیښنې موجودې وې چې د ټاکنو په ورځ به ګډوډي جوړه کړي او یا د رای ورکولو په مرکزونو باندې به بریدونه وشي.

ددې لپاره چې صحیح امنیتي تدابیر ونیول شي دکورنیو چارو وزیر په امر مو د ملي دفاع وزارت، د ملي امنیت، ایساف، یوناما او ائتلافي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قواؤ ترمنځ د کورنیو چارو په وزارت کې ګډ عملیاتي مرکز جوړ کړ او هم د معینانو په کچه کاري ګروپ چې په پېل کې یې په اونۍ کې یوځل او وروسته هره ورځ او د ټاکنو ته په نږدې ورځو کې یې سهار او ماښام غونډې کولې ، ددې غونډو مشري به د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال او ما کوله او د اړتیا په صورت کې ددې ادارو مشرانو هم عاجلې غونډې دایرولې او همدا شان د همغږۍ عملیاتو مراکز مو په ولایاتونو کې جوړ کړي وو چې د کورنیو چارو وزارت له خوا مو ورته یو تن د جنرال په کچه ټاکلی و چې د محلي امنیتي چارواکو سره امنیتي چارې سمبال کړي.

د اکتوبر د میاشتې په اومه نېټه د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي په خبرې کنفرانس کې وویل چې ټاکنې په خپل وخت یعنې دوه ورځې وروسته ترسره کېږي او تقریبا یو لک (۱۰۰.۰۰۰) امنیتي پرسونل د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې ځای په ځای شوی دی. د ټولو امنیتي ارګانونو ترمنځ تشریک مساعي یا ګډه هکاري موجوده ده او چېرته چې امنیتي قواؤې ضعیفه دي هلته د چټک غبرګون له قطعې څخه پولیس لېږل شوي دي د بېلګې په توګه نن سهار سل کسه پولیس د بدخشان ولایت مرکز فیض آباد ته ولېږل شول.

جلالي صیب وویل چې د ټاکنو پر ضد فعالیتونو هم داخلي عوامل درلودل او هم بهرني. داخلي عناصر د مخدره موادو مافیا وه څکه که په افغانستان کې ثبات راشي نو دوی فعالیت نه شي کولی نو باید چې ګډوډي جوړه کړي ځوک چې د ثبات مخالف دي هغه د وطن دښمنان دي، ده زیاته کړه چې تروریستان او جنګسالاران هم نه غواړي چې ثبات رامنځ ته شي، د جمهوري ریاست د کاندید مرستیال احمد ضیا مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر ته چې پرون ( يعنې د اکتوبر په شپږمه) د بدخشان د هوايې ډګر نه فيض آباد ته تللو ورته ماين اېښودل شوی و چې په دغه چاودنه کې يو کس مړ او ځلور کسه زخميان شول او داسې شواهد شته چې دا کار د مخدره موادو مافيا کړی دی، دکورنيو چارو وزير زياته کړه چې په دې مياشت کې لس داسې پېښې شوي چې هغو کسانو چې ماينونه يې اېښودل په خپله د ماينونو د اېښودلو په وخت کې دچاودنې له امله وژل شوي دي، ددې نه برسېره دکورنيو چارو وزارت پوليسو د شلو واقعاتو مخنيوی کړی او د سلو نه زيات کسان د چاوديدونکو موادو سره نيول شوي دي، که څه هم د شپيتو نه زيات بريدونه شوي دي چې ۲۰ کسه مړه او د شپيتو کسو په شاوخوا کې زخمي شوي دي خو ددې سره شل کسه تخريب کار هم وژل شوي، دېرش زخمي شوي او ۴۴ ژوندي نيول شوي دي.

په همدې ورځ مازديګر په ځلور بجو په امنيتي غونډه کې راپور ورکړ شو چې په هېواد کې نن کومه مهمه پېښه نه ده شوې او د درې تخريبي عملياتو مخه پوليسو نيولې ده چې په هغه کې يوه پېښه د کابل قلعه فتح الله په سيمه کې په يوه بوجۍ کې چاوديدونکي مواد چې پټاقۍ هم په کې ځای په ځای شوې وې پوليسو پيدا کړي دي. په همدې ورځ دکورنيو چارو وياند لطف الله مشعل چې د ګډې هم آهنګۍ د مطبوعاتی دفتر مشری يې هم کوله وويلې چې ۷۷۴ ژورنالستانو په خبري کانفرانس کې برخه اخيستې وه چې ۴۱۷يې د نړيوالو رسنيو او ۳۵۷ يې د افغاني رسنيو وو.

په همدې ماښام ناوخته د کابل د امنيه قوماندانۍ مرستيال مل پاسوال محمد شفيق فضلي او ماد کابل ولايت امنيتي حوزې او يو شمېر د ټاکنو مراکز وکتل تر څو دانتخاباتو لپاره امنيتي ترتيباتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنترول او نظارت وکړم. څرنګه چې د کورنیو چارو وزیر له خوا د لومړۍ درجې د تیاري امر ورکړل شوی و نو ټول امنیتي پرسونل باید په خپلو دندو کې حاضر وي او یوازې په استثنایي حالاتو کې که کوم څوک ضرورت ولري باید د وزارت د مقام نه د رخصت اجازه اخستی شي.

د نهمې امنیتي حوزې امر سمونوال محمد اکبر د خپل ټول پرسونل سره چې ۲۸۰کسه وو په خپلو ګمارل شوو دندو کې موجود وو چې بیا مو په همدغه سیمه کې د رای اچونې دوه مرکزونه هم وکتل چې د پلان له مخې شپږ کسه په هر مرکز کې حاضر وو.

همدا شان د اتمې امنیتي حوزې امر ملا عبدالصبور د خپل ټول پرسونل سره په خپلو دندو کې حاضر وو او په دې سیمه کې مو هم د رای اچولو دوه مرکزونه ولېدل او امنیتی ترتیبات یې سم وو ورپسې مو د کابل دویمه امنیتي حوزه وکتله چې مل پاسوال محمد عظیم د خپل پرسونل سره حاضر وو او په استقلال لیسه کې د رای اچونی مرکز نه مو هم کتنه وکړه چې امنیتي کسان ټول موجود وو، ورپسې مو د کابل لسمه حوزه وکتله او د حوزې امر مل پاسوال اکرام الدین د خپل پرسونل سره حاضر وو او همدا شان د کابل د ښار په ټولو لارو او چوکونو کې امنیتي تدابیر ښه وو چې واقعاً د پولیسو او نورو امنیتي ارګانونو کار د قدر او ستاینې وړ وو.

د اکتوبر د میاشتې په اتمه نېټه اوپراتیفي راپورونه راغلل چې په کندهار کې یو د تیلوتانک چې چاودیدونکي مواد په کې ځای په ځای شوي وو ونیول شو په دغه پېښه کې د تانکر ډرېور او دوه پاکستاني اتباع هم نیول شوي وو، د جلال اباد نه د کورنیو چارو وزارت د PRT نماینده سمونوال محبوب راپور راکړ چې د جلال آباد په ښار کې د زړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځارنوالۍ سره نږدې درې راکټونه په دغه میاشت ولوېدل چې دوه ماشومان په کې زخمیان شوي وو.

همدا شان په جلال آباد کې لس تختې تروتیل انفجاریه مواد ونیول شول چې دوه کسه هم ورسره نیول شوي دي همدا شان د کنړ او نورستان ولایتونو ترمنځ د پیچ درې او غازي اباد ولسوالیو په سیمه کې په لارو کې ماینونه ښخ شوي وو خو د ائتلافي قواؤ له خوا خنثی یا شنډ شول.

په همدې سهار ما اومه امنیتي حوزه ولیده او د کورنیو چارو وزیر او امنیتي معین هم ځو امنیتي حوزې او د رای اچونو مرکزونه ولیدل او امنیتي ترتیبات د دوی د قناعت وړ وو. په همدې میاشت د شپې په اوه بجو دکورنیو چارو وزیر په لسمې امنیتي حوزه کې د ژورنالستانو سره په خبرې کنفرانس کې د امنیتي وضعې په هکله خبرې وکړې او وویلې چې د افغانستان د ګوډ ګوډ نه موږ ته د امنیتي تدابیرو په هکله ډاډ راکړل شوی او د امنیتي ارګانونو پرسونل سبا ته د ټاکنو د ترسره کولو لپاره تیار او آماده دی.

سهار وختي د کورنیو چارو وزیر د وزارت معینانو او رئیسانو ته وظیفه ورکړه چې په امنیتي حوزو او د رای ورکولو په مرکزونو یو ځل بیا وګرځي او که چیرته ځه مشکلات وي هغه حل کړي، زه پخپله د زړو او دربیم مکروریانو سیمې ته لاړوم چې سهار وختي اوو بجو نه دمخه خلک په قطار کې د رای ورکولو مرکزونو مخې ته ولاړ و، که ځه هم ډېره سخته یخني وه خو خلک راتلل او په ډېرې آرامۍ سره په قطار کې ودرېدل بې له دې چې ځه ګډوډي جوړه کړي. ما هیڅ فکر نه کاوه چې د افغانستان خلک پس له ځو لسیزو جنګونو او ګډوډۍ نه، ځنګه په یوه شپه کې راغی تغیرپکې راغی چې په خپله منظم په قطارونو کې ودرېږي او د قوانینو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولو مراعات کوي. زه شخصاً د ټاکنو په ورځ د امنیتي وضعې نه سربېره د رای ورکولو په مرکزونو کې د ازدحام او ګډوډي په اړه ډېر اندېښمن وم چې څنګه به دا خلک کنټرول شي.خو د افغانستان خلکو په دې ورځ دا وښودله چې دوی د افغانستان د سیاسي پروسې سره مینه لري او حاضر دي چې د وطن د سولې په پروسه کې برخه واخلي.

ما خپله رایه د لسو بجو په شاوخوا کې د صدارت په حوزه کې واچوله او د ژورنالستانو سره مې هم د امنیتي وضعې په هکله خبرې وکړې او ورته مې وویلې چې تراوسه موږ ته د نورو سیمو نه داسې خبر نه دی راغلی چې کومه امنیتي پېښه شوي وي همداسې راپورونه موږ ته د ولایاتونو نه هم را ورسېدل چې خلکو ډېر په منظمه توګه رای اچولې. په بدخشان، نورستان او د افغانستان په مرکزي سیمو کې داورښت او واوري د ورېدو له امله یو څه مشکلات و خو بیا هم ډېرو خلکو په ټاکنو کې ګډون کړی وو.

ماسپښین څلور بجې د ټاکنو نړیوال ناظرینو لکه د اورپا اتحادیه، افغاني ناظرینو، FIFA او د بشر د حقوقو ادارو دغه ټاکنې د قناعت وړ وبللې خو د کاندیدانو دډلې نه څوارلسو کاندیدانو چې کمې رای وړې وې دا ټاکنې د قناعت وړ ونه ګڼلې او د دوی شکایت داو چې په ځینو سیمو کې د دوی ناظرینو ته د نظارت اجازه نه ده ورکړل شوې.

دا ادعا د دوی سمه نه وه ځکه چې کله زه د کابل د مکروریانو د الفتح په سیمه کې د رأی اچونې مرکز ته ورغلم نو ددې کاندېدانو یو شمېر ناظرینو غوښتل چې د ښځود حوزو په منځ کې نظارت وکړي خو دافغاني کلتور له مخې دا سمه نه وه او ما ورته وویلې چې ښه به دا وي چې ښځینه نظارت کوونکي باید راولېږي. یو کس یې وویلې چې موږ ښځینه نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوونکي نه لرو نو ما ورته وویلې چې ریاست جمهوري ته کاندید یا ستئ او په سلو کې پنځوس رایه له ښځو غواړئ او یو کس نظارت کوونکی نه شئ پیدا کولی نو دا سمه نه ده چې نارینه دې د ښځو د رای اچونې مرکز ته داخل شي.

د ټاکنو د کمیسیون په اټکل د دوه لکو کسانو په شاوخوا کې د سختې یخنې له امله رای نه وې اچولې چې هغه هم یو ازې شمال ختیځ، نورستان، کنړ، پنجشېر او مرکزي افغانستان سیمې وې، د کورنیو چارو وزارت د صندوقونو دانتقال او هم احتمالي مظاهرو ته ترتیبات نیولي وو، د ټاکنو او هم د ټاکنو نه یوه ورځ وروسته هېڅ داسې پېښه په افغانستان کې ونه شوه چې د ذکر وړ وي.

د اکتوبر د میاشتې په اوه ویشتمه نېټه په امنیتي غونډه کې او هم د اکتوبر د میاشتې په اته ویشتمه د PRT د نظارت کمېټې په غونډه کې ټولو د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب ته د مؤفقه ټاکنو د ترسره کېدو په اړوند او په خاصه توګه چې په امنیتي لحاظ سم  تدابیر نیول شوي وو مبارکي ورکړه، په همدې غونډه کې د مالیې  وزیر ډاکتر اشرف غني احمدزي هم جلالي صیب او نورو داخلي او نړیوالو امنیتي ارګانو ته مبارکي وویله.

په دغه غونډه کې ډاکتر صیب اشرف غني وویل چې اوس موږ باید د بیارغونې پروسه په انکشافي پروسه تبدیله کړو تر څو خلکو ته کار پیدا شي او د افغانستان د یو شخص کلنی عاید د ۲۰۰ ډالرو نه باید **۵۰۰** ډالرو ته لوړ شي او همدا شان د افغانستان بودجه د ۳۰۰ میلیونو ډالرو نه باید **۵.۱**میلیارده ډالرو ته ورسېږي. همدا شان موازي اداري باید جوړې نه شي او کومکونه باید د دولت له لارې مصرف شي. د افغانستان لپاره سړک،

(c) ketabton.com: The Digital Library



برق او د اوبو لګولو د سیستم جوړول لومړیتوب لري او یو اوږدمهاله پلان باندې باید کار وشي. ده زیاته کړه اوس د ټولو کمکونو په سلو کې ۵۲د کابل په ښار کې او په سلو کې ۴۸ نور افغانستان کې مصرف شوي نور نو داتوازن باید سرچپه شي چې زیاتې پیسې باید په ولایتونو کې مصرف شي.

د ټاکنو نه وروسته د کورنیو چارو وزارت او امنیتي ارګانونه په دې مؤظف شول چې د منتخب جمهوررئیس د تحلیف مرأسمو ته د ډسمبر په اومه نېټه باید تیارۍ ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په کابل کې د ملګرو ملتونو د درې کارکوونکو پرغمل (اختطاف) او د هغوی خلاصون
## د اختطاف نېټه ۲۸ اکتوبر ۲۰۰۴ز کال
## د خلاصون نېټه ۲۳ نومبر ۲۰۰۴ز کال

د اکتوبر د میاشتې د جمهوري ریاست د ټاکنو نه وروسته دکورنیو چارو په وزارت کې د ورځني کارونو او مهېنګونو (کتنو) بوج یا اندازه یو څه کمه شوې او د روژې مبارکه میاشت وه نو ما د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین ډګرجنرال هلال الدین هلال سره مصلحت وکړ چې ډېر وخت کېږي چې موږ دواړه کورونو ته تللي نه یو نو دا به ښه وي چې په نوبت سره باید د کورنیو چارو له وزېر جلالي صیب نه رخصت واخلو او دخپلو کورنېو دلیدو لپاره باید لاړشو. هلال صیب راته وویل چې لومړی به دی لاړ شي او د اختر نه مخکې به بېرته د جرمني نه راوګرځي ځکه چې د هغه کورنۍ په جرمني کې وه او بیا به زه لاړ شم. د وزېر صیب سره د مصلحت نه وروسته هلال صیب جرمني ته لاړو او د اداري معنیت تر څنګ دامنیتي معنیت د سرپرست په توګه مې هم کار اجرا کاوه. په دې وخت کې چې د کورنیو چارو وزارت د دولت د ثقل د مرکز په توګه وه، ددې لپاره چې کارونو ته رسیده ګي وشي نو د کورنیو چارو وزېر موږ دواړه معینانو ته ټول صلاحیت رأسپارلی وو چې د وزارت کارونه اجرا اوورځنې کارونه لاسلیک کړو تر څو د کوم ریاست او یا مراجعینو کارونه وروسته پاتې نه شي. هغه چا چې په دغه وخت کې د کورنیو چارو په وزارت کې کار کړی وي هغوی پوهېږي چې کارونه په څه شکل او څومره زیات وو که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دواړو معینانو ډېرې دندې تېرو قدمو ته سپارلې وې خو ددې سره سره د افغانستان د اداري بېروکرأسۍ له امله موږ دواړه معنیان مجبور و و چې د ورځې په سلګونو لاسلیکونه وکړو.

د اکتوبر په اته ویشتمه نېټه چې پنجشنبې ورځ وه د ماسپښین په دولسو بجو او ۵۰ دقیقو په شاوخوا کې د پولیسو اکاډمۍ په لور روان وم تر څو د مخدره موادو پر ضد د مبارزې پولیسو ته چې تازه فارغ شوي و د فراغت سندونه تقسیم کړم، نو کارته پروان په سیمه کې وم چې د کورنیو چارو د وزیر د د فتر نه راته تیلفون وشو چې وزارت ته ژر راشه ځکه شل دقیقې دمخه د کارته پروان د برکې په سیمه کې د ملګرو ملتونو درې کارکوونکي چا تښتولي دي. د کورنیو چارو وزیر سمدستي کابل امنیه قوماندنۍ اود کابل د ښار خروجي دروازو ته امر ورکړی وو چې ټولې لارې بندې او هر موټر باید تالاشي کړي او زه هم سمدستي د کابل د امنیه قوماندان جنرال بابه جان سره وغږیدم چې موږ په جریان کې واچوي او په منظمه توګه د خپلو فعالیتونو راپور د وزارت مقام ته ورکړي.

وزارت ته لا رسیدلی نه وم چې د ملګرو ملتونو د عمومي سر منشي خاص استازي ژان آرنو Jean Arnault راته تیلفون وکړ چې د جلالي صیب سره غږیدلی یم او په دوه بجو د تاسې سره د کورنیو چارو په وزارت کې غونډه لرم. څنګه چې وزارت ته راورسیدم د کورنیو چارو وزیر راته هدایت وکړ چې څنګه دا مسئله ډېره حساسه او مهمه ده نو زه شخصاً باید د کاري ګروپ مشري او سرپرستي وکړم. د کورنیو چارو وزیر زما په مشرۍ دا لاندې د بررسۍ کاري ګروپ تعین کړو چې د موضوع ټول اړخونه وڅېړي او وخت په وخت باید زه هغه ته راپور ورکړم.

د بررسۍ د ګروپ غړي په لاندې ډول وو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. جنرال عبدالجمیل جنبش د تروریزم پر ضد د مبارزې رئیس
۲. جنرال محمد حسن اتمر د پولیسو دعمومي ریاست مرستیال
۳. جنرال عبدالمنان فراهي د کورنیو چارو وزارت د استخباراتو د ریاست مرستیال
۴. جنرال بابه جان د کابل امنیه قوماندان
۵. جنرال محبوب امیري د چټک غبرګون یا واکنش سریع د قطعې قوماندان.

د ملګرو ملتونو کارکونکي دوه ښځې او یو سړی و چې یو یې د انګلستان تبعه Ms.Annetta Flanigen، بل یې د فلپین تبعه Mr. Nayan Angelito او دریم یې کوسووو تبعه Ms. Hebibi Shqipe نومیدل چې د جمهوري ریاست د ټاکنو په دفتر کې یې کار کاوه او د ماموریت دوره یې مخ په ختمیدو وه.

دا پېښه په تفصیلي توګه ځکه لیکم چې د یرغمل مسئله په ظاهره ډېره ساده ښکاري خو په حقیقت کې دا ډېره مهمه مسئله ده چې څنګه تښتول شوي کسان روغ رمټ خلاص شي او په څه شکل د یرغمل کوونکو سره تماس ونیول شي..

که څه هم د کورنیو چارو وزارت د لوړ پوړو چارواکو، رئیسانو، ولایتي او امنیتي قوماندانانو دندې همېشه لپاره ۸ ساعته نه بلکې څلورویشت ساعته دندې دي خو بیا هم ددې موقع وی چې سړي ځینې وخت خوب یا استراحت وکړي او خپل ورځني کارونه څه نا څه پلان کړي خو په داسې عاجلو وختونو کې د استراحت یا خوب وخت هم نه وي او ما لپاره په ځو لحاظو سخته وه اول دا چې ددې کسانو د کمیسیون مشري زما په غاړه وه اود ټولو فعالیتونو جریان باید په منظمه توګه حتی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعضی مواردو کې ساعت واریوازې د کورنیو چارو وزیرته ورکړم او ټولې خبری بایدیوارې دما سره مخفي پاتې وي دویم ما پخپله باید ټولو اړخونو سره تماسونه نیولي وي، دریم دا چې ما باید د ورځې څو ځلې د مختلفو امنیتي ادارو چارواکو ته او خاصتًا د ملګروملتونو دعمومي سرمنشي خاص استازي ته معلومات ورکړی وی چې زموږ فعالیتونه په څه شکل روان دي تر څو د هغوی ټیم د برمته کسانو کورنیو ته معلومات ورکړی وي. همدا شان ټولو امنیتي استخباراتي ادارو معلومات لحظه په لحظه را کړی وای او د هدایت په صورت کې باید ما لازم او ضروري هدایت د کورنیو چارو د وزیر څخه اخستي وای.

ددې ترڅنګ یوازې زه مؤظف وم چې محدود معلومات د کورنیو چارو وزارت د ویاند له لارې د نورو ادارو سره په همغږۍ مطبوعاتو ته ورکړم او د اړتیا په وخت کې یوازې زه او یا د کورنیو چارو وزیر باید د مطبوعاتو سره غږیدلی وی، ددې نه برسېره ما باید د وزارت کارونه هم په نورماله توګه سرته رسولي وای او هم په لسګونو دولتي او غیر دولتي سرچینو سره د ورځې کتلي وای یعنې تر دوه اونیو پورې ما په څلور ویشتو ساعتونو کې ایله څلور ساعته خوب کاوه ، د کورنیو چارو وزیر سره یوځای کله کله د شپې له خوا په دفتر کې هم پاتې کېدو خو که په کور کې به هم وو نو اماده باش یا تیارسی به وم چې باید د ټولو موظفو قطعاتو سره باید په اړیکه کې اووسم.

ددې لپاره چې د برغمل دا مسئله بررسي شي موږ د ملګروملتونو د عمومي سرمنشي خاص استازي نه وغوښتل چې ددغه موټر ډرېور باید د تحقیقاتو لپاره د کورنیو چارو وزارت ته وسپاري د ملګرو ملتونو ډرېور چې محمد رفیق نومېده اصلاً د پغمان د سیمې و او د ملګرو ملتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوناما د دفتر مامورین یې وړل خو په دغه ورځ ورته د ترانسپورت مؤظف مامور ویلي و چې دا درې کسه نړیوال کارکوونکي د نوي ښار د یوه رستوانت څخه کانتېننتال هوټل ته یوسه.

ددغه ډرېور په قول د کارته پروان د بره کې په سیمه کې د دوی د موټر نه یو تور سرف (Runner -4) موټر چې ۷۲۲۴نمبر پلیټ یې درلوده مخکې کېږي او د دوی موټر ترمخه یې دروي او درې کسه چې پلنګي (کماندویي) دریشي یې اغوستي دي راښکته کیږي او دوه کسه یې په موټر کې پاتې کېږي نو څنګه چې دا درې کسه راښکته کېږي یو تن یې د ملګرو ملتونو ډرېور په څپېړه وهي او بهانه کوي چې ولې د دوی د موټر نه مخکې شوی یې او نور دوه کسه د ملګرو ملتونو کارکوونکي د خپل موټر نه په زوره راکاږي او خپل موټر کې یې وراچوي او د پېښې د ځای نه تښتي. د ملګرو ملتونو دریور وویلې چې د یو کس په غاړه چارخانه دستمال و که دی یې وګوري شاید چې ویې وپېژني.

ددې ابتدايي معلوماتو د حاصلولو نه وروسته د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي خاص استازی په دوه بجو د ماسپښین د کورنیو چارو وزارت ته راغی او د کورنیو چارو وزېر وویل چې دمازدیګر په څلور بجو باید عاجله امنیتي جلسه د ټولو امنیتي ارګانونو، ایساف او ائتلاف د قواؤ د مشرانو په ګډون د کورنیو چارو په وزارت کې باید جوړه شي تر څو ټول په ګډه امنیتي پلان ترتیب او ټول باید د یوبل په هڅو خبر اوسوو.

مازدیګر په څلورو بجو په دغه جلسه کې چې د کورنیو چارو وزېر په ریاست وشوه د ملي امنیت رئیس امر الله صالح، د ائتلاف د قواؤ مرستیال جنرال جان کوپر Gen. John Cooper، د ایساف د قواؤ قوماندان مرستیال جنرال لویزر (Gen. Loeser)، د ملګرو ملتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمنشي د خاص استازي مرستيال فليپو ګريندي (Fellipo Grandi ) او ما برخه درلوده. په غونډه کې فيصله وشوه چې په درېو موضوع ګانو باندې کار وکړو اول د ېرغمل کوونکو ځای باید پيدا کړو، دويم دا چې څنګه هغه ونيسو او درېيم دا چې دا عمل سياسي دی او که جنايي، په دې غونډه کې دا پريکړه وشوه چې د امنيتي ادارو ترمنځ د رهبرۍ په کچه دې بايد د مسئلې د حلولو پورې د ورځې دوه ځلې يعنې د سهار په يولسو بجو او د ماښام په اوه بجو بايد غونډې وشي.

په لومړي ورځ د کورنيو چارو وزارت د تروريزم پر ضدد مبارزې رياست رئيس جميل جنبش او د امنيه قوماندان جنرال بابه جان دا ثابته کړه چې د اختطاف کوونکو مشر يو تن شريف الله نومېږي چې د پغمان دولسوالۍ دی او سازمان يافته جنايي باندونو سره اړيکې لري او د دې ډلې نور غړي د کچکول، رئيس خدايداد،مالک او يو شمېر نور کسان دي چې دا راپورونه وروسته د ملي امنيت دادارې له خوا هم تائيد شول. د شريف الله د نيولو لپاره دوه ځايونه په خوشحال خان مېنه، يوځای دپغمان په چندل بايي سيمه کې، دوه ځايونه د ګذرګاه په سيمه کې او څلور ځايونه د خېرخانې په سيمه کې تالاشي شول چې د تالاشۍ په دوران کې د شريف الله پلار او دهغه ورور د تور په نامه چېرته چې شريف الله پټ په خوشحال خان مېنه کې او سېدل ونيول شول، تر څو د شريف الله په هکله ترې معلومات حاصل کړو. دتحقيق په نتيجه کې د شريف الله  هغه کور چې دې په کې اوسيده په نښه شو خو کله چې امنيتي پوليس دغه کور ته رسېږي تقريبا شل دقيقې دمخه د يولسمې حوزې د پوليسو نه يو تن په اغلب په ګمان امر د جنايي ، شريف الله ته تيلفون کوي چې پوليس درپسې درغلل او ددغه ځای نه بايد وتښتې. شريف الله شل دقيقې دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه کور نه تښتي او دوه کسه چې په دغه کور کې چې په خوشحال خان مينه کې وو، اوسيدل وويل چې شريف الله د درې کسانو سره چې پلنګې دريشي يې په غاړه وې له دې ځای نه وتښتېدل او يوه جوړه بله پلنګې دريشي يې هم په دغه کور کې پاتې وه چې هغه پوليسو له ځان سره راوړه.

په دغه کور کې يو بې نمبر پليټه کرولا موټر چې تازه توري شيشې يې ورته سپينې کړې وې هم ولاړ و، د ملګرو ملتونو د ډرېور دمعلوماتو په اساس پنځو کسو چې پلنګې دريشي يې درلودې په دغه اختطاف کې شامل وو نو شواهد را پيدا شول چې شريف الله او ملګرو يې پلنګې دريشي په ځان کې درلودي نو دا موږ ته ثابته شوه چې دا اختطاف د غلو د همدې ډلې له خوا شوی دی. د شريف الله ورور د خبرخانې په سيمه کې يو بل کور په ګوته کړ چې کله کله شريف الله هلته اوسېږي خو کله چې هغه کور تالاشي شو شريف الله هلته نه و.

د تحقيقاتو په نتيجه کې د ملګرو ملتونو په ډرېور باندې هم اشتباه زياته شوه ځکه چې دی هم د پغمان و او دجهاد په وخت کې د نادريه ليسې په سيمه کې يې مرکز درلوده.

کله چې موږ د شريف الله عکس دغه ډرېور ته وښوده نو ده وويلې چې هو دا شريف الله دی او د جهاد په وخت کې يې په پېښور کې ليدلی دی او دغه کس چې دې يې په څپېړه وهلی دی شريف الله دی.

خو ده دا خبره د عکس د ليدو نه دمخه ونه کړه چې ګوندې شريف الله دی په څپېړه وهلی دی خو دې دا دليل راوړه چې ګوندې ده شريف الله څو کاله دمخه ليدلی و نو ځکه يې ونه پېژنده، دملګرو ملتونو د ډرېور ددې

اقرار نه وروسته موږ سل په سلو کې متیقین شولو چې دا اختطاف د شریف الله او د هغه ډلې له خوا شوی دی.

د اکتوبر په ۲۲ مه نېټه دجیش المسلمین په نامه یوې ډلې چې تازه د طالبانو نه جدا شوې وه او مشري یې د اکبر آغا(۲۳) په نامه یو تن کوله اعلان وکړ چې د ملګروملتونو کارکوونکي د دوی د یوې ډلې له خوا تښتول شوي دي خو موږ په دې مطمین وو چې دا کسان د طالبانو له خوا نه بلکې د غلو دیوې ډلې له خوا تښتول شوي او د دې فرصت باید دوی ته ورنه کړل شي چې دوی دا بندیان د کابل له ښار نه کومې بلې سیمې ته وکاږي او یا یې طالبانو ته ورکړي.

په همدې ورځ جنرال بابه جان وویل چې یو تن طلاګی او د یوه قوماندان ځوی د سیفور په نامه هم دې غلو د ډلې ملګري دي او دده یو تن همکار د ذبیح الله په نامه کوښښ کوي چې موثق معلومات ده ته ورکړي خومشکل داوه چې نه استخباراتي شبکې او نه امنیتي ارګانونو خپل همکاران یو بل ته ښودل ځکه چې همکارانو یوازې د هغه چا سره تماس نیوه چې په هغوی یې اعتماد درلوده.

داکتوبر د میاشتې په دېر شمه نېټه د کورنیو چارو وزېر ماته یو تن د راتب پوپلزي په نامه چې د جمهور رئیس کرزي سره خپلوي لري او هم د طالبانو او خاصتاً د اکبر آغا سره ښې اړیکې درلودې معرفي کړ چې د اکبر آغا سره په تماس کې وي او د طالبانو له خوا به معلومات راکوي، له دې برسېره د طالبانو پخواني د کورنیو چارو وزارت معین

(۲۳) اکبر آغا د ۲۰۰۴زکال د دسمبر په میاشت کې په کراچۍ کې د پاکستان دامنیتي اورګانونو له خوا ونیول شواو افغانستان ته یې ورکړ خووروسته جمهور رئیس کرزي د ۲۰۰۹زکال کې د یو فرمان په اساس اکبر آغا د بندي خانې نه خوشي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاعبدالصمد خاکسار (۲۴) هم وزیر صیب را معرفي کړ چې داکبر آغا دنفرو سره تماس ونیسي.
د اختطاف په مسئله کې به د ټولو اړخونو سره تماس ټینګوي تر څو اختطاف کوونکو ته امید ورکړې چې که د هر هدف لپاره دوی کسان اختطاف کړي دي مقابل لوری خبرو او تماسونو ته حاضر دی تر څو د بندیانو سره سمه رویه یا برخورد وکړي اوهم هغوی بېځایه ونه وژني. البته حکومتي ټولې اداري خپل کوښښونو ته دوام ورکوي تر څو د اختطاف چیانو او بندیانو ځای پیدا کړي او د هغوی د خلاصون لپاره هلې ځلې وکړي.
په همدې ورځ ماسپښین یوه سپینه کرولا چې دولتي نمبر پلیت یې درلوده او داسې ګمان کېده چې شریف الله په کې دي د باغ بالا د ګردنې په سیمه کې پولیس ورته لاس ورکړی خو موټر یې درولی نه و او د پولیسو سره د ډزو په نتیجه کې تبنتیدلی و ددې ډزو په جریان کې دملګرو ملتونو یو تن بل ډرېور چې په دغه وخت کې ددغه سیمې نه تېریده زخمي شو چې وروسته هماغه کرولا موټر د نادریې لیسې سره نږدې په یوه کوڅه کې پیدا شوه.
د اکتوبر دمیاشتې په یو دېرشمه نېټه د برغمل کسانو ویډیو د الجزیرې دتلویزیون له خوا خپره شوه او داسې ښکارېده چې دغه ویډیو په کابل کې اخستل شوې ده ځکه چې یو تن د اختطاف کوونکو چې په فلم کې ښکارېده چارخانه دستمال یې په غاړه درلوده او پتلون یې اغوستي و په دغه خبر کې اغا ویلي و چې د ګونتانامو نه باید ټول بندیان

(۲۴) ملا خاکسار د ۲۰۰۷زکال د جنوري په څوارلسمه نېټه د طالبانو له خوا په کندهار کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشې او د ملګرو ملتونو اداره دې خپل ټول دفترونه له افغانستان څخه وکاږي نو دوی به بیا دا بندیان خوشې کړي، د دوارو چینلونو له لارې چې موږ د اکبر اغا سره اړیکي نیولې وې نو هغوی ته یې هم دغه پورتنۍ غوښتنې تکرار کړې وې.

ملي امنیت او نورو استخباراتي ادارو به هره ورځ راپورونه ورکول چې ګواکې دغه بندیان له کابل څخه ویستل شوي او د میدان ښار او یا هم د لوګر په کومه سیمه کې ساتل کیږي خو عملا دا ټول راپورونه غلط وو.

برغمل کوونکو د مختلفو لارو غلط یا ناسم معلومات خپرول چې د دولت توجه هغه خوا ته وګرځوي تر څو د دوی پسې تعقیب کم شي خو دا چې د کورنیو چارو وزارت اطلاع همدا وه چې بندیان د کابل د ښارنه نه دي ویستل شوي نو د کابل ښار په مختلفو سیمو کې کشفي او عملیاتي فعالیتونو جریان درلوده.

کله کله به د کوم مهم راپور و نو په بنسټ حتی د شپې په دوه یا درې بجو به هم د امنیتي ګروپ مشرتا به په کورنیو چارو وزارت کې غونډې درلودې. د دې لپاره چې معلومه کړو چې ایا اکبر اغا په رښتیا د برغمل نیوونکو سره اړیکي لري او که نه؟ نو موږ د هغه سره د ارتباطي کسانو له خوا د بندیانو په هکله یو څو پوښتنې ورکړې او هغوی بېرته موږ ته سم ځوابونه راکړل نو موږ ته معلومه شوه چې دوی اړیکي لر.

د نومبر د میاشتې په ځلورمه نیټه اکبر اغا مطبوعاتو ته ویلي و که د افغانستان حکومت د دوی سره د مازدیګر پورې خبرې اترې پیل نه کړي نو دوی به بندیان یو په یو ووژني، ده ویلې و چې یوه ښځه ډېره مریضه ده او که مړه شوله نو دوی یې مسؤلیت په غاړه نه اخلي ځکه چې دوی ډاکتر نه لری چې هغه تداوي کړي، نو موږ مولوی خاکسار ته وویلې چې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبر آغا سره تماس ونیسه چې که د بندیانو لپاره دوا او جامې واخلي نو دا په خپله د مذاکراتو پیل دی خو د ماسپښین په دوه بجو مولوي خاکسار بېرته خبر راکړ چې هغوی دوا او جامې نه اخلي او وایې چې تاسې د مذاکراتو اعلان وکړئ نو بیا به موږ د مذاکراتو ځای در وښایو.

په همدې ورځ سهار په شپږو بجو راته د کابل امنیه قوماندان جنرال بابه جان تیلفون وکړ چې یو تن ددې غلو د ډلې نه د کچکول په نامه د پغمان د زرشخ په کلی کې نیولی دی.

د سهار د نهو بجو او پنځه څلویښت دقیقو په شاوخوا کې بیا بابه جان راته تیلفون وکړ چې د غلو یوه بله ډله چې آصف موش او زلمی کوه بند یې مشري کوي د زړو مکروریانو په سیمه کې ونیول.

په همدې شپه دا تصمیم ونیول شو که د اکبر آغا د ضرب الاجل وخت پوره شي څه باید وشي؟ د کورنیو چارو وزیر وویلې که د هغوی غوښتنه همدا وي چې خارجیان دافغانستان نه ووځي دا خبره د منلو نه ده او بل دا چې برغمل د اکبر آغا په کنټرول کې نه دي خو د ملګرو ملتونو خاص استازی په دې فکر و چې د مذاکراتو چینل باید د اکبر آغا سره بېرته وي او هم مولوي خاکسار ته ده ویلي و دی په خپله غواړي چې د اکبر آغا سره مستقیم تماس ټینګ کړي خو د کورنیو چارو وزارت نظر دا و چې بېلا بېل چینلونو په واسطه خبرې فایده نه لري او دا کار باید ونه شي. د ملګرو ملتونو د مذاکراتو ټیم وویلې چې د ملګرو ملتونو پالیسي داده ، چې د برغمل کوونکو د خلاصون لپاره موږ هېڅ پیسې او یا خاص امتیاز نه ورکو او همداشان په دې قضیه کې شاملې خواوې لکه د افغانستان حکومت یا نړیواله ټولنې باندې موږ دا فشار نه اچو چې د برغملو د خوشې کېدو پر ځای دې د طالبانو یو څه بندیان خوشې کړي، د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزیر وویلې چې زموږ د دولت پالیسي هم داده او موږ هیڅ امتیاز طالبانو ته نه ورکوو.

باالاخره اصلي مظنون شریف الله د نومبر د میاشتې په شپږمه نیټه د تیلفون په ذریعه د جنرال جنبش سره اړیکي نیولې وې او ویلې و چې دی د دې کسانو په تښتولو کې برخه نه لري او دا کار د طلاء ګي او شاه محمد له خوا چې د غلو یوه بله ډله ده شوی دی څرنګه چې د کابل امنیه قوماندانې هم فعالیت زیات کړی و او د غلو څه کسان یې نیولې وو نو دغلو په ډلو فشار زیات وو او نه یې شو کولی چې برغمل کسان د یو ځای نه بل ځای ته انتقال کړي. دکورنیو چارو وزیر جنرال جنبش ته هدایت ورکړ چې د شریف الله سره بیا اړیکي ونیسي او که همکاري وکړي نو دوی به یې پلار خوشې کړي خو وړور به یې تر هغې پورې بندي وي تر څو ټول برغمل کسان نه وي خوشې شوي.

دنومبر د میاشتې په اومه نیټه د مازدیګر څلور بجو امنیتي جلسه کې تصمیم ونیول شو چې ددې غلو د باند یو تن چې روښان نومېږي او پلار یې د نیمروز ولایت د امنیه قوماندانۍ د لوژستیک امر دی کابل ته راوغوښتل شو تر څو د خپل زوی سره اړیکي ونیسي او ددې بندیانو په خلاصون کې مرسته وکړي.

په همدې ورځ اکبر اغا زموږ ارتباطي نفر ته وویلې چې هغه مجاهدین چې د ملګروملتونو کارکوونکي یې برغمل کړي درې میلیونه ډالره غواړي چې برغمل کسان خوشی کړي او هم ۳۲ کسانو دطالبانو دبندیانو لست یې ورکړی وچې دوی هم باید خوشې شي. اکبرآغا وویلې کله چې د افغانستان حکومت درې میلیونه ډالره ورکړل نو یوه انګلیسي برغمله به

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشې کړي او کله چې د طالبانو بندیان خوشې شول نو دوی به دوه نور کسان هم خوشې کړي.

په همدې ورځ یو تن چې خواني نومېده د جنرال جنبش او شریف الله تر منځ یې اړیکه برابره کړه او ورته یې وویلې چې موږ دې مصونیت ساتو خو همکاري وکړه. شریف الله بیا وویل چې ددې کسانو په تښتولو کې طلاګی، شاه محمد او ظریف لاس لري او دا برغمل کسان یې د ریشخورو سیمې ته وړي دي.

د نومبر د میاشتې په اومه نېټه د کورنیو چارو وزیر د طالبانو په وخت کې د مخابراتو د وزارت پخواني معین په ذریعه یې د منځګړیتوب یو بل چینل پرانیست او د کورنیو چارو د دفتر رئیس جنرال سید محمد قدوسي، د کورنیو چارو د وزارت د استخباراتو د ریاست مرستیال جنرال عبدالمنان فراهي او د کورنیو چارو وزارت ویاند لطف الله مشعل ته وظیفه ورکړه چې ددوی سره دې په تماس کې وي.

د کورنیو چارو وزیر راته وویلې چې دطالبانو دوخت پخوانی د مخابراتو وزارت مرستیال جمهور رئیس کرزی ته ورغلي و او ورته یې ویلي و چې د طالبانو دوه تنه پخواني قوماندنان چې د کندوز او تخار ولایتونو اوسیدونکي دي وایې چې د برغمل کوونکو مشر چې ځان د پهلوان په نامه یادوی او د شکردرې د سیمې اوسیدونکی او په قوم ناصر دی ددوی سره په اړیکه کې دی چې وایې برغمل کسان د دوی سره دي. دوی دا ویلي چې پهلوان په پېښور کې دی او د برغمل کسانو ویډویې فلم یې هلته وړی و بېرته نه دی راغلی خو دوی دوه میلیونه ډالره غواړي تر څو برغمل کسان خوشې کړي. دوی یو میلیون ډالر د حوالې په توګه په پېښور کې او یو میلیون په کابل کې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکورنیو چارو وزیر وویلې چې ددې ګروپ سره په هغه صورت کې خبرې کوو چې دوی موږ ته دا ثابته کړي چې دوی د برغمل کوونکو سره اړیکي لري هماغه و چې ددې خبرې د اثبات لپاره درې واړه بندیانو په خپلو ملکونو کې د خپلو خپلوانو سره خبرې وکړې او دا یې ثابته کړه چې پهلوان د برغمل کوونکو سره اړیکي لري.

د پهلوان په قول برغمل کوونکي د پنجشېر دي او دی یې ځکه پېښور ته لېږلی چې پښتون دی تر څو هلته په پېښور کې د طالبانو سره اړیکي ونیسي او ددې بندیانو په مقابل کې ترې پیسې ترلاسه کړي.

پهلوان دا هم ویلي و چې پېښور کې داکبر آغا مرستیال یې دمولوي ولسوال په نامه په اکوړه خټک کې لیدلی او د ویډویې فلم په بدل کې یې ورته لس زره ډالره ورکړي دي، مولوي ولسوال ورته دا هم ویلي و که دا بندیان یې دوی ته په قبایلي سیمه کې وسپارل نو دوی به ورته دهر بندي په بدل کې یو لک ډالرورکړي او که دا بندیان یې ووژل نو د هر بندي په بدل کې به ورته پنځوس زره ډالره ورکړي.

کله چې پهلوان په کابل کې د خپلو ملګرو سره اړیکي نیسي ملګري یې زیاتې پیسې غواړي ، هماغه و چې د کورنیو چارو وزارت د طالبانو پخوانی قوماندان پېښور ته لېږي او د لارې یو څه خرچه ورکوي تر څو د پهلوان سره د نږدې نه وګوري دا قوماندان د یوې شپې نه وروسته بېرته کابل ته راځي او د کورنیو چارو موظفو کسانو سره یې د نومبر په اتمه نېټه په مکروریانو کې وکتل، دغه قوماندان وویلې چې ده د پېښور په نوی اډه کې دپهلوان سره وکتل چې دوه کسه نور چې تازه د کابل نه راغلي وو او یو تن یې په ویډویې فلم کې هم و ولیدل او دواړه د پنجشېر وو. ده وویلې چې هغوی دوه میلیونه ډالره غواړي چې نیمایې پیسې باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښور ته حواله شي او زه باید د حوالې رسید هلته یوسم او چې کله رسید دوی ته ورسېده نو دوی به پرغمل کوونکي په موټر کې خوشي او دده ملګري ته به یې وسپاري او دکورنیو چارو وزارت به باقي نورې روپې د طالبانو دویم قوماندان ته ورکړي او لومړی قوماندان به ترهغه پورې پهلوان سره ناست وي تر څو دوی ته ټولې پیسې ورسیږي.

دغه قوماندان وویلې چې د پیسو د تسلمیدو په وخت کې باید په هغه محل کې پولیس یا نور امنیتي کسان نه وي او هم دا تعهد باید وشي چې دوی اختطاف کوونکي نه تعقیبوي او که تعقیب یې کړل نو دوی به په پېښور کې د دوی ملګری ووژني. دوی دا هم ویلې چې ددې معاملې نه وروسته باید یو جعلي (ساختګي) د اخ و ډب صحنه جوړه کړئ تر څو دا وښايې چې پولیسو دا بندیان د اخ ډوب په پایله کې خلاص کړي ځکه چې دوی د جیش المسلمین سره اړیکي لري او که هغوی پوه شي چې موږ دحکومت سره معامله کړې نو بیا په پېښور کې د دوی ژوند د خطر سره مخامخ کېږي. ددې پلان د تطبیق لپاره د ملي امنیت په ریاست کې ددې پلان د عملي کولو لپاره د شپې تر نیمايې پورې پلان جوړ شو او داسې اټکل شوه چې سبا ته تر پنځو بجو پورې به دا پلان عملي شي او بندیان به خوشي شي.

پنځه بجې ځکه وټاکل شوې چې د ماښام د اذان وخت دی او ټول خلک به د روژې ماتولو لپاره په خپلو کورونو کې وي نو په سرکونو کې به بېروبار هم نه وي او په دې توګه به دا پلان عملي شي خو د نړیوالې ټولنې د اماده ګي د نشتوالی په نتیجه کې د ملي امنیت ریاست دا پلان چې د خبرخانې د کوتل تر شا یې یوځای په نښه کړي و معطل شو، هماغه و چې د شپې په اوه نیمو بجو پهلوان د پېښور نه تیلفون وکړ او دا پلان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فسخه او ګواښ یې وکړ چې دوی به بړغمل کوونکې ووژني ځکه د دوی دتوافقاتو په خلاف هغه سیمه د ملي امنیت او نړیوالو قواؤ له خوا محاصره ده، نو اوس ټولې پیسې پېښور ته حواله نه شي نو دوی بړغمل کسان نه خوشې کوي.

ددې نه وروسته په سبا یعنې د سه شنبې په ورځ چې د نومبر نهمه نېټه وه د پهلوان سره بیا رابطه ټینګه شوه او هغوی ټولې پیسې غوښتلې چې د کابل بانک له لارې هلته ولېږل شي او تر څو چې پیسې یې نه وي اخستي د طالبانو دغه قوماندان به د هغوی سره برمته وي. هماغه و چې دطالبانو دغه قوماندان مور د پولیسو په موټر کې د شپې طور خم ته ولېږلو تر څو د پهلوان سره اړیکې ونیسي. خو پهلوان بیا اخطار ورکړ چې تاسې د بړغمل کسانو مړي د جبل السراج د پله لاندې وګورئ، هر څومره چې د کورنیو چارو وزارت نماینده ګانو ددې اخطار نه وروسته د هغه سره اړیکې ونیولې ځواب یې رانه کړ خو چې کله د طالبانو دقوماندان سره اړیکې ونیول شوې هغه وویل چې دې د پهلوان سره ناست و چې د کابل بانک مشر شېر خان هغه ته تیلفون وکړ چې تاسې پیسې د بانک نه نه شئ ویستلی ځکه چې د امریکا سفیر زلمي خلیل زاد د کابل بانک مشر ته ویلي و چې پهلوان ته باید پیسې ور نه کړئ ځکه چې د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه نه غواړي چې د پیسو په مقابل کې بندیان خوشې کړي. دافغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې دوی په دې توګه بړغمل کوونکي تطمیع کول. خو پهلوان دې قوماندان سره رابطه پرېښوده اووویلې چې دتاسې سره دامعامله نه کوم خو د زیاتو هلو ځلو نه وروسته دغه قوماندان د پهلوان سره بیا اړیکې ونیولې چې خبرو اترو ته باید دوام ورکړي خو د پهلوان ټېنګار په دې و چې پسې باید د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړي اما یوناما ، حکومت او نړیوال ه ټولنه دې ته حاضر نه وه چې د پیسو په بدل کې دې برغمل کسان خوشي کړي. د چهارشنبې په ورځ د طالبانو پخوانی قوماندان بیا کابل ته راغي او وویلې چې ددغه برغمل کوونکو یو تن چې په پېښور کې و نن کابل ته د طورخم له لارې راځي او دې یې پېژني. نو هماغه و چې د کورنیو چارو وزارت د څرخي پله په سیمه کې د طالبانو دې قوماندان او پولیسو ته دنده ورکړه چې هر موټر تالاشي کړي خو په دې وخت کې هغه نفر ده ته تیلفون وکړ او وویلې چې کابل ته رسیدلی او د پهلوان له خوا دا پیغام لري چې د دوی ملګري په کابل کې بې خرخه شوي او نه شي کولای چې برغمل کسانو ته خواړه او نور د اړتیا وړ توکي ورسوي نو پنځه زره ډالره حکومت برغمل کوونکو ته باید ډېر ژر ورکړي.

دملګرو ملتونو دفتر او د انګلستان سفارت دې ته حاضر شو چې پنځه زره ډالره د خوراکي موادو او ضروري توکو په خاطر ورکړي.

دغه قوماندان د برغمل کوونکو سره اړیکي ټینګې کړي اوورته وویلې چې حکومت دې ته حاضر دي چې پنځه زره ډالره درکړي هماغه و چې برغمل کوونکو وویلې چې د دوی یو تن ملګری چې فوځي دریشي به یې اغوستې وي د ماسپښین په درې بجو او لسو دقیقو د شاه دوشمبړې سیمې ته درشي او پیسې هغه ته ورکړئ. داموضوع مو د ملي امنیت سره مطرح کړه او تر څو چې ملي امنیت تیاری نیوه دطالبانو دغه قوماندان شاه دوشمبړي سیمې ته یو ساعت ناوخته ورسیده او نیم ساعت انتظار نه وروسته یو تن په موټر سائیکل باندې راغی او د مخکې نښې په ښودلو سره یې دغه نفر ته پیسې ورکړې. د ملي امنیت کارکوونکي چې دمخکې نه مؤظف شوي و دغه نفر چې د میوند جاده په لوري تللو تعقیب کړي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه نفر د بالاحصار د سيمې سره د ملي امنيت د کارکوونکو نه ورک شو او وی نه شو کړای چې دوی دغه نفر تعقيب کړي.

دوه ساعته وروسته پهلوان د پېښور نه تيلفون وکړ چې پيسې دوی ته ورسيدي او په دې پيسو به برغمل کوونکو ته اوبه، ډوډۍ او څو جلده انګليسي کتابونه واخلي او حاضر شو چې خبرو اترو ته دوام ورکړي.

د پهلوان ټينګار په همدې و چې تر څو پيسې هغه ته ونه رسېږي دوی برغمل کوونکي نه خوشي کوي خو د ملګرو ملتونو دفتر او د افغانستان حکومت دې ته حاضر نه وو چې پيسې ورکړي نو پهلوان وويلې چې د اختر د څلورمې ورځې پورې نور مذاکرات نه کوي او د مذاکراتو دا چينل هم په تعويق پريوت .

په همدې ورځ چې نهايت زيات ستړي وم د آزادۍ راډيو ما سره ددې موضوع په هکله ژوندۍ مرکه وکړه نو ما ورته وويلې چې د افغانستان حکومت د برغمل کسانو د خوشې کېدو لپاره هلې ځلې کوي او څه امکانات چې په لاس کې لري د هغه نه کار اخلي، نو د آزادۍ راډيو خبريالې بله پوښتنه وکړه چې د طالبانو غوښتنې دادي چې ملګري ملتونه بايد د افغانستان نه ووځي او د طالبانو ټول بنديان بايد خوشې شي ستاسې نظر څه دی؟

ما ورته په ځواب کې وويلې چې طالبانو موږ ته په رسمي توګه دا غوښتنې نه دي راکړي او دا غوښتني موږ د خبري رسنيو له لارې اوريدلي دي،هغې بيا پوښتنه وکړه چې که دا غوښتنې په رسمي توګه درکړي نو د حکومت نظر به څه وي نو ما ورته وويلې که چېرې دا غوښتنې وي نو دا غوښتنې د افغانستان حکومت ته د قبول وړ نه دي، ددې نه مخکې دا سې خبرونه مطبوعاتو خپاره کړي وو چې د طالبانو او د افغانستان دحکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ خبرې راوني دي، سبا ته ټولو مطبوعاتو دا خبر زما له قوله خپور کړ چې د افغانستان حکومت د طالبانو غوښتنې رد کړي، البته باید ما ویلي وی چې کله دا غوښتنې موږ ته د دوی له خوا راکړل شوې نو د افغانستان حکومت به بیا پرې غور وکړي خو له مانه دا خبره وشوله.
جلالي صیب راته وویلې چې څنګه ده دا خبر سهار واوریده نو د قهر نه یې د چایو پیاله چې په لاس کې وه په دیوال وویشتله او راته تیلفون یې وکړ چې دا سې مصاحبه څوک کوي او کېدای شي چې طالبان په غلو فشار راولي او دا بندیان ووژني.
ددې نه وورسته د نومبر په لسمه نېټه د کورنیو چارو امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال د جرمني نه راغی او زه چې ډېر زیات ستړي وم د نومبر په یولسمه نېټه امریکا ته لاړم او امنیتي چارې اوهم د ادارې معنیت چارې مې هغه ته وسپارلې.
ددې نه وروسته شریف الله که څه هم همکاري کړي وه خو د ېرغمل کسانو صحیح ځای یې نه ور ښودلی.
د کورنیو چارو د امنیتي معین جنرال هلال الدین هلال او د کابل د امنیه قوماندان جنرال بابه جان په قول باالاخره د نومبر د میاشتې په دوه ویشتمه نېټه د قره باغ په سیمه کې د طلاګي ډله د قوماندان امان الله ګذر د نفرو سره تصادفي برخورد کوي چې ددې اخ و ډب په پایله کې د طلاګی دوه ملګري د ښځن او الله محمد په نامه وژل کېږي او دی په خپله د دوه ملګرو (اجمل او یاسین) سره ټپیان کېږي او درې واړه د کابل څلورسوه بستریزه روغتون ته انتقالوي څرنګه چې روغتون دوی نه شو ساتلی نو د امریکا سفیر زلمي خلیل زاد نه غوښتنه کېږي چې دا درې واړه ټپیان دبګرام هوایې ډګر روغتون ته انتقال کړي. ددې پېښې نه وروسته ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې يو بل تن ملګرى حبيب استالفى د کابل امنيه قوماندان بابه جان ته تيلفون کوي او ورته وايې چې طلاګى او د هغه ملګري بايد له منځه لاړ نه شي او دوى به درې واړه برغمل کسان خوشي کړي. هماغه و چې د شپې په لسو بجو درې واړه برغمل کوونکي بې له کومې معاملې د شهرنو سره نږدې د ښځو باغ ( باغ زنانه) ترمخه خوشې کوی. خو طلاګى په سبا د بګرام د روغتون نه تښتي او بيا جنرال بابه جان ته تيلفون کوي چې زه خو خلاص شوم او اخطار ورکوي چې زه به تاسره ګورم. د جنرال هلال الدين هلال په قول طلاګى دبګرام د روغتون نه د نورو پاى وازانو په قطار کې فرار کوي خو جنرال بابه جان او جنرال جميل جنبش راته وويلې چې طلاګى د برغمل کوونکو کسانو دخوشې کېدو په بدل کې خوشې شوى و خو په هر حال برغمل کسان خوشې کېږي او د نومبر په درويشتمه نېټه د کورنيو چارو وزير د يو خبرې کنفرانس په ترخ کې د برغمل کسانو د خوشې کېدو اعلان کوي اووايې چې د برغمل کوونکو هېڅ شرايط نه دي منل شوي او هر هغه څوک چې د دوې په تښتولو کې لاس لرى هغوى به د قانون منګولو ته وسپارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکورنیو چارو په وزارت کې د واقعاتو یا پېښو یو شمېر نورې بېلګې

دکورنیو چارو وزارت مشرتابه هره ورځ په لسګونو مهمو پېښو سره لاس او ګرېوان وو چې دا پېښې د قتل، اختطاف، جنايي جرمونو او د قوانینو د تطبیق نه نیولې تر تروریستي پېښو پورې شاملې وې چې ددې ټولو واقعاتو تعقیب، تحقیق او بررسي او نظارت زیاتو امکاناتو او ظرفیت ته اړتیا درلوده او ددې ټولو پېښو مرتکبینو او یا مظنونو کسانو به د مختلفو ډلو، مشرانو او لوړپوړو دولتي چارواکو سره هم اړیکي درلودې او په عوض ددې چې دوی د قوانینو په تطبیق کې مرسته وکړي دوی به همیش ددې مانع کېدل چې د مرتکبینو سفارش وکړي او یا دوی خلاص کړي او حتی په بعضې وخت کې ددې مجرمینولکۍ به د نړیوالې ټولنې څواکونو ته هم رسیده او یا به د هغوی له خوا هم په یو شکل د اشکالو حمایت کېدل. دا مداخلې نه یوازې د قوانینو د تطبیق مانع ګرځېدلې بلکې د بې ثباتۍ اصلي لامل ګڼل کېده او هره مسئله به د تحقیق په نتیجه کې دومره مغلقه کېدله چې اصلي مرتکب کوونکي به په کې ورک شول او د یو نوي تحقیق لپاره به یې زمینه پرانیستله د بېلګې په توګه دا لاندې مسئله څېړم:

د ۲۰۰۴زکال د دسمبر د میاشتې په پنځمه نېټه دکورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي، د کورنیو چارو امنیتي معین جنرا ل هلال الدین هلال، د ټاکنو دکمیسیون د دارالانشا رئیس ډاکتر فاروق وردګ اوماته وظیفه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکړه چې د ولسمشر حامد کرزي د تحليف مرأسمو لپاره د مېلمنو لستونه د اخرې ځل لپاره وګورو تر څو د مرأسمو په منځ کې کومه امنيتي ستونزه رامنځ ته نشي. د شپې د اوه بجو پورې مو په دغه لستونو کار وکړ او د کار نه وروسته ما ډاکتر صيب فاروق وردګ ته وويلې چې حاجي محمد نصيب د ودان افغانستان رئيس چې زموږ د دواړو نږدې ملګرى دى د ماښام ډوډۍ لپاره دعوت کړي يو نو هلته به لاړ شو. ډاکتر فاروق وردګ خپل موټر او باډي ګارډ رخصت کړ او موږ دواړه زما په موټر کې د ودان دفتر ته چې په کارته پروان کې و لاړو. هلته د USAID او IRI د دفتر درې کسه خارجيان هم وو او هم ډاکتر امان الله حميدزى (۲۵) چې د امريکا نه تازه راغلى و هم موجود و. د ډوډۍ خوړلو نه وورسته ، ډاکتر فاروق وردګ د ما سره په موټر کې سپور شو او هغه مې ده بوري سره نږدې خپل کور ته ورساوه او ډاکتر امان الله حميدزى د ودان افغانستان په موټر کې خبرخانې ته د خپل ورور کور ته لاړ.

سهار شپږ بجې راته د ودان افغانستان مرستيال روح الامين (26)تيلفون وکړ چې د دوى ډرېور کوچي (۲۷) چې ډاکتر امان الله حميدزى يې تېره شپه وړى و چا وژلي او موټر يې ترې تښتولى دى. ما سره سمدستي انديښنه پيدا شوه چې ګوندې ډاکتر امان الله حميدزي به هم وژل شوى او يا تښتول شوى وي.

---

۲۵ډاکتر امان الله حميدزى وروسته د ننګرهار د پوهنتون رئيس مقرر شو او اوس په کابل کې د تعليم او تربيې د پوهنتون رئيس دى.

کوچي ډرېور د شنوارو د ماما زرغون شاه د تره د زامنو له جملې نه و.

26روح الامين اوس د فراه ولايت والي دى

۲۷ کوچى ډرېور د شنوارو د ماما زرغون شاه د تره زامنو له جملې څخه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سمدستي مې ډاکتر حمیدزي ته تیلفون وکړ او رأسره یې خبرې وکړې او وویلې چې کله دوی د شپې په لسو بجو د خپل ورور کور ته نږدې شول نو د دوی موټر دوه کسو چې د پولیسو دریشي یې په غاړه وې ودراوه او کوچي استاد ورته دموټر دننه چراغ روښانه کړ، نو پولیسو پوښتنه وکړه چې سلاح درسره شته دی او کنه؟ موږ ورته وویلې چې سلاح نه لرو. ډاکټر حمیدزي وویلې چې کله دی د خپل ورور کور ته ورسیدو نو کوچي استاد د موټر چراغونه هغه کوڅې ته برابر کړ چې تر څو زه کور ته ننوځم. ډاکټرحمیدزی وایې کله چې زه کور ته ننوتم نو کوچي استاد حرکت وکړ نور نو زه خبر نه یم چې څه پیښ شوي دي.

کله چې موږ پولیس محل د واقعې ته ولېږل نو کوچی استاد په هماغه ځایه کې چې دغه پولیسو دوی ودرولي وو، په اغلب ګمان بېرته د راګرځېدو په وخت کې کوچی استاد دلته ودرول شوی ، او بیا همدلته ځای په ځای وژل شوی او موټر ترې تښتول شوی دی. دکوچي استاد د مرګ او د موټر د پیدا کولو لپاره ما د کورنیو چارو وزارت جنایي ریاست او د کابل امنیه قوماندان ته دنده وسپارله چې خپل ټول امکانات په کار واچوي او باید جدي پلټنه وکړي. دغه موټر چې شین رنګي پرادو لیندکروزر موټر وو ما لیدلي و اوچې کله به په ښار کې ګرځېدم او دغه قسم موټر به مې لیده نو اشتباه به مې پرې راتله.

د دسمبر د میاشتې په ۱۸مه نېټه چې د شنبې ورځ وه د کنړ نه کابل ته راغلم او په لاره کې خبر شوم چې د ډاکتر فاروق وردګ کوم خپلوان مړ دی او د وزیر اکبر خان په جومات کې یې فاتحې ده نو د لارې نه هماغسې دوزیر اکبر خان جومات ته ستون شوم او د فاتحه نه وروسته د کورنیو چارو وزارت په لورې روان وم چې د ایران د سفارت سره نږدې هماغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شین پرادو لیند کروزر چې نمبر پلیټ نه لري او یوازې ډرېور په کې دی روان دی نو ما خپلو باډي ګارډانو ته وویلې چې دا موټر ودروئ چې ولې نمبر پلیت نه لري. ډرېور راته وویلې چې دا موټر د ایساف دی نو ځکه نمبر پلیټ نه لري خو ما ورته وویلې چې که د ایساف هم دی نو باید اسناد ولري، ډرېور وویلې چې اسناد لري نو ما ورته وویلې چې اسناد یې ماته راوړئ، بیا ډرېور وویلې چې اسناد په دفتر کې پاتې دي.

زما اشتباه زیاته شوله نو خپلو باډي ګاردانو ته مې وویلې چې دا موټر او ډرېور وزارت ته راولئ چې زه ورسره خبرې وکړم. کله چې ډرېور یې زما دفتر ته راوست نو ما د ډرېور نه پوښتنه وکړه چې دا موټر دځومره وخت نه را په دې خوا چلوې. ډرېور وویلې چې د یوه کاله زیاته موده کېږي نو ما بیا د ډرېور نه پوښتنه وکړه چې همدا موټر د ځومره وخت نه را په دې خوا چلوې ده وویلې چې همدا موټر د یوه کال نه زیات وخت کېږي چې چلوم یې . نو بیا ما ډرېور ته وویلې چې ایساف ته تیلفون وکړه چې موټر دکورنیو چارو وزارت نیولی دی او دموټر اسناد راوړي.

ډرېور تیلفون وکړ اوتقریبا دوه ساعته وروسته دوه امریکایي صیب منصبان چې د ائتلاف د قواؤ پورې اړه درلوده راغلل چې یو ترجمان هم ورسره دی نو ما ترجمان ته وویلې چې ته بېرون ووځه چې زه په خپله په انګلیسي خبرې کولی شم او د دوی سره غږېږم، زما اشتباه نوره هم زیاته شوه چې دا موټر د ایساف سره نه بلکې د ائتلاف قواؤ سره په کرایه دی.

کله چې زه د ائتلاف دقواو ددې افسرانو سره وغږېدم نو دا ټوله کیسه مې ورته وکړه چې داسې یو موټر ورک شوی او ډرېور یې وژل شوی دی نو مونږ غواړو چې ددې موټر اسناد دهغه ورک شوي موټر داسناد سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقایسه کړو نو ښه داده چې اسناد راوړئ نو پس له اسنادو د بررسۍ نه به موټر او ډرېور ببرته درکړو په دې شرط چې دا هماغه موټر نه وي.
د ائتلاف افسرانو خپل د ترانسپورت دفتر ته تیلفون وکړ او پوښته یې ترې وکړه چې دا موټر موڅه وخت په کرایه نیولی دی هغوی ورته وویلې چې دا موټر مو د ډسبمر په اومه نېټه کرایه کړی دی یعنې دوه ورځې وروسته د کوچي استاد د وژنې نه نو زما اشتباه نوره هم زیاته شوه ځکه چې دغه ډرېور مخکې ویلي و چې دا موټر د یو کال نه د زیاتې مودې را په دې خوا چلوي. د ائتلاف دا افسران لاړل چې استادراوړي مگرلا درکه شول او تر دوه ورځو پورې هېچا نه د ډرېور او نه د موټر پوښتنه وکړه، زما اشتباه زیاتیدله او همدا شان روح الامین او د ودان دفتر نور ډرېوران مو راوغوښتل چې دا موټر وگوري او د ټولو اشتباه همدا وه چې گوندې همدا موټر به وي.
څرنگه چې ما سهوه کړې وه چې د ائتلافي قواؤ د افسرانو نومونه نه وو اخېستي نو نه پوهېدم چې د چا سره اړیکې ونیسم او مجبور شوم دا مسئله د ائتلاف د قواؤ د مشرتابه سره مطرح کړم او هم د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب او امنیتي معین هلال الدین هلال ددې مسئلې نه خبر کړم.
هماغه و چې د ائتلاف د قواؤ مرستیال جنرال بیل کرست ته مې تیلفون وکړ که زما دفتر ته راشي نو ښه به وي چې د یوې مهمې مسئلې په هکله د تاسې سره غږېږم، هغه مازدیگر زما دفتر ته راغی او هغه ته مې ټوله قصه وکړه چې ستاسې دوه صیب منصبان هم ببرته رانغلل او دا مسئله جدي ده ځکه چې د ټولو امنیت ته زیان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډسمبر په يويشتمه نېټه د ائتلاف د قواؤ د قوماندان مرستيال بېرته زما دفتر ته راغی او وويلې چې دغه موټر صفی الله چې سکرتر دی او د اسد په نامه چې ترجمان دی دوی ته په کرايه ورکړی او يو تن دمعين په نامه دا قرارداد کړی دی خو درې واړه تښتيدلي دي او بل دا چې دا موټر هېڅ اسناد نه لري. ده وويل چې دا يوازېنی موټر نه دی بلکې داسې تقريبا دوه سوه بې اسناده موټرې د ائتلاف قواؤ په کرايه نيولي او په همدې رنګ او ماډل د دوی سره پنځه شپږ نورې موټرې هم شته دی اودا چې ايساف او يا نورو نړيوالو ادارو څومره بې اسناده موټرې په کرايه نيولي دي د هغوی خو هېڅ اندازه نشته دي. په دې وخت کې د ليندکروزرو موټرو غلاوې هم زياتې شوې وې. ما د ائتلاف د قواؤ معاون ته وويل چې تاسې بايدهمکاري وکړئ او ترڅو چې هر چا دخپل موټر لپاره صحيح اسناد نه وي راوړي تر هغه پورې نه کرايه دموټرو ورکړئ او نه موټر بېرته په خپلو خاوندانو وسپارئ او موږ به ددغه کسانو دنيولو لپاره اقدام وکړو. که دا موټرې دغلا نه وي خو دې کسانولااقل دګمرک محصول هم نه دی ورکړی او داموټرې بايد ټولې محصول شي نو په دې توګه به د دولت بودجې ته يو څه پيسې تحويل شي. ده دا ژمنه وکړه او موږ ددې کسانو په پلټنه کې شو چې پيدا يې کړو او واقعيت معلوم کړو.

په همدې ورځ راته حاجی محمد نصيب تيلفون وکړ چې صفي الله چې زموږ د يو بل ملګري محمدنيسم چې د امريکا په کلفورنيا کې اوسېږي، دهغه اوښی دی او دد ه دفتر ته تللی او وايې چې ما د دوی موټر نيولی دی او که دی واسطه شي چې موټر او ډرېور خوشي کړي. دې په دې خبر نه دی چې دا موټر د محمدنصيب د دفتر په قضيه کې نيول شوی دی. محمد نصيب وويل چې تر څو اصلي مسئله معلومه شوي نه وي که هر څوک ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر په تښتولو او دده د ډرېور په قتل کې لاس لری باید سزا ووینې ولو که زموږ اولادونه هم وي. ما ورته وویلې چې ته صفي الله په خبرو مصروفه کړه تر څو زه د جنايي د رياست نه دده دنيولو لپاره کسان در ولېږم او چې څنګه ستا د دفتر نه را ووت نو دوی به يې ونيسي هماغه و چې د جنايي د رياست کارکوونکي مې د محمد نصيب دفتر ته ولېږل او چې څنګه صفي الله راووت نو پوليسو هغه ونيوه. د صفي الله د نيولو نه وروسته اسد اومعين هم ونيول شول. زما ملګري ماته دکلفورينا نه تيلفون وکړ او هم يې ايميل راولېږه چې که ته دوی په ضمانت پرېږدې نو ښه به وي ما ورته وويلې چې دا مسئله د قتل ده او په دې کې ضمانت نه کېږي اومسئله د موټر مې ورته تشريح کړه خو باالاخره هغه چې د شل کلونو ملګری مې و رانه خفه او تر اوسه سره خفه يو او دا کسان مې خوشې نه کړل تر څو تحقيقات تکميل شوي نه وي.

په سبا يې صديق چکري زما دفتر ته راغی او وويلې چې استاد رباني سلام کاوه او که ته دا نفر په ضمانت خوشې کړې نو ښه به وي نو ما صديق چکري ته ټوله قصه وکړه او ورته مې وو يلې چې استاد رباني ته احترام لرم خو دا کار نه شم کولای.

باالاخره ددې موټرو اسناد مو د انجن او شا سي نمبر سره مقايسه کړل او هم مو هغه نور ټولې همدارنګه موټرې چې ائتلاف ته ورکړل شوې وې د خارجي او داخلي متخصصينو په واسطه سره مقايسه کړل خو دا هغه موټر نه و او ددې موټر نمبر مو د هرات د ګمرکاتو د لارې چيک کړ چې دا هغه موټر نه دی خو دوی هم د ګمرک محصول نه و ورکړی او په غيرقانوني توګه يې داموټر په کرايه ورکړی و نوځکه تښتيدلي وو. داتحقيقات په دوه اونيو کې تکميل شول او وروسته مو دا درې کسان دتوقيف نه خوشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل خو موټر مو تر هغې ور نه کړ تر څو محصول د ګمرک يې تحويل کړی نه وو . ددې موټرونو تصفيه تر هغه پورې روانه وه چې ما  د کورنيو چارو په وزارت کې څوميا شتې نور هم کار کاوه دا چې وروسته څه پېښ شوي ما ته معلومات نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د والیانو، ولسوالانو او امنیه قوماندانانو تقرر او خودسري

کله چې موږ د ادارې په اړه بحث کوو نو ښه اداره ددې وسیله ګرځي چې په هېواد کې اقتصادي پرمختګ زیات او امنیت ښه شي. د ښې ادارې لپاره ښه اشخاص ضروري دي چې ښه اداره وچلوي خو د افغانستان په اداري چوکاټ کې د والیانو، ولسوالانو او امنیه قوماندانانو رول ډېر زیات مهم دی ځکه دوی د قانون اصلي تطبیق کوونکي دي. خوله بده مرغه چې په افغانستان کې د څو لسیزو جنګونو له امله د والیانو، ولسوالانو او امنیه قوماندانانو د بي کفایتۍ او شخصي ګټو له امله بې ثباتي زیاته شوې او اداره خرابه شوې او فقر زیات شوی دی. البته څوک چې دوی مقرر وي او یا حمایت یې کوي د هغوی رول هم خورا مهم دي چې دا سې کسان باید مقرر نه کړي چې اداره خرابه کړي. د افغانستان په اوسنۍ اداره کې حتی ولسوال هم د ولسمشر د فرمان په اساس مقررېږي او حتی ډېر وخت وزراتونه هم خبر نه وي یو څوک رأسا د رئیس، والي او یا ولسوال په توګه مقررېږي.

د بېلګې په توګه د ۲۰۰۴ز کال د دسمبر په شپږویشتمه نېټه مې ماښام د تلویزیون خبرونه اورېدل چې ولسمشر فرمان صادر کړي و چې ګل آغا شېرزی د کندهار د والي او محمد حسین انوري دهرات د والي په توګه تعین شول. زه چې دکورنیو چارو وزارت اداري معین وم نو ددې مقررۍ نه د سره خبر نه وم او نه ما حتی ددوی پیشنهادونه لیکلي و ، نوما جلالي صیب ته چې دا وخت په امریکا کې وو تیلفون وکړ او د روغ بړ نه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې رانه پوښتنه وکړه چې په کابل کې څه خبرې دي ما ورته وویلې چې همدا اوس تلویزیون له لارې اعلان وشو چې ګل آغا شېرزی دکندهار د والي په توګه او محمد حسین انوري دهرات د والي په توګه تعین شول. یادونه په کار ده چې ګل آغا شېرزی او دکندهار یو شمېر نور چارواکي دوه درې میاشتې دمخه د خلکو د شکایتونو له امله دکندهار نه د جلالي صیب په هڅه دخپلې دندې نه لرې شوي وو او د فوائد عامه د وزېر په توګه په کابینه کې د کرزي صیب له خوا تعین شوي وو او خو دی په وزارت کې خوشحاله نه و او غوښتل یې چې بېرته کندهار ته د والي په توګه لاړ شي.

جلالي صیب راته وویلې چې داسې به نه وي نو ما ورته وویلې چې همدا اوس مې په تلویزیون کې ددوی د تقرر خبر واوریده نو ځکه مې درته تیلفون وکړ کېدای شي چې تاسره مصلحت شوی وي ځکه زه خو دسره د دوی د تقرر نه خبر نه یم. بیا راته جلالي صیب وویلې چې د کورنیو چاروو زارت امنیتي معین جنرال هلال نه پوښتنه وکړه چې هغه خو د دوی پیشنهاد نه دی امضا کړی نو کله چې دهلال صیب نه مې پوښتنه وکړه هغه هم وویلې چې دی هم هېڅ خبر نه دی او ده هم پیشنهاد نه دی امضا کړي. نو جلالي صیب ته مو بیا تیلفون وکړ چې موږ دواړه د دوی په تقرر هېڅ خبر نه یو نو جلالي صیب ډېر زیات خفه شو او وویلې چې ددې حکومت سره نور کار امکان نه لري. دا چې دا دواړه والیان موثر وو او که نه جدا خبره ده خو یو والي یا د وزارت مامور چې رأساً د ارګ نه بې له دې چې وزارت په جریان کې وي مقررېږي نو داسې والي او یا مامور به خپل وزارت وزیر ته څنګه د احترام په سترګه ګوري او یا به د وزېر یا معین امر یا خبره ومني نوخامخا به په خپل سر په خپله سیمه کې کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموجوده اداري دخرابۍ يو عمده عامل همدا دي، چې سلسله مراتب هېڅ نه مراعات کېږي.

خو د دې سره سره د ۲۰۰۵زکال دمې د میاشتې په نهمه د سهار په نهو بجو او دېرشو دقیقو په هغه غونډه (۲۸) کې چې د کابینې اعضا، والیان او د ادارو مشران حاضر وو کرزي صیب هم په ارګ کې د ادارې نه شکایت وکړ او وویلې «حکومت باید خدمتګار مردم باشد یک قسمت مشکل اداری است که سی سال تخریب شده و وقت مې خواهد که اصلاح شود، چیزی که باعث اذیت و آزار مردم میشود نیت اداره است. احساس من این است که مرا ملت بحیث یک باغبان و نوکر رای داده و انتخاب کرده، از استبداد، ظلم و اراکین دولت شکایت مې رسید. از قضات، والی ها، ولسوال ها، قوماندان ها وغېره – اداره را باید به اساس قانون اداره کنیم – والی باید از ولسوال باخبر باشد، هئیت که از بادغیس آمده، راپور بسیار خراب آورده که ۱۴ زن را قوماندان ها از شوهرهایش جدا کرده و به کسی دیگر داده. اسلحه باید جمع شود هنوز اسلحه سر مردم حاکم است. من از شما نه مې خواهم که همه اداره به یک روز جور شود – وقت مې خواهد. من یک چیز از شما مې خواهم که از راه مرحمت و انسان دوستی با مردم روش شود. من نمې خواهم که مامورین دولتی از نفوذ حکومت استفاده کند و وکیل انتخاب کند. به هیچ وجه جهان نمې ماند که (افغانستان) جای تریاک باشد. اګر ګم نه شد همین خارجی ها ما را به

۲۸ د ۲۰۰۵ د مې د میاشتې په نمهه نیټه د کورنیو چارو وزارت د والیانو یو کنفرانس راغوښتی وو تر څو په خپلو سیمو کې په ستونزو او د حل په لارو چارو خبرې وکړي نو کرزي صیب دغه والیان د سهار چایو لپاره دعوت کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان تسلیم مې کند. این بسیار مسئله حیاتی است که افغانستان را از این شر (تریاک) خلاص کنیم، پول اش را خارجی ها مې برد و بدنامې اش از ما است».

که موږ د کرزي صیب دغه بیانیه وګورونود پورته ذکر شوي مقرریو په شان دی پخپله سلسله د مراتبو نه مراعات کوله او نه یې کوی.

کله چې زه د کورنیو چارو وزارت اداري معین شوم او د والیانو، ولسوالانو او قوماندانانو احصائیه مې راټوله کړه نو د ثلور د برش والیانو له جملې نه ۹ کسه یې لسانس او ه نفره یې دولسم پاس او یونفر یې خصوصي تعلیمات درلودل او د اولسو نورو والیانو د سره سوانح موجودې نه وې چې دوی تحصیل لري او کنه؟

همدا شان د ۳۶۴ ولسوالانو نه یو کس ماستري، پنځه کسه لیسانسه، نه کسه فوق د بکلوریا، ۲۷کسه دولسم پاس، څلور کسه متوسط تعلیمات او ه نفرو دخصوصي تعلیماتو او د ۲۷۱ ولسوالانو د سره سوانح نه درلودې چې سواد یا تحصیل لري او کنه؟

د ۳۶۴ ولسوالانو له جملې ۲۲۲ ولسوالانو دمرکز نه د تقرر منظوري درلوده او ۹۸ ولسوالان د مرکز نه بېخې مقرر شوي نه وو یا خو د والیانو له خوا مقرر شوي وو او یا خو په خپل سر یې کار کاو.

د۳۶۴ ولسوالیو د امنیه قوماندانانو نه ۱۲ کسه یې لیسانسه، ۵ نفر فوق د دولسم ټولګی، ۱۱۵کسه دولسم پاس، ۳۹کسه متوسط تعلیمات، ۲ کسو خصوصي تعلیمات او د ۱۸۳کسو هېڅ د تحصیل درجه نه وه معلومه.

د ۳۶۴دولسوالیو د امنیه قوماندانانو د جملې نه ۲۷۰ کسو د مرکز نه د تقرر سلسله درلوده او ۹۴ کسو په خپل سر وظیفه اجرا کوله یعنې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه یو ثلث یا دریمه برخه د اداري د مرکزي حکومت سره هېڅ ارتباط نه درلوده او نه د دوي معاشونه د مرکزی حکومت له خوا ورکول کېدل.

تصادفاً د ۲۰۰۴زکال د ستمبر د میاشتې په نهه ویشتمه نېټه د ملي امنیت د شورا مرستیال انجنیر محمد ابراهیم سپین زاده ماته تیلفون وکړ چې رئیس صیب ( کرزی ) وایې چې د هرات ولایت د غوریانو او کهسان په ولسوالیو کې څوک ولسوالان دي، څرنګه چې د کورنیو چارو وزارت د اسنادو په استناد په دغه ولسوالیو کې یو څوک ولسوالان وو او هلته نور کسانو په خپل سر یا د والي په مشوره ولسوالي کوله نوما انجینر محمد ابراهیم ته وویلې چې ماز دیګر پنځه بجي به زه د نږدې نه ارګ ته درشم او د اداري معنیت مشکلات به درته ووایم.

انجینر صیب محمد ابراهیم ته ما پورتنۍ احصائیې ورکړې او په ضمن کې مې ورته دا لاندې پیشنهادونه هم ورکړل چې د رئیس صیب سره یې مطرح کړي تر څو باید یو اساسي تغېرات په اداره کې رامنځ ته شي.

## زما پیشنهادونه په لاندې ډول وو:

۱. د منتخب حکومت نه دمخه په عبوري او مؤقت حکومتونو کې ولسمشر کرزي پړه یا ملامتي په جنګسالارانو یا دحکومت په جوړښت چې د بن د پریکړو پر اساس جوړ شوی او ائتلافي شکل یې درلوده اچوله خو د ۲۰۰۴زکال د ټاکنو نه وروسته دحکومت ټوله پړه، بریالیتوب او یا ناکامي په ده اچول کېږي او دی مستقیم مسؤولیت لري چې د اداري د ښه والي لپاره جدي او ګړندي قدمونه واخلي.

۲. د افغانستان ولس د محلي چارواکولکه مسلح قوماندان، ولسوالان، والیان او امنیه قوماندانانو نه په عذاب دي نو موږ غواړو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکورنیو چارو په وزارت کې د دوی په هکله یوه عاجله سروې وکړو او دهغه ولسوالانو، والیانو او یاقوماندانانو نه چې ولس ترې شکایت کوي باید سمدستي د خپلو دندو نه لرې او په ځای یې پوه، مسلکي او پاک کسان چې پارت او پارت بازي ونه کړي مقرر یا وګمارل شي. دا هم ضروري ده چې د خپلې سیمې کسان باید په خپلو سیمو کې دنده ونه لري او دا فارموله باید له محاکمو، څارنوالیو او ښاروالیو په چارواکو هم عملي شي.

**۳.** ددې لپاره چې دا ډول تغېرات یا بدلونونه رامنځ ته شي دا نوې مقرری باید یو با صلاحیته کمیسیون له لارې وشي او ټول لوړپوړي چارواکي حتی د ولسمشر په ګډون، جهادي مشران یاتنظیمي ډلې باید په دې پروسه کې مداخله یا لاسوهنه ونه کړي ځکه د دوی لاسوهنه بیا پارت او پارت بازي رامنځ ته کوي.

**۴.** د اداري اصلاحاتو کمیسیون پروګرام باید صحیح ارزیابي شي چې ډېر زیات نواقص یانیمګړتیاوې لري او په دغه شکل دا په افغانستان کې د تطبیق وړ نه دی ځکه چې ریفورم همېشه د پاس نه د ښکته په لوري عملي کېږي او که دا پروسه دوالیانو دخوښې پورې تړاو پیداکړي وظیفوي بې ثباتي رامنځ ته کوي او منفي تاثیر په اداره لري. آزاد رقابت کې د ترفیع او تقاعد مسائل ډېر مهم دي او که دولتي مامورین د خدمت انګیزه ونه لري نو بیا دوی د خدمت لپاره نه بلکې د شخصي ګټو لپاره کار کوي او دا کار په افغانستان کې ځکه عملي کېدای نه شي چې موږ دنورې نړۍ په شان بیکاره کسانو لپاره د معاش ورکولو یا اجتماعي ضمانت چې (Social Security System ) ورته وا یې نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵.د تذکرو بیا ویشل د افغانستان لپاره ډېره مهمه ده او موږ ټول دېزاین او اړوند کارونه چې په نوي یا عصري توګه دهویت کارتونه وویشو تیارکړي دي او حتی دوه نړیوالې کمپنۍ هم دي ته چمتو دي چې دا قرارداد وکړي نو ښه به داوي چې د مالیې وزارت ته هدایت ورکړي تر څو دا پروسه ګړندۍ کړي ځکه د یوه کال نه زیاته موده وشوه چې دمالې وزارت په دې هکله هېڅ اقدام نه دی کړی. دهویت د کارتونو ویشل په سمه توګه په اداري او امنیتي مسائلو باندې ډېره مهمه اغیزه لري او بلکې د ښه حکومتدارۍ اساس تشکیلوي.

۶.زماد کورنیو چارو وزېر جلالي صیب اوهم تاسې ته داوړاندیز دی چې د یو میانه رو حزب د جوړېدو لپاره ډېر زیات ضرورت دی ځکه د دیموکراسۍ په لسیزه کې د میانه رو ډلو د نشتوالي او نه ودې له امله اکثره ځوانان چپ او ښي افراطي ګوندونو ته لاړل چې زموږ د تېرو درې لسیزو ستونزې دهمدې خلا زېږنده ده.

۷.راتلونکي پارلماني ټاکنو ته باید خاصه توجه وشي او یو صحیح ټیم باید پرې کار وکړي چې صحیح کسان منتخب شي. داسې ټیم باید نه وي چې کوم دجمهوری ریاست دټاکنو لپاره تعین شوی وو او دا چې تاسې ته خلکو رای درکړي دا دخلکو شعوري قضاوت وو نه ستاسې دکمپاین دکمیسیون فعالیت.

۸. دافغانستان د ثبات د تحکیم پروګرام ډېر مهم پروګرام دی چې دولسوالیو جوړېدل او فعالول د دولتدارۍ مهمه برخه ده هغه ته د رئیس صیب توجه پکار ده. د لوګر د محمد آغه د ولسوالۍ(۲۷) ودانۍ

(۲۷) د محمد آغه ولسوالي ودانۍ د ولسمشر کرزي او د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي له خوا په ګډه د ۲۰۰۵ زکال د مې د میاشتې په اومه نېټه پرانستل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقریبا پرانستلو ته تیاره اوآماده ده نود کورنیو چارو وزیر جلالي صیب ته هم پیشنهاد وکړ چې دا ودانۍ په شریکه پرانیزي نو دا به خورامهمه وي ځکه چې درئیس صیب توجه به ولسوالیو ته واړول شي. تر اوسه د ۱۴۹ ولسوالیو دجوړېدو قراردادونه ورکړل شوي دي او هم یو شمېر نورې ولسوالۍ د PRT له لارې جوړېدای شي البته دکورنیو چارو وزارت په تاریخ کې د ۱۴۹ ولسوالیو تهداب د لومړي ځل لپاره کېښودل یو لوی مؤفقیت و چې محلي ادارو ته په دومره لویه کچه توجه وشوله (خو له بده مرغه اوه کاله وروسته اوس هم ځینو ددې ولسوالیو ودانۍ لا هم نه دي تکمیل شوي).

**۹ـ** بله مهمه مسئله داده چې ولسمشر باید په خپله سلسله مراتب مراعات کړي او دا ضرور نه ده چې هره اونۍ ولسمشر والیان یا حتی ولسوالان ګوري که رئیس صیب ۲۲ کسه وزیران، تقریبا سل کسه معینان، د مستقلو ادارو رئیسان، ۳۴ والیان، ګن شمېر جهادي مشران او قوماندانان، مخور او سپین ږیري ټول په خپله ګوري نو وزارتونو ته هېڅ اړتیا نشته دی په دې کتنوکې د ولسمشر په سلو کې ۹۵وخت ضایع کېږي او دولتي پروګرامونو ته هېڅ وخت نه پاتې کیږي.

انجینر صیب محمد ابراهیم ته مې وویلې دا زه چې نن ارګ ته راغلي یم ځکه راغلم چې وزیر صیب بهر ته تللی خو که هغه موجود وی نوما ځانته دا حق نه ورکاؤ چې رئیس صیب وګورم او یا د هغه وخت ضایع کړم. ځکه زه باید هر څه خپل وزیر سره مطرح کړم اوهغه باید رئیس صیب سره وګوري.

د ۲۰۰۵زکال دجنوري د میاشتې په لومړۍ نېټه د مازدیګر په شپږو بجو ولسمشر کرزي راته تیلفون وکړ چې د خوست والي نه سخت شکایت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه عاجل راوغواړه او په عوض يې بل څوک تعين کړه ما ورته وويلې چې ښه ده او ورته مې وويل چې ما يو څه پيشنهادونه انجينر صيب ابراهيم ته ورکړي که وخت راکړې چې په هغه پيشنهادونو باندې خبرې وکړو نو ښه به وي. کرزي صيب راته وويلې چې هو هغه پيشنهادونه ماته را رسيدلي او په دې دوه درې ورځو کې خامخا راشه چې پرې خبرې وکړو. خو له بده مرغه چې دکورنيو چارو دوزارت نه د رخصتيدو پورې ما ونه شو کړاى چې کرزى صيب وګورم. کله چې دخوست والي د کرزى صيب سره ګورى نوبيا د هغه د برطرف کېدو نه تېرېږى او نوموړى تر ډېره وخته پورې نور هم دخوست والي و.

د جنوري په نهمه نېټه چې کله د کورنيو چارو وزير جلالي صيب دامريکا نه راغى په دفتر کې ناست وو چې دکارونو پوښتنه يې کوله نو دنوې کابينه په هکله پوښتنه وکړه. جنرال جميل جنبش چې هم ناست و وويلې چې دخلکو نظر مثبت دى خو ما ورته وويلې چې خلک ډېرې وزيران نه پېژني خو ماته کاري کابينه نه ښکاري ،جلالي صيب هم زما خبره تائيد کړه او وويلې ځلور واليان چې موږ په بې کفايتۍ لرې کړي وهغه اوس ددې کابينې غړي دي نو دوى به څنګه خپل وزارتونه رهبري کړي.

په اخري درې مياشتوکې رئيس صيب هره ورځ کوشش کاؤ چې دتنظيمونو د مشرانو په غوښتنه او هڅو ېېرته هغه کسان چې موږ دوه کاله د دوى په لرې کيدو تېرې کړې و بيا مقرر کړي نو يو ورځ د PRT اجرايئوي کميټې غونډې ته د جلالي صيب سره يو ځاى په موټر کې روان وم ماترې پوښتنه وکړه چې تاسې ولې د ا وروستۍ مقررۍ د پوليسو او يا په کورينو چارو وزارت په ملکي ادارو کې قبولې کړې ، نو جلالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب راته وویل چې نور ددې حکومت سره کار نه کیږي ځکه چې هره ورځ ارګ ته ځم نو رئیس صیب د غوښاییې دوه چندې په لاس کې نیولي او ماته وایې چې کومه اخلې نو ما لپاره هېڅ فرق نه کوي که احمد مقرریږي او یا کلبې دواړه د غوښاییې چندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امریکا د متحده ایالاتو سره د ستراتیژیکې همکارۍ په اړوند جرګه

د **۲۰۰۵** م کال د مې د میاشتې په لومړۍ نیټه راته د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب تلیفون وکړ چې کابینې فیصله کړې چې دمې د میاشتې په اتمه نیټه یوه جرګه را غواړو چې په هغه کې د اساسي قانون د لوی جرګې غړي ، دهر ولایت نه لس کسه مخور سپین ږیري او علماء ، دکابینې غړي جهادي او تنظیمي مشران باید پکې وي ترڅو امریکا ته دجمهور رئیس کرزي د تګ نه مخکې دامریکا متحده ایالاتو سره د ستراتیژیک تړون دلاسلیکولو په هکله ورسره مشوره وکړي. جلالي صیب ددې جرګې د داېرېدو او انسجام چارې ماته را وسپارلې البته د دې جرګې چارې باید په شپږ اوه ورځو کې سمبال شوې وې او وخت ډېر کم و ، د دې برسېره مو د مې د میاشتې په نهمه نیټه د افغانستان د والیانو سیمینار هم راغوښتی و او په همدې اونۍ کې یعنی د مې دمیاشتې په اومه نیټه جمهور رئیس کرزي او د کورنیو چارو وزیر د ګڼ شمېر بهرنیو د یپلوماتانو سره د لوګر ولایت د محمد اغه ولسوالۍ د ودانۍ د جوړېدو د افتتاح مرأسم هم پلان شوي و چې ددې درې واړو مرأسمو مسؤولیت په یوه اونۍ کې زما په غاړه و خو د کورنیو چارو وزارت د پرسونل په همکارۍ دا درې واړه مرأسم په ډېر ښه توګه ترسره شول چې د کورنیو چارو وزیر علي احمد جلالي او هم د جمهور رئیس کرزي له خوا یې مننه وشوه که څه هم د محمد اغه ولسوالۍ د افتتاح په مرأسمو کې زما او د امریکا د سفارت ترمنځ یو څه ستونزه رامنځ ته شوه خو دا چې د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزیر علي احمد جلالي زما سخت ملاتړ کاوه مګر د اسې ملاتړ د کرزي صیب له خوا نه و او بالاخره یوه میاشت وروسته چې د جون میاشت وه ماته جلالي صیب وویلې چې نور ددې حکومت سره کار نه کېږي او یوه میاشت وروسته د کورنیو چارو وزارت پرېږدم نو ستا څنګه خوښه ده؟ که څه هم زه د جلالي صیب د استعفا سره راضي نه ؤم او دا مې د افغانستان په خېر نه ګڼله خود هغه وخت شرایط او د کرزي صیب له خوا د کورنیو چارو وزارت د فعالیتونو د مخنیوي کومې بېلګې چې موږ لیدلي بله چاره نه وه چې وزارت پرېږدو. په دې مسئلې به وروسته رڼا واچوم خو اوس به د محمد آغه ولسوالۍ مسئلې ته راشم چې مشکل څه وو.

د مې د میاشتې په اومه نېټه چې سهار وختي د محمد آغه ولسوالۍ ته لاړم نو د افغانستان دبېرغ تر څنګ د امریکا د سفېر زلمي خلیل زاد مؤظفو امنیتي کسانو د امریکا بېرغ هم ودرولی و نو ما د افغانستان د تحکیم ثبات د پروګرام سرپرست مسوول عبدالمالک صدیقی او د کورنیو چارو وزارت ویاند لطف الله مشعل ته وویلې چې دا بېرغ باید دلته نه وي ځکه چې دا د افغانستان په خلکو او هم د تحکیم ثبات د پروګرام په نورو مرستندویه هېوادونو په استازو چې دلته راځي ښه تاثېر نه کوي. ددې نه برسېره د امریکا حکومت تراوسه ددې پروګرام سره مرسته نه ده کړې او زیاتې پیسې تر اوسه د انګلستان حکومت او د ملګرو ملتونو مرستندویه اداري یعنې یوناما ورکړي دي ،یا خو دا بېرغ باید نه وي او یا باید د نورو مرستندویه هېوادونو بېرغونه هم دلته وي تر څو هغه خفه نشي خو دا چې وخت ډېر کم دی او موږ نور بېرغونه دلته نه شو را رسولای نو ښه داده چې د امریکا بېرغ هم ددې ځای نه لرې کړو. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لطف الله مشعل او عبدالمالک صدیقي راته وویلې چې مونږ د دوی سره خبرې کړي او دوی یې نه لرې کوي.

نو زه د امریکا د سفیر زلمي خلیل زاد امنیتي کسانو سره وغږیدم خو د هغوی تېنګار په دې وو چې چېرته د امریکا سفیر داسې مرأسمو ته ځي نو د امریکا بیرغ باید هم هلته وي لکه څنګه چې د PRT د افتتاح په مراسمو کې د دواړو هېوادونو بیرغونه موجود وی. ما ورته وویلې چې PRT د دواړو ملکونو ترمنځ دوه اړخیزه همکاري ده نو هلته څه فرق نه کوي خو دا ولسوالي ده او دلته دا د افغانستان حاکمیت د سوال لاندې راولي او ددې تر څنګ په دې پروګرام کې د امریکا حکومت تر اوسه مرسته نه ده کړې او نورو هېوادونو کړې ده او دا چې د نورو هېوادونو سفیران راځي او د هغوی بیرغونه نه وي نو دا په هغوی باندې شاید ښه ونه لېږي نو ښه ده چې دا لرې کړئ. دوی د امریکا سفارت سره په اړیکه کې شول او بیا یې ټینګار کاوه چې دا بیرغ دې دلته وي ما ورته وویلې چې ګورئ زه هم په امریکا کې اوسېږم او د امریکا د حکومت پالیسي دا نه ده چې د افغانستان د حکومت حاکمیت د سوال لاندې راولي خو دوی دا خبره ونه منله نو باالاخره ما ورته وویلې چې تاسې ما دلته دعوت کړې یاستئ یا دا بیرغ لرې کړئ او کنه د امریکا د سفیر راتګ ته اړتیا نه شته دی او دا خبره سفارت ته ورسوه.

ددې خبرې نه وروسته هغوی د امریکا سفارت سره اړیکي ټینګې کړې او بیرغ یې لرې کړ. ددې مسئلې نه دمخه یو بل مشکل هم پیدا شو چې یوه ورځ دمخه مونږ ددې پروګرام لپاره اجندا داسې جوړه کړې وه چې د قرآن کریم تلاوت نه وروسته به د لوګر والي محمد امان حمیمي مېلمنو ته هر کلی ووایې، ورپسې به زه د افغانستان د تحکیم ثبات په پروګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې رڼا واچوم ،بیا به د سیمې یو تن سپین ږیری خبرې وکړي. څرنګه چې زلمي خلیل زاد هم د خبرو تقاضا کړې وه نو ورپسې به هغه خبرې وکړي او د هغه نه وروسته به جلالي صیب او په آخره کې به کرزی صیب خبرې وکړي.

څرنګه چې کرزي صیب ویلي و چې دی یوازې شل دقیقې وخت لري چې د محمد آغه په ولسوالۍ کې یې تېر کړي نو جلالي صیب ته یې ویلې و چې د لوګر والي، زه او خلیل زاد به هم خبرې نه کوي او یوازې جلالي صیب، د سیمې یو تن سپین ږیری او کرزی صیب به خبرې وکړي. که څه هم ما جلالي صیب ته وویلې که نور کسان خبرې ونه کړي فرق نه کوي خو د لوګر والي د سیمې د مسؤول په توګه باید مېلمنو ته مختصر هرکلی ووایې خو جلالي صیب وویلې چې ده کرزي صیب ته ویلې خو هغه یې نه مني. زه فکر کوم چې زلمي خلیل زاد شاید دا فکر کړي وي چې د بېرغ د مسئلې نه وروسته ما دده نوم د خبرو د لست نه ویستلی دی خو دا کار ما نه وکړی بلکې کرزي صیب په خپله د هغه په نوم خط وهلي و.

کله چې کرزي صیب د محمد آغه ولسوالۍ افتتاح یا پرانیستلو لپاره راغی نو د شل دقیقو په عوض یې د یوه ساعت نه زیات وخت تېر کړ هوا هم ډېره ښه وه او د سنځلو ونو ونو ګلان کړي وو او ډېر ښه بوی یې کاوه نو کرزي صیب او اکثریت مېلمنو د ودانۍ ټولې خونې ولیدلې. د افغانستان بېرغ یې په ولسوالۍ کې اوچت کړ حتی هغه نوی موټرې چې ولسوالۍ ته ورکړل شوي وي په هغه کې کرزی صیب کیناسته او هغه یې چالان کړ او په سرک یې پیاده مزل هم وکړ او ډېر زیات ددې پروګرام نه او د محمد آغه ولسوالۍ ته د تګ نه خوښ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد آغه ولسوالۍ د افتتاح نه وروسته موږ د افغانستان د بېلا بېلو ولايتونو نه د اساسي قانون د لوی جرګې د غړو په ګډون تقريبا يو زر او دوه سوه کسان دامريکا سره د اوږد مهاله ستراتيژيکي همکارۍ په اړوند د مشورې لپاره چې راغوښتلې وو هغه جرګه مو په ډېره ښه توګه د کورنيو چارو د وزارت د همکارانو او په خاصه توګه د جنرال ګل نبي احمدزي په همکارۍ تنظيم کړه او دا جرګه د مې د مياشتې په اتمه نېټه د ارګ د سلام خانې په تالار کې افتتاح شوه چې د دې جرګې عمومي ناظم د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي و.

د مې د مياشتې په اتمه نېټه جلالي صيب ماته وويلې چې زه بايد ارګ ته لاړ شم او د کرزي صيب سره د دې جرګې په اجندا وغږېږم که څه هم ما جلالي صيب ته وويلې چې تاسې ورسره وغږېږئ نو ښه به وي خو جلالي صيب وويلې چې زه ستړی يم او ته لاړ شه ، په يولس نيمو بجو زه ارګ ته لاړم او د کرزي صيب د دفتر رئيس داود زي صيب ماته وويلې چې د غرمې د ډوډۍ نه وروسته به په ګډه رئيس صيب وګورو او د دې جرګې د اجندا په هکله به سره وغږېږو ځکه چې د غرمې ډوډۍ ته کرزي صيب د هزارګانو قوم يو شمېر استازي راغوښتي او د هغوی او د کوچيانو ترمنځ په ستونزو غږېږي، د هزارګانو ادعا داوه که کوچيان سږکال هزارجاتو ته لاړ شي نو دوی مهاجر کېږي او دا به د دولت لپاره يو مشکل را پيدا کړي، د ډوډۍ په وخت دوی په خبرو کې دا هم وويلې چې دولت بايد کوچيانو ته ځمکې ورکړي تر څو دوی د مدنيت سره آشنا شي.

ورپسې ښاغلي کرزي صيب وويلې : بزرگان قوم بسيار خوش آمديد. امروز شما مشکلات خود را بيدون ملاحظه گفتيد خوب شد مشکل کوچی ها مشکل قديمې افغانستان است اين مشکل تنها در هزارجات

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیست در خوست و گردیز هم است ، در جلال آباد هم است ، در تخار هم است این مشکل از یک و دو قوم نیست ، کوچی ها طرز زندگی اش همین است که از یک چراگاه به دیگر میرود ، آنها هم حقوق و امتیازات در کشور دارد و راه حل این مشکل باید پیدا شود ، نفوس افغانستان زیاد شده و مشکل زمین است و در سی سال مشکلات زیاد شده و راه حل را باید پیدا کنیم، کوچی ها عریضه کرده که جای برایش بدهم دو راه دارد که این مسئله حل شود اول مشکلات اولیه و فوری را حل کنیم از طریق ایجاد کمیسیون که عرفانی، شهزاده مسعود، رأسخ و مولوی بلوچ تعین شده و دوم حل دوامدار که به کابینه این مسئله را پیشنهاد کنیم و کمیسیون مقتدر انتخاب شود و پیشنهادات خاص نماید که چطور مشکل کوچی ها را حل کنیم در کمیسیون دولتی باید نماینده گی هر دو طرف باشد.

د ښاغلی کرزی صیب د خبرو نه وروسته هزارګانو وویلې چې په دې مشرانو دا مسئله نه حل کېږي ځوانانو ته وخت ورکړي نو کرزي صیب په ځواب کې ورته وویلې: این جوانان است جرګه را نمې فهمد، ریش سفیدان مې فهمد که چطور ( این مسئله را ) حل کند.

ددې مجلس نه وروسته د کرزي صیب دفتر ته لاړو چې کاوون کاکړ، ډاکتر فاروق وردګ، شهزاده مسعود، عمرداود زی او ولی منور هم وو. څنګه چې کرزی صیب راغي او د خپل میز تر شا کیناسته نو وویلې چې خبرې ژر کوئ زما وخت مو ضایع کړ ،زه غلې شوم نو ډاکتر صیب فاروق وردګ راته وویلې چې اجنډا ورته تشریح کړه ځکه زه د کمیسیون مشر وم نو ما کرزي صیب ته وویلې چې موږ خو لا خبره پیل کړې نه ده نو څنګه موږ وخت ضایع کړ. په هر حال د اجندا په تفصیل چې مو خبرې پیل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کرزي صیب راته وویلې چې تاسې خلک ( دجرګې غړي) راولئ نور زه پوهېږم چې څنګه خبري ورسره وکړم مشکل ددی مشرانو ( تنظیمي او جهادي) سره دی چې خلک باید دوی پوه کړي نو ماته یې دکورنیو چارو په وزارت کې د یو تن رئیس نوم واخیست او ویې ویلې چې هغه ددې خلکو نه لرې وساته چې دخلکو جیبونه ونه وهي د کرزي صیب دا خبره زما خوښه نه شوه ځکه چې د موضوع سره یې هېڅ ارتباط نه درلوده او زما وېره داو ه چې په ارګ کې د دوی نه څوک جیبونه ونه وهي. بېرته چې وزارت ته راغلم نو جلالي صیب ته مې دا قصه وکړه.

په دغه جرګه کې لومړی د قرآن عظیم الشان د تلاوت نه وروسته چې د مولانا قیام الدین کشاف په واسطه تلاوت شو جلالي صیب د جرګې اهداف تشریح کړ او ورپسې کرزي صیب خبرې وکړې او وویلې :

مجلس امروز ما یک مجلس مشوره است. مجلس تصمیم ګېری یا فیصله نیست بخاطر اینکه چار ماه بعد افغانستان صاحب پارلمان مې شود و پارلمان درباره مسائل تجدید نظر مې کند که خدمات ملل متحد و جامعه بین المللی که به همین ترتیب امروزی بماند و یاافغانستان را کامیاب فکر کند که باشد و یا برود ( به اساس) فیصله ۱۳۷۳ شورا امنیت ( ملل متحد ) که امریکا ( به افغانستان) آمد، باشد یا برود به هر دو زبان مې خواهم که مسائل راتوضیح نمایم اګر کسی نمې فهمد دست خود را بالا کند. ( یو شمېر کسانو لاسونه اوچت کړل چې موږ نه پوهېږو ) کرزي صیب وویلې : ملل متحد د موږ نه سوال وکړ چې د پارلمان نه وروسته به کومکونو ته دوام ورکړواو کنه؟ په جاګارتا کې د ملل متحد مشر ته ما وویلې چې زه به دملت سره مشوره وکړم، د تروریزم پر ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ او هم ایساف څه وکړي ځکه چې امریکایان غواړي چې د خپلو قواؤ قومانده ناټو (NATO) ته وسپاري.

اوس چې افغانستان ټاکنې وکړې او اساسي قانون جوړ شو تر اوسه پورې د افغانستان حکومت د ملل متحد په فیصلو کې برخه نه درلوده اوس حکومت باید برخه ولري.

په داخل د افغانستان کې ټول عملیات باید د یو دوجانبه توافق په صورت کې په نظر کې ونیول شي چې آیا ضروري ده او کنه؟ آیا ددې توان لرو او کنه چې د ملل متحد او نړۍ د مرستو پرته پاتې شو؟ آیا د امریکا سره ستراتیژیک اړیکي ولرو کنه؟ امریکا موږ ته وویلې چې پس له دې تاسې باید د اردو خرچ ورکړئ. ۱۳بلیونه (ډالر) مصرف ، حال دا چې زموږ یوازې د اردو مصرف ۲۲۰ میلیونه ډالره دي حال دا چې عادی بودجه ۵۵۰ میلیونه ډالره ده ،تا ده سال آینده بودجه عادی مملکت خود را داده نمې توانیم، امریکا باید برآید مثل که بعد از شکست روس دست خود را قطع کرد و ما باز در بدر شدیم. ما باید جهان را نه گذاریم که برود خصوصاً امریکا و ملل متحد. امریکا باید با ما تا ده – پانزده سال کومک منظم کند مثل که بلیون ها دالر امسال کومک کرده. ما تازه بیست هزار اردو ملی و چهل هزار پولیس داریم،قوه هوایی مطلق از بین رفته، رادار نه داریم ، هر کشور که طیاره اش داخل میشود ما خبر نه داریم ما باید رادار داشته باشیم ما از بودجه خود خرید یک طیاره را نه داریم، ما به امریکا گفتیم که با ما دوست باشید ، و تعهد دوامدار بسپارد آنها گفت که ملت افغانستان با ما رابطه داشته باشد ، منظور از پایگاه نیست، اگر امریکا به ما بگوید که به ما پایگاه بدهید و بیست میلیون دالر مې دهیم ما این را قبول نمې کنیم پایگاه مثل گراج است که به کرایه مې دهیم ما از امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضمانت عدم مداخله کشور های بین المللی و کومک به بهبود افغانستان مې خواهیم ما با جنگ با تروریزم با امریکا شریک هستیم، ولی باید این طور نه شود که امریکا به خانه ( افغانها ) برود و کسی را بگېرد.( په دی وخت کې د جرګه غړو چک چکي وکړي نوښاغلی کرزی صیب وویلي چې چک چکي مه کوی چې زه خبری کوم. حضرت صاحب صبغت الله مجددي وویلي چې مزه يي په چک چکو کې ده او ستا دخبرو تأید دی).

ښاغلی کرزی صیب خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وویل: ما باید به سی یا چهل، پنجاه سال بعد فکر کنیم تا اولاد ما باز مهاجر نه شود و مملکت ماتحت تهاجم واقع نه شود. ( بیا چک چکې وشوی).... این در صورت شده مې تواند که جهان را نمانیم که بی وقت از افغانستان برآید. اگر اسامه را کسی تسلیم کند یا پاکستان و باز امریکا بگوید که کار ما خلاص شد وبرود ، اگربکند(خارج شود ) ، باز این بلا پس به جان شان مې رود.

کرزي صیب په پښتو ژبه خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وي وویل:نن زه د تاسې سره په دوه مسئلو مشوره کوم سبا ته د اروپا پارلمان ته ځم اوورته وایم چې د موږ سره باید کومک وکړي او لاړ نه شي، او د چارشنبې په ورځ ناټو ته ځم ۲۲ تاریخ ( مې) ، د امریکا یو پوهنتون ته دعوت شوی یم او ورپسې د امریکا د ولسمشر سره ګورم نو زه ورته څه ووایم. موږ باید ورته خپل شرایط ووایو او هغوی هم شرایط لري ،موږ خپل بندیان باید په خپله وساتو ،که پارلمان راغی او قبول يې کړ او کنه؟ الله بلا در ګردن ملا ( بیا چک چکې وشوي).

د کرزي صیب د خبرو نه وروسته جهادي او تنظیمي مشرانو او د هر ولایت نه یو کس د خپل ولایت په استازیتوب خبرې وکړې. لومړی حضرت صیب صبغت الله مجددی خبرې وکړې اووویل: تمام چیزها را که

(c) ketabton.com: The Digital Library



آغای کرزی گفت به مصلحت مردم افغانستان است. همه مې گفتند که آغای ښاغلی کرزی نفر امریکا است اما معلوم شد که این نفر افغانستان است امریکای ها به راپور می آمدند و نفر را مې گرفتند و عملیات مې کردند. سفیر امریکا گفت که دیگر ما بیدون مشوره حکومت عملیات نمې کنیم. وقتیکه ما احتیاج به کومک نه بودیم دیگر ضرورت نیست و این منافع آنها هم است تا جای که عقل من می رسد این به خیر مردم است.

د حضرت صیب نه وروسته استاد عبدالرب رسول سیاف خبرې وکړې او وویل: زه به مخامخ بې مقدمې خپله خبره وکړم ،دې کې هیڅ شک نشته چې افغانستان رنګ دی او امنیت یې د خطر سره مخامخ دی دا دې ټولو تر ځنګ افغانستان یو با عزته ملک دي، جهادي ټولنه ده او کمونیزم سره یې جنګ کړی او شکست یې ورکړی، موږ مسلمان ملت یو ، باعزته ملت یو ( چک چکې شولې ) موږ مشورې کړې او یو څو وړاندیزونه لرو ،موږ په نړۍ ډېر حق لرو ،په امریکا باندې نړۍ برید کړی، افغانستان نه ده کړی، القاعده نړیوالو موږ ته راوستې ده او موږ د نړۍ د ثبات لپاره خپلې ککرۍ قربان کړې، د شرقي اروپا آزادي د دې ننبه ده، نړۍ باید موږ سره بې شرط او قیده کومک وکړي، موږ ضرورت لرو چې د دنیا کومک جذب کړو او منتخب حکومت باید دا کار وکړي چې استقلال او ملي عزت د پښنولاندې نه شي، د ټولې نړۍ نه باید دولت خواهش وکړي چې زموږ د حکومت په داخلي چارو کې ګوتې ونه وهي ځکه حکومت ضعیف کېږي، موږ منتخب حکومت جوړ کړ او زموږ حکومت پرېږدې چې بهرني هېوادونه مداخله ونه کړي،موږ سره دې نړۍ کومک وکړي خو موږ باید خپله اردو په خپله جوړه کړو که اوس شپږ ډالره د ورځې په اردو مصرف کوو که دا کومک نه و سبا ته ټوله له منځه ځي دولت چې د هر چا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرارداد کوي يو بين المللي چتر بايد ولري، ښه ده چې ملل متحد بايد ناظر وي چې څوک خلاف ورزي ونه کړي، زه د يو آزاد ، مستقل او په پښو دريدلاى افغانستان لپاره دعا کوم.( چک چکې شولې).

د استاد سياف نه وروسته پېر سيد احمد ګيلاني په مختصره توګه وويل څه چې رئيس صيب (ښاغلي کرزي ) وويل هغه بايد په موافقه راشي او موږ يې تائيدو او د خلکو عزت او آبرو بايد وساتل شي.

ورپسې محمد يونس قانوني خبرې وکړې او وويل : از جناب رئيس جمهور افغانستان تشکر، سر مسائل بسيار مهم ابتکار مشورت نمود ، با همه احزاب، مشران جهادی، رئيس صاحب گفت که بسيار خوب است که مشوره کنيم تصميم گيری مربوط پارلمان است، تعهد جامعه بين المللی برای بازسازی و دفاع افغانستان، بحيث يک افغان آزاد ، ما دوام متعهد جامعه بين المللی را مې خواهيم و بيدون کومک آن ها نمی توانيم که جامعه خود را آباد کنيم و خاصتاً از امريکا شکر گذار هستيم بخاطر حمايت عليه تروريزم ، به حضور نېروهای نظامې دنيا بايد تنها تکيه نه کنيم و با ملت بايد اتکا کنيم اگر ما مې خواهيم که متکی به خود باشيم بايد اردوی ملی و پوليس ملی خود را جور کنيم به کومک و پيشتيبانی جامعه بين المللی ، اگر مشکل اقتصادی داريم ما مې توانيم که به شکل جلبی عسکر بگيريم ،حضور نېروهای خارجی مربوط به پارلمان است و نماينده های ملت افغانستان بايد تصميم بگيرد.

د محمد يونس قانونی دخبرو نه وروسته د وحدت ملي دحزب مشر حاجي محمد محقق خبرې وکړې او وويل : دفع کمونيزم محصول قربانی مردم افغانستان بود گرچه جهان کومک کرده حالاً که به طرف آرامی ميرويم قانون اساسی داريم و رئيس صاحب (ښاغلی کرزی ) که امروز

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوره کرده از ایشان تشکر می کنیم گرچه وظیفه دولت است و با ما مشوره کرده تشکر میکنم از خاطر که حکومت منتخب است تا دایر شدن پارلمان حق دارد. ما که پارلمان داریم ،چند ماه بعد تصمیم می گیرد. ما از دنیا گدایی نمې کنیم، آنها رسالت انسانی دارد که با ما کومک کند ، دنیا به اساس فیصله سازمان ملل متحد اینجا است و فیصله های بن، پس حضور شان قانونی است، بعد از پارلمان ما هم ضرورت به قوای خارجی و کومک ملل متحد را ضرورت داریم و باید ما از دنیا تقاضا کنیم که باشد در افغانستان ،کومک های اقتصادی، سیاسی و نظامې کند و این حکومت صلاحیت و قانونیت دارد.

د حاجی محمد محقق د خبرو نه وروسته د هر ولایت نه یو یو کس په استازیتوب وغږیده.

د لغمان ولایت نه مولانا قیام الدین کشاف وویلې چې دا د اسلام سره سم کار دی چې مسلمانان سره مشوره کوي، کومې خبرې چې ولسمشر زموږ مخې ته کیښودې یو شمېر سوالونه یې حل کړي دي. یوه مشوره داده څه چې زموږ دین ته ضرر رسوي هغه نه شو منلای او بیا استقلال او ملي حاکمیت مهم دی، په هره ساحه کې موږ پنځه قدمه په خپل سر نه شو اخیستلای فلهذا موږ د نړیوالې ټولنې مرستې ته په هره ساحه کې ضرورت لرو. د ۱۱۰ (۲۸) ماده د قانون اساسي به عملي کېږي وروسته د پارلمان نه.

---

۲۸-داساسي قانون ۱۱۰ ماده د لوې جرگې په هکله ده چې وایې: لویه جرگه دافغانستان د خلکو د ارادې ترټولو ستر مظهر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصر جمال د سمنګانو ولایت نه وویل چې عامل د ټولو بدبختیو خارجي مداخلات دي، مولوي شهزاده شاهد د کنړ نه وویل چې د افغانستان مسائل په مشورو ختم شوي نه په زور اوس چې منتخب حکومت لرو موږ په دې اعتماد لرو چې د افغانستان په خېر به کار کوي.

داود اکبری د بامیانو ولایت نه وویل چې دا یو سنت دی چې منتخب حکومت تل په مسائلو کې د خلکو نه مشوره اخلي نن چې منتخب حکومت د نړیوالو قواؤ د شتون په هکله له موږ نه مشوره اخلي نو د دې حکومت د فیصلو تائید کوو ځکه چې موږ اردو ملي نه لرو نو د دوی سیاسي حضور غواړو.

حاجي ګل احمدزی د پاکستان د مهاجرو په استازیتوب وویل چې موږ کله نړی، پریښودو افغانستان کې وینې توی شوې کومه فیصله چې ولسمشر کرزی کوي هغه د ملت فیصله ده او موږ یې تائید وو.

وکیل غلام سخي د نورستان په استازیتوب او سید حسین فیضاني د سرپل د خلکو په استازیتوب هم د ولسمشر د خبرو تائید وکړو.

د پنجشېر نه مولوي حبیب الله وویل چې: ما در هر ملک سه مرز داریم، جغرافیوی، عقیدوی و ناموس و عزت، در صورتیکه به قوای خارجی ضرورت است این تضمین را که مې دهد که تجاوز به این مرزهای مانه شود این همه بدبختی ها چرا ؟ زیرا که بیرونی ها مداخله کرده، دنیا باید مداخله نه کند و ما با ملت خود متکی بمانیم.

د لوګر دولایت نه مېرصیب هم د کرزي صیب د خبرو تائید وکړو.

داکتر نوشابه شهاب د غور دولایت په استازیتوب وویلې چې موږ باید د ملت منافع په نظر کې ونیسو او خارجي کومک باید په همدې خاطر وي او د اساسي قانون په اساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بغلان ولایت په استازیتوب ملا شېر محمد وویلې تر څو چې کله موږ د اردوی ملي او پولیس ملي خاوندان شولو نو بیا دې خارجي قواؤې ووځي تر هغه وخته موږ خارجي قواؤ ته اړتیا لرو.

د زابل ولایت نه څارنوال نظر محمد هم د ولسمشر د خبرو تائید وکړ. د خوست ولایت په استازیتوب محققه سائره شریف د ولسمشر کرزي د خبرو تائید وکړ او وویلې چې کومکونه باید د دولت له لارې کنټرول شي چې ضایع نه شي. د فراه ولایت نه وکیل عبدالصمد وویل چې د نړیوالو قواؤ او امریکا موجودیت د افغانستان په خېر دي. حاجي ناصري د غزني ولایت په استازیتوب زیاته کړه چې د افغانستان د ملت ارزو امنیت، اقتصادي او نظامي استقلال دی او دا اروز چې د هرې لارې تامین کېدای شي موږ هغه غواړو او موږ د ولسمشر حمایت کوو ده وویلې چې ولې استاد رباني په دې مجلس کې نه شته دی نو کرزي صیب ورته وویلې چې هغه په خارج کې دي.

د پکتیا ولایت نه ډاکتر اکرم خپلواک هم د ولسمشر کرزي د خبرو تائید وکړو. د کندوز د خلکو په استازیتوب حکیم سالم وویل چې ما فکر کاؤ چې دا جلسه به د ناندریو جلسه وي خو چې ولسمشر خبرې وکړې ټول یې تائیدوی او دا دافتخار ځای دی چې ټول همنوا یو. د ننګرهار ولایت نه ملک نظېر، د میدان وردګ ولایت نه حاجي صیب محمد، د نیمروز ولایت نه امان الله عابد، د پروان دولایت نه عبدالواحد عایل، د بلخ د ولایت نه محمد ګل یونسي، د دایکندی د ولایت نه صادقي زاده، د پکتیکا د ولایت نه وکیل حاجي سرور، د بدخشان د ولایت نه مېر بهادر، د کندهار د ولایت نه خالد پښتون، د هلمند ولایت نه حاجي سید عمر آغا، داورزګان ولایت نه عبدالعزیز آغا، د فاریاب د ولایت نه وکیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد طارق، د جوزجان د ولایت نه وکیل عبدالحی یاسین، د بادغیس د ولایت نه مولوي نظام الدین، دهرات د ولایت نه مولوی جمعه خبرې وکړي او د جمهور رئیس کرزي د خبرو تائید وکړ او زیادتره په دې نظر وو چې نهايي فيصله بايد پارلمان وکړي. د کابل ولايت په استازيتوب انجينر احمد شاه احمدزي خبرې وکړې او وويلې چې شکر گذار يم چې د مشورې مجلس دی، هغه کارونه چې په جرگو او مشورو کېږي جنگ ته ضرورت نشته دی نودا سلسله بايد باقي وساتل شي، نړۍ بايد د افغانانو د احسان مرهون وي او خپل فلسفي او کلتوري فعاليت بايد ونه کړي ځکه افغانستان عقيدتي هېواد دی ، افغانان بايد خپل وطن ته راشي، وحدت ملي بايد قايم شي ځکه بې له دوی امنيت نه شي راتلای. هغه کسان چې دولت ته مزاحمت ايجادوی بايد راوغوښتل شي.

د تخار د ولايت نه مېرولي خان وويل چې زمونږ وطن روسانو خراب کړي نو ولي تری جنگي غرامات يا تاوان نه اخلی او حتماً بايد شل ميلونه ډالر کومک وکړي.

د ټولو د خبرو نه وروسته ولسمشر کرزي د خبرو نچوړ تکرار کړ او وويل چې موږ دنړيوالې ټولنې همکاري ته ضرورت لرو ، د افغانستان استقلال، عزت، دين او نواميس بايد وساتل شي، اجباري عسکري او د خارجي قواؤ د شتون دوام د پارلمان کار دی چې تصميم ونيسي.پيشنهادات دادي:

۱. د جهان مرستې ته افغانستان ضرورت لري زموږ د قانون، دين او استقلال خيال بايد وساتي.

۲.دنيا دې موږ ته خپل بنديان تسليم کړي او بې اجازې دې عمليات نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستاسې نظريات به ولرم خو زه په يوه ټکي کې د تاسې سره اختلاف لرم چې موږ خپل استقلال په خپله ساتو ، دنيا که وي او که نه وي ، کومک کوي او که نه يې کوي ، مستقل يو ولې غريب يو او بايد په خپلو پښو ودريږو ، شيطانک ها را از خاک ما بند کند ، مداخلات بيرون را در افغانستان نه ماند ، خداوند به آن ملت سروری نه داده که تقدير خويش را خودش ننويشت.

د دې خبرو نه وروسته د جرګې مرأسم په رسمي توګه پای ته ورسيدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بغلان، سمنګان او بلخ ولايتونو ته د جمهور رئيس له مرستيال کريم خليلي سره کاري سفر
## ۲۰۰۵م کال د مې د مياشتې ۱۲ـ ۱۸مې نيټې پورې
## ۲۲ـ ۲۸ د ثور مياشت ۱۳۸۴کال هـ ش

د مې د مياشتې په پنځلسمه نېټه د کورنيو چارو وزير علي احمد جلالي راته وويلې چې د جمهوري رياست مرستيال کريم خليلي د کابينې د ځينو غړو سره د بغلان، سمنګان او بلخ ولايتونو د کارونو د ارزيابۍ په خاطر سفر کوي نو د کورنيو چارو وزارت نه بايد زه ورسره لاړ شم.

د دوشنبې په ورځ چې د مې د مياشتې شپاړلسمه نېټه وه سهار مو د کابل نه حرکت وکړ چې د سالنګ نه تېريدو نو زموږ د کاري سفر کاروان دموټرو تعداد چې اکثره يې ليندکروزرى او نوې پرادو موټرې وې تعداد پنځه ويشت شاو خواته ورسيده او کله چې د سالنګ نه تېر شولو نو زموږ د موټرو تعداد تر اويا موټرو هم زيات شو چې له مانه يې بيا حساب غلط شو. د مخابراتو وزير محمد معصوم ستانکزى او زه چې په يوه موټر کې ناست وو او قصې مو کولې نو ما ورته وويلې چې دا کاري سفر نه دى بلکې يو نمايشي سفر دى چې سياسي ملحوظات لري ځکه چې دا د ۲۰۰۱م کال نه را په دې خوا د کريم خليلي لومړى سفر و شمال ته. بل دا چې ولس دا دومره ليندکروزرې ګوري نو دا په خلکو ښه نه لږېږي او دخلکو اعتماد په مرکزي حکومت نور هم کمېږي ځکه چې دوى به دا فکر کوي چې مرکزي حکومت ټولې پيسې په دې ليندکروزرو او په کابل کې د خپلو ځانونو لپاره حيف او ميل کوي. په کاري سفرکې بايد ډېر محدود غړي وي چې کارونه صحيح بررسي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په هر حال د خنجانو په سيمه کې د ښوونځيو زيات شاګردان او محلي سپين ږيري زمونږ د کاروان هرکلي ته ولاړ وو خو جناب خليلي صيب ورته نه ودريده او همداسې د لاس په خوزولو ترې تېر شو. ستانکزی صيب او ما سره وويل چې دا ښه کار ونه شو او بايد دوی ته ودريدلی وای.

د کيلګي په سيمه کې چې زيات هزاره هلته ميشت شوي وو هم د هر کلي لپاره ولاړ وو او خليلي صيب ورښکته شو او څو شيبې يې هلته توقف او د خلکو سره يې روغ بړ وکړ. د کيلګي له دمې نه وروسته د غرمې نه لږ د مخه پلخمري ته ورسيدو او په جامع جومات کې مو د خلکو سره وليدل.

يو تن د حاجي محمد داود په نامه ډېر جامع وغږېده، په سياسي، امنيتي او بيارغونې په مسائلو يې او د خلکو په مشکلاتو يې هر اړخيزه رڼا واچوله. ورپسې د بغلان والي جمعه خان همدرد خبرې وکړې او وويلې: موږ تصور درلوده چې تاسې به څوورځې دلته تېروئ او د دولتي ادارو کار و کيفيت او مشکلات به د نږدې نه ګورئ خو دا چې تاسې ډېر لږ وخت لرئ چې دلته يې تېر کړې نو زمونږ مشکلات دادي چې د باز سازۍ (بيارغونې ) په ساحه کې دلته کم کار شوی دی، مخکې ( پخوا ) چې موږ به چېرته تلو خلکو سلاح او مهمات غوښتل خو اوس مکتب او بيارغونې پروژې غواړي، په ولسواليو کې ودانۍ نشه دي او موږ مخابراتي اړيکي ورسره نه لرو. PRT وعدې راکوي خو تراوسه پورې څه يې نه دي کړي، دلته (بغلان کې) نسبې امن شته دي خو متأسفانه چې د مرکز نه (کابل نه) ګوتې وهل کېږي، د مرکز نه د ولسوالانو په تقرر اصرار کېږي خو د ولسوالانو ښه او بد موږ پيژنو ، کابينه له موږ سره همکاري نه کوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید زموږ په کارونو کې مداخله ونه کړي، یو وزیر باید موږ ته خپل او خپلوان مقرر نه کړي خلکو زما د تقرر ډېر ښه استقبال کړی خو همداسې موږ نه د کار انتظار هم لري.

ورپسې د بغلان ولایت د کلیو د پراختیا رئیس په خپلو کارونو رڼا واچوله : په دې سفر کې د کورونو او ښار جوړولو وزیر انجینر محمد یوسف پښتون هم له موږ سره وو.

د دوی د خبرو نه وروسته استاد محمد کریم خلیلي وویل: من از طرف خود وهمراهانم تشکر میکنم که با شما میبنیم ،غرض از آمدن ما هم خبرگیری وهم چنین رسیدگی به اداره بود ، مشکلات مردم زیات است و بازسازی کند است، آنچه که مهم است مرور اجمالی به وضعه و اداره می کنیم. ارتباط مرکز با ولایت باید هماهنگ باشد و هم ارتباط ولایت با ادارات و مردم باید همنوا باشد ،ما حاکم نیستم بلکې نوکر و خدمت گذار مردم هستیم، نقص در مرکز است و هم در ولایات ،امروز مردم از حکومت ما ناراض است و این نارضایتی به اوج رسیده و مخالفین حکومت از این سواستفاده مې کند ، پس چطور اداره را به سوی اصلاح به پیش ببریم. در سه روز، ولایت که یک سلسله مشکلات و پیشنهادات دارد کتبی بدهد و راه حل اش را نیز بدهد و هم یک لست روسای ادارات با درجه تحصیلی و ترکیب قومې بدهد ، ما باید خود را قانون مند بسازیم و صفحه نو باید واز کنیم، این عصر از هر کس تقاضای جدید مې خواهد و خود را باید عیار کنیم.

موږ ګورو چې د بغلان د والي او د ولسمشر د مرستیال د خبرو ترمنځ څومره تفاوت موجود دی او د ادارې د نه همغږۍ همدا ښه نمونه ده.د استاد خلیلي د خبرو نه وروسته د کورونو او ښار سازی د وزارت وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجینر محمد یوسف پښتون وویلې چې مشکل په افغانستان کې د صحیح اداري پرسونل نشتوالی دی هغه څوک چې دبرش کاله پخوا لسانسه یا تحصیل یافته وو مګر د اوسني نړۍ د پرمختګ سره د دوی تحصیل ډېر فرق کوي نو زیات تعلیم او تربیه ته ضرورت دی.

ددې نه پس محمد معصوم ستانکزی چې د بې وسلې کولو د کمیسیون مرستیال هم و ، خبرې وکړې او ویې ویلې چې تراوسه یوازې شل په سلو کې سلاح او مهمات جمع شوي او په سلو کې ۸۰ سلاګانې نه دي ټولې شوي چې دې وسلو یو اجتماعي مشکل رامنځ ته کړی دی ، د ائتلاف قواؤې هر چېرته ځې او د خلکو کورونه تالاشي کوي او سلاوې پیدا کوي چې دا ښه کار نه دی ،ددې لپاره چې دا سلاوې راټولې شي نو باید په هر ولایت کې کمیسونونه د وسلې د راټولو لپاره جوړ شي چې په هغه کې افغاني او نړیوال امنیتي اداره د یوناما په شمول باید برخه ولري تر څو د بې وسلې کولو پروسه چټکه شي که دا سلاح ژر را ټولې نه شي او صحیح تدابیر ورته ونه نیول شي نو د بغلان ولایت د باجګاه د سیمې په شان ناورین به رامنځته کړي. د بغلان ولایت دباجګاه په سیمه کې د مهماتو یو ډیپو بې انفجار کړې و چې ډېر کسان په کې مړه او ژوبل شوي وو.

د بغلان نه په همدې ورځ د ماښام په شپږو بجو د سمنګانو ولایت مرکز د ایبک ښار ته ورسیدو چې ګڼ شمېر محلي سپین ږیري او مشران او د مکتب زده کوونکي د سمنګانو ولایت دوالي غلام حسین شفق په شمول په دې ناوخته کې هر کلي لپاره ولاړ وو. د سمنګانو والي وویل چې د سمنګانو ولایت هم په تېرو څو لسیزو کې تخریب شوی او د دی ولایت د ادارو دروازې د مرکز د عالي رتبه هئیت د غړو پر مخ ببرته دي او هر ډول بررسې چې دوی غواړي کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده وویل: که ولایت مامورینو د قوانیو مطابق خپل کارونه سرته رسولي وي باید مکافات شي او نه یې وي رسولي نو باید مجازات شي. د سمنګانو والي زیاته کړه چې ۹۵زره هکتاره ځنګلات لرو خو ددې ځنګلاتو د حفاظت لپاره تراوسه پورې یو بایسکل هم چا نه دی ورکړی همدا شان یوه بوجۍ سره یا تخم هم دې ولایت ته چا نه دي ورکړي او موږ ۲۴۸۰۰ هکتاره زراعتي ځمکه لرو خو دریمه حصه یې هم د اوبو دنشتوالي له امله نه ده کرل شوې او حتی د ایبک په ښار کې د څښلو اوبو هم یو لویه معضله ده نو د یو بند جوړول نهایت ضروري دي.

وروسته استاد خلیلي خبرې وکړې او وویلې چې حکومت د خلکو خدمتګار دی او دا د ولسمشر نظر دی او موږ نوکران یو که چېرته مقاومت د افغانستان نه وي نو د افغانستان وضع به د عراق نه هم بدتره وي.

په همدې ماښام راته د جلالي صیب یاورجنرال ګل آغا روحاني تیلفون وکړ چې یوه ایتالوي ښځه د شهرنو نه چا تښتولې ده.(۲۹)

شپه مو د والي په کور کې تېره کړه چې خلیلي صیب، ستانکزی صیب، پښتون صیب او زه هلته پاتې شولو او نور مېلمانه په ښار کې د مختلفو

---

۲۹-دغه ښځه Clementina Contoni نومیده چې د Care International په دفتر کې یې کار کاوه او وروسته معلومه شوه چې دا ښځه د تیمور شاه په نامه د یو مشهور غله له خوا تښتول شوې ده ، تیمور شاه د خلیل ځداران د زوی حفیظ الله ځداران په تښتولو او وژلو کې هم لاس درلوده چې وروسته تیمور شاه ونیول شو ، داعدام حکم پرې وشو خو کله چې دی د پنځلسو نور کسانو سره چې هغوی هم په اعدام محکوم شوې وو ، په ۲۰۰۷ میلادي کال کې پلچرخي زندان ته څېرمه د اعدام ځای ته وړل کیده په داسې حال کې چې د نوموړي لاسونه تړل شوي هم وو ، د پولیسو د منګولو څخه په تیښته بریالی کیږي او باقي نور کسان اعدامیږي او دی تراوسه ازاد ګرځي داسې ویل کیده چې دنوموړي په خلاصون کې دپولیسو او جیګپوړو چارواکو لاس درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو سره تقسيم شول ځکه چې د ايبک په ښار کې کوم غټ هوټل يا مېلمستون نه و. د سهار چای مو د جهادي فرقې قوماندان احمد خان سره وڅښه چې ډېر زيات مصرف يې کړي و. قسم قسم کبابونه، فرنی، ماسته او وچې ډوډۍ چې په پخوانيو ښايسته ګردنر لوښو کې تيار کړي وو. خليلي صيب، د سمنګانو والي او زه چې په يوه غوري ناست وونو ما دخليلي صيب نه پوښتنه وکړه چې دا مصارف د حکومت دکوم باب او فصل نه ورکول کېږي؟ د سمنګانو والي شفق وويل چې ماته معلوم دي يعنې مطلب يې دا و چې د نامشروع لارې نه يې پيدا کړي دي. دچای نه وروسته د ولايت مقامت ته راغلو او د مامورينو سره مو وکتل. د سمنګانو والي د مسلح قوماندانانو نه سر ټکاوه او وويلې چې محاکم ډېر غېر فعاله دي او حتی په يوه ولسوالۍ کې فعاله محکمه نه شته دی ده وويلې چې يو غل مو چې د فېروز چونټه په نامه و، ونيوه او مکرر مجرم و چې د هغه دنيولو نه وروسته ټولې غلاوې ورکې شوې خو اوس ځارنوالۍ بېرته هغه پرېښودلی دی او آزاد په بازار کې ګرځي او پوليس هم هغه اوس نه نيسي ځکه چې بېرته يې قضا او ځارنوالي خوشي کوي.
په ولايت کې مامورينو سره د کتنې وروسته سمنګانو کې تخت رستم او د هغه د ښار ګوټي نه چې تاريخي ځای دی کتنه وکړه او ددغه ځايونو د کتنې نه وروسته مو د مزار شريف د ښار په لورې حرکت وکړ. د ستانکزي صيب سره په موټر کې يو ځای ناست وُم چې ډاکتر فاروق وردګ راته تيلفون وکړ چې داودزي صيب ده ته ويلي چې د باميانو والي حبيبه سرابي د کرزي صيب سره کتلی او رئيس صيب امر کړي چې د داخله، ښار جوړولو او ماليه وزېران را وغواړه چې ددې سره وګوري او څه مشکلات چې لري هغه ورته حل کړي. ما ورته وويلې چې دا خبره د اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرنسیپ په خلاف ده چې دوی وزیران یو والي ته احضار او را وغواړي که والي مشکلات لري نو مربوط وزیرانو دفترونو ته دي ورشي، ډاکتر فاروق وردګ هم زما خبره تائید کړه او وویلې چې دی به بېرته داودزي صیب ته وواېي چې دا سمه نه ده.

په لاره کې زموږ کاري سفر په سیاسي سفر بدل شو په لاره کې د وحدت د حزب زیات کسان هر کلي ته ولاړ وو او د بلخ والي استاد عطا محمد نور هم مخې ته راغلی و. لومړی مود حضرت علي کرم الله وجهه د روضه زیارت وکړ او د هغه ځای نه د بلخ ولایت صالون ته لاړو تر څو د خلکو سره وګورو.

استاد عطا محمد نور د هر کلي نه وروسته وویل چې مرکزي حکومت د بلخ په ولایت کې حاکم دی او د قانون نه څوک تېښته نه شي کولای ده وویل: مخکې د بلخ ولایت عواید د څو قدرت لرونکي کسانو ترمنځ تقسیمدل خو اوس دا عواید سل په سلو کې د دولت حساب ته تحویلیږي، پروسږ کال **۵۲۰** میلیونه افغانۍ د دولت په حساب کې اچول شوي مګر سږکال د دولت عاید ۱۲۰۰ میلیونه افغانیو ته رسیدلي دي ،ده زیاته کړه چې د بلخ ولایت لومړنۍ ولایت دی چې د اداري اصلاحاتو پروسه یې دلته عملي کړې ده.

استاد خلیلي په خپلو خبرو کې هماغه خبرې چې په بغلان کې یې کړې وې بیا تکرار کړې، د ښار سازۍ او کورونو جوړولو وزیر وویلې چې د ځمکو غصب یوه مهمه مسئله ده چې په لومړي درجه په کابل کې او په دویمه کچه په مزار کې د زور واکو کسانو له خوا ځمکه غصب شوې ده.

د ماښام ډوډۍ مو د بلخ دروازې سره نږدې د استاد عطا محمد نور په شخصي مېلمستون کې چې ډېر ښایسته یې جوړ کړی و وخوړه. دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالون دامریکا د دولتي ودانیو د صالونونو نه هم ښه او لکس و چې په تشابونو کې ښایسته جیکوزي لرېدلي وو سړي ورته حېران پاتې کېده چې په داسې غریب ملک کې دومره مصرف د کوم ځای نه کیږي.

د چهارشنبې په ورځ چې د مې د میاشتې اتلسمه نېټه شي زه د دې هئیت نه جدا شوم او د بلخ ولایت د مرستیال ښاغلي وحدت او د کورنیو چارو وزارت د ثبت احوال نفوس د رئیس مېر عبدالرحمن معقول سره یوځای د شولګرې ولسوالۍ ته لاړم تر څو د افغانستان دتحکیم ثبات د پروګرام له خوا د ولسوالۍ د ودانیو د جوړولو کارونه وګورم. د شولګرې د ولسوالۍ پورې د موټر په واسطه دوه نیم ساعته لار وه او د ولسوالۍ د ودانۍ کار مو ولیده چې په چټکۍ سره روان و او هم مود خلکو سره په جامع جوماتې کې خبرې وکړې. د ولسوالۍ د لیدو نه وروسته بېرته د مزار ښار ته رأستانه شولو.

په همدې ماښام راته د کورنیو چارو وزارت نه تیلفون وشو چې د هلمند په ولایت کې د USAID د کیمانیک د دفتر څلور کسه کارکوونکي او یو ډرېور مخالفینو وژلي دي او د دوی جنازې یې د پنجشنبې په ورځ چې د مې د میاشتې نولسمه نېټه کیږي د کندهار نه کابل ته انتقالولې چې د زابل ولایت د شاه جوی په سیمه کې بیا طالبانو د جنازو په دغه موټرو حمله کړې وه او شپږ کسه نور یې هم وژلي دي.

موږ د پنجشنبې په ورځ ټول بېرته کابل ته وګرځېدو. دا وو زموږ د کاري سفر جریان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پنجشېر د والي ضابط بهلول تقرر
## ۱۲د ثور ۱۳۸۴

نن راته د پنجشېر ولایت نوي والی ضابط بهلول دبلنې کارت راولېږه چې دی مقرر شوی او د ولسمشر د مرستیال احمد ضیا مسعود له خوا خپلې نوې دندې ته معرفي کېږي نو که تاسې هم راشئ. دده تقرر هم په داسې وخت کې وشو چې ښاغلی کرزی صیب ایتالیا ته د پاپ ژان پال د ښخېدو مرأسمو ته تللی و او احمد ضیأ مسعود د ولسمشر د ریاست د سرپرست په توګه دنده اجرا کوله او نوموړی د هغه له خوا وټاکل شو.

د ضابط بهلول د تقرر نه زه او نه د کورنیو چارو په وزارت کې څوک خبر و او رسما ورته د دولت سرپرست رئیس د تقرر فرمان ورکړی و نو ما ورته وویلې چې زه پنجشېر ته ددې د معرفي مرأسمو ته نه شم تللی او دا چې د ولسمشر معاون په خپله یې معرفی کوی دا د هغه کار دی. خو د څه مصروفیت له امله احمد ضیا مسعود هم ونه شو کړای چې پنجشېر ته لاړ شي نو بیا یې د مانه وغوښتل که زه یې معرفي کړم نو ما هم د معرفي کېدو نه ډډه وکړه ځکه زه لکه د واده د مراسمو په شان د کارت رالیږلو په ذریعه بلل شوی وم او دا ما د کورنیو چارو وزارت ته توهین ګڼه نو په خپله خبره ودرېد م او لاړ نه شوم. که یو والي په داسې شکل مقررېږي نو هغه به څنګه د خپل مربوط وزارت اوامرو ته احترام وکړي . دداسې والېانو د شایستګي دوه بیلګي ددې کتاب په اخره کې کتلي شي چې یو والي هم د تقرر پشنهاد پخپله کوی او هم احکام پخپله ورکوی او بل والي صیب د خپل د بندي کېدو امر پخپله صادروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قاضي القضات له خوا ټيلفون
## ۱۴ ثور ۱۳۸۴ هـ ش کال

نن سهار راته د ستري محکمې اداري رئيس تيلفون وکړ چې قاضي القضات مولوي فضل هادی شينواری غواړي درسره خبرې وکړي. د تيلفون په ليکه د رخ کېدو نه وروسته راته شينواري صيب وويلې چې پرون يې د کرزي صيب سره خبرې کړي چې د قلعه فتح الله په سيمه کې د جمعيت العلمأ يوه حويلۍ ده او هغه لپاره بايد امنيتي پوسته تشکيل شي. ده وويلې چې کرزي صيب راته وويلې چې د کورنيو چارو د وزارت امنيتي معين ضرار احمد مقبل سره وغږېږه چې امنيتي تدابير ونيسي خو ما ورته وويلې چې زه مياخيل پېژنم او هغه ته به ووايم. په دغه وخت کې ښاغلي مقبل تازه دامنيتي معين په توګه مقرر شوی و. قاضی القضات صيب ته ما وويلې چې دا اسانه ده څه مشکل نه دی او زه به د کابل امنيه قوماندان ته ووايم چې هلته امنيتي پوسته واچوي.

که مور دغه پورته موضوع ته وګورو چې د افغانستان د اجرائيه او قضائيه قواؤ مشران د يوې پوستې په اچولو چې دا اصلاً د مربوط حوزه په سطحه کار دی او ولې دوی خپل وخت په دومره وړو خبرو ضايع کوي. دا د ستري محکمې د اداري څانګې کار دی چې د امنيه قوماندانې سره اړيکه ونيسې او خپل مشکل ورته ووايې او يا رسمي مکتوب دکورنيو چارو وزارت ته راولېږي او اجرات به وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادارې د اصولو په اساس په کار نه ده چې د يو هېواد ولسمشر او قاضي القضات دې په داسې ورو خبرو چې د يوې امنيتي حوزې د امريت پورې اړه لري ضايع کړي.د ادارې په لحاظ دې ته مايکرو منجمنټ ( Micro Management) وايې يعنې د هر واړه کارونه لويان کوي او اصلي کارونه چې ستراتيژيک مسائل دي پاتې کيږي او بالاخره داسې ادارې د ناکامۍ سبب ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کورنیو چارو د وزارت نه زما استعفا

کرزی صیب ما د ۱۹۸۷کال نه را پدې خوا پیژنده ځکه په دغه کال د اګست په میاشت کې موږ دواړه د اوه نورو افغانانو سره امریکا ته یو ځای رسمی سفر وکړ تر څو د امریکا د مطبوعاتو، دولتي اوغیر دولتي ادارو سره وګورو او د افغانستان د جهاد به هکله حمایت ترلاسه کړو. موږ سره په دې سفر کې ښاغلي سردار روشن د ملي محاذ د تنظیم نه، ښاغلي حامد کرزی د ملي نجات د جبهې نه، ښاغلي محمد یعقوب شرافت د خالص د اسلامي حزب نه، ښاغلي انجینر محمد کریم دحرکت انقلاب اسلامي د تنظیم نه او ښاغلي سید فضل اکبر، ښاغلي حاجي سید داود، ښاغلي سید مسعود مجروح، ښاغلي زرغون شاه شینورای او زه د آزادو مطبوعات په استازیتوب په دې سفر کې ملګري وو. په هغه وخت کې زه د امریکا غږ راډیو محلي خبریال وم او دغه سفر چې د امریکا د فرهنګي مرکز له خوا برابر شوی و یوه میاشت یې دوام وکړ او بېرته چې پېښور ته راغلو نو موږ ټولو سره ښې اړیکي درلودې خود حکومت سره د کار کولو موقع ماته جلالي صیب برابره کړه او څرنګه چې زما لومړی امر جلالي صیب و نو په دوه کالو کې ما یوازې یو ځلې د کرزي صیب سره دوه په دوه کتلي و او یو ځلي هم د جلالي صیب له خوا ولېږدول شوم چې د امریکا سره د ستراتیژیکي همکارۍ د راغوښتل شوې جرګې په اجنډا خبرې وکړم. ما په دوه کلونو کې دا غوښتنه نه وه کړې چې زه کرزي صیب یو په یو وګورم او یوازې په رسمي مجلسونو او محافلو کې به مو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدل او یا په اصطلاح یوازې سترې مشي مو کوله ځکه چې ما ځانته دا حق نه ورکاؤ چې زه د کرزي صیب وخت ضایع کړم ځکه سلسله مراتب دا ایجابولو چې زه باید خپل نظریات د جلالي صیب سره مطرح کړم او دا د هغه کار دی چې د دولت د رئیس سره یې مطرح کوي او کنه؟ کوم وخت کې چې ماته کرزي صیب په خپله وویل چې یو ځلې راشه تر څو زما په هغه پیشنهادونو وغږیږم چې ما انجینر صیب ابراهیم ته ورکړي و خو زما د وار وار غوښتنې سره ماته د کرزي صیب د لیدو زمینه برابره نه شوله.

په هر حال کله چې جلالي صیب د کورنیو چارو وزیر شو د کابینې د یو وزیر ( ... ) په قول ماته یې وروسته وویلې چې په هغه وخت کې دی د کرزي صیب سره ناست و چې مارشال فهیم تازه د روسیې نه راغلی و او د روسیې مشر ولادیمیر پوتین سره یې لیدلي و نو کرزي صیب ته یې وویلې چې پوتین ده ته ویلي و چې د جلالي صیب حمایت امریکایان ددې لپاره کوي چې ګوندې دی به یو ورځې د کرزي صیب ځای نیسي.

زما په اند کرزي صیب همیشه کوښښ کاوه چې په یو شکل د اشکالو د جلالي صیب د محبوبیت مخه ونیسي ځکه دی د کورنیو چارو په وزارت کې ډیر مؤفقه و او د خلکو په منځ کې شهرت یې ورځ په ورځ زیاتېده.

کله چې په ۲۰۰۴م کال کې د جمهوري ریاست لپاره دکاندیدو شپې او ورځې نږدې شولې د سر چوک دا سې آوازې وې چې ګوندې جلالي صیب هم جمهوری ریاست ته ځان کاندیدوی او زما په اند دا آوازې هغه چا خپرولې چې غوښتل یې د جلالي صیب او کرزي صیب ترمنځ فاصلې پیدا کړي ځکه د کورنیو چارو په وزارت کې چې زه له یوې خوا د جلالي صیب ملګری او له بلې خوا مرستیال وم نو هېڅکله یې ماته حتی د اشارې په توګه هم نه وو ویلي چې دی غواړی ځان کاندید کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ محمد اسمعیل یون او لطف الله مشعل زما دفتر ته راغلل او وویلې چې بېرون ټېنګه آوازه ده چې جلالي صیب ځان کاندیدوی خو ما ورته وویلې چې دا دروغ ده. یون صیب زه هم په شک کې واچولم او وویلې چې تاته به یې نه وایې او دا خبره باالکل صحیح ده نو ما ورته وویلې چې تاسې زما په دفتر کې انتظار وکاږئ اوزه به د جلالي صیب سره وغږېږم. کله چې د جلالي صیب دفتر ته ورغلم او ورته ومې ویلې چې دا خبره ربښتیا ده او کنه چې ځان کاندیدوې ځکه بېرون داسې آوازې دي، جلالي صیب راته وویلې چې خپل کار دي کوه دا هسې آوازې دي او زه ځان نه کاندیدوم. زه بېرته خپل دفتر ته راغلم او یون ته مې وویلې چې دا هسې آوازې دي او جلالي صیب ځان نه کاندیدوی.

کله چې د ۲۰۰۴م کال د اکتوبر په ټاکنو کې کرزی صیب د ولسمشر په توګه انتخاب شو نو جلالي صیب او ما فکر کاوه چې ګوندې اوس به کرزی صیب د جلالي صیب د پلانونو او کارونو پوره حمایت کوي تر څو اداره او امنیت ښه شي خو په عوض ددې چې حمایت یې وکړي کرزي صیب او د هغه ځینو کسانو داسې اوازې خپرې کړې چې جلالي صیب د خپل پاسپورټ نه نه تېرېږي او کرزی صیب ددې په عوض اسمعیل خان د کورنیو چارو د وزیر په توګه ټاکي او دا کوښښ یې هم کاوه چې د کورنیو چارو وزارت کارونه د شعاع لاندې راولي.

یوه ورځې ما د جلالي صیب نه پوښتنه وکړه چې کرزی صیب ولې داسې کوي ځکه چې دی خو اوس انتخاب شو نو باید چې زموږ کارونه وستایې اوپوره حمایت وکړي تر څو په هېواد کې اداره او امنیت بهتر شي. جلالي صیب راته وویلې چې زه هم نه پوهېږم او یو څو میاشتې نور هم صبر کوم که په ښاغلی کرزی صیب کې بیا هم څه تغېر رانغی نو بیا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفه پخپله پریږدم ځکه زه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره هره ورځ دده سره لانجې نه شم کولی. په دې توګه دجلالي صیب د دندې د پریښودلو اوازې به کله سرې او کله تودې شولې.

د۲۰۰۵ م کال د مارچ د میاشتې په څلورمه نېټه چې د جمعې ورځ وه ماسپښین په خپل دفتر کې ناست وم او په خپلو دوه مقالو باندې مې کار کاؤ چې په سویدن کې یې د مارچ په لسمه او یولسمه نېټه په یوه کنفرانس کې چې د افغانستان په هکله د سویدن د کمیټې له خوا جوړ شوي و ولولم نو لطف الله مشعل راته تیلفون وکړ چې اسمعیل یون او ډاکتر محمد اکرم خپلواک د کرزي صیب سره کتلي او هغه ورته یو عاجل پیغام ورکړی چې جلالي صیب سره وګوري نو ما ورته وویلې چې د وزیر صیب یاور ګل آغا ته تیلفون وکړئ چې وخت ورکړي ځکه هغه په کور کې دی. پیغام داوه چې کرزی صیب وایې که جلالي صیب د خپل تابعیت نه تېر نشي نو د هغه پر ځای په اغلب ګمان اسمعیل خان تعینوي او همدا نن باید ښېرته احوال کرزي صیب ته یوسي، ددې نه دمخه کاوون کاکړ هم ماته تیلفون وکړ چې غواړم عاجل درسره وګورم نو ما ورته وویلې چې مازدیګر په پنځه بجو دفتر ته راشه او د نږدې نه به خبرې وکړو ،ددې نه دمخه ما جلالي صیب ته وویلې چې د خلیل زاد ، پاچا او د کرزي صیب د شاوخوا کړیو نه داسې آوازې دي چې ګوندې ستاسې پر ځای بل څوک مقرروي خو هغه راته وویلې چې دا صحیح نه ده تر څو چې زه استعفا ونه کړم بل څوک نه مقررېږي.

دوه اونی دمخه هم داسې آوازه شوله چې ګوندې انجینر محمد ابراهیم سپین زاده یا زلمي رسول د کورنیو چارو د وزیر په توګه تعینېږي خو جلالي صیب بیا دا آوازې رد کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا آوازې ټولې ددې په خاطر وې چې د جلالي صيب شهرت ته صدمه ورسوي او يا دا چې دی دې ته مجبور کړي چې باالاخره استعفا وکړي.

کله چې کاوون کاکړ مازديګر زما دفتر ته راغی نو څرنګه چې زه د موضوع نه دمخه خبر وم نو ماته يې وويلې چې څه خبرې دي ما ورته وويلې چې خبرې خو په ارګ کې دي او داسې آوازې دي چې اسمعيل خان د جلالي صيب پر ځای مقررېږي، کاوون کاکړ چې په پارلماني چارو کې د ولسمشر سلاکار وو وويل چې هو ! ده وويلې چې دوه ورځې دمخه ماښام زه کرزي صيب ته ورغلم او ورته ومې ويلې چې نن درته د زړه خبرې کوم او رسمي خبرې نه دي. کرزي صيب وويلې چې سمه ده. کاوون وويلې چې ډاکټر زلمی رسول هم ناست و نو ما ورته وويلې چې ته اوس اسمعيل خان راولې او ددې دمخه دي جنرال دوستم هم راوسته داخلک به څه وايې ځکه چې دا کارونه د هغه وعدو خلاف دي چې تا په ټاکنو کې د خلکو سره کړي دي او ويلي دې و چې جنګسالاران به زما په کابينه کې نه وي بل دا چې نړيواله ټولنه به څه وايي؟ کرزي صيب وويلې چې د نړيوالې ټولنې په سر کې امريکا ده او هغه څه نه وايې نو ما ورته وويلې چې يوازې امريکا نه ده ملل متحد، داروپا اتحاديه او د بشر د حقوقو ادارې ټولې ددې تعيناتو پر ضد دي نو کرزي صيب راته وويلې چې قانوني څنګه دی؟ نو ما ورته وويلې چې دا به ډېر ښه پرمختګ وي يعنې موږ ښېرته په شا روان يو.

ما کاوون ته وويلې چې رئيس صيب ته ووايه چې دلته د کورنيو چارو په وزارت کې يو ټيم چې نظام جوړول او د قانون حاکميت غواړي شپه او ورځ کار کوي او د جلالي صيب تر څنګ راټول شوي دي نو دوی د اسمعيل خان سره کار نه شي کولی. اول خو جلالي صيب بايد لاړ نه شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هغه خامخا ځي نو داسې یو څوک باید راوستل شي چې د کورنیو چارو وزارت دا ټیم ورسره کاروکړای شي. ماته کاوون کاکړ وویلې چې متبادل به څوک وي نو ما ورته وویلې چې د جلالي صیب متبادل مشکله ده چې پیدا کړي.

زه شخصاً د دې خبرو په اورېدو ډېر خفه شوم او په عین حال کې ګیله هم راته پیدا شوله چې ولې جلالي صیب ماته د خپل تګ صحیح نېټه نه ښایې ځکه د هغه د تګ سره زموږ سرنوشت هم تړلی دی. په هر حال ماښام راته لطف الله مشعل وویلې چې موږ د جلالي صیب سره د هغه په کور کې ولیدل او ټولو ورته وویلې چې ته باید استعفا ونه کړې او حتی یون ورته وویلې چې ستا په تلو کې د ملت خبر نه شته دی. جلالي صیب وویلې چې د تابعیت مسئله مهمه نه ده زه ترې تېر یم خود کرزي صیب سره زه په نورو مسائلو اختلاف د نظر لرم د بیلګې په توګه چې ګل آغا شېرزی یې بې زما له مشوری کندهار ته ولیږه او یا نور جنګ سالاران چې ما لرې کړي دي، هغه دې یې په کابینه کې نیسي.

دا هم صحیح خبره نه وه چې ښاغلی کرزی صیب دا پیغام د بل چا په لاس جلالي صیب ته را لیږي ، ځکه جلالي صیب د کرزي ملګری، فعال او مهم وزیر و ، نو ځکه هر څه یې باید په خپله ورسره مطرح کړي وای خو د دې معنی دا وه چې کرزي صیب هم غوښتل چې په یو شکل یو اشکالو د جلالي صیب د تګ او یا له پاسپورت څخه دنه تېریدو اوازې خپرې کړي.

د مارچ په پنځمه نېټه د سهار په اوه نیمو بجو راته ډاکتر فاروق وردګ تیلفون وکړ او همدا مسئله یې را سره مطرح کړه او وویلې چې موږ کرزي صیب ته وویلې چې اسمعیل خان باید په هېڅ صورت کې رانشي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ومنله خو که جلالي صیب نه وي نو په متبادل باید فکر وکړو او ښه به داوي چې کوم ماښام دواړه په ګډه کرزي صیب ته ورشو او هلته به ورسره ډودۍ هم وخورو او خبرې به ورسره وکړو ،ما ورته وویلې چې دا زمینه په دوه درې ورځو کې برابره کړه ځکه په اتم د مارچ زه سویدن ته ځم خو دا زمینه برابره نه شوله.

دا آوازې درې میاشتې روانې وې بالاخره د جوزا د میاشتې په شپاړلسمه نېټه مازدیګر پنځه بجې جلالي صیب خپل دفتر ته راغی او زه یې وغوښتم او راته یې وویلې چې چاته مه وایه زه ددې میاشتې په اخره کې استعفا کوم ځکه نور نه شم کولای چې د کرزي صیب سره کار وکړم. مشکل د کرزي صیب سره دی ځکه چې ما جنرال دوستم ، ګل آغا شېرزی او اسمعیل خان د خپلو عهدو نه د زیات فشار او هلو ځلو سره لرې کړل خو ده بیا هغه راوستل او مقرر یې کړل او د کابینې پوستونه یې ورکړل.

لکه څنګه چې ما مخکې یادونه وکړه دا آوازې د څو میاشتې را په دې خوا روانې وې خو دا لومړي ځل و چې جلالي صیب ماته نېټه په ګوته کړه. نو ماورته وویلې دا چې تاسې کار نه کوئ نو د ما لپاره هم مشکله ده چې خپل کار ته دوام ورکړم نو زه هم خپله استعفا درکوم. جلالي صیب راته وویلې چې ته صبر وکړه. د جون د میاشتې په دیارلسمه نېټه مازدیګر راته جلالي صیب بیا یاده کړه که د ننګرهار د والي په توګه لاړ شې څنګه دې خوښه ده؟ ما ورته وویلې که چېرې ته دلته په وزارت کې په خپله وظیفه پاتې کیږې نو ماته موجوده دنده چې د اداري معنیت دی ښه ده او تر یو حده په خپله دنده کې مؤفق هم یم او که چېرې ستا تصمیم قطعي وي چې وظیفه پرېږدې نو بیا ښه ده چې ننګرهار د والي په توګه لاړ شم ځکه دا معلومه نه ده چې څوک به په راتلونکي کې د کورنیو چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر وي او آیا زه د هغه سره کار کولی شم او کنه؟دا خبره همدلته پاتې شوله.

د جون د میاشتې په نولسمه نېټه سهار د جلالي صیب دفتر ته ورغلم چې د دفتري کارونو لپاره د اجراتو په هکله ترې هدایت واخلم نو بیا راته جلالي صیب وویلې چې ستا څه پروګرام دي؟ما ورته وویلې چې د څه په مورد کې؟ هغه وویلې چې زه په دوه درې اونیو کې خپله دنده پرېږدم، نو ما ورته وویلې چې مخکې خو ما درته ویلې و چې که ته په وزارت کې یې په هر پوست او یا دنده چې ته لازمه وګڼې هغه به اجرا کوم ځکه چې تاسې ماته د یوه استاد او مشر ورور حیثیت لرئ او که تا د مانه دا غوښتنه نه وی کړی چې په حکومت کې کار وکړم نو ما هېڅ فکر نه کاوه چې زه به په حکومت کې کار کوم.

ما جلالي صیب ته وویلې چې زه فکر کوم چې کرزي صیب ستاسې د کار ستاینه ونه کړه نو زموږ خو دسره نه کوي. موږ خپله دنده په پوره ایمانداری، صداقت او د خپل وطن د خلکو د ګټو په خاطر ترسره کړې او خاصتاً زما کار او خدمت الله (ج) او تاسې ته او د کورنیو چارو وزارت مامورینو ته چې زما نږدې همکاران دي معلوم دی چې تر اخره سرحده پورې ما د صداقت او ایمانداری نه کار اخیستې او په دې فخر کوم که څوک دولتي دنده اجرا کوي او غواړي چې خدمت وکړي باید چې پاکې ولري او که څوک غواړي چې پیسې پیدا کړي نو بیا ښه داده چې تجارت وکړي نو فکر کوم چې د ولایت په خاطر هم کوښښ مه کوه ځکه په دې نظام کې کار کول که په هره دنده باندې وي مشکله ده.

جلالي صیب راته وویل چې زه ستا په صداقت او ایمانداری کې هېڅ شک نه لرمه او داسې خدمت دې کړی چې واقعاً د توصیف وړ دی او تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ښې لاس په حیث کار کړی او دا د ستاینې وړ ده. جلالي صیب زیاته کړه چې موږ خپل ژوند په خطر کې واچاوه او د ټولو جنایت کارانو، قاچاقبرو او خائنو عناصرو سره لاس او ګریوان وو او هېڅ نوع تشویق نشته بلکې زموږ پښې وهل کېږي نو په داسې اداره کې کار کول هېڅ معنی نه لري او ښه داده چې خپلې پښې وکاږو او خپل ایماني او وجداني مسؤولیت مو تر یوه حده پوره ادا کړی دی.

د جون د میاشتې په درویشتمه نېټه چې د ۱۳۸۴کال د سرطان دویمه نېټه شي د ډېر سوچ او فکر نه وروسته دې تصمیم ته ورسیدم چې باید استعفا وکړم ځکه چې د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب هم اخري تصمیم ونیوه چې استعفا ورکړي، د جلالي صیب په قول د کرزي صیب دا خوښه ده چې اسمعیل خان د کورنیو چارو وزیر په توګه وټاکي خو د نړیوالې ټولنې او په خاصه توګه د ملګرو ملتونو دفتر د هغه د ټاکنې سره مخالف دی ځکه چې کله اسمعیل خان د هرات نه تبدیلېده نو دیو شمېر مظاهره چیانو له خوا په هرات کې د ملګرو ملتو دفتر وسوځول شو او هغوی د دوی د دفترونو پړه په اسمعیل خان اچوله، له بله پلوه د دولت په ټولو تعیناتو کې هېڅ معیار نشته او هم کرزی صیب خپل دوست او دښمن نه پېژني او یو قسم ګنګ حالت دی.

جلالي صیب وویلې دا چې تاسې هم استعفا کوئ نو زما کرزي صیب ته مشوره همدا ده چې د پارلماني ټاکنو پورې باید بل وزیر ونه ټاکي او امنیتي معین ضرار احمد باید د سرپرست په توګه کار وکړي.

په هر حال د کورنیو چارو د وزارت نه زموږ استعفاګانو دامعنې درلوده چې دهغه کارونو تهداب چې موږ اینښی وو بېرته وران شي. البته د یو افغان په توګه ددې تهداب د خرابیدو نندارہ ډېر ځورونکې ده ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې موږ ګورو د **۲۰۰۵**م کال د جولای د میاشتې نه را په دې خوا هره ورځ د افغانستان حالات مخ په خرابېدو روان دي. زما د استعفا متن په لاندې ډول وچې یو نقل زما لاسي لیکنه ددې کتاب په اخره کې مل دی:

جلالتماب محترم رئیس جمهور جمهوری اسلامې افغانستان!

اینجانب که از مدت اضافه تر از دو سال ابتدا بحیث مشاور وزارت داخله و بعداً بحیث معین اداری و مسوول پروګرام های ملی تحکیم ثبات افغانستان (ASP) تیم های بازسازی ولایتی PRT و صندوق وجهی پولیس (LOTFA) ایفای وظیفه مې نمودم، تحت نظر و رهنمای جلالتماب وزیر صیب داخله وظایف محوله خویش را مطابق استعداد و توان خویش به طور احسن و صادقانه اجرا نموده ام که البته وزیر صاحب داخله و همکاران عزیز من در وزارت و حکومت از نتایج اجرات من قضاوت به خصوص خواهد داشت.

بنده بنا بر معاذیر که دارم نمې توانم که وظایف محوله خویش را به طور احسن اجرا نمایم امید است که استعفا بنده را از تاریخ اول اسد **۱۳۸۴** منظور فرموده و امید است که شخصی دیگری را به عوض بنده تعین نموده تا در این چند روزی که ایفای وظیفه مې نمایم وظایف خویش را برای ایشان تحویل و همکاری نمایم.

من در اخر از جناب شما و وزیر صیب داخله اظهار امتنان می نمایم و سپاس ګذارم که برای بنده شرایط کاری را مساعد فرمودید تا در اعمار، بازسازی و امنیت افغانستان حصه ګرفته و توانستم که به حد توان خویش به مردم افغانستان خدمت بنمایم.

به امید سعادت و پیروزی افغانستان

با عرض احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید شاه محمود میاخیل معین اداری و مسؤول پروگرام های
ASP,PRT, LOTFA

جلالي صیب د مانه پوښتنه وکړه چې څه پروګرام دې دی نو ما ورته وویلې چې اوس خو هېڅ پروګرام نه لرم او وروسته به فکر کوم خو همدلته په افغانستان کې پاتې کېږم بیا یې راته وویلې چې ولې استعفا کوې نو ما ورته وویلې چې ستا علمیت او شناخت د کرزي صیب او هم د نړیوالې ټولنې سره د مانه ډېر زیات دی، دا چې تاسې ونه کړی شول چې د کرزي صیب نظر او یادکار په رویه کې تغېر راولې او یا ددغه ګډوډیو مسېر ته تغېر ورکړې او نه هغه ستا د کارونو نه راضي دی نو زه خو په هېڅ صورت کې ددغه ګډوډیو مخه نه شم نیولی. نو دا بهتره ده چې ځان د ګډوډیو نه تر څنګ کړم او دا خو به څوک نه وایې چې د ګډوډیو مخه نه شي نیولی نو ولې هسې مو څوکۍ اشغال کړې دي او علی الا قل د ملامتیۍ نه خو به ځان وساتو.

جلالي صیب راته وویلې چې استعفا دلته پرېږه او ګورو به چې حالات او وضعیت کومې خواته ځي خو دا استعفا دمنظوریدو یې راته هو او نه ونه وکړه. څنګه چې د جلالي صیب د دفتر نه راووتم نو نږدې همکارانو ته مې وویل چې ما خو استعفا ورکړه او اکثریت زیات خواشیني شول. د جمعې ورځ مې په کور کې د نورو ورځو په انډول آرامه تېره کړه ځکه چې نه مې د چا سره وعده درلوده او نه د وزارت د کارونو تشویش را سره و. څوکۍ او مقام چې څومره صلاحیت لري هماغومره مسؤلیت هم لري. او آرامه ورځ مې په کور کې تېره کړه.

د ۱۳۸۴کال د سرطان په څلورمه یعنې د شنبې په ورځ چې سهار د کورنیو چارو وزارت ته راغلم نو د جلالي صیب دفتر ته ورغلم او پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ترې وکړه چې زما استعفا دې کرزي صيب ته ورکړه او کنه؟ جلالي صيب راته وويلې چې دا زما کار دی چې قبوله يې کړم او کنه؟ ما ورته وويلې که ته يې قبلوې او که کرزي صيب خو زه نور کار نه کوم او چې وخت پوره شو نو زه ځم. په همدې ورځ نن ماسپښين ما د ډاکتر فاروق وردګ سره په اداره امور کې وليدل او هغه هم خواشينی و او راته يې وويلې چې هېڅوک ستا د کار نه سترګې نه شي پټولی او که څوک يې پټوي نو دا به جفا وي.

د سرطان په شپږمه نېټه د کرزي صيب ورور قيوم کرزي په وزېر اکبر خان کې په خپل کور کې مېلمه کړم چې د کنړ والي اسد الله وفا، په پارلماني چارو کې د کرزي صيب سلاکار کاوون کاکړ، د کليو او پراختيا د وزارت سلاکار ډاکتر عمر زاخيل وال، محمد اسمعيل يون او ډاکتر محمد اکرم خپلواک يې هم را غوښتي وو تر څو ما په دې قانع کړي چې استعفا ونه کړم، ما ورته وويلې که جلالي صيب پاتې کېږي نو زه خپل کار ته دوام ورکوم خو د اسمعيل خان او يا امنيتي معين ضرار احمد د سرپرستۍ لاندې کار نه کوم که بل داسې څوک لکه زلمي رسول، محمد حنيف اتمر يا معصوم ستانکزي وزېر شي نو کېدای شي چې د هغوی سره کار وکړی شم نور نو ستاسې خوښه.

د سرطان په پنځمه نېټه راته دملګرو ملتونو د خاص سرمنشي استازي مرستيالې امېره حق تيلفون وکړ چې که وزارت پرېږدې نو موږ تاته ښه پوست چې ستا په خوښه وي درکوو او وويلې چې زه د ملګرو ملتود سرمنشي دخاص استازي ژان ارنو سره هم غږېدلې يمه او هغه هم موافقت لري. ما ترې مننه وکړه اوورته مې ويلې چې زه غواړم چې په دولتي چارو کې د يوناما د سلاکار په توګه يعنې Governance Advisor په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفه اجرا کړم نو هغې راته وویلې چې ستا دفتر به تیار وي او هر کله چې تا تصمیم ونیوه نو موږ در ته هرکلی وایو.

څرنګه چې دا ما لپاره ډېره ښه او مناسبه دنده وه او په نړیواله کچه یې امتیاز را کاوه نو دې هغه متل سره سرخوږ چې وایي که د کرزي صیب د (پادشاهي )دربار وترټل شي نو د الله (ج) دربار خو نه دی ترټل شوی او د کورنیو چارو د وزارت نه راته ښه دنده پیدا شوله. نو د سرطان په اومه نېټه ماسپښین ما بیا جلالي صیب ته وویلې چې زما د استعفا منظوري څنګه شوله. هغه راته وویلې چې دا استعفا خط زما په نامه ولیکه چې د مکتوب په ذریعه یې کرزي صیب دفتر ته ولېږم.

ما ورته د هماغه پخواني استعفا مضمون چې کرزي صیب په نامه مې لیکلی و په لږ تفاوت ولیکه او یوازې د اسد د اولې نېټې په ځای مې د سرطان شپاړلسمه نېټه د خپل کار اخري ورځ وټاکله ځکه چې ماته د ملګرو ملتو په دفتر کې بله ښه دنده پیدا شوله او وزیر صیب مې هم پرې خبر کړ. په همدې ماښام چې د جون د میاشتې اته ویشتمه نېټه وه ، د اروپا اتحادیې ددغه اتحادیه رئیس د خدای پاماني د مرأسمو لپاره ماښامنۍ جوړه کړې وه چې زه یې هم بللې وم، ورغلم چې د ملګرو ملتو مشر، زیاتو سفیرانو او د افغانستان د حکومت مشرانو او کابینې غړو په کې هم برخه اخستې وه چې څنګه زه د اروپایې اتحادې د دفتر انګړ ته ورننوتم نو د ملګرو ملتو مشر ژان ارنو دمانه پوښتنه وکړه چې د جلالي صیب د تګ آوازه رښتیا ده او کنه؟ نو ما ورته وویلې چې د هغه نه خو خبر نه یمه خو ما نن استعفا ورکړه، نو ټول ډېر خواشیني شول او ورته ومې ویلې چې جلالي صیب هم ځي. په سبا یې د ملګرو ملتو مشر او د ائتلاف د قواؤ قوماندان جنرال کرل ایکنبري Gen. Karl. Eikenberry

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یو شمېر سفېران ټول د جلالي صیب کورته ورغلي وو او هغه یې بالاخره دې ته مجبور کړی و چې د پارلماني ټاکنو پورې باید لاړ نه شي او که استعفا هم کوي نو باید د ټاکنو نه یې وروسته وکړي. کله چې وزیر صیب سبا ته خپل دفتر ته راغي نو د مانه خواشیني و چې ولې ما ددې د استعفا نېټه وښودله ځکه دده لپاره دا دوی میاشتې نور کار کول سخت و.

په هر حال د جولای د میاشتې په اتمه نېټه چې د سرطان د شپاړلسمې نېټې سره برابر وه د پنجشنبه ورځ سهار زه او جلالي صیب د PRT د اجرائیه کمېټې د مشرانو غونډې ته لاړو نو د ایساف د قواؤ مرستیال جنرال Wachter وویلې چې وروستي تغېرات په حکومت کې او په خاصه توګه د پولیسو په لیکو کې مناسب تعینات نه وو چې دا دحکومت لپاره اوهم د PRT په اعتبار او کارونو اغېز لري، د ائتلاف د قواؤ مشر جنرال ایکینبری وویل چې موږ ښاغلی جلالي په دې قانع کړی چې د پارلماني ټاکنو پورې به استعفا نه کوي.

د PRT د مجلس نه چې بېرته د کورنیو چارو وزارت ته را روان وو نو ما جلالي صیب ته وویل چې نن زما دا استعفا د نېټې اخري ورځ ده او د شنبې د ورځې نه را په دې خوا نور زه نه راځمه. جلالي صیب هم دا نه باور کوله نو ما ورته وویلې دا چې تاسې د ټاکنو پورې پاتې کېږئ ستاسې خوښه ده او تاسې لا استعفا نه ده ورکړې خو ما استعفا ورکړې او ټول خلک خبر دي او بېرته د استعفا اخستل ښه کار نه دی او بل دا چې ما د ملګرو ملتو په دفتر کې ځانته ښه کار پیدا کړی او د یکشنبې په ورځ مې ورسره وعده کړې چې درځم او هغوی ما هتله خپلو همکارانو ته په رسمي توګه ور پېژني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره وزیر صیب خپل دفتر رئیس ته امر وکړ چې د ماسپښین په دوه بجو د وزارت رئیسان او لوړ پوړي چارواکي د وزارت صالون ته راجمع کړي تر څو زما د خداي په اماني په مرأسمو کې برخه واخلي.

په دغه مرأسمو کې د کورنیو چارو وزیر جلالي صیب په تېرو دوه کلونو کې زما د کارونو ستایسنه وکړه او وویلې چې د معنیت اداري کارونو تر څنګ مې په نورو پروګرامونو کې لکه د پولیسو د وجهې صندوق، د افغانستان د تحکیم ثبات پروګرام او د ولایاتونو د بیا رغونې د ټیمونو د همکارۍ دندې چې په غاړه درلودې په مؤفقانه توګه پرمخ بیولې او د نړیوالې ټولنې اعتماد مې د کورنیو چارو وزارت لپاره د کومکونو په جذب کې تر لاسه کړي دي چې د دغه پروګرامونو د پلې کېدو له امله په لسګونو میلیونه ډالره کومکونه جذب شوي دي او زما تګ یې یوه لویه ضایعه وګڼله.

ورپسې ما خبرې وکړي او ومې ویلې ما چې څه د کورنیو چارو په وزارت کې کړي هغه د وزیر صیب په هدایت او د وزارت د همکارانو په ملاتړ او همکارۍ شوي دي او موږ ټولو د یو ټیم په شکل په شریکه کار کړی دی ،د کورنیو چارو په وزارت کې ډېر پوه، صادقه او په وطن مین کسان شته دی که دوی ته زمینه د کار مساعده شي نو د موږ نه به هم ښه کار وکړای شي خو متاسفانه چې هغه میکانیزم چې ښو کسانو ته موقع ورکړي او کار ترې واخیستل شي نه شته دی. ما فکر وکړ چې په دې شرایطو کې زه نور موثر کار کولی نه شم نو ښه به داوي چې چوکۍ باید یوازې ونه ساتم او کیدای شي چې بل څوک د مانه ښه کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د خبرو نه وروسته د ثبت احوال نفوس اوخارجي اتباعو عمومي رئیس مېر عبدالرحمن معقول د اداري معنیت او د وزارت د پرسونل په استازیتوب خبرې وکړې او وویل:

به اجازه دانشمندان گرامي جلالتماب وزیر امور داخله، حضار محترم!

به قول شاعری:

در کار خانه یی که ندانستند قدر کار

هر کس که زود دست کشد کاردان تر است

بیش از یک ماه است که شایعه استعفای جلالتماب وزیر امور داخله یاس وناامیدی را برقلوب و روان مردم رنجدیده ما که به آینده با سعادت کشور چشم امید بسته اند مستولی نموده است. مردمی که از شکنجه بیداد سلاح، زور گویی، قانون شکنی و فساد بجان آمده اند و چشم براه آزادی، دیموکرأسی و ثبات اند، هنوز این شایعه روان مردم دلبسته به حاکمیت قانون را مې آزرد که خبر استعفای یکتن از همکاران صدیق ایشان منسوبین با درد این وزارت را تکان داد. استعفای محترم سید شاه محمود میاخیل معین با درد، آگاه و فعال وزارت. هر چند تقرر، تبدیلی، استعفا در اداره چیز نامانو س و غیر عادی نیست اما برای ما مشکل خواهد بود در محفل اعلام استعفای و خدا حافظی محترم میاخیل صحبت نمایم زیرا بمن یکی از همکاران نزدیک ایشان اهداف، پروگرام های کاری، دلسوزی به وطن و مردم، و کار و تلاش ایشان کاملاً واضح و روشن است. اجازه دهید نه به عنوان یک مامور دولت بلکې در عین حال بحیث یک تبعه این کشور مظلوم صریح تر صحبت نمایم. در دستگاهی که هنوز فساد تقریبا عمومیت دارد، قانون شکنی و زور گویی بیداد می کند و دلسوزی به وطن مردم کمتر سراغ میشود، و داع با انسان حامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون و دلسوز به وطن کار آسانی نخواهد بود. وای بحال مردم و دولتی که چنین عناصر را از دست میدهند. خدمات ارزنده محترم میاخیل در تاریخ اجرات وزارت امور داخله ثبت است و هر گز فراموش نخواهد شد. من به نماینده گی از کارمندان معنیت اداری با عرض سپاس از خدمات ایشان از بارگاه خداوند سعادت همیشگی برایشان ارزو مینمایم. **تشکر**

د مېر عبدالرحمن معقول د خبرو نه وروسته عبدالمالک صدیقي د ولایاتي چارو او ښاروالیو عمومي رئیس چې د افغانستان د تحکیم ثبات پروګرام د چارو سرپرست هم و جلالي صیب ته وویلې چې زموږ ګیله د وزیر صیب نه ده چې څنګه یې میاخیل صیب ته اجازه ورکړه او استعفایې قبوله کړه. جلالي صیب ورته وویلې چې هغه دلایل چې ماته میا خیل صیب وویل هغه قناعت کننده وو نو ځکه ما دده استعفا قبوله کړه.

ددې مرأسمو د ختم نه وروسته ما په ډېرې خواشینې سره د کورنیو چارو وزارت منسوبینو سره خدای پاماني وکړه او کله چې زه مکرویانو کې خپل کور ته لاړ وم نو د شپې تر دریو بجو پورې د وزارت منسوبین ډلې ډلې راتلل او د مکروریانو د ودانۍ لاندې په لسګونو موټرې ولاړې وې تا به ویل چې د کومې فاتحې یا جنارې مراسمو ته خلک را ټول شوي ځکه چې د مکروریانو کورونه خو واړه وه نو یوه ډله به کیناسته او بله ډلې به انتظار کاوه او هر یو به خواشیني ښکاره کوله او همدا به یې ویل چې ته اوس هم زموږ معین یې او هر څه امر او خدمت وي نو اوس امر کولی شې او موږ به یې اجرا کوو چې همدا زما لپاره افتخار و چې په نیک نامۍ مې خپله دنده پرېښوده.

نن چې دا کتاب لیکمه نو د کورنیو چارو وزارت نه تقریبا شپږ نیم کاله کېږي چې راوتلی یم خو اوس هم د کورنیو چارو منسوبین چې کله ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوري په اخلاص روغبړ کوي او يا څه خدمت چې وي هغه په ډېر اخلاص او چټکۍ سره اجرای کوي چې دا زما لپاره لويه معنوي ګټه ده او زه د کورنيو چارو د ټولو منسوبينو نه ډېرې ښې خاطرې لرم. دا بايد ياده کړم چې د افغانستان د خلکو سياسي شعورد نورو هېوادو حتی د سياست مدارانو نه هم زيات دی او څوک چې ښه کار وکړي نو دوی سره يې قدر شته او هميشه ستاينه يې کوي.

د وزارت د خدای پامانۍ نه وروسته ما د آزادۍ راډيو خبرياڵې حميده عثمان او د طلوع تلويزيون خبريال حميد مومند سره د خپلې استعفا په هکله مرکې وکړې او ومې ويلې چې د دولت هر عالي رتبه مامور چې په خپله دنده کې موثر او مؤفق نه وي بايد خپله دنده پرېږدي نور زه په خپله دنده کې موثر نه وم او دا مې لازمه وګڼله چې استعفا ورکړم او خپله دنده پرېږدم بل دا چې موږ د سيستم په جوړولو فکر نه کوو او زيات په اشخاصو فکر کوو خو که سيستم جوړ نه وي نو د اشخاصو بودن او يا نه بودن مهم نه دی او دا داسې مانا لري چې که د موټر انجمن خراب وي نو ډرېور يې که څو ځلې تبديل هم کړي دا موټر چېرته نه ځي نو زموږ د نظام انجن يعنې سيستم خراب دي.


پای

شاه محمود مياخيل

د شنبه ورځ د نومبر د مياشتې شپږمه نېټه

۲۰۱۰م کال – کابل – چارراهي قمبر

خپل کور – د سهار لس بجې او څلويښت دقيقې



د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رياست      رياست دولت انتقالي اسلامي افغانستان

رياست عمومي اداره امور

رياست (دفاع امنيت)

شماره      تاريخ    /    /

به وزارت محترم امور داخله!

به اساس پيشنهاد شماره (۱۱۶۶) ۱۶/۳/۱۳۸۱ آن وزارت محترم، تقرر سيد شاه محمود (مياخيل) فرزند سيد محمود بصفت معاون مقام وزارت حسب ذيل:

((ملاحظه شد، پيشنهاد اجرا گردد))

حکم شماره ( [illegible] ) مقام عالي به منظور تعميل غرض اجراآت ارسال است.

با احترام

(محمد يوسف اعتبار)

رئيس اداره امور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رياست — رياست دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره: ۹۰۲
رياست عمومی اداره امور
رياست شوراها و قبایل!
تاریخ / / ۱۳۸

به وزارت محترم امور داخله!

حکم شماره (۱۶۵ — ۸۳/۱/۱۸) مقام عالی دولت انتقالی اسلامی افغانستان در رابطه به منظوری رتبه مافوق برای محترم سید شاه محمود میاخیل فرزند سید محمود مشاوران وزارت که در جوزا ۱۰ پیشنهاد شما اصدار یافته غرض اجراآت قانونی گسیل است.

با احترام

محمد یوسف اعتبار
رئیس عمومی اداره امور



دولت انتقالی اسلامی افغانستان

وزارت امور داخله

ریاست عمومی دفتر

| حکم | پیشنهاد |
| --- | --- |
| [illegible] | به مقام محترم ریاست دولت انتقالی اسلامی افغانستان! [illegible] |

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصمیم نامه هیئت محترم عالیرتبه درقبال
رفع تشنجات قبلی در ولایت بلخ

جهت خاتمه دادن به وضعیت موجود در ولایت بلخ ذیلاً تصمیم نامه
صادر میگردد.

۱- اعتبار از همین لحظه آتش بس بین طرفین رعایت شود.

۲- قطعات ق ا ۷ و ق ا ۸ در قدم اول قوای ذیل
از خطوط جمع و تجمع شود:

الف - قطعات جنرال ربط ق فرقه ۸ به حمله هوائی
و از قول اردوی فرقه ۷ به ...داری

ب - قطعات مشخص از ق ا ۷ فرقه ۵۱ ~~...~~
و از ق ا ۸ به چاربولک.

ج - تمام قطعات طی دو روز به وضع ابتدائی در محل خود
مستقر شوند.

۳- همزمان با اجرای عملیات فوق کمیسیون ذیل جهت بررسی مسایل کل امور
توظیف میگردد.

۱- جنرال عبدالمجید از جنبش
۲- جنرال عبدالظهیر از جمعیت اسلامی
۳- محترم سلطانی از حزب وحدت
۴- جنرال علم از ق ا اداری
۵- نماینده دفتر یوناما
۶- نماینده PR-T
۷- نماینده ق ا ولایت
۸- جنرال ... از ق ا ۸

همه فیصله نامه تحت نظم عامه و رهبری ولایات

در ارتباط به حل کلیه مسایل در همه ولایات شمال شامل بلخ، سمنگان، جوزجان، سرپل و فاریاب تمام موارد تحت فیصله نامه [illegible] ۱۷ [illegible] ۱۳۸۴ [illegible] ۱۵۱ ماده [illegible] مربوط به همکاری دفتر یوناما و PRT در عملی نمودن آن اقدام نماید.

محترم استاد حاجی عبدالرشید دوستم

محترم استاد حاجی [illegible] عطا [illegible]

محترم [illegible] حاجی [illegible] [illegible]

محترم نماینده دولت انگلستان

Ronald Neumann

محترم نماینده یوناما [illegible]

محترم [illegible] صاحب احمد [illegible] جمعیت اسلامی [illegible]

محترم حاجی سلطان [illegible] حزب وحدت اسلامی

محترم [illegible] سفارت کشور دوست [illegible] امریکا.

## پیشنهاد درمورد اصلاحات اداری ، نظامی و خلع سلاح در صفحات شمال!

کمسیون موظف در مورد تطبیق فیصله های شورای محترم امنیت ملی بمنظور تحکیم امنیت و ثبات در صفحات شمال افغانستان به تاریخ 1382/7/20 نشست کاری نموده و موضوع برخورد های مسلحانه منطقه را مورد بحث و ارزیابی قرار داده و ریشه های اختلافات ذات البینی ، عوامل دوامدار بی ثباتی را تحلیل نموده و هدف برای استقرار ثبات و امنیت در منطقه تطبیق تدابیر آتی را در سه مرحله پیشنهاد می نماید.

مرحله اول:

پروسه وقفه تاریخ اخیر 10 عقرب 1382.

1- تطبیق فیصله های مورخ 7 او 19 دوره در مزار شریف در مورد قطع جنگ و بازگشت قطعات به موقعیت های دایمی [illegible]

2- تعین والی و قوماندان امنیه جدید در ولایت بلخ

3- اخراج پوسته های مسلح از شهر مزار شریف و محدودیت حمل سلاح برای اشخاص واجد شرایط نظر به تصمیم کمسیون امنیتی .

4- موکول بودن سوق قطعات مسلح از وضع اتحادیه های آن به امر وزیر دفاع ملی و لوی درستیز.

5- تأمین امنیت شهر مزار شریف توسط قطعه سه صد نفری پولیس اعزامی مرکز.

مرحله دوم : الی اخیر عقرب 1382

1- تحدید ما بعد قول اردو های هفت و هشت به فرقه ها و تنظیم آن به سطح یک قول اردو .

2- مدغم فرقه ها به غند ها .

3- تعین قوماندان جوش تام و بی طرف در رأس قول اردو.

4- [illegible] سلاح ، مهمات و سلاح ثقیله [illegible] تا جمع آوری ، ذخیره و قرار دادن آن تحت کنترول PRT .

5- غیر نظامی ساختن شهر و شهر جیرتان .

مرحله بعدی : اصلاحات وسیع تر اداری:

1- [illegible] کادر ها در ادارات کیدری دولتی که دری گروه ادارات نظامی نباشند و تقرر اشخاص مسلکی و متخصص با رعایت ترکیب قومی در این پست ها .

2- توسعه اصلاحات اداری ، امنیتی و نظامی به سایر ولایات شمال افغانستان .

کمسیون تطبیق پلان:-

برای تطبیق پلان فوق یک کمسیون با صلاحیت و بی طرف متشکل از نمایندگان وزارت های محترم دفاع ، امور داخله ، وزارت خانه های ذیربط تعین گردد تا عملاً در ولایات شمال افغانستان فعالیت نماید .

این کمسیون به مقامات محلی ولایتی در تعین و تشخیص اشخاص مسلکی که سهولت را در تطبیق پلان مطروحه به وجود آورد کمک نماید .

کمسیون مندالزوم پیشنهادات مزید سازنده را به مقامات عالی دولت ارائه نماید .

برای ترمیم ، انسجام امنیت تمام دیپو ها و ذخایر اسلحه و مهمات کمک و همکاری PRT خواسته شود.

تحویه [illegible]:-

(۶)

فیصله هیأت موظف در ولایت بلخ

تصویب است به حضور وزیر شریف ۱۳۸۲/۸/۴

بمنظور تطبیق فیصله شورای امنیت ملی و مجلس کابینه و اصلاحات بعمل آمده در ولایت بلخ هیأت اعزامی در حضور وزیر شریف مورخ ۴ عقرب ۱۳۸۲ فیصله ذیل بعمل آمد.

۱:- برکناری [illegible] دولت [illegible] محترم برید جنرال عبدالرحیم خان برید جنرال بحیث قوماندان امنیه ولایت بلخ

۲:- محترم برید جنرال علاءالدین بحیث آمر امنیت ولایت بلخ

۴:- ایجاد [illegible] اشخاص موظف وزارت داخله بحیث سرپرست در پست ذیل تعیین گردیدند

— محترم انجنیر حبیب الله رئیس [illegible] بلخ بحیث سرپرست والی بلخ با حفظ وظیفه

— محترم [illegible] بحیث سرپرست معاون ولایت بلخ.

— محترم [illegible] بحیث سرپرست شاروال بلخ

— ایضاً، یک هیأت [illegible] وزارت امور خارجه نماینده وزارت [illegible] در حضور وزیر شریف تبدیل و تحقیق [illegible] حقوق [illegible].

— یک هیأت [illegible] امنیت ملی محترم جنرال عبدالجلیل [illegible] صفت رئیس امنیت ملی [illegible] تعیین و تقرر حاصل نمایند.

— همچنان [illegible] در [illegible] بعد از عملی گردد و [illegible] از [illegible] در ظرف [illegible] حضور [illegible].

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۹۰۶
۹۲/۱/۲۶
۵۲۸۰

وزارت امور داخله
ریاست عمومی دفتر
مدیریت عمومی اسناد وارتباط

مقام محترم ریاست دارالانشاء لویه جرگه قانون اساسی!

با در نظرداشت مکتوب ۲۲/۱/۲۰۰۴ دارالانشاء لویه جرگه تصویب قانون اساسی بدین شرح مواصلت ورزیده است

به پاس خدمات شایسته مقامات و منسوبین امنیتی وزارت محترم امور داخله در تامین مناسب امنیت لویه جرگه قانون اساسی به افراد ذیل که به معرفی آن وزارت خانه محترم مدال خدمت اعطاء گردید:

۱- محترم جلالتمآب علی احمد جلالی وزیر امور داخله (آمر عمومی عملیات امنیتی) وزیر لویه جرگه قانون اساسی.
۲- محترم دگرجنرال هلال الدین (هلال) معین امور امنیتی (تنظیم کننده قوت های پولیس
۳- ژورنالیست سید شاه محمود د مباحبیل سر مشاور مقام وزارت امور داخله عضو گروپ عملیاتی او پراتیفی
۴- ژورنالیست دگرجنرال محمد هارون (اصفی) رئیس عمومی پولیس عضو گروپ کنترول از پرسونل شامل عملیات
۵- محترم دگرجنرال بابه جان والی امنیه ولایت کابل معاون آمر عمومی عملیات
۶- محترم تورنجنرال گل نبی احمدزی رئیس دفتر عضو گروپ کنترول از پرسونل شامل عملیات
۷- محترم برید جنرال محمد حسن اثمر معاون ریاست پولیس عضو گروپ کنترول از پرسونل شامل عملیات.
۸- محترم برید جنرال عبدالرحمن معاون ریاست پولیس سرحدی عضو گروپ کنترول از پرسونل شامل عملیات

ضمناً به اطلاع رسانیده میشود که به تعداد (۵۵۰) نفر از منسوبین آن وزارت خانه تحسین نامه ارسال میگردد خواهشمندیم لطف نموده بعد از توزیع تحسین نامه هـا لست تا ملاحظه مذکور را به دارالانشاء لویه جرگه قانون اساسی بفرستید تا در اسناد لویه جرگه قانون اساسی قرار داده شود.

جریان عنوانی شما ارقام یافت در مورد اصولاً اجراات گردد.

بااحترام
با سرجنرال گل نبی احمدزی
رئیس دفتر مقام وزارت

کاپی به معینیت امور امنیتی
ریاست مشاوریت مقام
ریاست عمومی امور پولیس
ریاست قوماندانی امنیه کابل
ریاست سرحدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښاغلي شاه محمود میاخیل لنډه پېژندنه

شاه محمود میاخیل د سید محمود حسرت زوی په ۱۳۳۷ هـ ش کال د ثور دمیاشتی په یولسمه نیټه د کنړ ولایت د خاص کنړ ولسوالۍ د منګوال په کلی کې زیږیدلی او خپلې زده کړې یې په افغانستان او پاکستان کې د ماسترۍ تر کچې رسولي دي. ښاغلي میاخیل د امریکا د مشهورو پوهنتونو Harvard, Stanford او NDU نه د ښه حکومت دارۍ ، قانون حاکمیت او لیډر شیپ په برخو کې فیلو شیپونه ترلاسه او زده کړې یې کړي دي.

ښاغلی شاه محمودمیاخېل سره له دې چې یو تکړه لیکوال او ژورنالیست دی په تیرو دریو لالهانده لسیزو کې دخپل هېواد افغانستان په اړه بې تفاوته نه دی پاتې شوی او همیشه یې د هیواد دابادی، صلحي او آرامی لپاره په ملی او نړیواله کچه نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې او د ډیرو قضایاو شاهد او ناظر پاتې شوی دی. ښاغلی میاخیل صیب د افغانستان په قومي، ولسي او اداری جوړښتونواو ارزښتونو باندي ډیر ښه پوهیږی او په دی اړه یې زیاتي لیکني هم کړي دی. ښاغلی میاخیل همیشه د افغانستان ځوانه طبقه دی ته هڅولی او تشویق کړی چې د هیواد په مسایلو کې باید بې تفاوته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتي نشی چې په دی لړ کې ما شخصاً د میاخیل صیب د لار ښوونو او صحبتونو نه زیاته ګټه اخستی ده.

په دې درې لسېزو کې ښاغلي میاخیل په مهمو دندو لکه دکورنیو چارو وزارت معینت ، دښه حکومتدارۍ په څانګه کې د ملګرو ملتونو سلا کار ، د بلجیم د کمیټې مرستیال او امریکاغږ راډیو محلي خبریال په توګه کار کړی دی. اوس مهال ښاغلی میاخیل په افغانستان کې د متحده ایالاتو د سولې دانستیتوت مشر دی.

**چاپ شوي اثار**:

۱-بیړنۍ لویه جرګه او په مشرقي ولایاتو کې د انتخاباتو بهیر

۲-دواقعیتونو په بهیر کې

۳-او دا کتاب د کورنیو چارو وزارت یادښتونه

**ناچاپ اثار**:

۱-واقعیتونه دکیسو او روایتونو په هنداره کې

۲-دمقالو مجموعه(انګلیسي )

**په انګلیسي ژبه چاپ شوې مقالې**:

۱- افغانستان پېژندنه (په امنیت او اداره کې د قومي جوړښت رول): دغه مقاله په هندکې د مولانا عبدالکلام ازاد انسټیټوټ له خوا په کال ۲۰۰۸ م کې چاپ او خپره شوې ده

۲- په افغانستان کې دثبات راوستلو پلان: په کاناډا کې دحکومت د اداري سمون او نوښت دنړیوال مرکز له خوا په ۲۰۱۰م کال کې خپره شوې ده

۳-دافغانستان د بیا رغونې په وړاندې پراته خنډونه (ټولنیز ،اقتصادي اوسیاسي عوامل یې ) : دغه مقاله په هندکې د مولانا عبدالکلام ازاد انسټیټوټ له خوا په کال ۲۰۱۰ کې چاپ او خپره شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- بشري امنیت او دقانون حاکمیت، د افغانستان تجربه: دانګلستان د کیمبرج پوهنتون له خوا په ۲۰۱۱ م کال کې دکتاب د یو فصل په توګه چاپ او خپره شوې

۵-د تاریخ تکرار : په افغانستان کې د مجاهدینو د تاکتیکونو او موجوده جګړې ترمنځ توپیر: په امریکا کې د منځنې ختیځ دانستیټیوټ له خوا په ۲۰۰۹م کال کې خپره شوې

**اسدالله ساحل**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**